# ستر پښتون

# محمد گل مومند بابا



ټولوونکی: سیداگل غریبیار

# ستر پښتون

## محمد ګل مومند بابا

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU

ټولوونکی:
سيداګل غريبيار

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00011926 2

## ډالۍ

دا کتاب د پښتو د ملي ژبې پښځه ستوربو استاد عبدالحی حبیبي، استاد گل پاچا الفت، استاد قیام الدین خادم، استاد عبدالروف بېنوا او استاد صدیق الله رښتین ته، چې په ستونزمنو حالاتو کې یې خپلې ژبې ته خدمت کړی، ډالۍ کوم.                سیداګل غریبیار

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم :: ستر پښتون، محمد گل مومند بابا

راټولوونکی :: سیداګل غریبیار

خپرندوی :: ټولوونکی

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ نېټه :: ۱۳۸۳ لمریز/۲۰۰۴ میلادي

کمپوزر :: ذبیح الله "شفق"

**چاپ او کمپیوټرځای**

**د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه**

**قصه خوانی بازار، پېښور**

**Ph:2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com**


ACKU

# فهرست


| سرلیك | لیکوال | مخکڼه |
|---|---|---|
| ستر پښتون محمد ګل مومند | | ۱ |
| محمد ګل خان مومند | | ۵ |
| محمد ګل مومند | پوهاند رښتین | ۲۱ |
| د قام غمخور | پوهاند رشاد | ۲۸ |
| مومند بابا یو سپېڅلی... | سناتور چکنوری | ۳۳ |
| وزیر بابا یو منلی انسان و | صمیم الله کامه وال | ۴۳ |
| د پښتو ژبې لپاره د وزیر... | غلام غوث خیبری | ۵۱ |
| د وزیر محمد ګل خان مبارزه | غلام غوث خیبری | ۶۴ |
| محمد ګل خان بابا د امیرالدین... | | ۸۱ |
| عیاری ازخراسان له غله د اتل | | ۹۶ |
| ۹میاشتې سقاو سالارې | غریبیار | ۱۱۳ |
| د پښتنو په لاس د سقاو... | غریبیار | ۱۲۸ |
| تاریخ د رښتیني شاهد ... | محمد ایوب مومندی | ۱۵۰ |
| د پل خشتي په جومات کې | // | ۱۵۷ |
| د مرحوم مومند د استعفی | // | ۱۵۹ |
| د تورن جنرال عبدالله توتاخېل | محمد ایوب مومندی | ۱۶۲ |
| چې مورېك دومره غښتلی | // | ۱۶۴ |

| | | |
|---|---|---|
| د محمد ګل خان مومند خط د حاجي خانمیر په نوم | | ۱۶۸ |
| محمد ګل مومند | شمس الهدی شمس | ۱۷۷ |
| د محمد ګل مومند بابا یاد | داکتر طاهر بورګی | ۲۱۳ |
| ارواښاد مومند بابا | حبیب الله رفیع | ۲۲۲ |
| یکی از خاطرات محمد رسول پښتون | | ۲۳۱ |
| د ارواښاد محمد ګل مومند | قتیل خوږیانی | ۲۵۲ |
| حبیب الله کلکانی | سمسور افغان | ۲۵۹ |
| د پښتنو شمله | غریبیار | ۲۷۱ |
| غبار او بچه سقاو | // | ۲۸۱ |
| غلام نبي خان چرخي | غریبیار | ۲۹۶ |
| د غبار لیکنه | غریبیار | ۳۰۳ |
| محمد ګل مومند یاد | مولینا خادم | ۳۱۰ |
| لوی پښتون محمد ګل مومند | عبدالله غمخور | ۳۱۲ |
| محمد ګل مومند یاد کې | شاهي سعادت | ۳۱۴ |
| داستان عشق و محبت | | ۳۱۵ |
| د سقاو زوی که د خراسان... | عبدالباري جهاني | ۳۵۰ |
| رویدادهای بغاوت در... | ترجمه نجیب قندهاری | ۳۵۳ |
| شمال د پښتنو آر مېشتون او... | محمد آصف صمیم | ۳۶۳ |
| شمال پښتانه او محمد ګل | // | ۳۷۴ |
| وزیر محمد ګل خان | بایزی | ۳۷۹ |
| یوه خاطره | عبدالله بختانی | ۴۰۳ |

# سریزه:

## ستر پښتون محمد ګل خان مومند بابا

دا بــه زمــا لپــاره پــه ډېره اغزنــه لاره ګام پورتــه کــول وي، چــې د داســې يــو شــخصيت پــه بــاره کــې څه وليکــم، چــې خپــل ټول ژونــد يــې د وطــن د ازادۍ او د ملــي نواميســو د ســاتلو او درنــاوی پــه لاره کــې پــه داســې ســپېڅلې مينــه تېــر کــړی، چــې نــه يــې خپلــو ذاتــي ګټو او مصلحتونــو مخــه نيولــې او نــه يــې د ســرکار د راز راز فشــارونو او نــه يــې د مغرضينــو د شــرارت څه خيــال ســاتلی دی، چــې پــه حقيقــت کــې يــې د پښتــو او پښتونولــۍ شــمله همېشــه هســکه ســاتلې ده.

دغــه پــه وطــن، پښتــو او پښتونولــۍ ميــن ملــي شــخصيت ســتر پښتــون محمــد ګل خــان مومنــد بابــا و. مومنــد بابــا د پښتــو د تعميــم او پراختيــا لپــاره د يــوه نــر پښتــون پــه تــوګه کــار کــړی دی.

پښتو يوازې د ژبې نوم نه، بلکې د پښتونولي د يو لر د ساتيرو او نورموتو نوم دی، د يوه سپېڅلي او پاك كلتور او فرهنګ نوم دی، پښتو د شېرشاه سوري د هغې تورې نوم دی، چې له ګوزاره يې زمريانو خپلې داړې چينګې كړې دي.

پښتو "پت، ښېګڼه، توره او وفا ده"، پښتو د خوشحال خان ختك د تورې شرنګ دی، چې دښمن يې په لړزه له كټه پرېوتلی او سپينې يې پرې شوې دي.

لا په خوب كې په لړزه پرېوزي له كټه
چې د چا تر غوږ زما د تورې شرنګ دی
لا تراوسه يې ماغزه په كرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی.

پښتو ويل، پښتو ليكل او پښتو كول د مېړني پښتون محمد ګل خان بابا د سرلوړي ژوند چې هېڅ زورګير طاقت ته په هېڅ راز شرايطو كې نه دی ټيټ شوی، يوازينی ويارلی هدف و او دغه هدف ته د رسېدو په لاره كې يې له غېرت او همت نه ډك ګامونه پورته كړل او د يوه غېرتي پښتون په توګه يې پښتو ته كار كړی دی، دا خو څه جرم نه دی.

دا چې غبار د "افغانستان در مسير تاريخ" د كتاب په دويم ټوك كې ددغه مېړني په باره كې چې هېواد يې د غلو او شوكمارو له ناوړو غرضو نو څخه ژغورلی او د هېواد دښمنانو ته يې ملا ماتوونكي ګوزارونه وركړي دي، ناوړه ويلي په حقيقت كې يې د افغانستان له تاريخ سره ستره جفا كړې او پر

خپل تاریخ یې د سپېڅلي ضمیر خاوندان بدګومانه او بې باوره کړي دي.

دغه راز د شریف فایض اوتې بوتې له نیاو او انصاف څخه ډېرې وتلې خبرې دي، ځکه چې شریف فایض همدا اوس د عالي تحصیلاتو د وزیر په توګه د وزیر محمد ګل خان مومند بابا د لاس خیرو ته پلتنې وهلې دي. هوښیاران وایي چې: "فکر پلورل له ځان پلورلو څخه ډېر بتره دی".

شریف فایض دغه ځان او هېواد پلورونکی په خپلو اراجیفو کې هڅه کړې ده، چې د هېواد پر ازادۍ له مین محمد ګل خان مومند بابا ته هغه غچ واخلي، چې بابا د سقاو د غله بچي ته پر خوله داسې ګوزار ورکړی و، چې دوه دېرش واړه غاښونه یې توی او د افغانانو د مور د پړونې عفت یې د غلو او شوکمارو له منګولو څخه ژغورلی و.

دا ډېر ارزښتناک متل دی، چې: "سمندر د سپي په خوله نه مرداریږي".

د فایض د غرضي او بې ځایه تورونو په باره کې قضاوت هغه چاته سپارم، چې له خپل افغاني ضمیر، وجدان او فرهنګ څخه نه وي پردی شوی او تراوسه یې لاد کامل انسان او کامل مسلمان، چې د رښتینې افغان په توګه یې په خپلې هغې خاورې کې خرېوخې کړي، چې له مور څخه زیاته حقداره ده. وینه یې په رګونو کې چلیږي.

محمد ګل خان مومند بابا هغه ستر سپېڅلی پښتون و، چې وزارتونه یې کړي او په بېلابېلو ولایتونو کې یې تنظیمیه ریاستونه کړي وو، خو په ښایسته کابل کې یې چې دغو د قدرت او واکمنی لېوئیانو پر کنډوالو او کنډرونو بدل کړ، یو شخصي کور نه درلود او په دهمزنګ کې یې په کرایه نیولی و او په همدغه کرایي کور کې یې د ۱۳۴۳ لمریز کال د اسد په میاشت کې ساه ورړه او په هسکه غاړه یې له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړي. دده د ژوند شمله دومره اوچته، دومره پاکه او سپېڅلې ده، چې هېڅوك او ان چې هېڅ رښتینی تفکر پرې د رشوت او جنایت تور نه شي لګولی.

دوی د تورپك سالارۍ په برکت چې د خپل پلار او مور پته چاته په رښتیني نه شي ورکولی، د کروړونو ډالرو خاوندان شول، خو محمد ګل خان مومند بابا د یو ملنګ او فقیر، خو د هېواد د رښتیني خدمتګار په توګه هسکه غاړه له فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

اروا دې یې ښاده وي

په پښتو او پښتونولۍ د مین بابا په لار روان

**سیدا ګل غریبیار**

پښتونخوا ـ پېښور

د ۱۳۸۲ کال دثور میاشت

څېړندوی شهيدا ګل غرېبيار

# محمد ګل خان مومند

# او دا کتاب

په دې رساله کې د ارواښاد وزير صاحب محمد ګل خان مومند د سياسي ټولنيز ژوند د يوې برخې په اړه ځينې معلومات، د يو شمېر افغانانو اوربدنې، کتنې او خاطرې دي. بله برخه يې له هغو کتابونو څخه رااخيستنه ده، چې د وزير صاحب په هکله ليکل شوي او څه مواد يې داسې دي، چې د مومند بابا سرکاري ژوند باندې نيوکې شوي دي. دا درې واړه برخې نيمګړتياوې لري، چې د افغانستان په څېر د وروسته پاتې ټولنې له سياسي اقتصادي ژوندانه سره تړلې دي.

په ځانګړې توګه په افغانستان کې د جګړې پايښت، د استبدادي رژيمونو حاکميت، د بدوي قشرې مطلقيت مينځ ته راتګ، د منظمو مطبوعاتي نشراتي وسيلو نشتوالی او د افغانستان د ګاونډيانو بې شرمانه مداخلې هغه بنيادونه دي، چې زموږ له مسلکي يا فرهنګي ټولنو څخه يې د معياري کره کتنې امکانات اخيستي دي

مګر ددې کتاب یو ډېر ګټور اړخ دا دی، چې د یوه ملي، سیاسي، اولسي او ادبي شخصیت په هکله یې، خبرونو، اورېدنو، کتنو او تحقیقاتو ته لمن پرانیستې ده، هیله ده چې دا ځولۍ به هرومرو له سالمو معلوماتو څخه ډکه شي.

په دې خاطر د خوارېه انډیوال ښاغلي سیدا ګل غریبیار دا نوښت د ستاینې وړ دی. ځکه چې اوسنی افغانستان د خپل تاریخ له تورلو بدمرغه پړاوو سره ډغرې وهي. له افغانانو څخه واک، اختیار، حکومت، پوځ، پولیس، ازادي، تصمیم او هر هغه څه اخیستل شوي، چې ملتونه پرې ژوندي پایي.

د افغانستان د ژر تر ژره وژلو او د وطن د تاریخ، کلتور، پوهنې، فرهنګي میراثونو او ملي ارزښتونو د بشپړې محوې لپاره یوه تراژیکه دسیسه روانه ده، چې د انساني جنایت معلوم خارجي هېوادونه یې سرته رسوي او د مسوولیت پر ستېج یې هغه افغاني بریخي کښېنولي، چې د جنت په څېر افغانستان یې د عذاب او ثواب د کرغېړنې جګړې میدان ګرځولی دی.

په دې لیکنو کې د هېواد د نامتو تاریخ لیکونکي ارواښاد میر غلام محمد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" د وروستي ټوك ځینو هغو پاڼو ته هم اشاره شته چې د خدای بخښلي محمد ګل خان مومند د یو شمیر سیاسي سرکاري چارو کولو عامل وزیر صاحب او د لیکلو عامل یا لیکونکي یې غبار صاحب ښودل شوی.

هسې خو د افغانستان په څېر یوه وروسته پاتې ټولنه کې دا دواړه افغانان سیاسي اوادبي شخصیتونه دي، چې د افغاني ټولنې په یوه ځانګړي پړاو کې مینځ ته راغلي، د هم هغې وخت د ټولنیزو سیاسي شرایطو په چوکاټ کې یې عمل کړی او ټول داخلي او خارجي شرایط یا د دوی خپل چاپېریال د دواړو په نظریاتو او کړو وړو کې ټاکنده ونډه لري.

مګر څو لسیزې وروسته، چې یو نسل د بل نسل پر سیاسي افکارو او اعمالو قضاوت کوي، نو حتی ضروري دا قضاوت د هغه وخت د شخصیت د ودې له شرایطو او خپله شخصیت سره ټکر کوي.

هغه لیکنه چې د ارواښاد غبار په حواله لیکل شوې، د غبار صاحب د لیکنې له پخواني میود سره توپیر لري، ځکه د هغه نورې لیکنې تاریخي پېښې رااخلي او د جریاناتو د کره کولو لپاره منابع په ګوته کوي، زیات وخت د تاریخي مسایلو په لیکلو کې ښکته پوره ټکي وجود لري، ځکه چې د ملي او جهاني پېښو کټ مټ لیکل ګران کار دی.

همدارنګه د "افغانستان در مسیر تاریخ" د وروستي ټوك په دېرو فصلونو کې داسې بحثونه د افغانستان د تاریخ د یوې برخې په توګه ورځای شوی او په داسې ادبیاتو لیکل شوي، چې مشخصاً یکې هغه فکري، سیاسي، نژادي او سیمه ییز تضادونه شرح شوي دي، چې په هغه وخت کې یې یا وجود نه درلوده او یا د خلکو په ذهن کې یوه جدي مساله نه

وه او د ليکنې کوم طرز او اسلوب ، چې د همدې پښې د تفصيل لپاره کارول شوی، پر افغانستان باندې د شوروي امپراتورۍ د يرغل، د خلقيانو او پرچميانو د رژيم، د اخوانی بنيادګرو (ايډيالوژۍ) د پاکستان، ايران د بربنډو مداخلو او د وروسته پاتې بدوي ذهنيت لرونکې طالب ډلګۍ د اوږده خونړي کشمکش د ځانګړيو شرايطو ادبي پيداوار دی.

دا ډول ذهنيتونه او قضاوتونه په يوه هېواد کې هغه وخت پراخېږي، چې استعمار د يوه ملت د وژلو لپاره د کلتوري، فرهنګي او ادبي بنيادونو پر نړولو کار کوي، لکه څنګه چې په شوروي پورې تړلو سياسي حلقو د خپل ملي ضد اعمالو د حقانيت يا ملي ښودلو لپاره قلمي مزدوران درلوده، همدغه شان د پاکستان، ايران يا له عربي مستو اشخاصو سره تړلې اخوانۍ مذهبي ډلې هم د اسلام او افغانيت پر ضد اعمالو د روا ښودلو لپاره ګرو شوي ميرزايان لري. هغوی هر يو د افغانستان حساسو حسابي ګټو ته د پاکستان، سياستمداران او شيخان د ملي ګټو له زاويې ګوري، سالم ملي مسايل داسې حلاجي او تفصيل کوي، چې په بنياد کې يې د افغانستان سياسي وژنه يا مريتوب پروت دی. څکه د افغا ستان د ولس د ملي، اسلامي جهاد په اوږدو کې د افغانستان قسم خوړلو دښمنانو د اسلام او وروري په جامه کې د سياسي مريانو په څېر قلمي نوکرن هم روزلي دي، دا کسان چې د دنيا په هره برخه کې ژوند کوي، هم هغه ترانې

وايي چې زموږ په هېواد کې د جګړې د پايښت او عام قتل لپاره د افغانستان خونړيو ګاونډيانو د خپلو جنګي ډلګيو په ژبو د ثواب او عذاب د جګړې تر شعار لاندې ځای په ځای کړی دی.

دوی ته د افغان اولس د جهاد تاريخي مېړانه، استقلال، ملي واکمني، سوله، تمدن، حکومتي سيستم، پوځ، پوليس، روغتيا، بيا آبادي او له سيلاثو سره سيالي ګناه او ددې پر ضد مبارزه ثوابي عمل تدريس شوی دی.

که د ړندو يا د استعمار د ايجنټانو دا مني يا نه مني، مګر د يوويشتمې پېړۍ يو تريخ واقعيت دی، څومره چې د دنيا دملتونو په تاريخ کې افغانستان نوميالی، قهرمان او سرلوړی و، نن ورځ هم په هماغه اندازه بربنډ او لوڅ دی.

له افغانانو څخه د سياسي مغزونو، شخصيتونو او له پوهې څخه نيولې، تر انفرادي واك، ملي واکمنۍ، حکومت، ادارې، کانونو، ځنګلونو او معارف پورې ټول ملي، سياسي او بشري ارزښتونه اخيستل شوي، ځکه خو اوس وار د هغو افغاني شخصيتونو د معنوي نابودۍ پر او ته ورسېد، چې په اولسونو کې د يووالي، ملي قيام او تاريخي افتخار سمبول وو.

د وزير صاحب محمد ګل خان مومند، غبار صاحب يا د هر افغان پوه، مبارز او عالم پر ضد، چې د افغانستان د

ورونو قومونو په هره ژبه او توکم پوري اړه ولري، تبلیغات د استعمار لپاره په خپل وطن کې د لارو هوارول دي.

سره له دې، چې وزیر صاحب محمد ګل خان مومند یو اولسي کلیوال او جرګه مارشخصیت و، مګر د افغانستان د هغه وخت په شرایطو کې یو ملي مبارز هم و. هغه د وطن د نجات په جګړه کې د ملي مبارزینو د لښکر مشرتوب کاوه. وزیر صاحب د افغانستان د بېلوبېلو قومونو ترمینځ هغه شخړې د جرګو په وسیله حل کړې، چې د وخت حکومتونه یې په حلولو کې ناکام وو. وزیر صاحب د افغانستان ملي ادب، ملي کلتور او ملي مناسباتو ته داسې خدمتونه کړي، چې هېڅوک ترې سترګې نشي پټولی.

وزیر صاحب پښتون و، خو فاشیست نه و. هغه د مسایلو بنیاد د افغانستان په وجود کې مطالعه کاوه. وزیر صاحب محمد ګل خان مومند یو انسان و. د هغې ټولنې بنیادم و، چې مور او تاسو پرې لږ پوهېږو. هغه د وطن او نظام له ډېرو حساسو کارونوسره سرو کار درلوده. ده به داسې خونړۍ کشالې ختمولې، چې اتیا سل انسانان به پکې وژل شوي وو. په داسې شرایطو کې یې وزارت او ولایت کړی، چې د افغانستان د بربادۍ لپاره زمونږ په ګاونډ کې لوی لوی دسیسې جوړېدې، دا حتمي او ضروري ده، هر بنیادم چې په دې شان ملي ژوندنیو مسالو کې ټاکنده لري، د یو چا له خوا تر نیوکې لاندې راځي، ځکه هغه به د ټولو د ګټو په خاطر یو

تاوان منلی وي، مګر داسې کسان د یو چا د نیوکې پرځای د هر چا د ستاینې ور وي. موږ په دې عقیده یو، چې انسان او انساني ژوند د حرکت په مسیر کې پخېږي او هر حرکت د یوه ساده یا سپېڅلي عمل لپاره سرته رسېږي، څومره چې یو بنیادم په ټولنیز چارکې دخیل وي، هغومره د خلکو تر پاملرنې او نظارت لاندې وي. ځکه خو ارواښاد وزیر صاحب محمد ګل خان مومند له سهوې څخه خالي ګڼول، د هغه د شخصیت نفي کول دي، مګر دا سهوې له یاده ایستل او یا له تخریبي زاویې نه مطالعه کول، له عامه ذهنیت سره مخامخ جګړه بلل کېږي.

د هغه پر ژوند باندې له ډېر بنه قضاوت هغه اولسونه او خلك کولی شي، چې شپه او ورځ یې له ده سره اړیکې درلودې، مګر لیکوالان، تحلیل ګران او کره کتونکي چې د یوه اجتماعي شخصیت په باره کې قضاوت کوي، هغوی ته پکار ده، چې د خپلو معلوماتو د راټولولو او کره کولو لپاره له ملي اوټولنیزو میتودونو څخه کار واخلي.

# محمد ګل مومند

محمد ګل مومند د محمد خورشید خان زوی، د مؤمن خان نمسی، د عبدالکریم خان کړوسی، په ختـه دوېزی مومند، په دویزو کې حسن خېل و. دی په ۱۳۰۳ هـ ق کال د کابل د اندرابیو په کوڅه کې زېږېدلی دی. لومړنی زده کړه یې په خصوصي ډول وکړه او بیا په ۱۳۲۷ ق کې د حربي ښوونځي په دوهم ټولګي کې شامل شو.

په پنځه کاله کې یې خپل عسکري تعلیم سرته ورساوه او پس له هغه د اردلیانو په غونډ کې د کومیدان په رتبه وټاکل شو.

دغه وخت یې هم شاهي ټولګي ته درس ورکاوه او هم یې د حربي ښوونځي د سرمعلمی وظیفه چلوله.

ددغه خدمت په نتیجه کې د سپه سالار صالح محمد خان د یاور په صفت وټاکل شو او بیا د شاهي ګارډ قوماندان شو. یو

څه وخت يې په ترکيه کې د افغاني سفارت د نظامي آتشه په حيث وظيفه اجراء کړې ده.

محمد ګل مومند په ۱۳۰۰ ش کې د "مجموعهء عسکرى" د مجلې مديريت هم کړى دى، چې د حرب وزارت له خوا خپرېدله.

دى په ۱۳۰۳ ش کال کې د پکتيا د عسکري قوماندان او اعلى حاکم په توګه وټاکل شو. په ۱۳۰۶ ش کې د مزار شريف د ملکي پلټنې د رئيس او بيا د ننګرهار دعسکري قوماندان په صفت مقرر شو. د سقوي انقلاب په وخت کې يې لومړى له سردار محمد هاشم خان او بيا په پکتيا کې له سردار محمد نادر شاه سره په کلکه ملا وتړله او په زړه پوري خدمتونه يې سرته ورسول.

د هېواد تر نجات وروسته د سردار محمد هاشم خان په کابينه کې د داخله وزير په توګه وټاکل شو، خو ورسره يې اول د ننګرهار په ولايت کې او بيا د پروان په ولايت کې د تنظيمه رئيس وظيفه هم په ښه شان چلوله.

په دغو ولايتونو کې يې چې پوره کلاري راوستله، نو بيا په ۱۳۱۱ش کال کې د کندهار او فراه د ولايتونو د تنظيم لپاره ولېږل شو. په ۱۳۱۳ ش کال کې د کتغن، بدخشان، مزار شريف او ميمنې د ولايتونو د تنظيميه رئيس په حيث وټاکل شو.

په هرځای کې یې خپله اسلامي او پښتنې وظیفه په پوره ایمانداري سرته ورسوله او د خپلو ښو خدمتونو په اثر یې د لمر اعلی لوړ نښان واخیست.

دی په ۱۳۱۹ ش کال کې د دولت د وزیر په توګه مقرر شو او پس له دغه وخت نه یې نور عمر په خپل کاله کې د پښتو ژبې په علمي او ادبي خدمت کې تېر کړ.

اروابناد مومند تر ۱۳۲۷ش پورې په سمنګان کې اوسیده، بیا په دغه کال د غازي شاه محمود خان د صدارت په وخت کې کابل ته راغی او پاتې عمر یې په کابل، ننګرهار کې په خپله خوښه تېراوه، ځو ژمي یې د کونړ په نرنګ کې او نور ژمي یې په خپل اصلي کلي (ګولایي) کې تېر کړل، خو په اوړي کې به همېشه کابل ته راته او په دې ډول یې د خپل کوچاني ژوند سلسله هم ټینګه ساتله.

محمد ګل مومند په ۱۳۳۴ ش کال د لویې جرګې د رییس د نایب په توګه غوره کړای شو او خپله پښتني وظیفه یې په ښه ډول سرته ورسوله.

دغه ننګیالی، توریالی، خبرلوڅ او جرګه مار پښتون آخر د ۱۳۴۳ کال د زمري میاشتې په ۲۷ مه نېټه د سه شنبې په ورځ د سهار په اتو بجو د ۸۰ کالو په عمر د بریکوټ په یو کرایي کور کې وفات شو او په پوره درناوي او عزت د کابل د شهدای صالحینو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

دده په جنازه کې د کابل لوی لوی خلك، ملکي او عسکري مامورین او نور دېر علاقه مندان شامل شوي وو.

کله چې دی خاورو ته وسپارل شو، نو لومړی مولانا محمد شاه ارشاد دده لنډه ژوند پېښنه بیان کړه، دده لوړ شخصیت او غوره خدمتونه یې وستایل.

وروسته ما په یو څولنډو جملو کې دده عسکري، سیاسي، علمي او ادبي خدمتونه یاد کړل او دی مې ددې عصر خوشحال ختك وباله، ولې چې دی هم د هغه په شان د تورې او قلم خاوند، د سیاست د میدان پهلوان او یو غښتلی عسکر او جنرال و.

په اخر کې مې د اشرف خان "هجري" دا بیت ولوست:

چې چراغ د هنر څمکې پوشیده کړ
که یې زه په اوښکو دوبه کړم سزا ده.

د ارواښاد مومند فاتحه د پوهنې وزارت له خوا د اسد په ۲۸_۲۹ د شیرپور په لوی جومات کې واخیستله شوه.

دده دعا ته د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه او نور دېر خکلك راغلي وو. محمد ګل مومند نارینه اولاد نه درلود. یوازې یوه لور ورنه پاتې ده، چې په خپل ژوند یې د لال پورې صالح محمد ترکزي ته ورکړې وه.

## اخلاق او شخصیت

دا هر څوك مني، چې ارواښاد محمد ګل مومند د یو لوړ شخصیت، سپېڅلي کریکټر او کلك عزم خاوند و. پر مذهبي

اصولو ټینګ ولاړ او پر پښتو پښتونواله بېخي مین و. د پښتون له تاریخ او عظمت سره یې بې اندازه مینه لرله. بې پښتو او بې همته پښتانه یې نه خوښېدل.

د ښو خویونو او پښتني اخلاقو یوه جامه ښایسته و. دده مجلس او مرکه د پښتو پښتونولۍ یوه لویه مدرسه وه. ده به ټول پښتنو ځوانانو ته د پښتني خویونو درس ورکاوه. بې پښتوګي بې بده ګڼله. دده په وجود کې عسکریت، سیاست، علم او ادب ټول یوځای شوي ووو او په دغه سبب په هېواد کې د یو ملي شخصیت په صفت پېژندل شوی دی.

ښاغلی محمد ګل مومند د یوې نه بدلېدونکې عقیدې خاوند و. په سختۍ او نرمۍ، په خزان او بهار یعنې په هر وخت او هر حال کې پر خپل هوډ او ننګ، پښتو او پښتونواله لکه غر ټینګ ولاړ و.

ده لکه د تېرو ننګیالو پښتنو په شان د پیسو په ځای، قصې ګټلې او په دولت او پیسو پسې یې سر نه خوړاوه. دا وجه وه چې په کابل کې تل په کرایي کور کې اوسېده او تر مرګه په کابل کې د کوم کور خاوند نه شو، تر دې چې ساه یې هم د بل په کور کې وختله او همدا خبره دده لوی افتخار او امتیاز ګڼل کېدای شي. ښاغلی مومند سربېره پر نورو صفتونو یو زبردست خطیب او ویاند و. دده په وینا او خطابونو کې پوره فصاحت، زیات جرئت او قوي منطق موجود

و. ده په هر صورت او هره موقع کې له اخلاقي زړورتيا نه کار اخيست او هيڅ کله يې له حقې وينا څخه مخ نه دی اړولی.
ددغه لوړ شخصيت او پښتني کريکټر له کبله يې د بابا لقب موندلی و او هر چا ورته د بابا توب حيثيت ورکړی و.

## علمي او ادبي خدمت

ارواښاد محمد ګل مومند سربېره پر سياسي او عسکري خدمتونو، په علمي او ادبي برخو کې هم پاخه ګامونه اخيستي دي او د پښتو ژبې د ژوندانه لپاره يې غټ کارونه سرته رسولي دي. کوم وخت، چې په کندهار کې تنظيمه رئيس و، نو هلته يې د اعليحضرت محمد نادر شاه په اجازه په ۱۳۱۱ ش کال کې د پښتو انجمن لومړی تيږه کېښوده، چې بيا همدغه انجمن کابل ته راوغوښتل شو او د کابل له ادبي انجمن سره يوځای شو او وروسته ورنه په ۱۳۱۶ ش کال کې پښتو ټولنه جوړه شوه.
ده په کندهار کې رسمي دوترونه په پښتو اړولي وو، چې بيا وروسته دغه لار چا ټينګه نه کړای شوه.
ده په کندهار کې ډېر زلميان وروزل او د پښتو د خدمت ميدان ته يې ووېستل. د کندهار "طلوع افغان" هم دده په امر په پښتو اوښتې دی. دده نيت او ارادې په ډېرو وختونو کې د پښتو له ژوند سره زياته مرسته کړې ده او تل يې د پښتو د لوړتيا ارزو په رسمي او شخصي ډول پاللې ده.

دده لومړنی علمي اثر له پښتو سیند څخه شروع کېږي. ددې قاموس د لیکلو لپاره یې له ډېر پخوا څخه د لغاتو په راغونډولو لاس پورې کړی و، خو د کتاب په شکل په ۱۳۱۶ ش کال د کابل په عمومي چاپخانه کې چاپ شو.

دغه قاموس دوه ټوه دی او ټول مخونه یې (۷۶۶) ته رسېږي. دا قاموس په ډېر زیار په پښتو او پارسي لیکل شوی او په افغانستان کې لومړی چاپي قاموس ګڼل کېږي.

د پښتو ژبې د علمي بنسټ ټینګولو لپاره دده بل لوی علمي خدمت "د پښتو ژبې لیار" ده. "د پښتو ژبې یلیار" د پښتو ژبې یو لوی ګرامر دی، چې په پښتو ژبه لیکل شوی او په ۱۳۱۷ ش کال په لاهور کې د عبدالعظیم صافي په اهتمام چاپ شوی دی.

د پښتو ژبې لیاره یوه ډېره خوږه په زړه پورې سریزه هم لري، چې د هر پښتون زړه وریاندې خوږېږي. په دې ګرامر کې داسې ډېرې نوې څېړنې راغلې دي، چې په پخوانو ګرامرونو کې نشته. پا آخر کې د مصدرونو یو کامل فهرست هم لري. ټول مخونه یې (۴۰۰) ته رسېږي. د ښاغلي مومند بل خوندور اثر (لنډکی پښتو) ده، چې په ۱۳۲۷ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر کې د پښتو او پښتنوالې ښېګڼې په ډېر ښایسته

او سپېڅلي رنګ کې بيان شوي دي، چې د پښتو وظيفات ورته ويلای شو.

ده ځينې نور کتابونه هم ليکلي دي، خو په قلمي شکل کې پاتې دي او چاپ شوي نه دي، چې نومونه يې دا دي:

۱ـ پښتنې روزنه.

۲ـ پښتو پښتونواله.

۳ـ د پښتو لويه نحوه (معاني او بيان)

۴ـ د پخلي کتاب، چې (۴۰۰) مخونه لري او داسې نور...

# د پښتو مينه

ښاغلي مومند له پښتو او پښتونولۍ سره ډېره مينه درلوده. ده په مجلس او مرکه کې به بې له پښتو نه بله خبره نه ر... ...رځای او هرې سويې پښتون چې به ده ځای ته ورغی، نو ده به ورسره خامخا د پښتو په باب خبرې کولې. د سوچه پښتو کلک ملګری و.

ده په وړاندې به چې چا په پښتو کې د بلې ژبې تکی راووړ، نو ده به سمدلاسه وړاندې غبرګ وکړ. چې پوه نه شوم، څه دې وويل؟ که چا به خپله غلطي سمه کړه، نو په

درنه لهجه به يې وويل، چې ها ! خداى دې وبښه! اوس پوه شوم.

د پښتو لغاتو څېړنه او پلټنه دده لويه مشغولا وه. ده به همېشه له کليوالو پښتنو څخه د نااشنا لغاتو پوښتنې کولې. قلم او کاغذ به ورسره تل په خوا کې پراته وو، چې نوى لغت به يې واورېد، هغه به يې وليکه. ګډوله او کړکېچو پښتو يې نه خوښېده. چا چې به له پښتو سره بې پروايي کوله، هغه ته به يې په ښه نظر نه کتل. ده د نويو لغاتو په جوړولو کې لوى لاس درلود او ډېر نوي لغات يې جوړي کړي دي، چې اوس يې ښخې رواج موندلى دى او عام شوي دي. لکه: خج=د اواز فشار د ژبې ليار=قانون، وتوځى=مخرج، ننوتوځى=مدخل، ايرنى=خاکستر دانې او نور.

خو ځينو يې د سختۍ له کبله رواج نه دى موندلى لکه:

اخل=ګلاس، هځوب*=کلتور.

ده د پښتو په ليك دود کې هم ځينې تغييرونه راوستي دي، لکه: (ن، سره ى)، خو دى ليك دود هم رواج ونه

* وزير بابا هځوبِ« هغه څه چې ولسونه ښېلوي»لنډيز باله، چې ربښتيا يې هم د کولتور سمندر په کوزه کې بند کړى دى

مونـد ، يـوازې مجهولـه او لکـې والـه (ې،ى) پـه پښتـو ليـك دود کې ومنـل شـوې.

زه دده لـه مړينـې نـه درې ورځې دمخـه ورغلـى وم، يـو ځو نـور پښتانـه هـم وو. پـه دغـه ورځ سـره لـه دې هـم چـې لـړ غوټـدې زهـير او رنـځور ښکـارېده، خـو د لغـاتو پـه څېړنـه لګيـا و. قلـم يـې رااخيسـتى و او نـوي لغـات بـه يـې پـه کتابچـه کې ليکـل. لـه مانـه يـې پوښتنـه وکـړه، چـې د (ږې وزلـې او اسکېرلې) ترمنـځ څه فـرق دى؟

مـا وويـل چـې پوره پـرې نـه پوهېږم، نو ويـې ويـل چـې دغـه لغتونـه د کندهـار دي،لـه کندهاريـانو څخـه يـې معنـى معلومـه کړه او بيا يـې ماتـه ووايـه.

دغـه وه د ارواښاد مومنـد د پښتـو مينـه، چـې تـر مـرګه پـورې ورسـره ملـګرې وه. محمـد ګل مومنـد د پښتنـي او علمـي حيثيـت پـه بـاب مولينـا خـانمير هلالـي د خيـبر د اخبـار مديـر د **۱۹۵۷** عيسـوي کـال د اکتوبـر پـه يـوه ګڼه کې داسـې ليکلـي وو:

"غـازي محمـد ګل خـان مومنـد د اسـلام او پښتنـې مـور هغـه غـيرتمن زوى دى، چـې شـجاعت، ځوانمـردي، علـم او فضـل ددې غـازي پـه نـوم نـاز کـوي. کـه يـو خـوا يـې د پښتـو ژبې پـه خدمـت کې د قلـم هغـه جوهـر ښکـاره کـړى دى، چـې

تاریخ به یې د عظیم الشان یادګار په شان په خپله لمن کې امانت ساتي".

(د خیبر جریده، پېښور)

## د ښاغلي مومند شعر

د ښاغلي مومند زیات آثار په نثر کې دي او دده زیاته توجه د نثر خوا ته وه، له شعر سره یې ډېره جوړه نه وه، خو یو څو شعرونه یې هم ویلي دي، چې د "کابل" په مجله کې نشر شوي دي.

د یوه شعر دوه بیته یې دا دي، چې د ملالۍ له خولې وایي:

وخت چې راغی د پښتو د نوم او ننګ
پښتنه وم ځان مې مړ که په فرنګ
چې پښتون وي او مېړه وي څنګه کاندي
د ظالم زورګیر انګرېز له جنګه څنګ.

یو بل شعر یې د یوې پښتو مشاعرې په لړ کې ویلی دی او هغه دا دی:

پښتو مین په تا یم که وم وم که نه وم نه وم
هر کله به دې ستایم که وم وم که نه وم نه وم
پښتو د بڼ چونې یم شور به کړمه پښتنو ته
تل دوی ته په وینا یم که وم وم که نه وم نه وم

پښتــو کــه رانــه لاړه هــر څه بــه رانــه تللــي وي
نــو بيــا تــالا والا يــم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
د رب مخ مې دروړی دی پښتونه پښتو ټينګه کړه
زه تاتــه پــه ژړا يــم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
دروغ مــې هېڅ زده نــه دي هم ټکي نــه شم کولــی
پښتــون يم په رښتيــا يــم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
خبره د زلمو ده چې پښتو تــه ځان تکړه کړي دوی
زه زوړ يم او بــوډا يــم کــه وم، وم کــه نــه وم نــه وم
په ختــه سپين پښتــون يم محمد ګل د قوم خادم يم
لــه ستــې نــه آريــا يــم کــه وم، وم ه نــه وم نــه وم.

## د ښاغلي مومند نثر

ارواښاد مومنــد نــثر تــه ډېر اهميــت ورکــاوه او هغــه نــثر يــې ډېر خــوښاوه، چــې د پښتــو د ســوچــه لغــاتو او خــوږې محــاورې پــه ګانه بــه ښايســته و. پــه نــثر کــې د ســبک د يووالــي او د پښتــو د خپــل خــاص رنــګ ملــګری و "د پښتــو ژبــې ليــار" پــه ســريزه کــې يــې دغــه ډول نــثر پــه خپلــه هــم ليکلــی دی، چــې هــم د معنــی او هــم د عبــارت لــه مخــه د پښتــو يــو خوندور نــثر ګڼل کېږي.

دغــه نــثر يــو څو جملــې دا دي:

PROPERTY OF ACKU 11926

"هـرڅه چـې دي د ملـت سـعادت، سـلامتي، عـافيت، راحـت، عـزت، ملـي شـته والـی، هـر ډول لوړوالـی، د ملـي شئوناتو پاینـه، د وطـن سـاتنه، پـه عـزت او هوسـاينې سـره ژونـدون، پـه عـزت سـره مرينـه او د نـړی ځخـه پـه ښه نامـه سـره تـګ، او نـور ملـي يووالـي پـورې اړه لـري، د مليتـه پورې او هغـه هـم ملـي او يووالـي او ملـي ژبـې پـورې يـې اړه لـري....

کـه ملي ژبـې خلـل مينـده کـړ، دغـه ټول خلـل مينـده کـوي او ګـه محـوه شـوه، نـو ټول محـوه کـېږي او د هغـه ملـت نـوم او نـښـه د نـړی د مـخ ځخـه ورکـېږي". "ت، ت مخونـه"

## د لنډکی پښتو د نثر نمونه

پښتـو خـورا ګران امـانت دی، چـې د نيکونـو نـه راپـاتې ده، او زمـوږ د نيکونـو وصيـت دی، چـې بـايد دغـه امـانت د درسـت اولـس د ګټې او فـايدې لپـاره يـې لـه خيانتـه خپلـو زامنـو، نمسـو، کړوسـو، ، پـردو او د هغـو نـه وروسـتو تـه پرلـه پسـې ورسـوو او روغـه يـې وروسـپارو.

وړانـدې وروسـته، خواوشـا، ټول ښه او بـد، ګټه او تـاوان هـرڅه پـه پښتـو راڅرګنـدېږي.پښتـو ده، چـې ننګيـالي، نيکونـه راپـېژني او هغوی تـه مـو رسـوي.

پښتــو بــه وي،چــې زمــوږ نمســي، کړوســي، کــودي او پردي او د هغـوی نـه وروسـتني بـه لـه مـوږ سـره رانښلـوي. د پښتونوالـې اثبـات پـه پښتـو سـره کـېږي. ددغـه دپـاره چـې اوسني او وروسـتني پښتانـه ځانونـه خپلـو پښتنو نیکونـو تـه ورسـوي او ثابتــه کـړي، چـې دوی پـه رښتیـا سـره د هغـوی رښتیـاني تمســي دي، نـو ښایـي چـې د صـرف د اشـتقاق د اصولـو پـه شـان لفظـي او معنـوي بشـپړ مناسـبت پـه منـځ کـې موجـود وي او دغــه مناسـبت بـې لــه کـوم تغیـیر او خللــه ټینـګ وسـاتل شي. کـه نـه پـه تشـو دعواګانـو او خوشـې خـبرو او پــرړو، نــه څوك پښتــون کــېدای شــي او نــه یــې څوك پښتـون ګڼلی او منلـی او ګڼلی شـي.

(لنډکی پښتو، د کابل چاپ)

## دده د نثر يوه بله نمونه

ځینې وایـي پښتـو ګرانـه ده. هـو! کـېدای شـي، چـې پښتـو دې ګرانـه وي، خـو هغـه چاتـه چـې پښتـون نـه وي، لیـا پښتـو یـې پـرې ایښې وي او پښتونوالـې نـه وتلـی وي. هـو! پښتـو ګرانـه ده! ځکـه چـې د پښتـو سـره پښتنوالــه تړلـې ده او هغـه خورا ګرانــه ده.

بـي بـي تــوب ګران دی، خــو کچنیوالــه اســانه ده، درســت عمــر پــه عفـت تـېرول او د دیــن او پښتـــو ټول احکــام منــل

ګران دی. سپوره او سوې خوړل، پولۍ او نينۍ چيچل، لوږه او تنده تېرول، تل د کاله په کار بوخت اوسېدل، پخلی کول، لوښي او نور کالي پاکول، ګنډل، رېشل اوبدل، جامې پريمنځل، کور او انګړ ريبز کول، د کاله هر شی سنبالول، ترتيب او انتظام ساتل، واړه روزل او پښتانه يې لويول، هر ډول ګرانو ته غاړه ايښودل، قناعت کول، د کاله نه، نه وتل، د کهول او کام او د خپل مسلمان او پښتانه مېړه پت په ځای کول، ننوم ساتل، رښتيا چې ګران کار دی.

نامېره تيا هر ګوره اسانه ده. هغه د هېڅا نه ده، تلې او نه ځي. هره ګړۍ چې ځوك وغواړي، هغه څه چې سړي ته په خوله نه ورځي، کولی يې شي. ښه به خوري، ښه به ځکي، ښه به اغوندي، ښه به ګرځي، ګړندی ګاډی به زغلوي، ښو کوټيو او ماڼيو کې به اوسي، ښو تلتکونو کې به څملي او پيسې به هم ګټي، خومېره کېدل، ستړيا منل، کار کول، ځان ستړی کول، لاسونه او پښې تناکې کول. لوږه تنده، تودوخه سړوخه، بې خوبتيا، محروميتونه تېرول، هر چېرې او هر چاته نه تلل، چاته اسره او تمه نه کول، چاته غاړه نه کېښول، د چا نه څه نه غوښتل. د ژوندانه ټولې ګرانې په لوی زړه زغمل او تېرول، غيرت کول، همت کول، شرم کول، بدرنګی ته

غاړه نه ایښودل، خپله حیا خپل نوم او ناموس ننګ پرځای کول، ځان ژوبلول په وینو کې رغښتل، نوم ګټل او خپلو وروستنو ته پیغور نه چې حتی ښه نوم او ښه تښه پرېښودل زښت ډېر ګران کار دی.

پښتو سړیتوب دی او انسانیت دی.

حقیقي سړیتوب او انسانیت ډېر قید و قیود لري. د اخلاقو د قیودو لاندې عمر تېرول ګران کار دی. بې شرفي، بې حیایي، بدرنګي، بداخلاقي، هرڅه مثل او د انسانیت له قیود و څخه وتل، اسان کار دی، نو ځکه پښتو ګرانه ده او بې پښتو توب اسان دی!!

(هېواد، د سنبلې ۱۹ . ۱۳۲۹ هـ ش)



پوهاند استاد عبدالشکور رشاد

# د قام غمخور

# محمد ګل خان مومند

مفکر محمد ګل خان مومند (۱۳۰۲هـ ق زوکړی) د خپلې زماني یو باخبره، پوه او ځیرك منصبدار و. له آګاهی، پوهې او ځیرکتیا سره یې د قام درد او خواخوږي هم درلوده او د پښتنو دغو بدو ورځو ته ښه ځیر و. ده ډېرې شپې د پښتنو د غمخورۍ په فکر کې سبا کړلې او ډېرې ورځې د قم په غم کې لالهانده. کرهرانده پرې تېرې شولې، پای ته یې وپتېیله هر راز چې کېږي، د کم بختو پښتنو د ثقافتي ، سیاسي ویښتابه او اقتصادي نظم هرکارې ته به هرو مرو وردانګي او څو یې وسه رسي د قام ماته ببړۍ به د ژرغونې غاړې ته پورې وهي. هر څوك د هر کار تر عهده نه شي وتلای. سترو کارونو ته ستر همتونه په کار دي، دا مفکر او هوډیالی محمد ګل خان مومند و، چې د قام ماتې پېړۍ ته یې اوږه ورکړله (خو افسوس چې تر غاړې ونه رسېدله) او خپل توان او قدرت یې د دوی فرهنګي او اقتصادي ودې ته وقف کړ.

ده په فرهنګي برخه کې (پښتو) ته توجه وکړله. تر ټولو دمخه یې په (۱۳۱۱)هـ ش کال کې هغه وخت، چې دی ددغه

ACKU

ولایت رئیس تنظیمه و، پښتو انجمن یې جوړ کړ. د کندهار جریده (طلوع افغان) یې درست پښتو کړ، پخپله یې قلم راواخیست پښتو سیند (د ۱۳۱۶هـ ش چاپ) یې ولیکه، چې تر ځلورو زرو زیات پښتو لغتونه پکې معنا شوي دي. د رغونو (تورو) حرکات و سکنات یې په مخففاتو ښودلي دي. د مصدرونو په برخه کې یې اشتقاقي تفصیلات هم شته یعنې د زمانو په لحاظ یې د صیغو اشتقاق ته هم اشارې کړې دي.

د مفکر محمد ګل خان بله مؤلفه د پښتو ژبې لیار د (۱۳۱۷چاپ) نومېږي، چې د پښتو صرف و نحو یې په کې ځېړلي ده. ددغه کتاب په درېیمه برخه کې یې ۱۵۶۶ مصدرونه د شاوندیو Kawaledal aLedal د وېش له مخې راوړي دي، ددغې برخې یوه ښېګڼه دا ده، چې د هر مصدر، متمم مصدر یې (که په ژبه کې وی) هم راوړی دی لکه له "لیدل" سره د "ویل" او له کتل سره د "کورل" او داسې نور...

مفکر محمد ګل خان ددغو دواړو کتابونو په لیک دود کې هم نوښتونه لري مثلاً:

"ټ" بی "ت" ـ ج بی ح* ـ "ډ" بې "د" ـ "ړ" بی "ر" ـ (ڼ) یې "تر" لیکلی دی او د کلمې په منځ کې زور په (ه) ښوولی دی لکه سره ی (سری) کتوره ی (کتوری) او داسې نور...

د ماموریت په وخت کې چې به مفکر محمد ګل خان په هر ځای کې و، هلته به د پښتو ژبې او ادب د پوهانو انجمن جوړ

* د "ج" لپاره د "ځ" شکل تر محمد ګل خان مومند دمخه هم کارل شوی دی (وګ د ایچ رتن چند کندهاري رهنمای پښتو چې په ۱۸۹۲ع کال په کوټه (کوېټه) کې چاپ شوې دی) ما چې د کابل چاپ خیرالبیان د مقدمو په برخه (۷۴مخ) د "ځ" شکل د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد بللی دی، سهي خبره نه ده. هغه وخت ما د رتن چند کندهاري رهنمای پښتو نه و لیدلی. "رشاد"

و. ده به پښتو پوهان تشويقول چې پخپلو آثارو، پښتو ژبه غني کړي، کتابونه وليکي، لغتونه راټول کړي او د پښتو ګرامر وڅېړي، ده غوښته، چې پښتنو کوچنيانو ته دې تعليم په پښتو ژبه وشي، ولې چې په بله ژبه کې تعليم او تحصيل د شاګرد ډېر وخت نيسي او پر ذهن يې دروندوالى زياتوي.

مفکر محمد ګل خان د پښتونوالي پر مثبتو رواجونو ټينګ و او نور پښتانه يې هم د پښتونوالي په ګو رودودونو باندې ټينګار ته تشويقول. له دروه ودرغل، درواغو او غوره مالي څخه يې ډېر بدوړل او ويل به يې دا عادتونه او خصلتونه، نه يوازې د دين له پلوه غندل شوي دي، بلکې په پښتونواله کې هم دغو خصلتونو ته د کرکې او نفرت په سترګه کتل کېږي او د پښتني فضايلو له منځه وړونکي دي. ده چې په خپل ژوند کې څومره سياسي تقوى، پاك نفسي او له قام سره خواخوږي درلوده،له نورو خلکو څخه يې هم ددغو فضايلو هيله درلوده او خلك به يې دغو چارو ته تشويقول. وزير صاحب محمد ګل خان خورا صريح اللهجه او پر حق ټينګ سړى و. علي احمد "والي" چې په ننګرهار کې د پاچهي اعلان وکړ، ده په څرګند ډول له دغه اعلان سره مخالفت وکړ، هرڅه ايرادونه او تهديدونه چي ورکړل شوه، له خپلې هوډې څخه نه واوښت.

د مفکر محمد ګل خان پام د قام د ځوانانو د تربيې په څنګ کې د قام اقتصادي بهبود ته هم اوښتى و، د هندوکش په شمال کې ډېرې سرې کارې ځمکې خورا شاړې پرتې وې، اوبه بېکارې بهېدلې او شاړې مځکې ځنګلونه کېدل، د سيمې خلکو د کرهنې په کار کې ځانونه ډېر نه زهيرول. د للمې لپاره ډېر دښتونه او راغونه د دوى په واك کې وو، فقط

یوې او تخم یې له دوی څخه غوښت، نور به نو اقلیمي شرایطو (موسمي بارانونو) کښتونه وریخول، په پراخو دښتو او ویرو راغو د سیمې د خلکو وس نه رسېده، چې ټول وکري او حاصل تري واخلي، خو په افغانستان کې ځینې سیمې په تېره بیا د پښتنو ټاټوبي داسې وی، چې غلو دانو یې د سیمې خلك نه شوای مړولای، مځکې نه وې چې وکرلې شي، د سیمې خلك به دې ته اړ وو، چې مزدور یو لپاره هندوستان ته ولاړ شي او غنم و جوار له هندوستانه راوړي.

مفکر محمد ګل خان دغه بې مځکې خلك او کوچیان په منتون،و په زاریو، زواوور وبلل او بې خاونده مځکې یې د هندوکش په شمال کې پر ووېشلې، ده په دې کړو د هندوکش د شمالي برخو ډېرې بې خاونده او بې حاصله مځکې حاصل خېزې کړلې او د وطن بېکاران یې په کار واچول، د نورو له مزدوریو یې راوګرځول او د خپل ملك په ودانی یې اخته کړل، د ملك حاصلات یې زیات کړل او ورې سیمې یې د خپل ملك په حاصلاتو مړلې کړلې.

مفکر محمد ګل خان د قره قلي پوستکو انحصاري سوداګري د جهودانو له لاسه وکښله، د سیمې خلك یې تجارت ته تشویق کړل، د "رښتیا" او "یووالي" په نومونو یې په مزار شریف او بلخ کې شرکتونه جوړ کړل، چې وروسته دغه شرکتونه په خپلو سوداګریو کې ډېر پرمخ ولاړل او د ښو پانګو څښتنان شول.

د رسمي ماموریت تر ختمېدلو وروسته هم د محمد ګل خان ټاټوبی د پښتو ژبې او ادب د پوهانو او هواخواهانو ټولنځی و. مفکر محمد ګل خان تر مرګه پورې (۱۳۸۳هـ ق) د پښتنو له روزنې او د پښتو له پالنې لاس وانه خیست، د ورځې

به يې د پښتو پالنې او د پښتونولۍ تبليغ کاوه اود شپې به يې د پښتنو د بهبود چرتونه وهل. زما ښه ياد دي د افغانستان د خپلواکۍ د بيا اخيستلو څلوېښتمه کاليزه وه، فخر خان (عبدالغفار خان) هم کابل ته راغلی و. په بابر باغ کې د خوشحال لېسې زلميو او رحمان لېسې زلميو شاګردانو رسم ګذشت ورته وکړ، تر رسم ګذشت وروسته اتڼونه پيل شول، د شاه جوی د خروټيو اتڼ چيان هم راغلي وو. دوی چې اتڼ کاوه رنګه دسمالونه يې په لاس کې وو او هغه به يې د اتڼ له حرکتونو سره سم ښورول، قام پال محمد ګل خان مومند، چې د فخر افغان پاچا خان ترڅنګ ناست و، د خروټيو د اتڼ دغه خصوصيت يې خوښ نه شو، ناڅاپه ودرېدی او خپله لکړه يې د اتڼ له حرکاتو سره سمه د توري په دود ښوروله او څرخوله، خروټيو اتڼ چيانو ته يې وروغ کړ:

"وغورځوئ دا د تور سرو څپوټي (دسمالونه)، ستاسې پلرونو او نيکونو په اتڼ کې توري ګرځولې او تاسې د ښځو په شان څپوټي ښوروئ."

وزير صاحب محمد ګل خان په دغو کلونو کې د ګوزڼ په ناروغۍ مبتلا و، پښو يې ښه ملګري نه ورسره کوله، خو بيا هم له دغې ناروغۍ سره يې له تورو سره د اتڼ حرکتونه د پښتنو ځوانانو د روزنې په خاطر تمثيل کړل.

محمد ګل خان او پاچا خان دواړه اوس په موږ کې نشته (خدای دې دواړه وبخښي) د پښتنو لښکر، بې قافله شوی دی او قافله هم سالار نه لري، زه ګومان کوم ددې بې سالارې قافلې خطرناکې آينده ته به دغه دواړه لارښوونکي مشران (رح) هېښ پاته وي او په ډېر حسرت به دغو پرشلولارو روانو پښتنو ته ګوري.

ښاغلی سناتور چکنوری

# مومند بابا

## یو سیپڅلی شخصیت و

وزیر صاحب محمد ګل خان یا مومند بابا خو داسې کارنامې کړي دي، چې هغه ټولې ددې وړ دي، چې افغانان یې د تل لپاره د ځانه سره وساتي، په زړونو کې وي، په لیکلو کې وي او که په کتابونو او تاریخونو کې وي.

او هغه دا چې ارواښاد بابا یو ډېر ښه پښتون او یو ډېر سوچه مسلمان و. یعنې ډېر ښه افغان و. د ارواښاد د ژوند ډېرې کارنامې دي او په ځانګړې توګه، چې هغه د افغانستان د خلکو لپاره کوم فکر او سوچ لرلو، هغه ډېر زيات مضبوط او سالم فکر او اندېښنه وه.

ACKU

هغه تل غوښتل، چې افغانان دې يو موټی او متحد وي او په اتحادي چوکاټ کې دې د دوی ژوند وي، يعنې په افغانستان کې چې څومره مېشت وروڼه قومونه دي، د ټولو يووالی، خوږ او هوسا ژوند د ارواښاد بابا د سترې ژوند يوه لويه هيله وه.

خو له بده مرغه ځينو کينې اړخو او د ملي يووالي بدبينانو بيا داسې پروپاګند کاوه، چې ګوندې بابا يوازې د يوه قوم ننګه او ښېګڼه غوارې او دغه ستر شخصيت يې ان متعصب ګڼلو، مګر د بابا سره يوه نيله تعصب هم نه و او يو بې تعصبه مسلمان سړی و.

هغه دا غوښتل او بلکې تل يې هڅه کوله، چې بې نزاکتي او بې ادبي له منځه يوسي او تل به يې ويل، چې تاسو د چا د نوم د بدلولو کوښښ مه کوئ. ځکه چې دا وبال دی او دا اخلاقيات نه دي. زموږ په سپېڅلي آسماني کتاب کې راغلي، چې څښتن تعالی فرمايي، چې: تاسې چاته نيمګړی نوم مه اخلئ، د چا مقدساتو ته په سپکه مه ګورئ. په همدې مصداق بابا ويل، چې دلته مېشت قومونه چې دي، ټول د يوه وجود غړي دي، ټول يو واحد ملت دی او دوی که د هر قوم خلك او وګړي وي، بايد دوروڼو په شان ژوند وکړي. يو د بل حقه حقوق وپېژني، د کشر او مشر تميز بايد وشي، د هر سړي ځای

او قدر باید په هماغه کچه وشي او هېڅوك حق نه لري، چې يو پر بل تېرى او تجاوز وکړي.

او هغه به تل دا سپارښتنه کوله، چې د يو بل سپکه مه کوئ، ځکه دا طبيعي خبره ده، چې هر سړى د خپل قوم او کور کلي په سپکه خپه کېږي او په مقابل کې يې دى هم سپکې او بې ځايه ويناوې او ډرامې کوي، نو د همدغو خبرو نه بيا خداى جل جلاله مه کړه لويې تربګنۍ او دښمنۍ جوړېږي.

مومند بابا همدومره وکړل، چې خلك يې دې ټکي ته ملتفت کړل او ربښتيا خبره دا ده، چې د دې تحريك له چلولو نه مخکې چې کوم څه ويل کېدل او په لوى لاس به د ځينوله خوا سپکې سپورې ويل کېدې، بيا دومره شوه، چې خلك دې خبرو ته ملتفت شول او يو څه اندازه ددغو بې ځايه خبرو مخه ونيول شوه، چې دا ټولې د مومند صاحب د سالم او پراخه نظر برکت و، چې تل به يې دغه قوم ته د ورورۍ او مينې خبرې او لارښوونې کولې.

مګر دومره وه، چې دى په دغه اصلاحي لار او کار کې ېيخي يوازې و. په دغه لار کې يې وزارت هم پرېښود. کله چې دى د نادر شاه شهيد سره راغلى و، د انقلاب په دوران کې او هغوى څلور ورونه وو او دى يې خپل پنځم ورور ګاڼه او همدا و، چې لومړى د کورنيو چارو وزير

شو، بیا د لویدیځ او شمالي ولایتو تنظیمه رئیس شو او د هېواد په هرځای کې یې تولو مېشتو ورونو قومونو ته دا سپارښتنه کوله، چې تاسې د یوه کاله خلك یاست، یو د بل ډېر قدر کوئ او په خپلو منځو کې داسې کلمې مه وایاست، چې هغه د نفرت او کرکې سبب شي.

داټول کوشش ددې لپاره و، چې هغه وخت وزیر صاحب محمد ګل خان په دې پوهېده، چې په افغانستان به داسې ورځ راځي چې دښمنان به یې دپاشلو او وېشلو هڅه کوي. ځکه چې په هغه وخت کې زموږ شمالي ګاونډي روس و، مومندبابا په دې پوهېده، چې روسان به یوه ورځ دخپلې موخې د لاس ته راوړلو په خاطر په افغانانو کې رنګ رنګ پروپاګنډې وکړي.

روسانو ټول زموږ ګاونډي اسلامي هېوادونه نیولي وو، یعنې دیروال د ره نه راپه دې خوا ثمر قند، ترمذ او بخارا ټول یې لاندې کړي وو.

د همدې وېرې (تجزیې) له مخې مومند بابا د ختیځ او جنوب نه ځینې پښتانه، چې ځمکې یې نه لرلې او یا د ځمکو خاوندان وو، دې ته وهڅول چې د ملك شمالي سیمو ته ولاړ شي، په شمال کې ډېرې شړې ځمکې وې. وزیر صاحب ویل چې هم به هلته نفوس ګڼ شي او بل دغه ځمکې د کروندې وړ شي او په دې ډول به زموږ خلك او

هېواد يو خود كفا ملك شي. يعنې غلې دانې به دومره شي، چې زموږ به بسيا شي او دغه ګڼ نفوس به په حقيقت كې د دښمن په مقابل كې يو سپر هم شي او پر افغانستان به بلوسې ته زړه ښه نه كړي.

زه خپله چې كله پخوا شمال ته ولاړم، ډېر ځايونه مې وليدل، چې هغه به ځنګلې وې، مګر همدوى ابادې كړې، خلكو به ويل چې دلته خوګان ګرځېدل، مګر له بده مرغه چې اوس ځينې خلك په مومند صاحب پسې بېځايه او ناروا تبليغات كوي، چې دا ټولې خبرې د حقيقت او واقعيت نه لرې دي.

د مومند بابا خوږې كيسې او خاطرې ډېرې دي، مګر زه به درته د (۱۳۳۴) د لويې جرګې جريان ووايم او هغه هم په دې باندې رابلل شوې وه، چې افغانستان ته يوه ستونزه پيدا شوې وه او هغه يوازې د حكومت ستونزه نه وه، بلكې ټولو افغانانو ته يوه جهاني ستونزه وه.

افغانستان ته د امريكا حكومت شا كړې وه او بالكل په انزوا كې واقع و او شمالي ګاونډي روسانو هم خپلې ګټې سنجولې.

د امريكې د اولس مشر مرستيال نيكسن افغانستان ته راغلى و او دغه مرستيال اولسمشر بيا د ځينوكين ارخو كسانو له خوا په تماترو او هګيو ووېشتلى شو، چې

هغه بیا له ځانه سره ډېره بده خاطره یوړه او بیا یې د خپل پارلمان غړیو ته وویل، چې موږ باید د افغانستان سره مقاطعه وکړو، چې په هغه وخت کې زموږ لومړی وزیر سردار محمد داود خان دغه لویه جرګه راوغوښته او ویل یې چې اوس څه کول په کار دي، چې په دغه جرګه کې وزیر صاحب محمد ګل خان بابا هم و، چې د دغې لویې جرګې نایب رئیس و. نایب الرئیس داسې وي چې د جرګې پرانیست پاچا کوي او بیا نور جریان یې د نایب رئیس په واسطه مخکې ځي.

په لومړۍ جلسه کې به ټولو سفیرانو هم ګډون کاوه او صرف سامعین به وو او د پرانستې وروسته به تلل.

نو په هغه وخت کې په الجزایر کې جنګ روان و. په دې وخت کې ټول سفیران ناست وو، چې په دې ډله کې د فرانسې سفیر هم ناست و. مومند بابا په خپله لومړنۍ پرانستونکې وینا کې وویل، چې موږ له ټولې نړۍ سره ښې اړیکې غواړو. زموږ هېواد هم د نړۍ د هېوادو له ډلې څخه یو ملك دی او د نړیوالو نه هم د ښو اړیکو هیلې لرو. موږ د الجزایر د خلکو په دغه بده ورځ خپه یو او په دې هکله ډېر فکر مند یو او دغه مسلمانان چې زموږ ورونه دي، په حال یې خوږېږو. زما فکر و، په دغه خبره باندې د فرانسې سفیر یو جټکه وخوړه. خیر دغه

خو تېره شوه. بيا يو تحريك داسې بل پيل شو، چې وزير صاحب يوه ځل صدراعظم ته وويل، چې دغه کابينه کې ښه خلك دي، خو يو وزير ته يې ګوته ونيوله چې هغه وزير معاف (عبدالمجيد خان) و، ويل يې دغه ښه سړی نه دی، هغه وزير صاحب معارف، چې و هغه په تعليمي نصاب کې ګوتې وهلې وې او د پښتو متعلق يې څه زياتی کړی و.

بيا په بله ورځ هغه وزير راپاڅېد، چې يو څه خبرې يې وکړې، مګر مومند صاحب وخت ورنه کړ او هغه ځکه چې دی ترې ډېر خپه و، چې هغه د پښتو په نصاب کې ګوتې وهلې وې، بيا وروسته چې سردار محمد داود خان کودتا وکړه او پخپله رييس دولت شو، هغه وزير معارف يې بيا وزير عدليه کړ.

دغه خبرې چې وشوې، بيا ددې جرګې مهماندار چې و، هغه وزير داخله (شاه عالمي) و، بيا دغو کسانو يو تحريك پيل کړ د (داود په شمول) او دغه خبره په سردار داود خان هم ښه نه وه لګېدلې، ځکه چې هغه هم يو تند سړی و.

دوی کوښښ کاوه، چې په دغه غړيو او وکيلانو کې داسې شوك پيدا کړي، چې د عبدالمجيد خان صفت وکړي او د وزير صاحب محمد ګل خان د خبرو ترديد

وکړي، چې په دې ټولو خبرو کې ورسره د حکومت لاس و او د داخله وزير په سلسله به دا کار پرمخ تلو. مګر تر پايه داسې څوك حاضر نه شولو چې په دغه لويه جرګه کې د وزير محمد ګل خان پرخلاف څه ووايي، ځکه چې په دغه جرګه کې ټول يوه خلك وو او هغوی پوهېدل، چې دا کار ډېر ته څه ګټه نه شي وررسولای.

که څه هم وکيلان د کوچنيو کوچنيو سيمو څخه جرګې ته راغلي وو، مګر ټولو د سيمې په سطح نه، بلکې د ملك په سطح ملي مسايل او ګټې په نظر کې درلودې. په دې لړ کې ماته هم اشاره شوې وه، مګر ما دا کار رد کړ.

يوه شپه بيا په صدارت کې استازو ته ډوډۍ تياره وه، خلك ډېر وو، پر ځمکه په توشکونو باندې ناست وو. وزير صاحب، سردار داود او نعيم خان (چې هغه وخت خارجه وزير و)، درې واړه په يوه ځای کې ناست وو، چې قدرتي زه هم د دوی سره په يوه ځای کې په ناسته برابر شوم او د دوی خبرې مې اورېدې.

په وزير صاحب پسې به ځينو خلکو خبرې جوړولې، نو په دغه وخت کې سردار داود خان يوه تاريخي کيسه وکړه چې له ما اوس هېره ده، بيا سردار نعيم خان په ډېر ادب او موسکا کې د وزير صاحب نه پوښتنه وکړه، چې: "وزير صاحب مردم مى ګويند که شما رباب را شرنګ سوتی

میګوویید"، نو وزیر صاحب ورته په پښتو لګیا و او په ډېر متانت او ډېر وقار یې ورته وویل، چې دا په ما پسې افترا ده، دا دروغ دي او دا ډېره چټې خبره ده.

او ویې ویل: رباب د پښتنو د حجرو او ډېرو ډېر زوړ تاریخي او روایتي ساز او سرود دی او مونږ دې ته رباب وایو. داد خلکو دروغ دي. په دې وخت کې سردار نعیم خان خدای دې وبخښي، مسکی کېده او ویل یې: "مردم می ګویند که شما اسمان را پاس پاس میګوویید".

بیا ورته وزیر صاحب وویل: دا هم دروغ او افتراء ده او زه اسمان ته اسمان وایم او هسکمن هم ورته وایم او پاس پاس خو هېڅ مانا نه لري.

بیا سردار صاحب یو ناڅاپه یوه ګېلاس ته لاس ونیو، نه پوهېږم چې د ګېلاس متعلق به یې څه اورېدلي وو او وې ویل: " شما این را چه میګویید؟" سمدستي ورته وزیر صاحب وویل: " دې ته زه اخل وایم".

دا خبرې مې په دې پورې وکړې، چې په وزیر صاحب پسې خلکو خبرې جوړولې. وزیر صاحب دومره کار وکړ، هغه کوم واټن چې د ځینو قومونو په منځ کې و، د ژبې متعلق، د سیمې متعلق، هغه یې ډېر کم کړ، خو له بده مرغه چې په دې لاره کې یوازې و، البته بیا وروسته

ورسره مرستې وشوې، دغه پنځه ستوري چې نن یادېږي، دوی خلکو هم قلمونه راواخیستل او ډېر څه یې ولیکل او ډېر کار یې وکړ. اوس خو ښځې د خدای فضل د مومند صاحب په فکر ډېر خلك كار كوي، يعنې وزير صاحب دومره وكړل. هغه سپکې سپورې چې به ویل کېدې، د هغوی اندازه یې کمه کړه او خلك يې دې ته متلفت كړل، چې تاسې باید هغه خبرې ونه کړئ، چې زموږ ملي وحدت ته تاوان رسوي، هغه جرگه هم په ښه شکل سره روانه وه، چې دی پکې نایب الرئیس و، ډېرې ښې پرېکړې په کې د هغه وخت سره سمې وشوې، د نظریو اختلاف به و، مگر مخالفت برای مخالفت به نه و.

نو وزیر صاحب د شخصیت په لحاظ باندې ډېر لوی شخصیت درلوده او خپل ټول اصلاحي تحریکونه یې په ډېر ښه شکل چلولي دي او د همدغه سالم فکر له برکته په پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه هم ډېر گران و.

وزیر صاحب په سمنگانو کې اوسېده او هلته هم په خلکو ډېر گران و. وزیر صاحب بالکل متعصب سړی نه و، هر څوك چې داسې وایي دا به د وزیر صاحب په شان کې ډېره لویه اشتباه وي او فکر کوم، چې دغه ډله خلکو وزیر صاحب سم نه دی لوستی او پېژندلی.

وزیر صاحب ټول عمر دا کوښښ کاوه، چې بدگومانی له منځه یوسي او هر سړی ځان وپېژني.

صمیم الله کامه وال

# وزیر بابا،

# یو منلی انسان او سپېڅلی مسلمان

ACKU

ارواښاد محمد ګل مومند بابا د افغانستان د ملي تاریخ په هغو ویاړلیو ستورو کې یو و، چې ټول ژوند یې د خپل اولس او خاورې په سپېڅلي خدمت تېر کړی دی، هغه په هغو شخصیتونو کې و، چې د ژوند مقصد یې د حکومتي جاه و جلال ګټل او د پیسو راټولول نه، بلکې اولسونه پر ځان راغونډول وو او دا رښتیا ده، چې د پیسو راټولوونکی پر ځان د اولس راټولولو له ویاړه محروم وي.

مومند بابا د پښتنو په تاریخ کې د هغه مقام خاوند وزیر و، چې له پخوانیو پاچایانو سره به د هوښیارۍ، د نښې او علامې په توګه یادېده، چې د یو پاچا یو ډېر هوښیار وزیر و او...

د وزیر د هر اړخیز شخصیت په باب ډېر څه ویل نه دلته ددې څو پاڼو په سینه کې ځایېږي او نه د عمر د تقاضا په حکم

زما یاد دومره دی، چې د هغه ټول ملي او اجتماعي ژوند راونغاړي، خو په لنډو ټکو به دومره څه ووایم، چې وزیر بابا د یوه ملي مخور او اولسي مشر په توګه د خپل قام په هراړخیزه روزنه او لارښوونه کې ډېر لوی لاس درلود. د ملي وحدت د تامین لپاره یې افغاني قومونه او اولسونه سره واغړل.

کشرانو ته یو لورونکی پلار و، ځوانانو ته یو مهربانه استاد و، مشرانو ته یو مخور قامي سپین ږیری و، د جوماتونو پر منبر یو ښه خطیب او مبلغ و، دسرکاري او حکومتي مقام په وخت یو عادل او تجربه کار پاك نفسی دولتي لوړ رتبه چارواکی و.

د وزیر بابا د ژوند هره شېبه او هره ګړۍ د یوه اخلاقي مدرس په توګه تیرېده، د هغه ناسته ولاړه، خبرې، حرکات او هرڅه د تقلید وړ وو.

لنډه دا چې د وزیر صاحب محمد ګل خان مومند وجود د ملي یووالي د ټینګښت لپاره په افغان ملت باندې یوه خدایي لورونه وه.

له هغه سره خو ناسته ولاړه او بیا پېژندګلو د هر پښتانه لپاره د ویاړ خبره وه، خو زما ورسره د پېژندګلو ۵۷ کاله کېږي، خو په دې ۵۷ کالو کې مې ۱۷ کاله داسې ویاړلي کلونه دي، چې د رسمي ماموریت له لوړو ځوړ او د محیط له ردوبدل سره سره په یو نه یو شکل مې د وزیر بابا په خدمت

کې تېر کړي دي، د هغه له اخلاقي او اجتماعي شخصيت له مدرسې څخه زده کړې دي.

دا د ۱۳۲۶ش کال رومبۍ شپې ورځې وې، چې زه تازه د کابل له دارالمعلمين نه تر فراغت وروسته د مزار شريف په مارمل کې معلم مقرر شوی وم، دغه وخت وزير بابا په "اسيای ډينګك" کې چې دده له برکته ورته "مومندان" ويل کېده، اوسېده، چې زه ورته خپل يو ننګرهاري دوست وروستم، له پېژندګلو او سلام کلام وروسته يې راته وويل:

د پښتنو ژوند څنګه ښه کېدای شي؟ ما ورته وويل: صاحب! سر غواړي، هغه زما سرته د لاس په اشاره ويل: دا سر دی کنه؟

وخت ډېر تېر دی، رانه هېر دي، چې نور مو سره څه وويل، خو له همغه راهيسې مې ورسره په مزار، کابل او د ننګرهار د شينوارو په ګولايي کې راشه درشه پرې نښوده، ان د مرګ تر شېبې.

ماته له وزير صاحب سره په دغه ټول تېر کړي وخت کې د هغه دغه يو څو خاطرې يادې دي، چې له تاسې سره يې هم د پند او درس اخيستو لپاره شريکوم:

د يهودو او د عربو جنګ و، که څه هم د وزير صاحب صحت ښه نه نو خو د ناروغتيا په حال کې يې د عربو ورونو لپاره . چندې ټولولو ته ملا وتړله. په دې وخت کې محبوب خان اڅکزی د لوی بلخ اولسوال و، د لويې اولسوالۍ ټول

خلك يې چې شمېر يې زرګونو ته رسېده، د بلخ مرکز ته راټول کړي وو، ډېر کلونه تېر شوي وو، چې دوی د وزير صاحب سره نه وو ليدلي. د وزير صاحب نه لکه پتنګان چاپېره شو، هر سړي کوښښ کولو، چې د وزير صاحب لاسونه ونيسي، وزير صاحب وويل عزيزانو! زما ليدو ته ستاسي راتلل په روغبړ مجرا دی.

نو ټول د وزير صاحب خبرو ته يو غوږ شو.

وزير صاحب وفرمايل، چې زه هغه محمد ګل د اسلام زوړ خدمتګار يم، چې پخوا مې هم د شهرت لپاره کار نه دی، اوس هم چې د کوم نيت لپاره راوتلی يم، د شهرت لپاره نه دی.

عزيزانو! تاسي به خبر ياست چې عربو او يهودو خپر لګولي، دا هغه رذيله ډله ده، چې زکريا عليه السلام يې اره کړه او رسول الله(ص) پورې به يې ملنډې کولې. ماشومان يې ورته په زانګو کې حلال کړل او د ښځو تيونه يې ټوټې او پوټې پوټې کړل. زه راغلی يم چې هغه جنګ ځپليو دپاره پسبنه ټوله کړم، دا بسپنه اندازه نه لري، په وس او قدرت پورې اړه لري. په دهدادي کې موږ ته يوې کونډې ښځې درې ګزه خامتا په اعانه کې راکړه.

په همغه ورخ پنځوس زره روپۍ چنده ټوله شوه. يو سړی راولاړ شو، ويې ويل وزير صاحب! زما دا دوه زلمي زامن دي، دا د عربو د جنګ لپاره په چنده کې قبول کړه.

د وزیر صاحب د تقریر په وخت کې د خلکو د سترګو نه د اوښکو رودونه روان وو.

وزیر صاحب زیاته کړه، چې زما په ټول مال کې څه شی چې ماته ګران دي، هغه زما یو ټوپک دی هغه مې په چنده کې ورکړ.

د وزیر صاحب د جذبې او هیبت یوه نمونه.

د روژې مبارکه میاشت وه. هلته داسې تعامل و، چې په روژه کې به د بلخ په هوټلونو کې سازونه کېدل، وزیر صاحب د وظیفې نه خلاص و، د شپې لس بجې به وې، وزیر صاحب د بلخ په بازار کې تېرېده، موټر یې د یو هوټل په خوا کې ودراوه، هغه کال په بلخ کې ډېره قاتې او قیمتي وه. خلکو ته یې مخ راواړاوه، چې و خلکو! دا میاشت د خدای د رحمتونو او مهربانیومیاشت ده، تاسې پکې ډمبازي کوئ. یو ځل په ټول بلخ کې ټول هوټلونه وتړل شول، سازنده ګان یو د بل نه په تېښته کې مخکې کېدل.

وزیر صاحب همداسې چې په پښتني عادتو او ښېګړو باندې ولاړ و، په اسلامي او دیني اصولو سخت پابند و. د هغه په مجلس کې هېڅا د پښتني او اسلامي اصولو مخالفه خوله نشوه بېرته کولای. د هغه مجلس د سپورو او سپکو مجلس نه و، قطعاً که چا به د پښتني او اسلامي مخالفه خوله وخوځوله، په اسلامي او پښتني اصولو به یې د هغه خبره ردوله او هغه سړی به یې سمې لارې ته متوجه کاوه.

په هر اولس کې به چې وزیر صاحب اوسېده، د هغه ځای خلکو ته به دده لاربښوونه ډېره ګټه کوله. د مثال په ډول وزیر صاحب د شینوارو په ګولایي کې اوسېده، چې زیاتره یې کوچیان او دده عزیزان کېدل، که څه هم دوی نسبتاً شتمن او مالدار خلك وو. خوژوندانه د ښېګړو نه بې برخې وو، د کلي په منځ کې یوه چینه وه، اوښانو، خرو، مېږو به همدې یوې چینې نه اوبه څښلې. ښځو به هم د همدې یوې چینې اوبه وړلې. یوه ورځ زه د وزیر صاحب سره ناست وم، څوك راغی وزیر صاحب ته یې عرض وکړ، چې دباندې د تظیمي رییس صاحب ولاړ دی اجازه غواړي. وزیر صاحب ویل مهرباني دې وکړي. تنظیمه رییس صاحب مرحوم عبدالاحد خان ملك یار و. کله چې وزیر صاحب په کندهار کې د تنظیمي رییس و، دی د لاس لاندې عسکري قوماندان و. خو وزیر صاحب ته یې د برحال وزیر نه زیات احترام کاوه او ګل لالا به یې ورته ویل.

رییس صاحب په یو کوږ ووږ کټ کې کېناست. وزیر صاحب امر وکړ، چې رییس ته یوه ناست دړه (څوکۍ) راوړئ. رییس صاحب! وویل ګل لالا همدا کټ ښه دي، وزیر صاحب وویل: له درېشۍ سره سړی په کټ کې ښه نه ښکاري.

رییس صاحب د تګ په وخت کې وویل: ګل لالا ماته څه خدمت؟. وزیر صاحب ورته د ګولایي د کوچیانو د اوبو د مشکل په باب وویل. دا زما عزیزان که څه هم زیاتره شتمن دي، خو د ژوندانه د نظم و نسق هېڅ خبر نه دي. مېږې،

اوبنان او نور مالونه د يوې چينې نه اوبه څښي او ښځې يې هم د همدي چيني نه اوبه وړي.

رييس صاحب وويل: سبا به زه كه خداى كول مهندس د چونې او سيمټو سره راولېږم.

سبا ته مهندس، ګل كار، سمېټ، چونه او پخې خښتې په لارۍ كې ګولايي ته راورسېدل. وزير صاحب شخصاً د دوې كارې نګراني په غاړه واخيسته. په دوه ورځو كې په چينه يوه پخه ګومبزه جوړه شوه.نل يې ورته كېښوده، ښځو به د نلكې نه منګي ډكول او ښكته به خاروپو اوبه څښلې. وزير صاحب د پاكۍ او نظافت سخت طرفدار و. كله به چې خلك ورسره ناست وو، هغو ته به يې ويل: زه چړچويى (تشناب) ته ځم لږه پښتو د ځان نه لرې كوم، زه پوهېږم تاسې خيرو ته پښتو وايئ. پښتانه وايي، چې مونږ په صابون ځان نه وينځو، ځكه بيا به زمونږ زامنو ته خلك پېغور وركوي، چې ستاسې نيكه لاصابوني و.

د ۱۳۲۸كې مې په شينوارو كې وظيفه وه. د غني خېلو په اولسوالۍ كې د محمد اكبر خان په نامه يو ډاكټر زما دوست و. دا ډاكټر پِه امانيه كې د ننګرهار په فرقه كې هم ډاكټري كړې وه. د هغه د خولې كيسه ده، چې:

كله امان الله خان اروپا ته په سفر تللو، د ننګرهار د خلكو دمخه ښې لپاره راغى. وزير صاحب يې هم د ننګرهار د فرقې د لوى قوماندان په صفت ځان سره راوستى و. د لوى ننګرهار په زرګونو خلك د امير شهيد په باغ يې د اعليحضرت امان

الله دمخـه ښې لېـاره راغلــي وو. امــان الله خــان د خپــل ســفر د مقصد په باب په تفصيل سره خبرې وکړې.

وزير صاحب د خلکو په مخکې په لوړ اواز غږ وکړ، چې اعليحضرتـا! زه د ننګرهــار د خلکــو پــه وکــالت اروپــا تــه د اعليحضـرت سـفر لازم نـه ګڼم.اعليضـرت وفرمــايل:فرقــه مشـر صاحب ته خو عسكر يې او ما له دنيا سره د خپل راتګ خبرې کړې او زه هم عسکر يم. يو ځل چك چکې شوې.

وزير صاحب چې څومره په ديني او اسلامي اصولو پابند و، په دنيوي امورو کې يې هم مطالعه درلوده. يو ځل يې ماته وويل: ژمى دى، قصد مې وکړ، چې کامه او خوږي وينم. يو زه او يو مې نوکر و، د اس په سورلۍ د کامې له لياري خوږو ته ورسېدو. په پير محمد خان مو چې زما د پلار اشنا و، شپه شوه. که څه هم د خانصاحب سره موږ درې کسه وو، خو خان صاحب حجرې ته د لس دولس تنو برخه ډوډۍ راوړه. ما خو لاسونه ووينځل، خو ډوډۍ ته مې لاس ورنه وړ. خان صاحب وويل: وزير صاحب مهرباني وکه، ما ويل خان صاحب! تا په کور کې څه ويلي، چې کوم څناور مې مېلمه دى. دوه موږ يو او يو ته چې جمله درې تنه کېږو.

خان صاحب! ښځې رازونه پټ نه ساتي، په ټولو خوږو کې به دا خبره خوره شي، چې خان صاحب کره يو مېلمه راغلى و، چې خداېږو، څومره غوښې او وريجې خوړلې، دا ډوډۍ بېرته کور ته يوسه، په يو بل غور کې د درې تنو ډوډۍ برخه راوړه.

## ١

غلام غوث خیبري

# د پښتو ژبې لپاره د وزیر محمد ګل خان مومند او ملګرو مبارزه

د هېواد د خپلواکۍ په جګړه (۱۹۱۹) او د سقاوي لار وهونکیو غلو څخه د تاریخي او سرلوړي افغانستان د ژغورلو او نجات په جګړه (۱۹۲۹) کې ستر پښتون وزیر محمد ګل خان مومند د یو پوه، مدبر، ملي او سیاسي شخصیت په توګه تبارز وکړ او د ننګرهار او پکتیا د قومونو په یو ولو او اتحاد کې هغه هم د سقاوي غلو خلاف د دوی نه سترې کېدونکې هلې ځلې، د کابل په نیولو کې له سردارانو (شاه ولیخان او شاه محمود خان) سره د نوموړي نومیالي پښتون مرسته د هېواد په پېښلیک کې د یادولو وړ ځای لري.

په هغه وخت کې چې محمد نادر خان لا د پکتیا د خلکو د ملاتړ لاسته راوړلو په هڅو کې بشپړ بریالیتوب ته نه و رسېدلی، چې له وزیر محمد ګل خان مومند سره یې اړیکې ټینګې کړې وې او د دوی د شخصیت، عقیدې او مفکورې درناوی یې کاوه او د همدې درناوي له مخې یې د خپلې پاچاهۍ په لومړیو ورځو کې محمد ګل خان مومند د کورنیو چارو وزیر وټاکه.

مخکې له هغې، چې محمد ګل خان مومند د سقاویانو پر ضد خپل جګړه ییز فعالیت پیل کړي، د مشرقي (ننګرهار) د ولایت پوځي قوماندان او په ختیځ کې د برتانوي یرغل ګرو پر وړاندې د وسله والو څواکونو د مشرتابه دنده پر غاړه درلوده او د ډکې او باسول په جګړو کې یې عملي برخه اخیستې وه.

ننګرهار ته د سردار محمد هاشم خان د رارسېدلو په وخت همدوی د نوموړي سردار او پښتنو قبایلو مشرانو ترمنځه د نژدې کېدو شرایط برابر کړل او له همدې خایه د محمد ګل خان مومند شخصیت، پوهه او تدبر د سردار محمد هاشم خان لپاره د باور وړ او مهم وپېژندل شو او دې باور وروسته ډېرې ښې پایلې درلودلې.

د پښتنو مخالفینو (لکه غبار او فرهنګ) د ډکې او شیر شاهي په محاذونو کې د وزیر محمد ګل خان مومند د جګړه ییزې ماتې خبرې کوي، چې په حقیقت کې د محمد ګل بابا دشخصیت د رانسکته کولو لپاره یوه هڅه ګڼل کېږي او

سیاسي هدف په کې پروت دی، خو دا یې نه له برتانوي یرغلګرو او نه له سقاوي لاړ وهونکیو ځواکونو سره د مخامخ کېدو مېړانه ښکاره کړې.

دویمه دا چې په هره لویه او وړه جګړه کې قومانداتان له ماتي او بري سره مخامخ کېږي او دا د جګړې اصول دي د محمد ګل خان مومند پوځي او ملي شخصیت هم په سپه سالار محمد نادر خان او هم د هغه پر هوښیار ورور سردار محمد هاشم خان باندې پوره اغېزه درلودلې وه او دواړو نوموړیو ملي مشر د ځینو داسې ځانګړتیاوو خاوند پېژندلو، چې په ډېرو لږو کسانو کې د هغو ساری موندل کېدای شي. د محمد ګل خان مومند ژوندانه څو بعدونه یا اړخونه درلودل.

هغه هم پوځي شخصیت و او هم ملي او ادبي شخصیت و. په جګړه کې به د یو زړور او مسلمان قوماندان په توګه د جګړه مارو په لومړۍ لیکه کې ولاړ و او په ملي مسایلو کې د یوه صادق او ایمانداره استازي په توګه د ټولو خلکو لپاره دمنلو وړ و او په ادبي ډګر کې هم د خاصو او ځانګړیو افکارو او نظریاتو درلودونکی پېژندل کېده.

له پښتو ژبې، پښتو او پښتونولۍ سره د محمد ګل خان مومند مینه د هغوی د ایمان یوه غټه برخه ګڼل شوې ده او د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کولو یا ددې ملي ژبې د حاکمیت په لاره کې د هغوی بې پایه او نه ستړي کېدونکې

هلې ځلې د پښتون قام په نظر کې د زيات قيمت او اهميت وړ پېژندل شوي دي.

موږ په زيار وباسو، چې د وزير محمد ګل خان مومند پر مبارزو او تاريخي خدمتونو لړه رڼا واچوو او د هغوی په وينا کې د ملي ژبې پښتو ارزښت او د فرهنګي ښکېلاك خطر تر ممکن حده پورې جوت کړو. تر هغه ځايه، چې ليکلي اسناد ليدل شوي دي، له وزير محمد ګل خان مومند سره د پښتو ژبې او پښتون قام غم د زلميتوب له منګ څخه ملګری و او پرته د کار او دندې له خصوصيت او ځانګړنې بابا دغه غم پاللی او ګاللی و او له هرې موقع نه يې د خپلې ژبې او خپل قام په ګټه فايده اخيستې ده.

که مومند بابا په کندهار کې دنده درلودلې وه، نو هلته يې هم د کندهار د روڼ اندي طبقې په تېره بيا له پښتنو سره دپښتو ژبې د پرمختيا او تعميم په اړه خپل فکر او عمل شريك کړی دی. چې د اعليحضرت امان الله خان په لارښوونه په کندهار کې د "مرکه د پښتو" جوړېدل ، چې عبدالرحمن خان لودين يې لومړنی مشر وټاکل شو، د يادولو وړ ګڼل کېږي.

ما په کندهار کې د پوه عالم، ليکوال او محقق پښتون "نجيب صاحب" څخه چې د پوهاند استاد عبدالشکور رشاد ورور دی دا خبره وراورېدله، چې وزير محمد ګل خان مومند په کندهار کې له ويښو او په ملي او پښتني احساساتو سمبال

پښتنو سره تـل ليدنـې کتنـې درلودلـې او د پښتـو ژبـې پـه اړه يـې ورسـره خبرې کولـې، هـر پښتـون د هغـو خـبرې غنيمـت ګڼلـې او پـه مينـه يـې ورتـه غـوږ ايـښوده.

پوهـاند اسـتاد عبدالحـی حبيبـي پـه کـابل کـې د بـايزيد انصـاري پـير روښان د نړيوال سـيمينار لـه جـوړېدو نـه مخکـې د اطلاعـاتو او کلتـور د وزارت د پښتـو د پرمختيـا د رياسـت، چـې مشـر يـې درونـد او پـه پښتـو ميـن شـاعر او ښوونکـی محمـد ابراهيـم خواخـوږی و، پـه يـوې ځانـګړې غونـډه کـې، دغـه يادونـه وکړه، چې کـه امکانـات وي او مقامـات مخـالفت ونـه کړي، نـو د وزيـر محمـد ګل خـان مومنـد د ليکلـو اثـارو يـوه ټولـګه چـاپ او خپـره کـړي او زه چمتـو يـم، چـې د مومنـد صـاحب پـېژندګلـوي او پر چاپ کېدونکې ټولګه بـاندې مفصلـه سـريزه وليکـم.

د پښتـو د پرمختيـا رياسـت لپـاره بـه دا غـټه کاميـابي وي.

مـوږ پـه همـدې بـاب يـو وړانديـز د اطلاعـاتو او کلتـور وزيـر ډاکټر عبدالرحيـم نويـن تـه وکـړ او هغـوی وعـده راکـړه، چـې پـه دې بـاره کې بـه لـه مقامـاتو سـره خـبرې وکـړي، مـګر د څو اوونيـو پـه تېرېدلـو سـره، کـوم احـوال معلـوم نـه شـو، وروسـته بيـا د رياست مشر محترم خواخوږي تـه د وزيـر لـه خـوا خـبر ورکړ شـو، چـې اوس دې موضـوع معطلـه وي، يـو بـل وخـت بـه پـه دې اړه خبرې وشـي.

تر هغه ځایه، چې موږ معلومات لرو، نو محمد حسن شرق چې د ډاکتر نوین ډېر نږدې دوست له موضوع سره موافقه نه وه کړې.

دا یوازې دکتور محمد حسن شرق نه و، چې له خپل لوړ صلاحیت نه یې د پښتو ژبې او د یو ستر پښتون د معنوي زیار او کار پر ضد استفاده کوله، بلکې دغه ډول ډېر نور هم وو، چې د وزیر محمد ګل خان مومند د شخصیت او ان چې د هغوی له نامه سره یې حساسیت درلود او چې له هغې جملې کسانو نه چاته وسیله په لاس ورغلې وه، نو د بابا د کارنامو په اړه یې په خلکو کې د شکونو پیدا کولو هڅه کړې وه، چې غبار او فرهنګ هم په همغه کتار کې ولاړ وو. موږ به په همدې څېړنې کې په دې اړه ځینې لیکل شوي سندونه وړاندې کړو، موږ دې ټکي ته اشاره وکړه، چې د پښتو ژبې او پښتون قام غم د زلمیتوب له مهال نه د وزیر محمد ګل خان مومند سره ملګري پاتې شوی و او د هغوی له خوا لیکل شوي کتابونه لکه "پښتو سیند" د پښتو ژبې لیار بلندګی پښتو او پښتونواله، هغه اثار دي، چې هم د

پښتو ژبې او هم له پښتون قام سره د محمد ګل خان مومند بابا د مینې او دوستۍ او غم او درد ډېر ښه انځور وړاندې کړو. په دې کې بابا خپل قام ته د ننګ، غیرت، پت او عزت، پښتو او پښتونولۍ، تورې، مېړانې او ملي غرور سبق تازه

کـوي او د پښتـو او پښتـون قـام پـه اړه خپـل فلسـفي ناسيوناليستي افکـار پـه ډېره سـاده ژبـه بيـانوي. د سـاري پـه توګه دغـه ستر پښتـون د پښتـو فلسـفه پـه يـو څو لنـډو لفظونـو کې داسې څرګندوي:

"پښتـو: پښتـو منـل، پښتـو ويـل، پښتـو کـول او پښتـو چلـول دی. پښتـو ديـن، وطـن او پښتـون ولـس تـه خدمـت دی".

محمـد ګل خـان مومنـد د خپـل ژونـد پـه اوږده بـهير کـې پـر همـدې فلسـفه او عقيـده ټينـګ پـاتې شـو او کورنيـو او بـهرنيو دښمنانو ونه کړای شول، هغه له دې سپېڅلې لارې نه واړوي.

د بابـا د مبـارزې بنيـاد پـر همـدې عقيـده او فلسـفه ولاړ و او د هغوی ستر توب هم په همدې پښتنې مفکـوره کې پروت و.

وزيـر محمـد ګل خـان مومنـد لومړنـی پښتـون پـوه و، چـې د پښتـو او پښتـون پـه اړه يـې يـو سـم تفکـر خلکـو تـه وړانـدې کـړ او پـه دې تفکـر يـې د پښتنـو معنـوي شـمله لاهسـکه کـړه او د نـوي ملـي ژونـد روح يـې د خپـل قـام پـه کـالبد کـې پـو کـړ، چـې پخـوا يې هېڅکله ساری نه و ليدل شوی.

د پښتنـو پـه کلتـور او فرهنـګ پـورې تړلـی د "پښتـو" لفـظ د محمـد ګل خـان مومنـد دتفکـر لـه مخـې يـوه نـوې او جـلا شـرحه او مانـا پيـدا کـړې وه، چې پـه بشـپړ ډول سـره پـر حـق او حقيقـت ولاړه او يو رياليستيك مـاهيت يې درلـود.

هغـوی پښتنـو تـه يـو روڼ مشـال بـل کـړی او ددې مشـال پـه رڼا کـې يې سمه لار خپـل قوم تـه پـه ګوتـه کـړې ده.

د هغوی د کتابونو په لوستلو سړی پوهېږي، چې بابا څومره پوه، مدبر، حکیم او د پښتنو د ژوند په راز پوه پښتون و او له خپل ناپوه قوم سره یې مینه او همدردي، صداقت او وفا په زړه کې پرته وه.

له هغوی سره په هر وخت او زمان کې په هره څوکۍ او هر مقام کې د خپل قام او هېواد سودا وه او چې وس یې رسېدلی، په همدې لاره کې یې خدمت کړی او زیار یې وېستلی دی.

" پښتو سیند"، "د پښتو ژبې لیار" او "لنډه کې پښتو" او "پښتونواله" یوازې د محمد ګل خان مومند غوندې کسانو په هغو شرایطو کې لیکلی شول، چې فرهنګي ښکېلاك د افغانستان پښتنو واکمنو مرۍ کلکه نیولې وه او هغوی یې بې پښتو کړي وو. یوازې بابا په هغسې اختناقي شرایطو او زندۍ شوې تولنه کې هغه جرئت او غېرت ښکاره کولای شو او واکمنو هم له هغوی سره مخالفت نه شو کولای، ځکه چې وزیر محمد ګل خان مومند د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه او هم د سقاویانو پرخلاف جګړه کې په سر لوبې کړې وې او د پاچاهانو ملا یې ترلې وه.

هغوی پښتو، پښتو ژبې او پښتون قام ته د خدمت په لاره کې له سختو مخالفتونو سره مخامخ شول او ډېرو غېر پښتنو شخصیتونو یې پر ضد تبلیغات پیل کړل، چې د هغو یوه وړه برخه به دلته په همدې څېرکي کې ولولو.

محمد ګل خان مومند په دې خدمت او مبارزه کې لومړی یوازې و او په یوازې ځان یې خپله مبارزه پیل کړې وه. لیکن ډېر ژر ورسره نور پوه او پر پښتو او پښتونولۍ مین پښتانه ملګري شول، چې په هغه جمله کې د لاندې نومیالیو پښتنو نومونه د یادولو وړ دي:

استاد قیام الدین خادم، استاد عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، استاد صدیق الله رښتین، استاد عبدالروف بېنوا، سیاسي شخصیت غلام حسن خان صافي او غلام محمد خان فرهاد، چې د اولسي جرګې په غونډه کې یې د پښتو ژبې غږ پورته کړی و. دوی ټولو د تفکر او اندېښنې له پلوه د محمد ګل خان مومند لاره خپله کړه، استاد قیام الدین خادم د پښتو د مخالفانو غوږونو ته خپل رسا غږ، چې همغه د بابا د عقیدې انځور و، په دې ډول رساوه:

رقیبه دا چې تعصب یې بولې
دغه ایمان دی د پښتو ژبه ده
زه له ایمان نه تېرېدی خو نه شم
چې ځان ښکاره کړم د پردو ژبه ده.

استاد ګل پاچا الفت هم، چې د وزیر محمد ګل خان مومند د ملي مبارزې په ملګرو کې د پام وړ ځای درلود، د خپلې ملي ژبې په اړه خپل احساس داسې څرګند کړ:

پښتنې به درته وایي بې ایمانه
که پښتو شوه درنه پاتې ای پښتونه

واخله درس د سربازۍ ته له پتنګه
لوی صفت د پښتونوالي قرباني ده.

په دې ډول د پښتو سیند اوس په څپو راغلی و او د مخالفانو په خس او خاشاک یاني اوتو بوتو او بې ځایه نیوکو نه شو بندېدلی. که پاچا او کورنۍ یې پښتو نه ویله، نو افغان روڼ اندي او پر پښتو مین مبارزان هم چوپه خوله نه شول پاتې او د اعتراض غږ یې په نظم او شعر کې تل پورته کاوه.

د همدغو خاموشو اعتراضونو پایله وه، چې اعلیحضرت محمد ظاهر خان دغه تکل ښکاره کړ، چې باید زامن یې شهزاده احمد شاه، شهزاده محمد نادر او شهزاده میرویس پښتو ژبه زده کړي او د پښتو ژبې درانه استادان محمد دین ژواك، محمد اسلام مین او عبدالغفور ویاند یې د هغوی لپاره د کورنیو ښوونکیو په توګه وټاکل.

دغه کار د پوهنې د وزیر ډاکټر علي احمد خان پوپل په هدایت سرته ورسول شو.

حقیقت دا دی، چې د پښتو ژبې د مسئلې په اړه د حکومت نوی سیاست ددې ژبې او وزیر محمد ګل خان مومند د مبارزې پایله وه. هغه له لوړو نه لوړو مقاماتو ته ځان رساوه او د ژبې دعوه یې پرمخ بیوله، لیکن واکمنو نه شوای کولای، چې د محمد ګل خان مومند ټولې غوښتنې او وړاندیزونه ومني. نوموړی وزیر دا غوښتنه هم کوله، چې باید پښتو د هېواد لومړۍ او فارسي دویمه ژبه ومنل شي. یاني د فارسي

ژبې پرځای پښتو ژبه د حکومتي چار چلونې او اجرااتو ژبه وي.

محمد ګل خان مومند لکه، چې وړاندې ورته لنډه اشاره وشوه، د ژبې لپاره خپله مبارزه په یوازې ځان پیل کړه او ټولې ستونزې یې په دې برخه کې په خپله وګاللې.

مخالفین دا هم وایي، چې وزیر محمد ګل خان مومند نه یوازې د پښتو ژبې حاکمیت غوښته، بلکې زیاتې پښتنې کورنۍ یې له هندوکش نه اخوا شمالي ولایتونو ته ولېږدولې او په هغو سیمو کې یې ورته ځمکې ورکړې او مېشته یې کړل.

رښتیا خبره دا ده، چې د یوه سړي لپاره دومره ستره مبارزه له ډول ډول ناخوالو سره سره ډېره ګرانه او درنده ده. لیکن د مومند بابا همت او حوصله د هندوکش او سپین غر له غرونو هم پورته وه.

د وزیر محمد ګل خان مومند لپاره د نورو غیر پښتنو مخالفت او شکایت کوم ارزښت نه درلود، خو د هغوی په خپله وینا پښتانه واکمن او د هغوی بې پښتو درباروته د بابا د مبارزې پر وړاندې غټ خنډونه ګڼل کېدل او ددې خنډونو لرې کول هم څه اسانه کار نه و. د هغوی شکایت اونه رضایت تل له پښتنو واکمنو څخه و او دوی یې بې پښتو پښتانه واکمن پېژندل.

هغه به ویل، چې د انګریزانو پاچاهانو انګریزي او د ایران پاچاهانو ایراني یانې پارسي خبرې کولې، خو زموږ پاچاهان پښتانه دي او پښتو نه وشي ویلای، چې دا په حقیقت کې له خپل قام سره ظلم او جفا ده.

د محمد ظاهر شاه لومړنی صدراعظم سردار محمد هاشم خان او لومړنی د معارف وزیر سردار محمد نعیم خان دواړو د وزیر محمد ګل خان مومند درناوی کاوه او نږدې اړیکې یې ورسره درلودې، چې د پښتو ژبې د تعمیم اورسمي کېدلو په هکله د پاچا لومړنی زمان هم د همغو اړیکو پایله پېژندل شوې ده، چې صدیق فرهنګ دې مسئلې ته اشاره هم کړې ده. ان تکنو کرات مؤرخ پر دواړو سردارانو باندې د وزیر محمد ګل خان مومند د نفوذ ټکی هم منځته راوړی او ښایي دغه مسئله هم له مفکر وزیر محمد ګل خان مومند سره د غبار، رښتیا، فرهنګ او د نورو د ضدیت او مخالفت یو دلیل اوسي

پاچا محمد ظاهر خان، صدراعظم سرار محمد هاشم خان او همدغه ډول سردار شاه محمود خان، سردار شاه ولیخان، د بېلابېلو کابینو وزیران او پوځي لوی او واړه منصبداران او ملکي مامورین ټول ددې حقیقت شاهدان وو، چې محمد ګل خان بابا د خپلو تاریخي سترو خدمتونو په بدل کې له پاچا او حکومت نه د ځمکو، باغونو، جایدادونو، کوټیو، ماڼیو تقاضا نه درلوده. بلکې په همغه غریبانه ژوند خوشاله او

قناعت یې ورباندې کاوه، لیکن له پاچا او حکومت نه یې د ملي ژبې پښتو د حق کلکه غوښتنه کوله او په دې اړه هېڅ ډول معاملې ته تیار نه و.

همدغه ملي مسئله د وزیر محمد ګل خان مومند د پښتنې غرور وسیله شوې وه او مخالفان له همدې امله پر بابا نه شول بریالي کېدای. پښتو او پښتو ژبه او پښتونواله د محمد ګل خان مومند ایمان و. د هغوی د ژوند او مبارزې فلسفه او تفکر په همدې ایمان پورې تړلی و، ځکه خو یې نشول کولای، پر ایمان معامله وکړي او یا پر څوکۍ او مقام اخیستو له ایمانه تېر شي، لکه چې نورو مشرانو دغه کار کړی و او پښتو یې په مقام او څوکۍ، صدارت او وزارت خرڅه کړې وه.

اوس به وګورو، چې د پښتو او پښتونولۍ مخالفانو د بابا وزیر محمد ګل خان مومند کار او مبارزې ته په کومه سترګه کتل او د هغوی د برحقې مبارزې پر وړاندې یې له تعصب او تنګنظرۍ پرته نور څه ښکاره کولای شول؟.

۲

غوث خیبري

# د وزیر محمد گل خان مومند مبارزه او د مخالفانو غیرگون

د لیکلو سندونو په ډول د پښتو ژبې، پښتون قام او وزیر محمد گل خان مومند مخالفانو چې ټول غیر پښتانه دي، ځینې لیکنې کړي دي، چې د پوهې او منطق پرځای، په کې تعصب او وچ بې دلیله مخالفت زیات تر سترگو کېږي.

دغه مخالفان په داسې حال کې چې د افغانانو په هېواد (افغانستان) کې د فارسي ژبې له حاکمیت نه ډېره کلکه دفاع او پلوي کوي، د پښتون مفکر او ملي شخصیت محمد گل خان مومند او ملګرو مبارزې ته چې د خپلې ژبې د محکومیت پر ضد یې کوي او د افغانانو په هېواد کې د افغاني ژبې رسمیت او حاکمیت غواړي، په فاشیستي

احساس ولاړه مبارزه وايي او د نازي المان د وخت د رويداد سره يې پرتله کوي.

ددې غلطې عقيدې او مفکورې منځته راوړونکي مؤرخ (سيد قاسم رشتيا) کشر ورور مير محمد صديق فرهنګ دی، دی د پښتو ژبې د حق غوښتنې مبارزې ته د برتري خواهي نوم ورکوي، ليکن د فارسي ژبې په جامه کې د ايران د فرنګي ښکېلاك مسئله تر پردې لاندې ساتي او ان دليل راوړي چې:

"احمد شاه ابدالي با اينکه پشتو زبان بود و در آن زبان شعر ميګفت، با درك اين واقعيت زبان دری (فارسي) را به عنوان زبان رسمی و زبان معاملات د ولی حفظ کرد، جانشينان او اعم از شاهان سدوزايي و اميران محمدزايي نيز از اين روش پيروي کردند" (۱۶۲).

پښتون مفکر وزير محمد ګل خان مومند د شلمې پېړۍ تر دويمې نيمايي پورې ژوندی او يو پوه باصلاحيته شخص و. د ملي ژبې پښتو (زبان فارسي) په هکله د همدې پېړۍ د غوښتنې او شرايطو سره سم تفکر کاوه او د پښتون قام د ژوند او واکمنۍ خبره يې د ملي ژبې په حاکميت پورې تړله.

شلمه پېړۍ په نړۍ کې د هر ډول ښکېلاکي (استعماري) سيستمونو د له منځه تلو پېړۍ پېژندل شوې وه، هر ولس په خپله ملي ژبه حکومتي چارې سرته رسولې او په همدې ژبه يې زده کړې کولې او پوهه (علم) يې ترلاسه کوله.

عربو، ایرانیانو او د نړۍ نورو پوهانو او د ژبې ماهرانو پښتو ژبه د افغاني ژبې په نوم یاده کړې او ټولو افغاني واکمنو تر اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پورې عین همدغه نوم په کار راوستی و او لکه چې ومو لیدل وروستي فرمان کې، چې فرهنګ ورته د فاشیستي کړنې نوم ورکړی دی او هم یې پښتو د افغاني ژبې په نوم یاده کړې ده. په دې حالت کې خو هر شعور لرونکی افغان دا فکر کوي، چې د افغانستان نوم د افغان له نوم او افغاني ژبې سره نېغه اړیکه او تړاو لري، ولې دې دغه ژبه محکومه او تر فرهنګي ښکېلاك لاندې ژبه وي.

ولې دې د افغانانو په هېواد (افغانستان) کې د افغانانو خپله ژبه حاکمه نه وي او دا غوښتنه ولې په فاشیستي مفکورې پورې وتړل شي؟

د محمد ګل خان مومند د تفکر له مخې د پښتو ژبې نه واك اخیستل او ددې ژبې د صلاحیت نه انکار، په حقیقت کې له پښتون یانې افغان قوم له وجود نه انکار دی او چې افغان قوم او پښتو یا افغاني ژبه له پام او کام نه وغورځول شي، نو د افغانستان وجود او شتوالی په خپله تر پوښتنې لاندې راځي او د ایران په مدرسو او پوهنتونونو کې روزل شوي موقع په لاس راوړي چې د خراسان غږ پورته کړي اوپر خراسان باندې د افغانستان د نوم اړولو وړاندیزونه وکړي او هزاره ګان د جمهوري هزارستان نقشه په مطبوعاتو کې خپره کړي. ددغه اساسي لامل له مخې وزیر محمد ګل خان مومند او د مبارزې

ملګرو یې د پښتو ژبې د حاکمیت غوښتنه کوله او د بابا د مفکورې بنسټ پر همدې تکي ولاړ و.

وزیر محمد ګل خان مومند په خپلو کتابونو، (پښتو ژبې لیار، لنډه کې پښتو او پښتونواله) کې دغه عقیده ښکاره کړې ده چې "ژبه د ملي موجودیت او هویت، هوساتوب او سعادت د لوړوالي او جګوالي سته ده، نو ژبه باید وساتل شي. وپالل شي، په هر حیثیت سره د ملت درستو اړینو ته کافي شي.

ښسر د پښتنو په اولس او ټولنه کې لکه روح په کالبد کې ده. که په کالبد کې روح نه وي، نو کالبد یو خوشې شی دی".

د همدې تفکر پر بنسټ محمد ګل خان مومند د خپلې مبارزې اصول عیار کړي وو. ځکه مخالفانو دغه ډول تفکر د فارسي ژبې لپاره یو خطر ګاڼه او د بابا محمد ګل خان مومند د مبارزې پر وړاندې یې منفي غبرګون ښکاره کاوه او بې اساسه تورونه یې ورپورې تړل.

"فرهنګ" د وزیر محمد ګل خان مومند د تفکر او عمل ډېر کلك مخالف دی، ده د خپل کتاب په یوه برخه کې راوړي دي.

"در دوره پادشاهی محمد نادر شاه محمد ګل خان مومند وزیر داخله تحریکاتی را در جهت تعمیم زبان پښتو و طرد زبان دری نه تنها از دوایر دولتی، بلکه از موسسات تعلیمی و حتی خانه و بازار آغاز کرد. شاه نخست او را به عنوان رئیس تنظیمه به قندهار فرستاد. تا اقداماتش در منطقه

پشتو زبان محدود مانده، موجب بروز ردعمل در سایر مناطق کشور نشود، اما در سال ۱۹۳۳ع تغییر فکر داده او را به همان عنوان به ولایات شمالی فرستاد و در آنجا محمد گل خان مومند نظریهء برتری خواهی قومی و لسانی اش را در محل اجرا گذاشت. درین ضمن وی مردمان دری زبان و ترکی زبان را وادار میاسخت تا عرایض شان را به زبان پشتو بنویسند و به عرایضی که به زبان دری به او میرسید، ترتیب اثر نمی داد.

خانواده های پشتون را حتی از خارج سرحدات افغانستان به تعداد زیادی به شمال هندوکش کوچ داده با دادن زمین و دیگر امتیازات اسکان و در ماموریت هم به پشتو زبانان ترجیح میداد". (۲۶۳)

څوك چې د تاريخليکنې دعوه کوي او ځان د مؤرخانو په لړ کې شمېري، په کار دی چې د مسايلو په هکله بې طرفانه او له تعصب او شخصي جبهه ګيری څخه لرې د علم او پوهې پر بنسټ ولاړ قضاوت وکړي او له تاريخي تېروتنو نه ځان وساتي، په داسې حال کې چې د فرهنګ پورتنۍ ليکنه دغه يو اصل هم په ځان کې نه لري. دی په نپله ليکنه کې پښتنو ته د پرديو په سترګه ګوري او هغوی داسې خلك بولي، چې وزير محمد ګل خان مومند د افغانستان د سرحدونو د هغې خوانه هېواد ته راوستلي او په شمالي ولايتونو کې يې مېشته کړي دي. "فرهنګ" بايد دغه تاريخي حقيقت نه وای هېر کړی، چې

هغه پښتانه د لوی افغانستان اصلي اوسېدونکي او افغانستان د هغوی آبايي ټاټوبی او د مور او پلار کور و، لیکن د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې پیرنګیانو لوی افغانستان وروکی او د ډیورنډ د کرښې وېستلو په واسطه یې یوازې د پښتون پیکر دوه ټوکرې کړ، خو هغه فرضيي کرښه هېڅکله پښتنو ونه منله او د دواړو خواوو پښتنو خپل منځي وروروليي خوندي او د تل لپاره ټینګه وساتله او تر نن ورځې پورې ټینګه ده.

ددې تاریخي سند له مخې د مصنوعي کرښې نه اخوا پښتانه په هېڅ دلیل او منطق پردي نه شي ګڼل کېدلی او مؤرخ باید دغه ډول ستره تېروتنه ونه کړي.

پردي، خو هغه ایراني شیعه ګان او قزلباشان او نور وو. چې له نادر قلي افشار سره یوځای افغانستان ته راغلل. د افغانانو په ټاټوبي کې پاتې او پښتون واکمن اعلیحضرت تیمور شاه دراني هغو په مهمو مالي، اداري او اقتصادي دندو وټاکل او د پېړیو په اوږدو کې یې نسل زیات شو او په افغانستان کې یې د ایران د فرهنګي ښکېلاک ستنې ټینګې کړې او د یو وړوکي اقلیت په توګه یې د هېواد دستر اکثریت (پښتنو) پر ضد دوران کارۍ دنده د ایران په ګټه پر غاړه واخیسته.

دویمه تېروتنه دا ده چې "فرهنګ" د وزیر محمد ګل خان مومند له خوا د پښتو ژبې لپاره کار کول په قومي او ژبني

برتري خواهي تعبيروي، كه داسې وي، نو دغه برتري خواهي خوله پښتنو مخكې غير پښتنو يانې د "فرهنګ" خپل قام كړې ده او د لږكيانو ژبه يې د ډېركيانو پښتنو پر هېواد افغانستان) حاكمه كړې او ايران د ژبې پر اساس د افغانستان پارسو ويونكي ايرانيان بولي او پښتانه افغانان.

"فرهنګ" په يو ناسم منطق قضاوت كوي، په دې مانا چې په افغانانو باندې د فارسي ژبې حاكميت د فاشېزم په تله نه تلي او يو روا عمل يې بولي، ليكن كله چې پښتانه په خپل هېواد كې د خپلې ژبې د حق خبره راپورته كوي، نو دې كار ته د فاشيستي عمل نوم وركوي.

د يو عادلانه قضاوت په رڼا كې زياتو پوهانو او تاريخليكونكو د پښتنو په اړه د فرهنګ دغه ډول تنګنظرانه او له غرضونو ډك تفكر د يوه فاشيستي احساس زېږنده ګڼلې دی. ځكه چې دی د هېواد د لږكيانو ژبې ته د حاكميت حق وركوي، په دې دليل چې ګويا احمد شاه دراني او د پښتنو دغې يا هغې پاچا د لږكيانو په ژبه د حكومت چارې چلولې دي. نو دا بايد يو تلپاتې او همېشني قانون اوسي او پښتو ژبه دې تر محكوميت لاندې پاتې وي او كه څوك ددې لرغوني افغاني ژبې د حق غوښتنې غږ پورته كړي، هغه فاشيستان وي.

دا د غير پښتون "فرهنګ" قضاوت دی، چې فاشيستي او د قومي برتري خواهي بوی وركوي. دغه ډول منطق نه پر

علمي اصولو ولاړ دی او نه وربانديِ سليم عقل د صحت مهر لګوي.

د وزير محمد ګل خان مومند له مبارزې سره د مخالفانو مقابله په همدغه ډول او بې اصوله روائه پاتې شوې وه او حکومتونو د يوې غوځې پرېکړې مېړانه نشوه ښکاره کولی او حق يې حقدار ته نه شو ورکولی.

صديق فرهنګ، چې د پښتو ژبې د تعميم او رسمي کېدلو ډېر کلك مخالف و، د خپلو تورونو لمن لا پسې پراخوي او ليکي:

" همزمان با برنامهء تعميم جبری زبان پشتو اجرآتی هم در آن زير نظر وزير معارف در جهت تبليغ ايديولوژی ناسيوناليستی مانند ايديولوژی حزب نازی در آلمان رويدست ګرفته و سعی به عمل آمد که تاريخ افغانستان هم به اساس نظريه مذکور تدوين و تدريس شود". (۲۶۴)

دده له خوا ليکل شوی اثر (افغانستان در پنج قرن اخير) ټول له همدغه ډول تورونو، دروغو او د پښتنو پر ضد په ناوړو تبليغاتو ډك دی، چې تعصب، قومي او ژبنی تنګنظري پکې اساسي ماده او مايه ده. "فرهنګ" د افغانستان د تاريخ په اړه وايي، چې دا هم د برترۍ غوښتنې د نظريې پر اساس تدوين او ليکل شوی دی، په داسې حال کې چې دده خپل مشر ورور د همدغو تاريخليکونکو په جمله کې ولاړ دی، خو د (افغانستان در قرن ۱۹) په تاريخ کې ددغه ډول نظر څرك نه

ليدل کېږي، بلکې په زياتو برخو کې يې د پښتنو پر حق سترګې پټې کړې دي.

اوس به وګورو چې مؤرخ سيد قاسم رښتيا (د فرهنګ مشر ورور) د وزير محمد ګل خان مومند د مبارزې په اړه څه څرګندوي او د پښتون مشر شخصيت ته په کومه سترګه ګوري.

بايد يادونه وشي چې نوموړی تاريخليکونکی د اعليحضرت محمد ظاهر خان د واکمنۍ په لومړيو کلونو کې د حکومتي دندو د سرته رسولو په جريان کې د محمد ګل خان مومند بابا سره مخامخ شوی دی، چې د پښتو ژبې لپاره د بابا د مبارزې دوران هم د همدې لړۍ يوه کړۍ ګڼل کېږي.

رښتيا له هغه وخت څخه د وزير محمد ګل خان مومند د مبارزې خبره رااخلي چې سردار شاه محمود خان صدراعظم او نجيب الله خان د معارف وزير و. په خپله رښتيا نوی نوی د مطبوعاتو د رياست کفيل ټاکل شوی و.

نجيب الله خان توروريانا چې د بهرنيو چارو تر وزارت هم ورسېد او د افغانستان په تاريخ کې د مطالعې خاوند و، هغه څوك دی چې د پاکستان له جوړېدو (۱۹۴۷م) نه وروسته د افغانستان د فوق العاده استازي په توګه د پاکستان له قايد اعظم محمد علي جناح سره د پښتنو د برخليك معلومولو لپاره د خبرو اترو په مقصد پاکستان ته لاړ او وروسته يې د

جناح د کړو خبرو په اړه یو وړوکی کتاب هم خپور شو، چې د خبرو تفصیل په کې لیکل شوی و.

وزیر محمد ګل خان مومند په هغه وخت کې د پښتو ژبې لپاره د مبارزې یو نوي پړاو ته داخل شوی و. نجیب الله خان هم د حکومت له نظریې سره د پښتو ژبې په مساله کې دخیل شوی او رښتیا یې په ځنګ کې ولاړ و.

رښتیا عقیده ښکاره کوي، چې د پښتو ژبې د تعمیم رسمي کېدلو لپاره چې د صدراعظم سردار محمد هاشم خان په وخت کې کوم پروګرام د معارف د وزیر سردار محمد نعیم خان له خوا جوړ شوی و، د سردار شاه محمود خان صدراعظم د وخت د معارف وزیر نجیب الله غوښتل په هغه کې څه بدلون راولي، چې زه هم د نوموړي وزیر (نجیب الله خان) د نظریې طرفدار وم، لیکن وزیر محمد ګل خان مومند د هغه بدلون ډېر کلك مخالف و.

رښتیا دغه مطلب په دې ډول بیان کړی دی:

"نجیب الله خان میخواست در پروګرام تعلیمی زبان پشتو که در دوره، سردار محمد هاشم خان از طرف سردار محمد نعیم خان طرح شده بود، تعدیلاتی وارد سازد، در وقت محمد هاشم خان امر براین بود، که در تمام ولایات افغانستان تدریس زبان پشتو صورت ګیرد، اما نجیب الله خان در نظر داشت که در جاهایی که پشتو، زبان مادری است، تدریس پشتو و در نقاطی که مردم فارسی زبان استند، به زبان

فارسی تدریس شود و پشتو لسان دوم باشد، که نظریهء معقولتر و عادلانه تر بود.

از این تغییر محمد ګل خان مومند آزرده شد و به سردار شاه محمود خان شکایت کرد و دلایل ګفت. در نتیجه یک شب سردار شاه محمود خان، نجیب الله خان، محمد ګل خان مومند و مرا به خانه خود دعوت کرد تا با هم مذاکره کرده و ما دو نفر قناعت محمد ګل خان مومند را حاصل نماییم.

درین مذاکرات اګرچه نسبت به پروګرام تعلیمی نظریهء من و نجیب الله خان یکی بود و همان نظریه را تایید می نمودم، اما پیش آمد من به طرف دلچسپی محمد ګل خان مومند قرار ګرفت، زیرا احساس کرد که من به پیشرفت و تعمیم زبان پشتو علاقهء قلبی دارم (چنانچه در اثر همین علاقه مندی زبان پشتو را فرا ګرفته و به این لسان مقالاتی نشر و هم تخلص پشتو برای خود انتخاب نموده بودم".(۲۶۵)

"له هغه وروسته محمد ګل خان مومند څو ځله زه خپل کور ه وغوښتم او د پښتو ژبې د پروګرام په اړه یې له ما سره خبرې وکړې او هغوی ته مې دغه ډاډ ورکړ، چې د معارف په برخه کې څه نه شم کولی، خو د مطبوعاتو په برخه کې به خپل زیات کوښښ وکړم، چې پښتو ژبه تقویه او له معقولې لارې نه په تدریج سره تعمیم ومومي".

مؤرخ سید قاسم رښتیا چې ډېر هوښیار سړی و او د خپل ورور غوندې چپ ګرا او د ببر کارمل نږدې ملګری نه و پاتې

شوی، خپلې خبرې يې ډېرې سنجيده په خپلو يادښونو کې راوړي دي، ليکن هر پښتون چې ډېره لږه پوهه هم ولري. د تومورې په ليکنه کې د يو پټ راز څيرهويني، چې ربتيې نه هغه نه پرده پورته کړې ده.

پرته له دې چې اراده مو کړې وي مور به دلته د پښتو روښانفکرانو او پوهانو له نظره د ربتيا دغه خبره وڅېړو چې د وزير محمد ګل خان مومند د مبارزې په مقابل کې د مخالفانو د وران کار يو کرغېړنه څېره برينډه شوې وي.

لومړی: ولې د صدراعظم محمد هاشم خان او د معارف د وزير سردار محمد نعيم خان له خوا د پښتو ژبې د تعميم لپاره د منل شوي پروګرام د تعديل خبره دومره ژر رامنخته شوه. هغه پروګرام چې صدراعظم او د معارف وزير له محمد ګل خان مومند سره په سلا مشوره ترتيب او د حکومت له خوا منظور شوي و، د صدراعظم او د معارف د وزير له لرې کېدو سره سم معطل او د معارف نوي وزير نجيب الله خان يې د تعديل وړانديز وکړ؟

دويم: څنګه چې نوي صدراعظم سردار شاه محمود خان د سردار محمد هاشم خان حربيه وزير په دې خبره غور ونه کړ. چې د پښتو ژبې د تعميم پروګرم د مخکيني صدراعظم او د معارف له وزير سره په سلا مشوره جوړ او منظور شوی و او حکومت ته يې د عملي کولو لارښوونه کړې وه، دی يې د نوي معارف وزير د تعديل وړانديز ولې ومني او چې کله وزير

محمد ګل خان مومند د تعدیل د نه منلو له امله د نه رضایت او خپګان څرګندونه وکړه او خپل شکایت یې ده ته ورساوه، د بابا د شکایت اورېدو پرځای ي وزیر محمد ګل خان مومند، نجیب الله خان او سید قاسم رښتیا خپل کور ته وروغوښتل چې د بابا قناعت لاسته راوړي؟

درېیم: وزیر محمد ګل خان مومند پرته له دې چې قناعت وکړي، د رښتیا له خوا چې د نجیب الله خان دنظریې طرفدار و، په پروګرام کې د تعدیل راوستو غوښتونکی و، دغه هڅه وشوه چې بابا په دې راضي وساتي، چې د مطبوعاتو له لارې به د پښتو ژبې د تدریجي تعمیم لپاره مرسته کوي. دغه هڅه ددې لپاره وه چې د وزیر محمد ګل خان مومند د روا او برحقې مبارزې خنډ شوی و او هم یې د پښتو ژبې د تعمیم د پروګرام څنډولو په توطیئه کې ناګاهانه برخه اخیستې وه.

پنځم: هغه وخت چې سردار محمد هاشم خان صدراعظم او سردار محمد نعیم خان د معارف وزیر او له وزیر محمد ګل خان مومند سره په مشوره یې د پښتو ژبې د تعمیم پروګرام جوړ او منظور کړ، هېچا د هغه سره مخالفت او یا د تعدیل غږ پورته نه کړ، لیکن همدا چې هغه دواړه مشران ګوښه او پرځای یې نوی صدراعظم او نوی د معارف وزیر وټاکل شول او رښتیا د مطبوعاتو د ریاست چارې په لاس کې ونیولې، نو په هغه پروګرام کې د تعدیل او تغییر راوستلو هڅې پیل شوې، چې وزیر محمد ګل خان مومند مجبور شو خپل

اعتراض او شکایت د شخصي خپګان په بڼه څرګند کړي او دغه شکایت ان تر صدراعظم شاه محمود خان پورې ورسوي چې دا د بابا د مبارزې مشکل پړاو و.

شپږم: ولې نوي صدارعظم (سردار شاه محمود خان) د خپل نږدې ملګري وزیر محمد ګل خان مومند چې د خپلواکۍ او نجات په جګړو کې یې ورسره یوځای برخه اخیستې وه، په شکایت غوږونه کاڼه کړل او د نجیب الله خان او سید قاسم رښتیا د پښتو ضد حرکت یې ونه غانده، ځکه چې هغه پروګرام له ده نه مخکې قبول او منظور شوی و.

اووم: په هغه پلان کې دا خبره سپینه شوې وه، چې باید د افغانستان په ټولو ولایتونو کې تدریس په پښتو ژبه وشي، چې ټول خلك واړه او زاړه په پښتو خبرې او لیك لوست وکړي شي او په دې برخه کې د وګړو ستونزې له منځه لاړې شي، لیکن نجیب الله خان او سید قاسم رښتیا په فارسي ژبو ولایتونو کې د پښتو ژبې د تدریس طرفدار نه وو او د صدراعظم شاه محمود خان ذهن یې هم ګډوډ کړی و، وروستیو وختونو دغه حقیقت روښانه کړ، چې هغوی دواړو وزیر محمد ګل خان بابا ته په ښه سترګه نه کتل او د پښتو ژبې د حق لپاره یې د محمد ګل خان مومند مبارزه له سیاسي پلوه ګټوره نه ګڼله او عین دغه موضوع بې د پاچا محمد ظاهر خان تر غوږو هم رسولې وه.

ځکه خو پاچا د وزیر محمد ګل خان مومند، نجیب الله خان او رښتیا پر شخړه سترګې پټې او غوږونه کانه واچول.

لیکن پښتون محمد ګل خان مومند داسې په اسانه د مبارزې میدان پرېښودلو ته چمتو نه ښکارېده، هغوی له ځان سره دا هوډ کړی و، چې څو یې ساه په بدن کې چلېږي، خپلې مبارزې ته به دوام ورکوي.

په وروسته وختونو کې هغوی د پښتو ژبې د استادانو لکه استاد قیام الدین خادم، استاد ګل پاچا الفت، استاد صدیق الله رښتین او نورو سره له نږدې لیدنې او کتنې درلودلې او د پښتو ژبې د تعمیم نورې لارې یې لټولې او په همدې غونډو کې دغه نظر وړاندې شو، چې باید د کابل ښار او ولایتي بازارونو او ښارونو د هټیو لوحې او د ښوونځیو او لویو واټونو نومونه دې له یوې مخې پښتو کړی شي.

په کار وو چې حکومت د پښتو ټولنې دغه وړاندیز چې له وزیر محمد ګل خان مومند سره په مشوره لیکل شوی و، له کوم شرط او تعدیل پرته منظور کړی او پښتو ټولنې ته په هغه کار کې د مرستې او همکارۍ لارښوونه وشوه.

په هېواد کې د فرهنګي ښکېلاک برېڅو یو خل بیا د مخالفت غږ پورته کړ، لیکن هېڅ ګټه یې ونه کړه او پښتو ټولنې د حکومت د پرېکړې د تطبیق او عملي کولو مسؤولیت پر غاړه واخیست او د کابل ښاروالۍ او د ولایاتو ښاروالیو ته دنده وسپارل شوه، چې هټۍ لرونکي او د ولایت د پوهنې لوی

مدیریتونـه پـه دې اړه د پښتـو ټولنـې همکـاري او مرسـته وغـوښتل. پـه دې ډول لومـړی د کـابل د ښار او ورپسـې د ولایتونو دښارونـو د هټیـو لوحـې پـه پښتـو کـړی شـوې، چـې دغـه لـړ د محمـد ظـاهر شـاه دپـاچاهـۍ تـر وروسـتیو کلونـو او د ولسمشـر سـردار محمـد داود خـان شـهید د حکومـت تـر ورځـو پـورې جـاري وسـاتل شـو. لیکـن پـه هېواد کـې د کمونسـت ډولـه نظام د ټینګېدو نه وروسته لـه پامـه وغـورځول شـو.

پـه مرکـز او ولایتونـو کـې د پښتـو ژبـې د سراسـري تعمیـم او تعلیـم لپـاره د وزیـر محمـد ګل خـان مومنـد پـه مشـوره د جـوړ شـوي پـلان د ناکامـۍ پـه مقصـد د مخالفـانو سـازش او توطیـې یـو ځل بیـا ددې حقیقـت ثبـوت وړانـدې کـړ، چـې فرهنـګي ښکیـلاك پـه دومـره اسـانۍ او سـادګۍ لـه منـځه نـه شـي وړل کـېدای او ددې ښکـېلاك پـه خدمـت کـې ولاړ عنـاصر هـر ډول غـیرګون ښکـاره کولـو تـه تیـار دي. صدراعظـم سـردار شـاه محمـود خـان چـې د کـور دننـه یـې هـم پښتانـه سـاتونکي ځای پـر ځای کړي وو، د خپـل حکومت پـه چـار چلونـه کـې پـه غـیر پښتنـو بـاندې تکیـه شـوې وه او د هغـو پـه مشـوره یـې قـدم پورتـه کـاوه.

پـه هغـه وخـت کـې چـې پـاچـا محمـد ظـاهر خـان لا د ۱۸ــ۱۹ کالو هلك و او پاچاهي ورتـه لـه پـلار نـه پـه مـیراث پـاتې وه، وزیـر محمد ګل خان مومنـد لـه محمـد نـادر خـان غـازي، محمـد هاشـم خـان، شـاه ولیخـان او شـاه محمـود خـان سـره د جـګړو ځو ډګروتـه وهلـي او فتـح کـړي او تـر زیاتـه حـده پـورې د محمـد نـادر خـان بریـالیتوب او پـاچاهـۍ تـه رسـېدل د محمـد ګل خـان مومنـد د

پښتو، پښتونولۍ او تدبير نتيجه ګڼل شوې ده، ليکن د پښتو ژبې حق اخيستلو په مبارزه کې پاچا د وزير محمد ګل خان مومند او ان چې دسردا محمد هاشم خان او سردار محمد نعيم خان ملګرتيا او پلوي ونه کړه. په داسې حال کې چې وزير محمد ګل خان مومند او ملګرو يې په هېواد کې د فرهنګي ښکېلاك د پای ته رسولو لپاره مبارزه کوله او د حکومت په چارو کې فارسي ژبه حاکمه وه، د پښتنو او پښتو ژبې مخالفانو هغه شان د خپلو ناسمو نظرياتو او ګمراه کوونکيو تبليغاتو په دوام ورکولو کې د فرهنګي ښکېلاك د جرړو ټينګولو لپاره په خدمت کې بوخت دي، وګورئ دې لاندې کرښو ته:

"سياست ګذاری های فرهنګي و آموزشی به ګونه ای بوده است که سعی می شده، با تقويت و توسعهء زبان پشتو به عنوان زبان اول در مراکز اداری، فرهنګی و آموزشی وحتی سياسی، زبان فارسی را در برابر آن تضعيف محدود ګردانند"(۲۶۶).

د پښتو لپاره مبارزه د حق لپاره مبارزه وه، چې وزير محمد ګل خان مومند بابا د ژوندانه تر وروستيو ورځو پورې هغه مبارزه جاري وساتله او په پوره مېړانه يې پرمخ بوتله. په دې مبارزه کې له بابا سره د پښتو ژبې وتلي استادان ملګري وو.

# محمد گل خان بابا
# د امیر الدین شنسب
# له نظره

د افغانستان واقعي وطن پالونکي هغه د ویاړ هسکې شملې دي، چې د افغانستان په نامه افتخار کوي او واقعیتونه لکه څنګه، چې د دوی ترسترګو تېر شوي دي، په پوره ایمانداری او امانتداری په هماغه توګه وړاندې کوي.

داسې هېڅکله نه کوي، چې د تبعیض او تعصب له مخه د افغان د کلمې په وړاندې په قوسینو کې (پښتونها) ولیکي او د خپل قومیت د پېژندنې په باره کې افغان لیکي او افغاني کلیمه چې د توپیر، تبعیض او تعصب له بوی نه ډکه ده، نه

استعمالوي، له دغو هېوادپالو څخه یو د "خاطرات هشتاد سال زندګی یك افغان" د کتاب لیکونکي محترم "امیر الدین شنسب" دی، چې په ۱۲۷۸ ش کال یې په کابل کې دنیا ته سترګې پرانیستې دي.

نوموړی د مېرزا شمس الدین چې په "میرزای چهارآسیاب" مشهور دی، زوی دی.

زموږ په هېواد کې تر ۱۲۸۶ ش کال پورې مدرن او عصري ښوونځي نه و، ماشومانو په هر ځای کې د جوماتونو له ملا امامانو سره درس وایه. امیر الدین هم دوه کاله د کابل د قصاب کوڅې په جومات کې درس لوست.

نوموړی په حبیبیې ښوونځي کې چې هغه وخت په "باغ چرمګر" کې و، شامل شو او کله چې دغه ښوونځی له هغه ځایه د شهرارا باغ ته ولېږدېد، له ښوونځي څخه فارغ شو.

لوړې زده کړې یې په جرمني کې سرته رسولې او د انجنیری له ډیپلوم اخستلو وروسته هېواد ته راستون شو او په بېلو بېلو دولتي چارو بوخت شو. ده لکه څنګه چې په خپلو دولتي چارو کې له صداقت څخه کار اخیست او په پوره صداقت یې خپله دنده سرته رسوله، ژبه یې کله هم د چا د زړه د خوشحاله کولو لپاره په دروغو نه ده ښورولې.

کله چې امیرالدین شنسب د پلخمري د نساجی په شرکت کې کار کاوه، د ستر پښتون محمد ګل خان مومند بابا په باره

کې د خپل کتاب "خاطرات هشتاد سال زندګی یك افغان" په ۲۰۵_۲۰۶ مخ کې لیکي:

" پس از فوت نائب الحکومه شیرخان، مرحوم محمد ګل خان بریاست تنظیمه در قطغن مقرر ګردیده بود امر مرکز ولایت را از کندز در بغلان انتقال داد و باروی کارآمدن آن همه صنایع و فعالیت های وارداتی و صادراتی در شمال کشور ایجاب شاهراهی خوب ترانزیتی را میکرد و حکومت تصمیم ګرفته بود سرك کابل _قندوز را یك شاهراه درجه اول بسازد تا مشکلات ترانسپورتی حل ګردد.

سرك ها در کشور عموماً خامه و خراب بودند و روز بروز خرابتر شده میرفتند، ګرچه بیګار قانوناً منع بود باوجود آن ترمیمات و ریګ اندازی سرکها بالای مردم بصورت بیګار کرده میشد که باعث خساره و زحمت اهالی میګردید.

محمد ګل خان این کار را نمیکرد تا جاییکه بودجه مدیریت فواید عامه کفایت ترمیمات و ریګ اندازی سرکها را میکرد، آن کار را با تادیهء نقدی اجراء میکرد، در غیر آن چون بودجه کفایت آن را نه میکرد، سرکها خرابتر شده میرفت.

محمد ګل خان که شخص نیك و ملی بود، چاپلوسی و تظاهر نیمکرد".

امیر الدین شنسب د یوه واقع بین افغان په حیث حقایق لکه څنګه چې وو، هغسې بیانول، د مغرضینو د ناوړو

تبليغاتو تر اغېز لاندې نه راته، رښتيا يې ويل او حقايق يې په خپله ښه څرګندول.

دی خپلې ليکنې ته دوام ورکوي او د محمد ګل بابا په باره کې ليکي:

" محمد گل خان براى اجراى بعضى كارها در پل خمرى آمده، مهمان نساجى بود و در كلوب نساجى مى بود. من ميخواستم در يك وقت مناسب بهمرايش بالاى قبايل سرحد آزاد مفصل مذاكره كنم. يك شب بعد از نان در سالون كلوپ كه چند تن از مديران شركت و مدير شفرولايت هم حاضر بودند و مجلس صحبت گرم بود، من هم وقت را غنيمت دانسته مذاكرهء خود را بالاى افغان هاى آنطرف خط ديورند با رئيس تنظيمه آغاز كرده گفتم: رئيس صاحب! شما يك تن از بزرگان كشور هستيد و دايم امور مهم مملكت را بعهده داشتيد و داريد و از بزرگان قوم مهمند ميباشيد، نظريهء شما در بارهء افغانهاى كه آن طرف خط منحوس ديورند اند، چيست؟ ما نميتوانيم آن پشتونهاى اصيل را از خود بسازيم، عوض انگشتها يك مشت شويم.

او گفت: آنها را انگليسها پول زياد ميدهند و رشوت خور ساخته اند، ما قادر نيستيم به آنها پول زيادتر بدهيم كه از ما شوند.

گفتم: خير آنها را به پول از خود ساختن ارزش هم ندارد، پول كه راى شان نرسيد، دوستى هم از بين ميرود، اگر ما با

ایشان از طریق قومی، کلتوری، تاریخی و تبلیغات اسلامی، برادری و برابری پیش آمد نماییم، گمان می کنم نتیجه، خوب تر بدست خواهد آمد. آنها همه رشوت خور نخواهند بود، چند چهار کلاه رشوت خور در اقلیت اند، اگر ما برای این غایه و مرام با ایشان بتماس آمده، رفت و آمد قایم کنیم و آنها را به وطن خود دعوت کنیم، ممکن به مرور زمان به نتیجهء مثبت برسیم.

او از اظهار حقیقت، خود داری میکرد و من به صحبت خود او را مجبور می ساختم که واضح تر صحبت کند، مجبور شده گفت: برادر انها نسبت به ما تعلیم یافته اند، در مقابل ارزو و هوس ما میگویند ما ازادیم و از حقوق بشر بر خورداریم. هرچه بنویسم و اظهار حقیقت کنیم ازادیم، مالیه نمیدهیم، کار بیگاری نداریم، به عسکری جلب نمیشویم، با شما که یکجا شویم تمامی حقوق بشرش خود را از دست میدهیم که برای ما قابل قبول نیست.

گفتم: اگر ما با ایشان تا این حد برسیم موضوع مرام ما حل میشود. او با تعجب پرسید: این امر ناممکن به عقیدهء تان چطور حل شدنی است؟ گفتم: به اصطلاح چه کارد به تربوز و یا تربوز بکارد نتیجهءان یك چیز است.

با گذشت رژیم شاهی و خاندانی، میگویم برادران شما چیزهایی را که یاداوری کردید، بماندهید، انها را ما به شما میدهیم، مقصد که یك مشت شویم.

از شنیدن گفتار من سراسیمه شده، به اشارهء سر و تغییر چهره، به من افهام کرد، با خبر خطر در قفاست، دیگر چیزی نگفت.

فهمیدم که مدیر شفر او مخبر صدارت بود، من که مابین هر دو حایل بودم مدیر شفر اشارهء سر محمد گل خان را ندیده، گفت: من با تایید اظهارات رئیس صاحب میگویم که اگر آنها با ما یکی شوند، درین قحط الرجالی که داریم، آنجا را عوض خوب، خراب نخواهیم کرد، ما برای چند حکومتی و علاقداری چند نفر حاکم و علاقدار نداریم، آنجا ها را چطور اداره خواهیم کرد.

ما بافهم اینکه او مخبر بود، از گفتار بی معنی او عصبی گشته، گفتم: آغا من با شما هم عقیده نیستم، نه اینکه چند حاکم و علاقدار ندایم. برخلاف ما چندین ملیون نفوس داریم که میتوانیم از بین شان هزاران شخص برای پوستهای بالاتر و مهم تر از حکومتی و علاقداری انتخاب نماییم. چیزیکه مهم است، اعتماد و موقع دادن بکا راست و یگانه راهء تربیه رسانیدن شخصیت ها برای ادارهء کشور میباشد، اگر شما حقیقتاً برای چنین وظایف جزئی نفر پیدا کرده نمیتوانید، پس حیف به حال این مملکت خداداد که شما این را خراب می کنید، بگذارید دیگران مملکت را اداره و آباد نمایند."

محترم شنسب د خپل کتاب په ۲۱۴ مخ کې د وزیر محمد گل خان مومند د سپېڅلتیا او په قانوني اوامرو د پابندۍ په

باره کې په پوره ایمانداری او د قلم عفت او پاکی ته په درناوي لیکي:

"وضعیت سرکها عموماً در کشور و سرک کابل-قندز خصوصاً بسیار خراب بود. هر وقت یک شخص بزرگ از کابل بکدام سمت سفر میکرد، نائب الحکومه و حاکمان مناطق راه، قبل از حرکت آن شخص، هر کدام حصهء سرک خود را بالای مردم غریب و بیچاره ترمیم و ریگ اندازی میکردند.

حتی حکومات و چارلاه های قوم از جیب مردم، جیب ها را هم پر میساختند، چون بیگار قانوناً منع بود و از جانب دیگر در بودجه پول نبود که از آن کار ها با تادیهء نقد میشد، حکومات مجبور میبودند آن کار ها را برای خوشی شخصیت های بزرگ بصورت بیگار بالای مردم بکنند.

مگر محمد گل خان رئیس تنظیمه آن کار را نمیکرد، تا جاییکه بودجه مدیریت فواید عامه گنجایش داشت با تادیهء اجرت آن کار را میکرد و در غیر آن سرک ها خرابتر شده میرفت. او این کار را حتی در وقت رسیدن کابینهء هاشم خان نکرد، تا میدیدند و چارهء اساسی میکردند."

محترم شنسب د خپل کتاب په ۲۱۵ مخ کې زیاتوي، چې:

"صدراعظم و اعضای کابینه اش که از کابل روانه شده، شب را در هوتل دوآب گذشتانده بودند، چون راه خوب بود، همه به راحت رسیده بودند. فردای آن که طرف پلخمري در آن بی راهی خراب روانه شده بودند، پس از گذشت ساعت ها در

آن راه خراب، مانده و کوفته به پل خمری رسیدند که همه از خرابی سرك حصهء ولایت قطغن و شخص محمد گل خان شکایت میکردند که اکثراً شخصی و غرض آلود بود.

چون حجم ترانسپورت صادراتی و وارداتی کشور در وقت جنك دوم جهانی به سمت شمال از طریق روسیه شوروی تمرکز یافته بود، آن سرك خامه طاقت آن موترهای گران وزن را نداشته، خراب شده بودند، چنانچه خود حکومت از ضروریات دانسته بود که آن را یك شاهراه درجه اول ترانزیتی در سه سال بسازد.

رحیم الله خان وزیر فواید عامه پس از کمی استراحت هیئت مهندسین (انجنیران) سروی سرك پلخمری ـ قندوز را به نزد خود در کلوپ جمع کرد و با آنها بالای سرك ترانزیتی کابل ـ قندوز بحث و مذاکره نمود. انجنیران راپور کار سروی سرك پل خمری ـ قندوز را که ساخته بودند، به عرض رساندند که با وسایل دست داشته وزارت طبق پروگرامیکه ساخته اند، این کار در سه سال تمام میشد.

وزیر فواید عامه به پروگرام کار مهندسین خود موافقه نکرده، به آنها هدایت داد، پروگرامی بسازند که سرك کابل ـ قندوز در مدت سه سال تکمیل شود، چرا که او وعده داده بود. مهندسین مفصل معلومات دادند که این کار ناممکن است، چرا که سروی پل خمری ـ کابل نشده است که

پروگرام کابل سنجیده شود تا این کار سروی نشود، حتی مدت کار ان تعیین شده نمیتواند.

خود سروی این کار یکسال بکار دارد و اصرار میکردند که محض سرك پلخمری_قندوز بروی پروگرام مرتبه در سه سال ساخته شده میتوانست."

محترم امیر الدین شنسب د یوه مسلمان او حقپال انسان په توگه د خپل کتاب په ۲۱۶ مخ کې لیکي او د محمد گل خان مومند لپاره جوړه شوې دسیسه داسې رسوا کوي:

"فابریکهء قند در بغلان بصورت طمطراق افتتاح شد و روز دیگر ان، مجلس وزراء به شمول محمد گل خان در پلخمری دایر گردیده بود، مطرح بحث موضوع سرك کابل_قندوز بود که میبایست بزود ترین وقت شروع میشد. چون پیشنهاد وزارت فواید عامه در مجلس موجود بود که سرك در سه سال ساخته میشد، مجلس کار ان را در سه گروپ تحت اثر محمد گل خان به این ترتیب که گروپ اول از پلخمری جانب قندوز و گروپ دوم از پلخمری جانب کابل و گروپ سوم از کابل طرف پل خمری، فوری شروع به کار میکردند و سرك را در مدت سه سال قرار وعدهء رحیم الله خان وزیر فواید عامه تمام میکردند.

وزیر محمد گل خان مومند که شخص عملی با تجربه بود و پوره خودش میدانست که ان کار به نسبت مشکلات اداری، فنی و پولی و فاقد پرسونل فنی، در مدت سه سال ناممکن

بود، استفاده جو و جاه طلب هم نبود، با اظهار آن همه دلایل و ناممکن بودن آن کار در سه سال، آن وظیفه را قبول نکرد و معذرت طلبید.

مجلس که میخواست حتمی آن وظیفه را هر طور میشد بالایش بقبولاند، به او صلاحیت عام و تام اداری، بودجوی و همه آمور آن کار را قایل شد. باوجود آن چون او آن کار را ناممکن میدانست و وعده و وعیدها را محض روی کاغذ فکر میکرد، عذر مریضی و ناتوانی را پیش کرده، واضح گفت: من امتحان خود را تیر کرده ام، بهتر است برای این کار مهم، یك شخص جوان و تواناتر را انتخاب کنید که او هم امتحان خود را بدهد.

با اظهارات آخرین محمد گل خان، مجلس بدون رسیدن به نتیجه ختم شد و محمد گل خان طرف مرکز خود بغلان حرکت کرد. او که رفت، هر کدام تبصره ها کردند و میرزا محمد خان وزیر مالیه واضح و پوست کنده گفت: محمد گل خان محض از بودجهء ریاست تنظیمه استفاده می کند، دلش کار نمیشود و کار سرك را خود وزیر فواید عامه قرار پیشنهاد خود از طریق وزارت خود، بدست اجرا بگیرد.

بعد فیصله بر آن شد که رحیم الله خان وزیر فواید عامه خودش آن کار را بکند. طبق پروگرام و وعدهء خودش آن سرك ترانزیتی کابل ـ قندوز را در سه سال میساخت.

رحیم الله خان وزیر فواید عامه از مذاکره با مهندسین خود پوره با خبر بود که آن فیصله مجلس و عده، خودش کار ناممکن بود، با فهم آن او آن وظیفه ناممکن را بخوشی قبول کرد، چرا که او میدانست در دستگاه فاسدشان هر چیز فراموش شدنی بود، باز خواست درك نداشت، مکافات و مجازات نبود، آرزوی او خوشی و رضایت آنی و توصیف صدراعظم و همکارانش بود.

فردای آن روز صدراعظم و رفقایش به زیارت روضه، مبارك به مزار رفتند و رحیم الله خان به فعالیت ظاهری در پل خمری ماند و به وزارت فواید عامه هدایت تیلیفونی داد که بصورت فوری ماشین های سرکسازیو الات از هر قبیل خصوصاً موتر های لاری را از هر جا دستگیر کنند به پل خمری نقل بدهند و مدیر فواید عامه ولایت قطغن دستور داد که همه سنگهای لشم دریایی را که در لب سرك و سینه، تپه ها در هر جا افتاده اند، تا آخر سرك جمع کنند.

سرك در مقابل اقامتگاه صدراعظم و وزیران در آن طرف دریا بود و سنگهای جمع شده بروز رسیدن صدراعظم با موترهای لاری در چند متری بالای سرك نقل داده میشد که فعالیت وزیر فواید عامه ظاهر میشد و بطریق ارزان تر و سهل تر سنگها از جای شان به لب سرك لول داده میشدند، ضرورت لاری و مصرف دیزل و پطرول نبود.

وزیر باز مهندسین را به کلوپ جمع کرده، فیصلهء کابینه را به آنها ابلاغ کرد، که سرك کابل ـ پلخمری در سه سال میبایست ساخته میشد و هدایت داد که فوراً کار شروع میشد و به آنها گفت: اگر ضرورت شود او میتواند تا اندازهء بیست هزار نفر را به کار حاضر کند. مهندسین از ابلاغیه وزیر به تعجب افتاده، اظهار کردند که ما چند روز قبل بعرض رسانده بودیم که این کار ممکن نیست، بیست هزار نفر درد را دوا نمیکند. برای این کار بزرگ، وسایل تخنیکی و پرسونل فنی زیاد بکار است و از همه اول سروی سرك باید شود که این تنها یك سال بکار دارد.

انها متفقا اظهار کردند این کار ناممکن است. وقت ان بعد از اکمال سروی سرك تعیین شده میتواند.

سرك پل خمری ـ قندوز در سه سال با وسایل دست داشته شده میتواند. وزیر به انها هدایت داد که کار ترمیم سرك پل خمری ـ قندوز را شروع نمایند.

ده موتر لاری، دو عراده رول سرك و یك عراده رول شنگل گوسفند از کابل رسید و کندن سرك از بازار پل خمری الی داشهای خشت پختهء شرکت به طول تقریبا سه صد متر طرف بغلان شروع شد و نفر زیاد برای جمع کردن سنگ دریایی در سینهء تپه ها تقسیم شدند که سنگها را جابجا کوت میکردند تا بروز معین ذریعه لاری ها به لب سرك نقل داده میشدند،

اگر ان کار برای تظاهر یکروز نمیبود، ان سنگها با لول دادن به لب سرك جمع میشدند که ضرورت موتر و مصرف نبود.

از مهمانخانه ای که صدراعظم و وزیران در انجا سکونت داشتند، منطقهء کار و فعالیت لاری ها و نفر کار در تپه به خوبی دیده میشد. در روز رسیدن مهمانان به پلخمری، مزدور کاران و لاری ها در هر حصه شروع به فعالیت کرده بودند. لاری ها بودند که سنگهای جمع شده را در چند متری در لب سرك میرساندند.

صدراعظم و وزیران که رسیدند و از مهمانخانه ان پردهء سینمایی خود خوش بود.

میرزا محمد خان که از تعریف خلاصی نداشت، میگفت: شما فعالیت را ملاحظه کنید، میگویند کار نمیشود، اگر شخصی بخواهد کار کند، این قسم شده میتواند و محمد گل خان که نمی خواهد کار کند، نزدش هر چیز ناممکن است.

وقتیکه همه وزیران به شمول صدراعظم از تعریف و توصیف وزیر فواید عامه که در حقیقت همه کار او دروغ، عوام فریبی و خیانت کاری بود، خلاص شده بودند او در حضور من که از همه چیز باخبر بودم و میدانستم که حتی سروی سرك کابل ـ قندوز نشده بود، برفقای کابینه و صدراعظم اطمینان داد که به همین فعالیت ها که کار میشود، سرك کابل ـ قندوز در سه سال تمام میشود.

وقتیکه مقدرات خلق و کشور بدست ان چنـن اشـخاص فاسد ، استفاده جو ، خاین و دروغ گو باشد . افغانستان باید در دنیا پس مانده ترین کشور باشد که است.

ان همه بزرگان مملکت که مقدرات عام و تام توده‌ء غریب و بیچاره را بدست پر اقتدار خود داشتند ، از وعده و وعیدهای غیر حقیقی رحیم الله خان خوش و راضی بودند و خود رحیم الله خان که ممکن چندین چالاکیهای دیگر را تیر کرده بود و میدانست که در ان دستگاه فاسدشان هر چیز زود از یاد رفتنی بود ، از وعده ها و وعیدهای دروغ خود خوش و راضی بود ، در نتیجه ریاست تنظیمه و محمد گل خان برطرف گردید .

کار سرك کابل ـقندوز از پل خمری جانب قندوز در طول سه صد متر شروع شده بود ، پس از سه ماه کار ان برای قیر ریزی اماده شده، با مصرف در حدود دو ملیون افغانی بدون معاشات و مصارفات اسعاری که شده بود ، بودجه‌ء سرك تمام و کار ان معطل شد . وقت زیاد گذشت و ماشین الات در هر کجا مانده بود ، ماند ، تغییر و تبدیل در کابینه به پیش شد . روزی اغای محمد اکرام خان معین وزارت فواید عامه به پل خمری امده بود و به مدیر فواید عامه هدایت داد "سنگهای دریابی جمع شده را در باقیمانده‌ء سرك کنده شده بود ، کار کرده با جغل و ریگ انرا هموار کند ، خلاص".

او هغه سامان الات، چې د بیت المال په میلیونو افغانۍ پرې لګېدلې وې، له سره معلوم نه شول، چې څه شول او چېرې لاړل. کوم شی، چې د پښتنو هسکې شملې ستر پښتون محمد

گل بابا یې اټکل کړی و، هماغسې وشول، خو بې مغزې کابینې یې تصور قدر نه شو کولی او د تخریب په توګه یې په دغه سپېڅلي انسان باندې د اوسنیو حرام نمکو په شان، راز راز تاپې ولګولې، افسوس او بیا هم افسوس، چې دغه د اریایانو خوږ او سپېڅلی هېواد څه راز هېواد پلورونکیو په هغه شان، چې خپل هېواد تش د چای د پیالې په بیه، چې "چای ناخورده جنګ نمیشه" له لاسه ورکړ، لاس ته ورغی. په تېره بیا شریف فایض چې د لوړو تحصیلاتو د وزیر په توګه د افغان ملت وینې څښې او د ملت هسکې شملې په راز راز نومونو یادوي او ملنډې ورپورې وهي.

د چا په رګونو کې چې د بخارا وینې بهېږي، د هغو په زړونو کې به هېڅکله له افغانستان او افغانانو سره مینه پیدا نه شي او نه به ورته کله د وروری غېږه خلاصه کړي.

# عیاری از خراسان

## له غله نه د اتل جوړولو هڅه

موږ د تاریخي سندونو او دکورنیو او بهرنیو تاریخ لیکونکو د ویناوو په رڼا کې دغه حقیقت روښانه کړ، چې د سقاو زوی حبیب الله کلکانی هغه فراري، وران کاری او وژونکی، لار وهونکی غل و، چې د نالوستۍ او ناپوهۍ له امله یې هر ډول ناوړه غیر انساني او غیر اسلامي کړنې ته لاس اچاوه او له خپلو داړه مارو ملګرو سره یې په لار وهنه او غلا ژوند تېراوه.

نوموړی د خپلو بدو اخلاقو او فاسدو کړنو له کبله دغه حق او اجازه نه درلوده، چې په خپل کلي کلکان کې د خپلې کورنۍ له غړیو سره ژوند وکړي، ځکه د حکومت امنیتي مقاماتو د هغه د نیولو هڅه کوله او د وخت حکومت یې د نیونې حکم جاري کړی و.

د ۱۹۹۷م کال د اګست په میاشت کې د بي بي سي راډيو د (مجلهء اسیای میانه) په خپرونه کې د (افغانستان در قرن بیست) په نوم ځانګړي پروګرام کې د تاریخي پېښو په اړه د نورو مطالبو په ترخ کې د سقاو د زوی حبیب الله کلکاني د میرمن بي بي سنګري خبرې د هغې په خپل اواز کې د بي بي سي راډيوله غني ارشیف څخه د (بي بي سنګري خبرې او ځینې تاریخي لیکنې) تر عنوان لاندې له ناروې هېواد څخه د خپرېدونکې درنې مجلې جریدې د ۱۹۹۷م (۱۳۷۶ل) کال په ۱۷۹ او ۸۰ مه ګڼه کې خپره کړه او په هغه مضمون کې يې ددې مطلب یادونه تازه کړه، چې د سقاو د زوی په هکله دده مېرمن بي بي سنګري خبرې د حبیب الله کلکاني په اړه هغه لیکنې غلطې ثابتوي، چې ځینو ناپښتنو تاریخلیکونکو د لار وهونکي غله لپاره د یوه شخصیت تراشلو په مقصد لیکلي او خپرې کړې دي.

د حبیب الله کلکاني مېرمن (بي بي سنګري) په خپله ځانګړې لهجه یانې د کوهدامن د خلکو په لهجه له خپل مېړه نه داسې سرټکونه او شکایت وکړ:

"د حبیب الله د بدعملی په وجه به زه تل خپه او ناکراره وم او په کلي کې مې سر نه شو پورته کولی، ځکه چې مېړه مې خلکو د یو غل او داړه مار په نوم پېژانده، چې حکومت يې تل د نیولو هڅه کوله. کومه شپه چې به په تیاره کې هغه کور ته

راغـی، نـو مـا بـه ډېر ملامتـه کـاوه او تـل بـه مـې ورسـره لفظـي شـخړه درلودلـه.

مـا بـه لـه هغـه نـه همدا غوښتنـه کولـه، چـې لـه غـلا او بـدو عملونـو نـه لاس پـه سـر شـي او خپـل کـور تـه حلالـه ډوډۍ راوړي. خلکو به ماتـه د لاز وهونکـي حبيـب الله پـه سترګه کتـل او هـر چـا تـه مـې سر ښکتـه و، ليکـن زمـا خـبرو پـه حبيـب الله بـاندې هـېڅ اغېزه نـه کولـه.

د کلـي خلکـو د خپـل جومـات لـه مـلا نـه غوښتنـه وکـړه، چـې حبيـب الله لـه غـلا او داړه مـارۍ ه منـع کـړي. خـو هغـه يـوازې د خپلـو بدعملـو ملـګرو او دوسـتانو لکـه ملـک محسـن او سـيد حسـين او د خپـل ورور حميـدالله خـبرې اورېدلـې او بـس.

بي بي سنګري د بـي بـي سـي لـه خبريـال ظـاهر طنيـن سره پـه مرکـه کـې وويـل: زمـوږ د کلـي ټول خلـك غريـب دي، ليکـن پـه پـت او عـزت ژونـد کـوي او حلالـه ډوډۍ خـوري، تـه ولـې شـپه او ورځ پـه حرامـو پسـې ورك يـې او لـه شرم نـه چا سره مـخ کـېدی نـه شـې، زه هـم چاتـه پـه هکسـه غـاړه او زغـرده نـه شـم کتـلای، دا څه ژونـد دی چـې زمـوږ پـه برخـه شـوی دی..؟

بـاور دی چـې د سـقاو د زوی د مېرمنـې دا خـبرې بـه پـه هغـه ورځ لـه بـي بـي سـي نـه ډېرو خلکـو اورېدلـې وي. مېرمـن سـنګري چـې د خپـل مـېړه کـوم انـځور وړانـدې کـړی دی، هغـه د شـمالي د هـر اوسـېدونکي ملـي او اسـلامي احسـاس ټيـې کـوي او افغـاني غـرور تـه يـې صدمـه رسـوي.

د افغانستان ټول وروڼه قومونه دا خبره ډېره خواشینوونکې بولي، چې څنګه د ځینو پېژندل شویو روحانیونو له خوا داسې یو سړي ته د (خادم دین رسول الله) لقب ورکړل شوی ، چې هغه له خپلې کورنۍ سره هم خیانت کړی او حلاله ډوډۍ یې کور ته نه وه وړې او د پاك ښځو د فرایضو په ادا کولو کې هم پاتې راغلی و.

خو زمونږ د هېواد یو وتلي فارسي ژبي شاعر او ادیب د یوه داسې سړي په ستاینه کې د (عیاري از خراسان) کتاب ولیکه، چې خپلې ټولنې او ان چې خپلې مېرمنې او د کور کلي خلکو رټلی او شړلی و او په نامه یې شرمېدل.

دغه نومیالی شاعر او ادیب استاد خلیل الله خلیلی، چې د سقاو زوی په واکمنۍ کې د بلخ ولایت مستوفي او د پخواني پاچا محمد ظاهر خان په واکمنۍ کې د پاچا مطبوعاتي سلاکار (مشاور) او د مطبوعاتو مستقل رییس او په جده، بغداد او کوېټ کې د افغانستان لوی سفیر و. په ۱۹۵۰م کال یې د نیلاب په نوم د یوې اونیزې د خپرولو امتیاز واخیست او وروسته پر ۱۹۶۸م کال یانې د اساسي قانون په لسیزه کې د جبههء ملي په نوم یوه اوونیزه پرته له دې، چې د چلولو مسوولیت یې پر غاړه واخلي، په لاس کې لرله او خپل سیاسي مقصدونه یې د هغې اونیزې په واسطه پرمخ بیول.

پر ۱۹۲۵_۱۹۵۳ م کال چې استاد خلیلي د مطبوعاتو مستقل رئیس و او په ولسي جرګه کې د ملي ژبې پښتو د

رسمي ېدلو خبره راپورته شوې وه او د هېواد ورځپاڼو هم په هغه باره کې خپرونې کولې، نو استاد خليلي د پښتو ژبې له رسمي کېدلو سره د مخالفت له کبله مطبوعاتو ته ليك ولېږه، چې نور د ملي ژبې پښتو په اړه خپرونې او ليکنې بندې کړي.

د استاد خليلي يو زوی (صفي الله خليلي) چې د استاد له لومړنی مېرمنې څخه او له ما (غوث خيبري) سره يې نږدې اړيکې درلودلې، ماته ويلي وو چې زما نيا (د استاد مور) په ځته صافی پښتنه وه او د هرات پخوانی والي عبدالرحمن خان صافی زما د پلار (استاد خليلي) ماما کېده. له دې خبرې ټول خلك خبر وو، چې استاد خليلي لوی پښتون وزير محمد گل خان ته په ښه سترگه نه کتل او د دواړو ترمنځ اړيکې دوستانه نه وې.

د اعليحضرت امان الله خان په هکله هم استاد ښه نظر نه درلود او لامل يې دا و، چې د استاد پلار مستوفي الممالك محمد حسين خان د امير امان الله خان پر ضد د يوې توطيې مشرتوب پر غاړه درلود او په همدې تور هغه د پاچا په حکم په دار وځړول شو.

ښايي چې استاد خليلي (عياری از خراسان) کتاب چې خلکو ورته د سقاو تامې نوم ورکړی دی، له اعليحضرت امان الله خان څخه د غچ اخيستلو په جذبه او د امان الله خان د راپرځوونکي په ستاينه کې کښلی وي.

سرېبره پر دې د سقاو زوی لکه چې په خپله استاد ليکلي دي، د دوی له کورنۍ سره نږدې اړيکې درلودې او د بزګرۍ يا باغبانۍ دنده يې پر مخ بيوله او سقاو هم وروسته د بلخ مستوفي وټاکه. ليکن کورنۍ او يا د باداري او مزدورۍ اړيکې بايد د تاريخي حقيقت د پټولو وسيله ونه ګرځي او نه هم د ادبياتو په قوت له غله نه اتل جوړېدای شي.

د (عيارې از خراسان) کتاب يوه تخيلي بڼه لري او زياتې خبرې يې له تاريخي حقايقو سره سمون نه خوري، يو مورخ په دې اړه ليکلي دي:

"داستان تاريخی يی که خليل الله خليلی تحت عنوان"عياری از خراسان" نشر نموده، نيز نمی تواند مبنای تاريخ ګردد. زيرا مولف اسناد و مدارکش را ارايه نکرده و اين هم توضيح نشده که کدام قسمت از مطالب داستان است و کدام قسمت تاريخ".

استاد خليل الله خان خليلي په(عياری از خراسان) کې يوه ځانګړې موخه درلودلې او هغه دا چې له يوه پېژندل شوي او نوم بدي لار وهونکي نه چې د غلا اوازه يې تر لرې سيمو پورې رسېدلې، د ادبي قريحې او استعداد په زور يو اتل جوړ کړي او د قلم په څوکه ورته نوی شخصيت ورکړي، داسې شخصيت چې د واقعيت له نړۍ سره يې هېڅ تعلق نه شته

هغه حبيب الله کلکانی چې خپلو او پرديو يې په خپلو څېړنيزو اثارو کې څېره انځور کړې ده، د استاد خليلي له

عیارۍ از خراسان سره ژور توپیر لري، په عیارۍ از خراسان کې د سقاو کنبل شوې څېره هغه تصویر نه دی، چې د افغان اولس په ذهن کې ځای لري او یا د حبیب الله نیازبینې مېرمنې (بي بي سنگري) په خپلو خبرو او یادونو کې خلکو ته وړاندې کړی و، بلکې هغه تصویر یوازې د هېواد د فارسي ژبې شاعر د تصور او یا تخیل مخلوق دی.

هغه سقاو زاده، چې په خپل وخت او زمان یانې له پاچاهۍ نه مخکې شمالي وال یې له نامه شرمېدل او هغه یې د تاجك په شریف قوم پورې له تړاو یا انتساب نه بې برخې پېژانده او ان چې خپله مېرمن او کورنۍ وربانديې سرټیټې وه، استاد خلیلي یې په دې ډول ستاینه کوي:

"در مساجد برای پیروزي دعا کردند و او را خادم دین نامیدند، زنان سالخورده نذر ها به خاطر کامیابیش به گردن گرفتند و در هر درخت کهن که در فراز قبر شهیدی بود، نخ بستند، البته وی از میانه مردم خود بود و قهرمان مردم. این ضرب المثل باسانی در مورد وی صادق امد که "اوازه خلق نغارهء خداست"

د فارسي ژبې دغه وتلی شاعر، چې ځان شمالي وال تاجك بولي، لا روهونکی سقاو زاده د کراماتو خاوند هم معرفي کوي او لیکي:

ـگر کارهای وی جزء افسانه ها شده بود، در اطراف ـهرمـی های وی سخن ها تراشیدند و خواب ها دیدند، اواز

در انداختنند که از تفنگ وی اواز حق دین میاید، او مظهر کرامات است، دامن خود را از نان مملو میکنند، هر قدر به مردم بخش میکنند، همان یك دامن نان تمام نمیشود، یك دامن کارتوس را به صدها رفیق خود می دهداما هنوز دامنش پر میباشد".

د استاد خلیلي وکمي او قومي تعصب د دوی د عقل په سترگو پرده غوړولې او ناسمې یې له ذهن څخه د قلم له خولې د کاغذ پرمخ راتویې کړې دی، د غله او لاز وهونکي حبیب الله کلکاني په حق کې د پېرزوینې او دوستی او د امیر امان الله خان غازي په هکله د سپکاوي او زړه بداوي نظر داسې وړاندي کوي:

"چرا افراد یك دودمان همیشه قدرتها را به دست دارند و طبقه عوام کور کورانه، محکوم امر و نهی انهاست؟ این سو برهنه پای مظلومی از عمق توده ها برخاسته و ان سو عمال حکومت است، یعنی کسانی که با خون توده ها بازی کرده اند. این سو تائید اسمانیست که بیسوادی، فقیری، گمنامی، برهنه پایی در هر میدان مظفر و فاتح میسازد و ان سو برگشت خداوندیست که ارباب قدرت و ثروت با اسلحه و تجهیزات هر جا در برابر وی منهزم و مغلوب میگردند."

د زیاتې حیرانیا ځای دا دی، چې په عیاری از خراسان کې له دې حقیقت نه هم انکار شوی دی، چې له سقاو زوی سره انگریزانو مرسته کړې او هغه یې واکمنی ته رسولی دی، یا د

۱۳۰۷ کال سقاوي انقلاب د برتانوي هند د مامورینو د هڅو او دسیسو پایله وه، وګورئ دغه لاندې کرښې:

"اینکه میگویند خادم دین رسول الله یا مردم شجاع و متدین کوهدامن، کوهستان، پنجشیر و ملحقات ان یا قومی از اقوام افغانستان، به تحریك انگلیسها در مقابل حکومت امانیه قیام و انقلاب کرده اند، یك افترا و تهمت و بهتان است".

استاد خلیلي په عیاري از خراسان کې د توکمي او سکتاریستي احساس تر اغېزې لاندې دومره بې‌لارې شوی دی، چې د سقاو زوی حبیب الله د بې سوادۍ د توجیه کولو لپاره یو ناسم او بې ځایه مثال راوړی او یو غل اولاړ وهونکی د پاك ځینتن له پېغمبر حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یوه سترګه وینې او د سترې ګناه او خطا مرتکب کېږي، خلیل الله خلیلي د سقاو زوی نالوستی په دې غلط مثال پټوي، دی لیکي:

"در جواب انانی که بر بیسوادی حبیب الله انتقاد میکردند، دوستانش میگفتند: سواد شرط امارت نیست و حضرت پیامبر مظهر اسلام را مثال می اوردند".

د استاد خلیلي په عیاري از خراسان کې له غله نه د اتل جوړولو هڅې نه یوازې ناکامې ثابتې شوې، بلکې د لیکوال شخصیت او پوهه دواړه یې تر پوښتنې لاندې راوستي دي. استاد په تاریخ کې له پرتو حقایقو نه سترګې پټې کړې او

اوښان يې په بده وهلي، له ځانه جوړو کړو د روغو ته يې د رښتينولۍ د جامې اغوستلو هڅه کړې ده، چې دلته يې يوه کوچنۍ بېلګه وړاندې کوو:

"استاد خليل الله خان خليلي په "عياری از خراسان" کې څو ځايه ددې خبرې ذکر ړی دی، چې د سقاو زوی حبيب الله ته ګواکې ولس د "خادم دين رسول الله" لقب ورکړی و او خلکو هغه په دې نامه ياداوه. ليکن دا له تاريخ سره هيڅ سمون نه خوري او حقيقت بل ډول دی. حقيقت دا دی، چې کله د تګاب اخوندزاده حميدالله، محمد صادق المجددي او سردار محمد عثمان خان دسقاو زوی پر سر د اميرۍ پټکی وتاړه، نو په همغه وخت کې حبيب الله د خادم دين رسول الله په لقب ياد کړی شو او دغه مطلب د حبيب الاسلام له جريدې نه نيولې، ټولو تاريخليکونکو په همدې ډول ليکلی دی.

د شمالي شريف خلك د سقاو د زوی له بدو اعمالو شرمېدل او حبيب الله هم کلونه کلونه د تېښتې او فرار په حالت کې و او خپل کلي ته د خلکو له وېرې نه شو راتلای، چې څوك يې حکومت ته د راتلو خبر ورنه کړي.

زيات وختونه يې په ازادو قبايلو او د پښتونخوا په مرکز پېښور ښار کې تېر کړي و او انګرېز لارنس ورسره په همغه ځای کې ليدل کتل وکړل او د اعليحضرت امان الله خان پرخلاف يې د استعمالولو لپاره په پام کې ونيو، نو هغه غله ته څنګه خلکو د خادم دين رسول الله لقب ورکړ؟.

دویمه دا چې سقاو زاده خپل ولس ته کوم نیك او ګټور خدمتونه کړي وو، چې د هغو له مخې یې په خلکو کې تر دې اندازې پورې محبوبیت موندلی و، چې دومره ستر لقب یې ورکړ.

امیر عبدالرحمن خان ته د ضیاء الملته والدین او امیر حبیب الله خان ته دسراج الملته والدین لقبونه خو هم هغوی ته د خلکو له خوا نه وو ورکړل شوي او د خلکو د ارادې ښکارندوی نه وو، په دې حالت کې خلیل الله خلیلي څنګه دعوه کوي، چې لاړ وهونکي حبیب الله ته د خادم دین رسول الله لقب د نوموړي لپاره د خلکو ډالۍ وه او بیا چې وروسته ورځخه پاچاهي محمد نادر خان واخیسته، د سقاو د زوی یا خادم دین رسول الله هغو معجزو کار ورنه کړ، چې خلیل الله خلیلي یې په هغه غله پورې تړي او د خلکو له خولې یې لیکلي وو، چې :"از تفنگ وی اواز حق و دین میاید" او مظهر کرامات است و دامن خود را از نان مملو میکند هر قدر به مردم بخش میکند ، همان یك دامن نان تمام نمیشود ، وی دامن کارتوس را به صدها رفیق خود میدهد اما هنوز دامنش پر میباشد".

د فارسي ادب یو نومیالی استاد تش په دې تعصب چې د سقاو زوی دده په سیمې او قوم پورې تړاو لري او یایې د امیر امان الله خان کینه په زړه کې پرته ده، دغه هڅه کړې ده، چې له هغه نه یو خیالي او غیر حقیقي اتل جوړ کړي او پر پښتون

قام باندې دغه نیوکه وکړي، چې "چرا افراد یك دودمان همیشه قدرت را بدست دارند و طبقه عوام کو کورانه محکوم امر و نهی انهاست؟".

مورخ غبار له استاد خلیلي سره پر دې ټکي مخالف دی، چې خلیلي وايي حبیب الله ته خلکو د خادم دین رسول الله لقب ورکړی، بلکې دغه لقب لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه، تش د دوه یا درېو تنو روحانیونو له خوا د پاچاهۍ په لومړیو ورځو کې ورکړ شو او بیا هماغو کسانو ورباندې وطن ته د غدار، خاین او غله فتوا ولګوله. غبار وايي:

"کسانیکه تقریبا پنج ماه از بچه سقاو جدا حمایت و او را به صفت "خادم دین رسول الله" به جامعه معرفی مینمودند اینکه همه متحد القول او را یك دزد غدار و دشمن افغانستان می نامیدند".

خلیل الله خلیلي چې خپله استادي د یوه لاړ وهونکي غله د دفاع په لار کې داو کړې ده، په دې کې پاتې راغی، چې یو غل د اتل په نامه د افغانستان خلکو او په تېره بیا افغان روڼ اندو او هېواد مینو ته وروپېژني، استاد خلیلي له زړه او فکر نه راوېستلې خبرې چې ادبیانه او مودبانه رنګ لري، نالوستي لاړ وهونکي ته منسوب کړي دي او هڅه یې کړې ده، چې د غل سقاو زوی د افغانانو نوي توکم ته یو اتل وروپېژني او تاجك ورونو ته قناعت ورکړي، چې حبیب الله یو ولسي شخصیت او پر خدای او رسول او خلکو باندې مین سړی و او

په دې ډول يې په خپلې ادبي قريحې او استعداد يو نوی بچه سقاو زېږولی دی.

استاد خليل الله خليلي داسې حبيب الله کلکانی نړۍ ته راوړی دی، چې د کراماتو خاوند هم دی او په خبرو کې هم له پاچاهانو کم نه دی، د ولس سياسي او ټولنيز نبض هم ډېر ښه پېژني او د لوړې حوصلې صبر او زغم خاوند هم دی. ځوانمرد او عيار دی او د سر دښمنان هم بخښلای شي او په دې ډول استاد په بې پروايۍ سره تاريخي حقايق تحريف کړي دي.

"عياری از خراسان" د هغو کسانو له خوا چاپ او خپور شو، چې د ازادۍ په جريده کې يې د پښتنو پر ضد دريغ غوره کړی و، د ازادۍ په نوم جريده پر ۱۳۷۰ کال د غلام سخي غېرت، چې د ملي ستم له ډلې سره يې تړاو درلود،له خوا خپرېدله

ليکن د ازادۍ جريده له دې کبله، چې ليکنې يې د ملي ګټو خلاف وې، ډېر ژر د حکومت له خوا وتړل شوه او غلام سخي غېرت وروسته په مسکو کې د برهان الدين رباني د سفارت سکرتر وټاکل شو او له هغه ځای نه يې هم د پښتنو پر ضد خپل فعاليت جاري وساته، دی د "سازا" د مارکستي ډلې غړی و.

هماغسې چې د سقاو د زوی ټول عمده او مهم وزيران د شمالي تاجکو له قوم څخه وو، پښتو ژبې هم په سقاوي حکومت کې کوم اهميت نه درلود. د حبيب الاسلام اخبار

مولینا برهان الدین کشککي چلاوه، لیکن د مولینا قلم تل فارسي لیکنې کولې، که څه هم په خپله ننګرهاري پښتون پېژندل کېده او په دیني پوهنو کې یې لوی لاس درلود، زوی یې صباح الدین کشککي د صدراعظم موسی شفیق د اطلاعاتو او کلتور وزیر و.

مولینا "نادر افغان" د کتاب لیکونکی هم دی، چې هغه یې په دري ژبه کښلی او د سیرت النبي کتاب یې په همدې ژبه ژباړلی دی. دی د محمد ظاهر خان په وخت کې د اصلاح د ورځپاڼې چلوونکی هم و، چې په اخبار کې یې دري برخې فارسي او یوه برخه پښتو وه.

د نهه میاشتنۍ سقاو سالارۍ پر مهال پښتانه او پښتو له ډېرو سختو شرایطو او ستونزو سره مخامخ شول، لیکن ویښ او پر هېواد مین پښتانه لاس تر زنې پاتې نه شول او د سقاو سالارۍ پر خلاف یې خپله مبارزه د قلم په څوکه پیل کړه.

پر پښتو او پښتونولۍ مین شخصیت چې ټول عمر یې د زندان د تورو تمبو شاته تېر کړ، یعنې سید حسن حسن چې شیون تخلص یې کاوه، په خوږیانیو کې "د کور غم" تر نامه لاندې یوه جریده راوویستله(١) وایي چې "د کور غم" په خپرونه کې ځینو نورو انقلابي پښتنو لکه سید حیدر پاچا او وزیر محمد ګل خان مومند هم لیکنې کړي دي او دوی د پښتنو په

١ اوسني لیکوال، لومړی ټوک، ۲۵۳ مخ

استازی د قلم او علم له لارې د سقاو سالارۍ پر ضد خپله مبارزه پيل کړې وه.

ما په خپله (ددې کتاب ليکوال) د خدای بښلي محمد ګل خان مومند له خولې دا خبره هم اورېدلې، چې مولينا برهان الدين کشککي په حبيب الاسلام کې په اعليحضرت امان الله خان غازي پسې بد ويل. څه خو پښتنو هم د هغه له اخبار سره مقاطعه کړې وه او هر چېرې يې د هغه خلاف خبرې کولې، ترڅو چې دغه ساحه ورځ په ورځ پراخه او په يوه مبارزه بدله شوه.

لوی پښتون محمد ګل خان مومند دا خبرې د پښتو ټولنې د مشر پوهاند صديق الله رښتين په دفتر کې کولې، چې د پښتو ښوونکی عبدالعزيز خان خاورې (مرحوم) هم ناست و او له وزير صاحب سره يې نږدې اړيکې وې. د سقاو سالارۍ پر ضد د پښتنو مبارزې چې "فرهنګ" ورته زياتې اشارې کړې، په څرګنده توګه په دې ټکي پورې وتړل شوې، چې ګواکې امان الله خان يو پښتون او د سقاو زوی حبيب الله په قوم تاجك او دغه ډول شننه زياته غير پښتنو کړې ده، چې دلته مو يوازې د صديق فرهنګ يادونه وکړه او له نورو څخه تېر شو.

په دې ډول پښتنو ډېر ژر پر سقاو سالارۍ د خپل برخليك د بدلولو لپاره قدم پورته کړ او پرې يې نښوده، چې حبيب الله خپل يو کال پوره کړي. پېرنګيانو هم هغه څه چې غوښتل، د سقاو د زوی په وجود کې ونه موندلی شو او له بلې خوا يې د

پښتنو د مبارزې جاج هم اخيستي و، نو حاضر نه شول، چې د پښتنو په مخالفت کې د حبيب الله کلکاني په ملاتړ ودرېږي، په تېره بيا چې ليدل يې د امير امان الله خان په لرې کولو سره خپلې موخې او مقصد ته هم رسېدلي دي.

انګرېزان هوښيار خلك وو او پوهېدل، چې که د پښتنو پر وړاندې د سقاو ملاتړ ته ورودانګي، نو دغه کار کېداى شي، د پښتنو او پېرنګيانو پر خلورم جنګ بدل شي او دغه جګړه ښايي د پخوا په څېر د انګرېزانو په مرګ ژوبله تمامه شي، چې دغه عمل د برتانوي هند د حکومت له پامه نه يوازې سم کار نه ښکارېده، بلکې د هغوى له سياسي ګټو سره په تضاد کې و.

نور هغه روحانيون چې له يو غله نه يې خادم دين رسول جوړ کړى و، هم د سقاو د ناپوهۍ او بې سوادۍ له امله تر پوزې راغلي وو او پر خپلو کړنو سخت پښېمانه شوي وو، په تېره بيا د تګاب خوندزاده حمديالله چې اعليحضرت امان الله خان ورته د (نور المشايخ) دروند لقب هم ورکړى و.

د هغوى لپاره حبيب الله کلکانى هغه حبيب الله نه و، چې خليل الله خليلي په غلطه د هغه انځور په "عيارى از خرسان" کې کښلى و، بلکې هغوى د سقاو زوى د نږدې سلاکارانو او دوستانو په توګه له ډېر نږدې نه ليده، چې په هېڅ وجه د پاچاهۍ جوګه نه دى او کړه وړه، کردار او اخلاقي کمزورتيا يې له پاچاهۍ سره سمون نه خوري، په دې ډول دسقاوي

حکومت یا سقاو سالارۍ د ړنګېدو او له منځه تللو ورځې په چټکۍ رانږدې کېدلې او پښتانه هم اوس په ښکاره د هغه پر ضد د تودې مبارزې ډګر ته راوتلي وو.

د سقاو زوی خپل قوم هم په دومره اوبو کې نه و، چې هغه دې د سقاو د زوی او د غلو د ډلې سالارۍ ته نجات ورکړای شي، بلکه دا چې شمالي والو په باندې ویاړ هم ته و کړی، چې نن یې د ژغورنې لپاره ځانونه قربانوي.

ځکه د سقاو سالارۍ نهه میاشتې د افغانستان د خلکو لپاره د سوکالۍ او سرلوړۍ میاشتې نه وې او نه سقاویانو د اولس او تاریخي افغانستان لپاره کوم د ویاړنې ډک خدمت سرته رسولی و.

# ۹ میاشتې سقاو سالارۍ

## او د

غریبیار

# پښتنو برخلیک

د ۱۹۲۹م کال د جنوري د میاشتې په ۱۶ نېټه د پروان ولایت د یوې ورې علاقه دارۍ اوسېدونکی حبیب الله خان، چې په خپله سیمه کلکانو کې یې هم د اوسېدو ځای نه درلوده او د سیمې د غلو دیوې ډلې مشر ګڼل کېده، د انګرېزي ښکیلاك له پلان سره سم د محمد صادق خان په بدرګه د کابل شاهي ارګ ته ورننوت او د پاچاهۍ پتکی ورته وتړل شو.

فرهنګ او غبار لیکي، چې دې د افغانستان تاجکو په قام پورې تړلی لومړنی پاچا و، لیکن له نهو میاشتو څخه یې زیاته پاچاهي ونه کړای شوه. د حبیب الله پلار سقوي کوله،

ځکه د سقاو زوی په نوم یاد شوی دی. دده خپل عمل، چې تاریخلیکونکو یې زیاته یادونه کړې ده. غلا او لار وهل وو، چې په دې جرم ډېر ځله بندي او قانوني جزا ورکړ شوې وه.

د سقاو زوی لیک لوست نه شو کولای او د خبرو طریقه یې هم د نالوستو کسانو وه، په کلي کور کې یې د بدنامی له کبله جرئت نه درلود، چې په خپل کور کې له خپلې مېرمنې سره ژوند وکړي او د کلي له خلکو سره یوځای په جوماتکې لمونځ وکړي.

د سقاو زوی د دغو ځانګړنو په درلودلو سره ددې پوهه نه درلوده، چې د مسایلو په اړه فکر وکړي او پرېکړې لاسلیك کړي، ځکه چې لاسلیکول یې نه وو زده او بې سواده و.

ددغسې یو سړي لپاره، چې عقلي او فکري کمزورتیا یې درلودله، د افغانستان غوندې یو هېواد اداره کول او د امیر امان الله خان غازي د سیاسي پوهې او تدبر په نتیجه کې خپله بشپړه خپلواکي لاسته راوړې او یو نوی اساسي قانون په کې منظور او د اجرا وړ ګرځېدلی و. نږېوالو هم د امان الله شاه شخصیت او قیادت ته په درنه سترګه کتل. اوس چې هغه شخصیت او قیادت دواړه له منځه وړل شوي او ځای یې تش پاتې و، ځکه چې نالوستي لاروهونکي او ملګرو یې هېڅکله د هغوی ځای نه شو ډکولای

مورخ غبار د سقاو زوی حبیب الله په باره کې وایي:

"شخص حبیب الله طبعا از اداره یک کشور نی بلکه از اداره یک قریه هم عاجز بود".

د ارګ شاهي ماڼۍ ته له ننوتلو وروسته ډېر ژر سقاوي کابینه اعلان شوه او ورسره جوخت هغه سردار محمد عثمان خان، چې د محمد صادق مجددي او د تګاب د اخوندزاده حمیدالله په ګډون یې ارګ ته د ننوتلو په وخت د سقاو د زوی پدرګه کړې وه. له څو تنو نورو پېژندل شویو شخصیتونو: سردار عبدالمجید خان، سردار حیات الله خان د امیر حبیب الله خان شهید زامنو، قاضي محمد اکبر خان، عبدالمجید خان توخي او حبیب الله خان له حربیه وزارت پخواني معین سره یوځای په دې تور اعدام شول، چې ګڼې د حبیب الله کلکاني د وژلو پلان یې جوړ کړی و."

ځینو تاریخلیکونکیو عقیده ښکاره کړې ده، چې د سقاو زوی ته جامي اغوستل هم نورو ورزده کړل. دا یو حقیقت و، چې ددغسې یو سړي پاچاهي د هیڅ افغان لپاره د منلو وړ نه شوه کېدې او نه یې د هغه په شخصیت د غرور شمله هسکه پاتې کېدای شوه، لیکن محمد صدیق فرهنګ دې مسالې ته بل ډول کتنه کړې ده او داسې ښکاره کول یې غوښتي دي، چې ګواکې یوازې پښتنو د سقاو زوی د پاچاهۍ جوګه نه ګڼله، دی وایي:

"اما پس از خارج شدن امان الله خان از کشور، مساله‌ء قومی در صف اول موضوعات مورد اختلاف قرار گرفته و

پشتونها بـا احسـاس اینکـه پادشـاهی از دست شـان خـارج شـده و بـه زعم بعضـی از انـان بـه شـخص از قـوم درجـه پـایین تـر (تـاجك) تعلق گرفتـه، در برابر دولـت جدیـد موضـع گرفتنـد".

پـه هـر حـال! دا خبره د هـر افغـان لپـاره د اندېښنـې وړ وه، چـې د تـرې د یـوه تـاریخي پـېژنـدل شـوي خپلـواك هـېواد افغانسـتان پاچـا څنگه یـو داسـي سـړی کـېدای شـي، چـې نـه د علـم او پوهـې خـاوند وي او نـه د افغانسـتان خلکـو لـه غـل او لار وهونکـي پرتـه پـه بـل نـوم پـېژندلـی وي.

پـه غـلا او داړه مـاری کـې د نومـوړي شـهرت ان د برتـانوي هنـد او ایـران تـر خـاوري رسـېدلی و. همدغـه لامـل و، چـې کلـه دغـه سړی لـه خپلـو ملگرو سره پاچاهی تـه ورسـېد، نـو پـه هـېواد کـې د لوټمـاری او غـلاوو یـوه نـوې دوره پیـل شـو وه او نویـو واکمنـو لـه نـورو نـه مخکـې پـه دغـه کـار پیـل وکـړ، چـې د هـېواد مـورخ یـې شـرح پـه دې ډول کـړې ده:

"یـك عـده بـه کلـی جـاهل و نـو بـه دولـت رسـیده و حریـص، فقـط مشـغول پـول اندوختـن بودنـد و از گرسـنه گی بسـیار هـر جـا زمیـن و بـاغ و قصـر مـی یـافتند، بـه هـر نوعـی کـه بـود انـرا تصـاحب میکردنـد، عمـارات دولتـی را مـنزل شـخصی خـود ساخته بودنـد. در حفظ ظواهـر هـم هـر روز ریـش و بـروت انـها کـه کوتـاهتر روب دریشـی شـان قطـور تـر والقـاب مـرده قدیـم زنـده تـر میشـد از قبیـل نـایب السـلطنه و معیـن السـلطنه و جرنیـل خـود مختـار وغیره ایـن هـا چـون از عمـر و حتـی محیـط کـابل بسـیار

عقب افتاده تر بودند. طاقت دیدن هیچگونه علم و عقلی را در ماحول خود نداشته، دشمن کفایت و فضیلت بودند."

د حبیب الله کلکاني په هکله دغه قضاوت هغه چا کړی دی، چې په خته پښتون نه دی، لیکن د هېواد پر هغه حالت یې زړه دردېدلی او دا ورته د شرم خبره ښکارېدله، چې یو غل او لار هونکی دې د سرلوړي او تاریخي افغانستان پاچا اوسي، بلکې حقیقت دا دی، چې ټول افغان اولس له همدې حالت سره مخامخ و.

اوس به د تاریخ په رڼا کې دغه حقیقت ته یوه کتنه وکړو، چې د "فرهنگ" په وینا تاجك قوم دغه د ناوړه نوم او شهرت درلودونکی سړی څنګه او د کوم ځواکمن هېواد له خوا پاچاهۍ ته ورسول شو او د سقاو سالارۍ ۹ میاشتنۍ دوره په افغانستان کې پیل شوه.

ماته غوره ښکاره شوه، چې لومړی د نوموړي مطلب په اړه د افغان او افغانستان دښمن ایراني مورخ مهدي فرخ نظر او عقیده راواخلم. دده پر لیکنه باندې شننې او څېړنې ته کوم ضرورت نه لیدل کېږي، دی وایي:

"در افغانستان انقلاب بر ضد امان الله خان به دست مامورین حکومت هند ایجادشد. منتها نظر به نزدیکی افغانستان به هند، مامورین انگلستان با نهایت دقت و مراقبت این انقلاب را اداره نمودند".

"انقلاب ۱۳۰۷ که بدون تردید به دست حکومت هند برتانوی شروع شد، از طرف انگلیس ها نقشه معین و مرتبی داشت و مطابق نقشه ای که در اداره٫ سری هندوستان طرح کرده بود، مقصود سقوط حکومت امان الله خان در نهایت سرعت بدست هر کسی که ممکن شودو بلا فاصله در حدود امکان، تسریع در ایجاد یك حکومت ثابت در تحت ریاست یکی از متحدین انگلیس که محل سوق و اعتماد کامل باشند، برقراری نظم و خاتمه دادن انقلاب، زیرا ادامه شورش بر خلاف سیاست انگلستانممکن بود برای بلشویك ها موقع مساعدی پیش امده و انها را مورد استفاده قرار دهند".

"حقیقت قضیه اینست که پس از مراجعت از پشاور بچه سقاو از طرف حکومت هندبرتانوی مسلح و تقویت شده و پس از ورود کرنل لارنس به منطقه شینوار، بچه سقاو نیز رول خود را درین قسمت شروع نمود...

حکومت هند بچه سقاو را احضار داشته، تا اینکه در موقع انقلاب سمت مشرقی بچه سقاو نیز وارد میدان عمل شد و سید حسین نیز که از رفقای او بوده با او متفقا شروع به عمل نمودند. اداره کنندگان انقلاب به او دستور میدادند و از هر حیث او را تقویت کرده، اسلحه کاملتر را نیز به او رسانیدند... و بالاخره انقلاب افغانستان تا ساعت اخر مطابق به نقشه٫ هند برتانوی عملی گردید".

"مطالعات تاریخی در انقلاب ۱۳۰۷ سقاوی:

انقلاب ۱۳۰۷ افغانستان بدست انگلیس ها شروع و با نقشه، انها در جریان و هم بدست انها خاتمه یافت".

تر دي ځایه مور د ایراني مورخ مهدي فرخ د لیکلي تاریخ په پاڼو کې د پیرنګیانو د پلان له مخې په افغانستان کې د سقاوي انقلاب ۱۳۰۷ د راتلو، د غازي امان الله خان د لرې کېدو او د برتانوي هند د حکومت د مامورینو او جاسوسانو په مخامخ مرسته د حبیب الله کلکاني د پاچا کېدلو په اړه لنډ مطالب (ددې کتاب له حوصلې سره سم) ولوستل او ومو لیدل، چې څنګه انګرېزي ښکېلاک یو لاروهونکی غل د افغانستان پاچاهۍ ته ورساوه او د ۹ میاشتو لپاره د افغانستان واکمني له پښتنو څخه تاجکو ته ولېږدول شوه.

دلته به د همدې تاریخي پېښې په هکله د هېواد د ځینو تاریخلیکونکیو لیکنو ته یوه لنډه کتنه وکړو، لومړی به د (افغانستان در پنج قرن اخیر) د لیکوال د وینا جاج واخلو:

م، صدیق فرهنګ، چې د سقاو د زوی او دده د واکمنۍ په دفاع کې یې د فکر او قلم پښه په ډېرو ځایونو کې ښوېدلې ده، لیکن کله کله یې دغه چار احساس کړې ده، چې باید حیقت ووایي، چې تاریخي لیکلی اثر یې د هېواد د روښانفکرانو له پامه زیات بې اعتباره نه اوسي، دی لیکي:

"بدون شك فرانسیس همفریز وزیر مختار برتانیه در کابل و اعضای وزارت مختاری (در تحریکات علیه شاه امان الله

خان دخیل بودند ... در عین حال او (همفریز) به شورشیان و از جمله حبیب الله خان تماس علنی قایم کرد".

فرهنګ دا خبره منلې ده، چې په کابل کې د انګرېزانو مختار وزیر په ښکاره د سقاو له زوی حبیب الله او بغاوت کوونکیو شورشیانو سره ډېر نږدې تماس درلود. د فرهنګ دغه وینا د ایراني مورخ مهدي فرخ ددې خبرې تصدیق دی، چې د سقاو زوی ته انګرېزانو لاربښوونه کوله او د ۱۳۰۷ کال انقلاب د برتانوي هند د مامورینوپه لاس رامنځته شو. که نه حبیب الله پر ځمکه سیوری او پر اسمان ستوری نه درلوده.

فرهنګ خپلې خبرې د برتانوي لیکوال (ار، تی ستیوارت) له کتاب (په افغانستان کې اور) نه خیستي. دی د وزیر مختار همفریز د مېرمن د یادښتونو په حواله لیکي:

" د سقاو زوی حبیب الله شخصا له وزیر مختار همفریز سره د سفارت د دروازې په خوله کې وکتل او له هغه سره یې خبرې وکړې.

همفریز حبیب الله ته وویل، چې باید نه یوازې د برتانیې د سفارت، بلکې د نورو سفارتونو درناوی وساتي او د سفارتونو د لوټلو مخه ونیسي.

د همفریز د هدایت له مخې حبیب الله د خپلو حګړه مارو له جملې نه یو تن ته دنده وسپارله، چې د سفارتونوساتنه وکړي او بیا خپله حبیب الله د ښار پر لور وخوځېد".

د همفیز مېرمنې په خپلو یادښتونو کې دا هم ویلي دي، چې:"څو شېبې وروسته کله، چې د سفارت يو کارکوونکی د ښار له لوري راروان و او د خلکو په ګڼه کې یې د لار موندلو هڅه کوله، څو چې دسقاو د زوی سترګې پر نوموړي کارکوونکي باندې ولګېدې، نو حکم یې وکړ، چې باید د سفارت هغه غړی د سفارت تر دروازې پورې بدرګه کړي".

انګرېز لیکوال (ار، ستیورات) په خپل کتاب کې د جګړې په وخت د سقاو زوی حبیب الله د تېښتې کېدو او په شهراراء کې د برتانیې د سفارت د جراح ډاکتر له خوا د هغه د علاج خبره هم کړې، چې مرحوم فرهنګ د خپل اثر په ۳۷۵مخ کې هغه رااخیستې ده.

فرهنګ له یوې خوا د حبیب الله د غلا او لاروهنې تصدیق کوي او لیکي، چې:

"حبیب الله به هند برتانوی فرار نموده، در بازګشت با اتفاق رهزن معروف دیګر بنام سید حسین از اهل چاریکار در راس دسته ای از رهزنان قرار ګرفت که کار ان تاراج مسافران در شمال کابل بود".

لیکن د خپل قومي ذهنیت له مخې همدغه غل او لاروهونکی په وروسته کرښو کې داسې ستایي:

"حبیب الله مرد روستایي بود و اکثر خصلت های مردم روستانشین افغانستان را در وجود خود جمع داشت. در ایام

جوانی انسان قانع و پرکار و به مشاغل عادی باغبانی و سپاهی گیری راضی بود... مرد راستکار و جوان مرد بود".

د فکرمندۍ او پاملرنې خبره ده، چې څنګه یو مورخ د خپل قومي تراو له مخې هڅه کړې ده، چې د یوه بدنام او رسوا غله او لاروهونکي لپاره دتقوا او راستکارۍ جامه وګنډي او هغه قانع او زیار ایستونکی انسان وښیي؟ څنګه کېدای شي، چې رڼا او تیاره، اور او اوبه، توراو سپین، یو شان وګڼل شي او کلیوالو خلکو ته دغه سپکاوی وشي، چې ګویا د افغانستان کلیوال خلك له سقاو زوی سره عین خصلت لري او که داسې وای، نو بیا خو باید د کلیو او بانډو ټولو اوسېدونکیو د حبیب الله غونډې اخلاق درلودلای او کړنې یې د سقاو د زوی کړنو ته ورته وای.

"فرهنګ" د حبیب الله کلکاني سپینولو او له نوموړي پېژندل شوي لاروهونکي څخه د ګناه او خطا د پرېږ د لرې کولو په هڅه لیکي، چې امیر حبیب الله د اماني دولت د مخالفانو د تبلیغاتو تر اغېزې لاندې راغی او... د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له خوا استعمال شو".

د سقاو سالارۍ د نالوستي مشر له پاچا کېدلو نه څو ورځې وروسته د وزیرانو یوه کابینه جوړه شوه، چې په غوڅه توګه یې سکتاریستي بڼه درلوده او ټولې لوړې څوکۍ او عمده مقامونه هغو کسانو ته ورکړ شول، چې د سقاو د زوی

په داره کې د هغه نږدې ملګري او یا یې د خپلې کورنۍ خلك او په قوم تاجك وو، د ساري په توګه:

سید حسین د حبیب الله لومړی درجه همکار هم نایب السلطنه او هم د حربیه وزیر وټاکل شو. د حبیب الله بچه سقاو خپل سکه ورور حمیدالله د معین السلطنه په لقب او پردل او غیاث الدین د نایب سالارۍ په رتبه او ګڼ شمېر نور د خودمختاره جرنیلانو او کرنیلانو په نامه د پوځي ځواك په سر کې کېنول شول.

د سقاو زوی حبیب الله کلکاني، ملك محسن د کابل د والي په توګه وټاکه او د همدې ملك محسن ورور سید محمد د قلابیګي په رتبه د ارګ د دفاع مسوول مقرر کړای شو، چې د کابل د ښار لوټ کېدل هم د همدوی له خوا وشول.

د سقاو سالارۍ د بهرنیو چارو وزیر د پروان اوسېدونکی صاحب زاده عطاءالحق خان او د سقاو د دربار وزیر هم دپروان اوسېدونکی صاحبزاده شېر جان خان و. د سقاو زوی د حضور سرمنشي مېرزا محمد یوسف خان و، چې د مېرزا محمد حسین خان مستوفي الممالك ورور کېده، چې هغه مستوفي الممالك د هېواد د فارسي ژبې د وتلي شاعر او ادیب استاد خلیل الله خلیلي پلار و.

په خپله خلیل الله خان خلیلي هم د سقاوي حکومت په دوران کې د بلخ د ولایت مستوفي ټاکل شوی او دنده یې سرته

ورسوله، چې په بلخ کې د اعلیحضرت امان الله خان کلک مخالف پېژندل شوی.

استاد خلیل الله خلیلي هغه څوك دی، چې د سقاو د زوی حبیب الله د دفاع په تکل یې یو کتاب د (عیاری از خراسان) په نامه هم د پخواني باچا محمد ظاهر خان د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې ولیکلو او د څو کسو په لګښت یې چاپ او خپور کړ. په دې کتاب کې وربانديې پوره خبرې شوي دي.

د سقاویانو پاچاهۍ ته مورخ غبار "حکومت داره یې" ویلی دی، لیکن د دې حکومت نالوستي او لاروهونکي مشر ته هغو ملایانو د "حبیب الله خادم دین رسول الله" لقب ورکړ او یو اخبار یې هم ورته د "حبیب الاسلام" په نامه جاري کړ.

د نوموړې جریدې لومړنی مدیر سید محمد حسین او دویم مدیر یې د غبار په قول ملا برهان الدین کشککي و، چې د سقاوي حکومت په ګټه لیکنې به په کې خپرېدلې او هڅه کېدله، چې د سقاو حکومت د ولس په ذهن کې د خلکو په ګټه حکومت معرفي کړي، لیکن افغانان ډېر ژر وپوهېدل، چې تر کاسې لاند نیم کاسه ده او نالوستی د سقاو زوی د انګرېزانو لاس پوڅی دی او خپل واك نه لري.

د سقاو زوی په خپلې ۹ میاشتنۍ دوره کې په پښتنو باندې باور ونه کړ او لکه، چې مخکې ورته اشاره وشوه، ټولې عمده او مهمې څوکۍ او لوړ مقامونه یې ناپښتنو یانې تاجکو ته ورکړي او دولت په بشپړ ډول انحصاري بڼه درلوده،

لــه همــدي کبلــه ډېر ژر د نــاکراريو او ګډوډيــو ډنــډ تــه وروغــورځېداو مخالفتونــه ورســره پيــل شــول. "فرهنــګ" دې مسئلې ته داسې کتنه کړې ده:

"عـاملين ديګريکـه عليـه دولـت سـقاو کـار ميکـرد، انتسـاب امـير و اکـثر همکـارانش بـه يکـی از اقـوام غـير پشـتون (تـاجك) کشـور بـود. از عـهد احمـد شـاه ابدالـی بـه ايـن سـو در مـدت تقريبـا دو صـد سـال زمـامداران افغانسـتان پشـتون ودر بيـن پشـتون هـا درانـی و در بيـن درانـی هـا نخسـت پـوپلـزی و بعـدا بـارکزی بودنـد کـه محمـد زی شـاخه يـی از ان اسـت.

دريـن مـدت کـارمندان دسـتګاه مرکـزی دولـت و حکـام و کـارمندان ولايـات اکـثر پشـتون بودنـد و اګر بعضـی ايشـان بـه علـت اقـامت در کـابل بـه زبـان فارسـی تکلـم ميکردنـد، سلسـله نسـب خـود را بـه يکـی از قبـايل پشـتون خصوصـا درانـی ميرسـاندند".

ليکـن پيرنګيـانو لـه پښتنو څخـه د خپلواکـۍ دلاسـته راوړلـو غـچ پـه دې ډول واخيسـت، چـې يـو نـاپښتـون واکمنـۍ تـه ورسـوي او د هغـه پـه لاس پـه افغانسـتان او سـيمه کـې خپلـې ګټې خونـدي کـړي.

برتـانوي تـاريخليکونکيو پـه يـوه خولـه ددې حقيقـت تصديـق کـړی دی، چـې د برتـانوي هنـد د حکومـت مسـوولينو د امـير امـان الله خـان پـه راپرځولـو او د يـوه نـاپښتـون پـه واکمنولـو کـې سـتره ونډه تېروتنـه وکـړه، بلکـې غـوره دا وه، چـې د افغانسـتان لـه

منل شوي پاچا امان الله خان سره د اړیکو د دوستانه کولو هڅه شوې وای او په همدې کې د برتانیې ګټه وه.

له افغانانو سره دوستي په برتانوي هند کې د انګرېزانو د واکمنۍ په ګټه تمامېدله، ځکه چې په هغه صورت کې د برتانیې د حکومت مخالفان له هند نه افغانستان ته نه شول تلای او هندي ازادۍ غوښتونکیو د افغانستان دحکومت ملاتړ نه شو جلبولای.

پیرنګیانو ډېر ژر د سقاو له زوی حبیب الله نه مخ واړاوه او دنوموړي د لرې کولو په فکر کې شول، د برتانوي هند د حکومت یوازینۍ موخه او مقصد دا و، چې له امیر امان الله خان نه د افغانستان د خپلواکولو غېږ واخلي او له پاچاهۍ یې لرې کړي او چې کله په دې لاره کې بریالي شول، نو د حبیب الله کلکاني له پاتې کېدلو سره یې کومه خاصه دلچسپي نه درلوده او د هغه په پاتې کېدلو کې یې سیاسي ګټې نه شوې پوره کولای. د ۹ میاشتنۍ سقاو سالارۍ دوره پای ته ورسېده او د پښتنو د واکمنۍ لړۍ بېرته پیل شوه، چې تر ننه روانه ده.

د حبیب الله کلکاني د لومړۍ وینا هغه غټ ټکي، چې ویلي یې وو: " چرګان او مرزان جنګوئ او خپل وخت په خوښۍ تېروئ". د کابل د ښار اوسدونکیو په ذهن کې وو. هر افغان د کمترۍ احساس کاوه، چې د هېواد یو نالوستی غل یې د

پاچاهۍ پر تخت ناست دی، هغو کسانو چې دغه لاروهونکی پر شاهي تخت کېنولی و، اوس یې پر خپلو کړو پښېماني ښکاره کوله او دده د لرې کولو هڅې یې پیل کړې وې او په دې ډول یې له تاریخي ملامتیا نه ځان ژغورل غوښتل، خو تاریخ یې ونه بښي.[1]

[1] پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځیرونو کې، خیبري غوث له (۳۰۰ـ ۳۱۱ مخونه).

غريبيار

# د پښتنو په لاس

## د سقاو سالارۍ رنګېدل

د سقاو زاده پرضد تر ټولو مخکې پښتنو سر راوچت کړ او ددې لامل دا و، چې پښتانه د اعليحضرت امان الله خان په لرې کېدو او د افغانستان پر تاج او تخت باندې د يوه لار وهونکي او بدنام غله پر قبضه باندې ډېر سخت خفه شوي وو، که څه هم د پکتيا ځينو خال خال ورو قبيلو د حبيب الله پلوي ښاره کړې وه او د هغه په ملاتړ درېدلي وو، خو د پښتنو سترو قومونو لکه: وزيرو، مسيدو، دوړو، تنيو، منګلو، ځدرانو، ځاځيو، سلېمانخېلو، مومندو، احمد زيو او نورو د سقاو زوی په راتلو خپګان ښکاره کړی و او د يوه غله تر حکم او فرمان لاندې پاتې کېدل ورته بې غېرتي او د پښتنې قانون له مخې بې ننګي ښکارېدله.

د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې او د هېواد د نجات يا له سقاو سالارۍ نه د ګران افغانستان د ژغورنې يو نوميالی

قوماندان او ملي اتل جرنېل يار محمد خان وزيري په خپلو تاريخي يادښتونو کې په دې اړه وايي:

"ما چې عزم او اراده کړې وه، چې افغانستان او خپل ولس ته به د حبيب الله له فتنې څخه نجات ورکوم او د وزيرستان ننګياليو په همت او افغاني ننګ مې د ۱۳۰۸ کال د حمل د مياشتې له څلورمې نيټې څخه د حبيب الله او د هغه د پلويانو بشپړې مقابلې او اطاعت ته کولو ملاتړلې وه.

په شاه جوی کې مې د امان الله استازو ته وعده ورکړې وه، چې د سلطنت دا عادې لپاره به د وزيري او مسودي جنګياليو لښکر د جګړې په محاذ کې حاضر وم، نو دا راته عار او شرم ښکارېده، چې د امکاناتو په درلودلو سره د فتنې په خاموشولو کې برخه وانخلم او يا د يوه سارق او د تاج او تخت د غاصب د حکم چلولو پر وړاندې ارام واوسم".

په دې ډول پښتنو د سقاو بچه د رانسکورولو لپاره خپل هوډ اعلان کړ او د سقاو سالارۍ د له منځه وړلو تکل يې د عمل په ډګر کې پلی کړ. هغو خلکو چې د حبيب الله پاچاهي په حقيقت کې د پښتنو د دوه سوه کلنۍ واکمنۍ خاتمه او د خليل الله خليلي په وينا په يوه "دودمان" پورې د تړلو واکدارانو پای ګڼلې وه، ډېر ژر يې د خپلې غلطې اندازې او لنډ فکرۍ تصديق وکړ او د افغانستان نه د پښتنو ددفاع نوې بېلګې يې د سر په سترګو وليدې، هغه ډله پښتانه چې خپلې شخصي ګټې ورته تر ملي ګټو زياتې ارزښتمنې ښکارېدلې او

د ذاتي موخو او مقصدونو له مخې د سقاو دربار ته سلامي شوي هم وو، په خپله سهوه باندې پوه شول او د خپل وجدان پر وړاندې يې د شرم او خجالت احساس وکړ.

د يوه داسې لاړ وهونکي د واکمنۍ دفاع، چې په خپله لومړنۍ تاريخي وينا کې يې خلک مرزانو او چرګانو جنګولو او عيش کولو ته رابللي وو، په رښتيا چې شرمناک کار ګڼل کېده. نا پښتنو قومونو له تاجکو، ازبکو، ترکمنو، هزاره وو او نورو دا خبره يو عار ګڼله، چې دوه سوه کاله وروسته په هغو کې يو پاچا راپيدا شو، چې د غله او لاړ وهونکي په نامه مشهور شوی و او ليک لوست يې هم نه وزده. سربېره پردې له قومي پلوه هم د ځواک خاوند نه شو پېژندل کېدای، ځکه خو يې کابينه له هغو کسانو جوړه وه، چې دده د کلي او باندې اوسېدونکي او ټول په قوم تاجک وو، په هغو کې يو تن هم ازبک، هزاره او ترکمن نه ليدل کېده. په داسې حال کې چې پښتنو واکمنو له ستر احمد شاه بابا نه نولې تر امير حبيب الله خان او اعليحضرت امان الله خان او ان چې تر محمد نادر خان، محمد ظاهر خان، سردار محمد داود خان او ډاکټر نجيب الله احمدزي پورې د هېواد ټولو قومونو ته په خپلې واکمنۍ کې پوره ونډه ورکړې وه.

د پښتنو په واکمنۍ کې تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستاني، پشه يي ټول د عزت او قدر وړ پېژندل شوي وو او تر جنراليو او وزارتونو پورې مقامونه او څوکۍ ورته ورکړ

شـوې وې او ارام او سـوکاله ژونـد یـې درلـود. فارسـي ژبـه هـم رسـمي او هـم دربـاري ژبـه وه او شـيعه مذهبـو او قزلباشـو خپـل خپـل امتيازونـه درلـودل.

حبيب الله سقاو زاده د پښتنو واکمنو په مخالف لوري کې ودرېد، پښتانه او د دوی ژبه يې د نورو په لمسون پردې وپېژندل او د خپل حکومت دروازې يې ورباندې وتړلې، چې دا په حقيقت کې ډېره لويه تېروتنه او غټه ناپوهي ثابته شوه.

ـ سقاويانو دا په خوب کې هم نه شو ليدلای، چې ګنې پښتانه به ډېر ژر د هغوی د واکمنۍ پر ضد راپاڅېږي د سقاو سالارۍ د نسكورلو ويار به هم لكه د خپلواكۍ ګټلو تاريخي ويار د دوی په برخه كېږي.

د سقاوي داړه مارانو د حكومت پر ضد د پښتنو لومړني پوځي عمليات په بري سره سرته ورسېدل او په ارګون كې سقاوي ځواكونو ته سخته ماتې وركړ شوه او مخ پر وړاندې د كابل پر لور د روانېدو پرېكړه وشوه او په دې ډول د سقاو سالارۍ پر خوسا پيكر باندې د مرګوني ګوزارونو لړۍ د پښتنوله خوا پيل شوه.

جنرال يار محمد خان وزيري په دې اړه ليكي:

" كله چې موږ د اورګون نظامي كلا د حبيب الله د پلويانو نه د ۱۳۰۸ كال د جوزا د مياشتې په شلمه ونيوله او د اورګون جبه خانه زموږ په لاس كېوتله، نو مې د لوګر او كلنګار د اوسېدونكي حاجي نواب كاكا د زوی فيض محمد په لاس

نادر خان ته چې په څاځیو کې اوسېده، لیك ولېږه او ورته څرګنده مې کړه، چې زما تر قیادت او قوماندې لاندې د وزیرستان ننګیالیو د اورګون کلا د حبیب الله د ملګرو نه ترلاسه کړه، اوس د وزیرو او مسودو د قومونو او قبیلو مېړني مشران او سرتېري لښکریان دې ته تیار دي، چې د اعلیحضرت امان الله خان دبیا راوستلو لپاره ستا او ستا د ملګرو سره په ګډه د کابل پر لور حرکت وکړي. خو متاسفانه چې د سپه سالار محمد نادر خان له لوري زما د لېږل شوي لیك ځواب په ځنډ رانغی، نو همغه وو، چې له څه انتظار وېستلو نه وروسته مو د لښکر مشرانو په خپل منځي جرګه کې په اتفاق او اتحاد سره داسې فیصله او پرېکړه وکړه، چې له پوره تیاري نه وروسته به په نږدې وخت کې د کابل پر لور حرکت کوو".

د پام وړ مهمه خبره دا ده، چې پښتنو پتېیلې وه او هوډ یې کړی و، چې په هېواد کې به د غلو د واکمنۍ تخته اړوي او دغه غلط تصور به له منځه وړي، چې پښتانه نور د واکمنۍ د بېرته لاس ته راوړلو جوګه نه دي. وروستیو پېښو وښودله، چې پښتنو د افغانستان د خپلواکۍ ویاړ ګټلی دی، نو د هېواد د ژغورنې یا نجات وس هم ورسره شته دی.

د سقاو سالارۍ د نسکورولو او ړنګولو ویاړ هم د پښتنو په برخه شو او ننګیالي پښتانه د محمد نادر خان له ګډون پرته تر پرله پسې سوبو او بریاوو وروسته د کابل ښار په دروازو

ورننوتــل او شــاهي ارګ يــې کلابنــد کــړ، ځکــه چــې پښتنــو غوښتــل غــاصب حبيب الله کلکـانی ژونـدی ونيسـي او د کـابل پـه لـوی چـوك کې يـې پـه دار وځړوي او د کـړو وژنـو او قتلونـو سـزا ورتـه ورکـړي.

کـابل ښار تـه د ننوتلـو او د شـاهي ارګ د کلابنـد کولـو پـه وخـت کـې محمـد نـادر خـان لا پـه پکتيـا کـې پـاتې و او د ځان لپاره يـې ملاتـړي مونـدل، سـردار شـاه وليخـان پـه چهلسـتون کـې و او سـردار شـاه محمـود خـان هـم د ارګ پـه کلابنـدی کـې د پښتنـو جنګيـاليو پـه مـورچلونـو کـې نـه و. پښتنـو، چـې سـردار محمـد نـادر خـان تـه خپـل مقصـد او د کـابل د نيولـو او سقاوسالاری د ختمولـو لپـاره خپلـه موخـه بيـان کـړه، چـې غـواړي اعليحضـرت امـان الله خـان غـازي بېرتـه د پـاچاهـی مقـام تـه ورسـوي، نـو محمـد نـادر خـان لـه پښتنـو جنګيـاليو سـره د کـابل ښار پـه نيولـو کـې برخـه وانخيسـتله، بلکـې د ځان لپـاره يـې د پکتيـا د ځينـو قومونـو د ملاتـړ هـڅه کولـه او لـه دې نـه سـړی پوهېدی شي چې پـه هماغـه لومړيو شـېبو کـې محمـد نـادر خـان د خپلـې پـاچاهـی انديښنـې اخيسـتی و. هغـوی شـپږ مياشـتې پـه پکتيـا کـې تـېرې کـړې وې، ليکـن د يـوه پيـاوړي لښکـر پـه جوړولـو کـې پـاتې راغلـی وو، د پکتيـا خلکـو ځينـې غوښتنـې درلـودې او محمـد نـادر خـان نـه شـو کـولای هغـوی تـه قنـاعت ورکـړي.

د شاهي ارګ د کلابندۍ د اداري قومانده لکه جرنیل یار محمد وزیري چې لیکلي، ددې لاندې پښتنو قوماندانانو په لاس کې وه: یار محمد خان جرنیل وزیر، انګور خان، دلباز خان، شېر محمد خان، شېر خان تڼۍ، شادین خېل خان دوړ، ملك ګل محمد خان او ملك ډنډ خان.

له بلې خوا په ننګرهار کې هم د یوه جلا پلان له مخې یو شمېر وتلو پښتنو شخصیتونو لکه روحاني مشر چکنور ملا صاحب، پاچا ګل خان، محمد ګل خان مومند، سید حسن خان پاچا د کونړ، چې په هغه مهال کې یې د کنډك مشرۍ په رتبه دنده درلوده، مېرزا پاینده محمد خان، حبیب الله خان پاچا، سید احمد خان پاچا، سید عبدالمجید پاچا، فرقه مشر خان زمانخان، محمد امین خان، عبدالرزاق خان او نور دسقا سالارۍ د ړنګولو په مقصد له محمد نادر خان سره په پکتیا او سردار محمد هاشم خان سره په ننګرهار کې اړیکې نیولې وې. دغو مشرانو په ننګرها کې د شینوارو، مومندو، روداتو او چپلیار له استازو سره په یوه لویه جرګه کې ګډون وکړ.

د محمد ګل خان مومند په مشرتابه یې یو پلاوی پکتیا ته واستاوه، چې د سقاوي حکومت پر ضد یوه ګډه ټلواله جوړه کړي، چې د پکتیا او ننګرهار د ټلوالو په منځ کې د جګړه ییز فعالیت لپاره یووالی راولي.

محمد گل خان مومند په پکتیا کې له محمد نادر خان سره ولیدل او ننگرهار ته د بېرته وروستنېدو دنده ورکړ شوه، چې د خوګیانیو له جنګي ځوانانو سره په کابل کې د چکري د منار تر سیمې پورې مارش وکړي".

په دې وخت کې اپریدیو هم د سقاو پر ضد د یرغل اعلان وکړ او سید انور پاچا د اپریدیو د استازي په توګه دغه خبر سردار محمد هاشم خان او محمد گل خان مومند ته چې له نادر خان سره د لیدنې او خبرو نه بېرته راګرځېدل وو، تېږین ته واستوي".

مورخ غبار په همدې اړه وړاندې لیکي:

"شاه محمود خان در این خصوص در مکتوب ۵ ربیع الثاني ۱۳۴۸ قمري از جاجی به کتواز به نور المشایخ چنین نوشت:

... از مشرقی (ننگرهار) هم قوت زیاد مهمند، افریدی، خوګیانی، سرخرودی و شینواری حرکت کرده و در این دو سه روز به حدود کابل حمله خواهند کرد...

از طرف وزیرستان هم لشکر زیاد روانه شده، ده هزار ان به چهاونی خوست رسیده و بلقی هم میرسند. اضافه از بیست هزار لشکر تهیه کرده اند... در این وقت از طرف سلیمانخېل ها اگر یك حرکت کرده شود، همه کار خوب میشود..."

د تاریخ دغه پاڼې ددې ځلانده حقیقت څرګندویې دي، چې د سقویانو د راپرځولو لپاره ټولې هیلې په پښتنو پورې تړل شوې وې او بل هېڅ یو قوم په دې تاریخي غورځنګ کې له دوی سره شریك نه و او حبیب الله کلکانی له پښتنو سره مخامخ و.

# د سقاو زوی او له پښتنو څخه د بښنې غوښتنه

مخکې دې ټکي ته لنډه اشاره وشوه، چې محمد نادر خان لا په پکتیا کې د جنګیالیو د راټولولو کار سرته نه و رسولی، چې د وزیرستان وزیرو او مسودو د پکتیا د پښتنو او د ننګرهار له قوتونو سره یوځای د کابل ښار ته په ورننوتلو او د سقاوي ځواکونو پر ماتولو بریالي شول او ارګ هم د پښتنو له خوا سخت کلابند شو.

د سقاو سالارۍ له مشر حبیب الله کلکاني نه نوره د تېښتې لاره ورکه وه، نوموړي د خان ژغورنې لپاره د بښنې د دود او دستور پر خلاف یو ناځوانه کار ته هم لاس واچاوه او د شاهي کورنۍ ځینې ښځې او ماشومان یې له ځان سره برمته کړل، چې دغه عمل یې د افغانیت له اصولو نه بیخي مخالف و، خو هغه ددغو اصولو پابند نه و.

د سقاو زوی او ملګرو یې خوب هم نه شو لیدلای، چې دومره ډېر ژر به یې د واکمنۍ تغر تولېږي او پښتانه به دغه کورنۍ جګړه هم ګټي. دا وخت هغوی جلا جلا او په بې سرو سامانۍ سره د ځان ژغورنې هڅې کولې. د برتانیې سفارت ته هم هغوی او په تېره بیا حبیب الله کوم امید نه شو کولای او د پرون ورځې ملګرو کلابندۍ کافي وخت ونیو او حبیب الله پوره باوري شوی و، چې د هغه لپاره د نجات کومه لار پاتې نه ده، نو د ژوندي پاتې کېدو لپاره یې له پښتنو څخه د بښنې غوښتلو تکل وکړ او دغه احوال یې د یو څو تنو په لاس پښتنو قوماندانانو ته چې ارګ یې کلابند کړی و ورواستاوه،و، لیکن پښتنو مشرانو د حبیب الله کلکاني غوښتنه په کلکه رد کړه، ترڅو سردار شاه ولي خان د خپلې کورنۍ د غړو د ژغورنې په پار له پښتنو قوماندانانو سره ولیدل او پر موضوع یې ورسره خبرې وکړې او د مسالې حل یې وغوښت.

نومیالي پښتون جنرال یار محمد خان وزیري چې له نورو زړورو پښتنو قوماندانانو سره یې د ارګ د کلابندۍ قومانده او څارنه په لاس کې درلوده او د حبیب الله کلکاني د بښنې غوښتنه یې هم نه وه منلې او دسقاوي حکومت د مشر د نیولو هوډ یې کړی و،په دې اړه داسې رڼا اچوي او د یوه تاریخي مطلب حقیقت بیانوی، دی لیکي:

"د ۱۳۰۸ل کال د میزان د میاشتې د شلمې نېټې سپېده چاود و او زمونږ د بریدو وخت او نېټه لا نه وه رارسېدلې، چې

د مېزان د نولسمي په ماسخوتن نهه بجې ، حضرت اغا گل مجددي - د حضرت صاحب نورالمشايخ مجددي ورور- د دوو نورو ملايانو په ملتيا حبيب الله او د هغه خپلخانې ته د سر د امن د غوښتلو په درخواست زموږ سنگرونو ته راغلل. هغوی له ارگ څخه زموږ تر مورچو پورې په موټر کې چې سپين بېرغ ورباندې په ريا و، ورسېدل. د حضرت صاحب او د هغه دوو ديني علماوو مو زيات احترام او عزت وکړ، له هغوی سره تر معرفت وروسته چې حکمران سردار عليشاه خان يې هم ملگری و، د حبيب الله شفاهي پيغام موږ مشرانو لره ووايه.

د هغه ټول پيغام دا و، چې هغه بايد په صحت او سلامت سره له ارگ نه ووځي او چېرې يې چې خوښه وي، هلته بايد ولاړ شي، د حبيب الله د همدې پيغام او پېشنهاد په اړه موږ حضرت صاحب اغا گل مجددي او ورسره ملگري هيات ته وويل:

ښه د حبيب الله د پېشنهاد او غوښتنې په اړه به موږ د لښکر مشران په خپل منځ کې غونډه او جرگه وکړو او د خپلې فيصلې نتيجه به ستاسو جناب په لاس حبيب الله ته ولېږو.

د حبيب الله د پېشنهاد او غوښتنې په اړه موږ د لښکر مشرانو په هم هغه لحظه چې د شپې څه پاسه نهه بجې وې، خپل منځي جرگه وکړه او په دې اصل او اساسي غونډه کې چې د وطن د نجات اخيري گښتې وې، شېر محمد خان وزيري فرقه مشر، انگور خان، وزير فرقه مشر، د لباز خان وزي فرقه

مشر، عبدالله خان وزیري غونډ مشر او شخصا ما (یار محمد وزیري جرنیل) د وزیرو، مسودو، تنیو او دوړو د جنګیالیو په وکالت زلمی خان منګل، زمرك خان ځدران، محمد ګل خان مومند، شاه ولیخان او شاه محمود خان ګډون درلود.

حضرت صاحب مجددي د مشرانو په همغه غونډه کې تر هر چا مخکې د وزیرو او مسودو د لښکر د مشرانو رایه او نظریه وپوښتله، ځکه چې حضرت صاحب اغا ګل مجددي ته پوره پته او معلومات و، چې د کابل په فتح او د ارګ په محاصره کې زموږ د لښکرو برخه تر هر چا زیاته وه او هم یې دا درك او احساس کړی و، چې بې زموږ له موافقې حاصلولو څخه هېڅ هم نه کېدی نو همغه و، چې په جرګه کې د وزیرو د قوم بهادرو مشرانو د پرېکړې اختیارات ماته راکړل او ما د وطن د نجات او حبیب الله ته د امن ورکولو په ارتباط د ځان او د خپلو جنګیالیو نظریه په دې ټکو سره بیان کړه:

"جناب حضرت صاحب او معززو مشرانو! د هغه ورځې څخه چې حبیب الله د افغان تخت و تاج غصب کړی دی، نو دهمغې ورځې څخه بیا تر دې شېبو پورې هغه رهزن او سارق د افغانستان ملت ځورولی دی، کور پر کور یې نفاق او دښمنی زېږولی دی، اعلیحضرت امان الله خان د همدې رهزن د بغاوت او قیام په نتیجه کې له ډېرې مجبورۍ د وطن پرېښودلو ته اړ شو، که چېرې هغه وخت د حبیب الله هدف او مرام دا و، چې امان الله خان دې پر تخت نه وي، اعلیحضرت

امان الله خان د افغانستان او ملت د مصالحو په خاطر تاج او تخت عنایت الله خان معین السلطنه ته پرېښود، خو څرنګه چې حبیب الله د خپل بغاوت له پیل څخه د تخت و تاج د غضب کولو خیال درلود، نو معین السلطنه یې هم درې ورځې ارام نه پرېښود، جنوبي، مشرقي او کندهار هم دې سارق په کورنۍ جګړه بوخت کړي دي. د شمالي پتمن افغان اولس هم د ملك محسن، سید حسین او ده څخه په تنګ دي، دا درې رهزنان بېچاره او غریب خلك په جبر او اکراه سره د جنګ ډګر ته استوي، په ارګون، تنګي او محمد اغه کې د هغه بېچاره خلکو څخه یو زیات شمېر زموږ اسیر شول او د یو زیات شمېر یې اولادونه یتیمان شول او مېرمنې یې کونډې شوې. دا ټول د همدې رهزن او سارق له لاسه دي.

جناب حضرت صاحب! د حبیب الله د نهو میاشتو دسلطنت په موده کې د هغه ټول جنایتونه تر موږ تاسو ته ښه معلوم او څرګند دي او تاسو محترم په خپلو سترګو له نږدې مشاهده کړي دي. موږ دا عزم او اراده کړې ده، چې دا غصب شوی تخت و تاج به د حبیب الله څخه د ټوپك د ګولۍ په زور اخلو او دا الهي امانت به اصلي وارث او مالك ته سپارو. اوس خدای پاك هغه ګټنې رارسولي دي، نو دا به څنګه امکان ولري، چې زموږ د ملت قاتل ته امن ورکړو او یا په امن فرار وکړي؟ په شریعت کې هم دا حکم نه دی، چې د ملت قاتل ته دې ښنه او امن ورکړل شي، د همدې قاتل د ملګرو له لاسه یوازې د

کابل په جګړه کې زما د لښکر څخه په حساب دوه سوه کسان په شهادت رسېدلي دي او پنځوس سړي مې سخت ټپيان دي، اوس که څوك زما د لښکر د مشرانو فيصله پوښتي، زموږ فيصله خو همدا ده او موږ دا نن پرېکړه وکړه، چې د حبيب الله څخه به قدرت په زوره اخلو او هلته په ارګ کې به يې لاس تړلی نيسو، د حبيب الله له لوري دا ستاسو معززو او خانداني هيات راالېږل هم د هغه سارق يوه بله حيله ده.

تاسو جناب همدلته زموږ سره اوسئ، چې نن شپه موږ ورسره خپل زور وازمايو، چې بيا سبا يو بل رهزن او سارق د افغان تخت و تاج غصب نه کړي.

ان شاء الله چې دا د تاجي لښکر جنګيالي به د لمر راختو سره حبيب الله او د هغه ملګري د ارګ څخه په زنځير تړلي همدې جرګې ته حاضر کړي.

په هغه جرګه کې زما د وينا په وخت کې د غونډې ګډون کوونکي ټول مشران غلي او چوپ وو او کله چې زما وينا پای ته ورسېدله، مخکې له دې چې حضرت صاحب اغا ګل مجددي د حبيب الله د امن غوښتلو د پېشنهاد په اړه د بل کوم مشر رايه او نظر وغواړي، سردار صاحب شاه وليخان فورا د حاضرو مشرانو څخه د څو کليمو ويلو اجازه طلب کړه او په ډېره عاجزانه وينا سره يې موږ مخاطب کړو.

يار محمد خان جرنيل صاحب هغه څه وويل، چې زموږ ټولو مشرانو د واحد زړه او فکر خبرې وې، اوس به موږ حبيب

الله سره په څه توګه جنګ وکړو، هغه په ارګ کې دی او زموږ د ګورنۍ نارینه او ښځینه غړي هغه څو ورځې مخکې په ارګ کې یرغمل کړي دي. زموږ له لوري په حبیب الله باندې فشار زموږ د کورنۍ د غړو ژوند په خطر کې اچوي، خو بیا هم د وطن د نجات په هیله تاسو د قوم مشرانو چې هرڅه پرېکړه وکړه، په هغه باندې زما او د شاه محمود خان موافقه ده. سردا شاه ولیخان او سردار شاه محمود خان په هغه غونډه کې چې زیات و کم یوه ګېڼته مشرانو پکې د حبیب الله د امن او د لاري د لټون په اړه خبرې کولې، پرېشانه او ماتیجن ښکارېده. محمد ګل خان مومند، چې یو حکومتي او قومي هوښیار او ځیرك شخصیت و او د جرګې چاپېریال یې ډېر ښه څاره، د ټولو مشرانو څخه هیله وکړه. چې د حبیب الله د امن فیصله شاه ولیخان او شاه محمود خان ته وسپارل شي او د هغه دلیل یې د حبیب الله په لاس کې د دوی یرغمل شوی ناموس ګاڼه او کله چې محمد ګل خان مومند د پت او عزت مساله رامخکې کړه، موږ مشرانو هم خپل درست اختیارات او صلاحیت شاه محمود خان او شاه ولیخان ته وسپارل او سردار صاحب شاه ولیخان په زیاته خوشحالۍ سره د سقاو زوی ته په دې ټکو سره لیك ولیکه:

حبیب الله وروره! ته د افغانستان د حکومت غاصب یې او د افغانستان مظلوم ملت دې ټوکر ټوکر کړی دی، اوس ته امن غواړې، زموږ له لوري تاته امن دی او د خپل ال و عیال سره د

شمالي دروازې له لارې کوهدامن ته ولاړ شه، په بیت المال او جبه خانه باندې لاس مه وهه.

د ماسخوتن لس بجې وې، چې د شاه ولیخان په لاس تحریر شوی لیک مو حضرت اغا ګل مجددي او هغو دوو ملایانو ته وسپارلو.

حضرت صاحب اغا ګل مجددي د نورالمشایخ ورور او هغه دوه تنه دیني علما، چې د حبیب الله د ملګرو او پلویانو څخه وو، د ماسخوتن په لسو بجو باندې په خپله سپرلۍ کې د ارګ په لور روان شول او موږ ټولو مشرانو ددې انتظار ایسته، چې له دې نه وروسته به څه کېږي. یوه ګېنټه هم پوره نه وه تېره شوې، چې خبر مو تر لاسه کړ، چې حبیب الله د خپلو ټولو ملګرو سره د شمالي برج له لارې د کوهدامن پ طرف فرار کړی دی.

ددې خبر اورېدو موږ ټول حیران او په سخته اندېښنه کې واچولو او دا راته څرګنده نه شوه، چې حبیب الله څه وخت او په کومه ګېنټه کې د ارګ څخه فرار کړی و.

د شپې یوولس بجې وې، چې ارګ ته له خپلو جنګیالیو سره داخل شولو، د ارګ دننه مو د چور او چپاول د مخنیوي لپاره پیرې او ګزمې مقررې کړې او په همغه تیاره شپه مو د حبیب الله د بندي خانې څخه د سپه سالار محمد نادر خان، شاه ولیخان، شاه محمود خان، سردار اسدالله خان، سردار علیشاه خان د کورنۍ غړي او د اعلیحضرت امان الله خان

ورور راووېستل او د هغوی د حفاظت لپاره مې شل تنه وزير جنګيالي د انګرېزي ټوپکو سره د سلطان فقير او امين ګل خيل وزير تر قوماندې او هدايت لاندې وټاکل، چې هغوی خپل استوګنځي او محفوظ ځای ته ورسوي".

ما د يوې ځانګړې موخې له مخې د نوميالي پښتون جرنيل يار محمد خان وزير د وينا دغه برخه دلته راواخيستله، چې د دې ژوندي تاريخ په رڼا کې د ناپښتنو تاريخ ليکونکو او د هغو له جملې نه د مير غلام محمد غبار د تاريخي تېروتنو مساله يو ځل بيا تازه کړم، چې د فرهنګي ښکېلاک د يو استازي په توګه يې د پښتنو په اړه تاريخي پېښې تحريف او مسخ کړي او په دې ډول يې دغه هڅه کړې ده، چې په پښتون قام پورې تړلي وياړونه تر پردې لاندې وساتي او يا يې د امکان په صورت کې په ناپښتنو پورې وتړي.

د ساري په ډول يو تاريخي مطلب همدا دی، چې جرنيل يار محمد خان وزيري د يو عيني شاهد او د پېښې د اصلي عامل په توګه کښلی دی.

غبار هڅه کړې ده، چې دغه عمده او مهم تاريخي جريان د سقاو د زوی په ګټه په داسې نيمګړې، مبهم او بې مفهومه عبارت وليکي، چې له يوې خوا پکې د حبيب الله پرده شوې وي او له بلې خوا د پښتنو اتلولي په کې له نظره غورځول شوې وي.

غبار چې د سقاويانو په تېره د سقاو د زوی کلك مدافع ښکاره شوی دی، د پورتني تاريخي جريان په اړه يې هېڅ نه دي ويلي او داسې توري يې په خپله ليکنه کې په کار راوستي دي، چې دغه مطلب د لوستونکي په ذهن کې داسې ښيي، چې ګويا حبيب الله د ارګ کلابندي په زوره ماته کړې او ځان يې کوهدامن او چهاريکار ته رسولی دی، نه يې څوك د ښښنې لپاره استولي وو او نه ورته سردار شاه وليخان کوم ليك استولی او نه د سقاو زوی له خوا حضرت صاحب اغا ګل مجددي پښتنو ته تللی او راغلی دی، غبار هغه ټول جريان په لاندې دوو کرښو کې راوړی دی:

"روز ۱۹ ميزان ګلوله باران ارګ ادامه يافت و حصار محکم ان شګاف برداشت، درين ضمن جبه خانه ارګ محترق ګرديد و ستون های اتش و دود تصاعد نمود، تا شام حمله اوران در زير بار و بروج ارګ رسيده بودند، در حاليکه حبيب الله بچه سقاو با همکاران خويش در تاريکی شام از دروازهء شمالی ارګ خارج و حلقه محاصره را عبور کرده بود، بچه سقاو اول به کوهدامن و بعد به چهاريکار رفت".

د غبار په ليکنه کې د پام وړ خبره دا ده، چې نوموړی د پښتنو مشرانو او قوماندانانو لکه جرنيل يار محمد خان وزيري او نورو نومونه، نه اخلي او ان په غرضي ډول او د يوه خاص مقصد له مخې د وزيرو او پکتيا د قومونو په مشرتابه

کې د الله نـواز ملتـاني نـوم راوړي. پـه داسـې حـال کـې، چـې هغـه نـه کوم قومـي مشـر و او نـه يې جنګيـالي پـه اختيـار کـې لـرل.

غبـار دا هـڅه کـړې ده، چـې د حبيـب الله کلکـاني او د هغـه د جګړه مـارو ځواکونـو د يـوه مشـر سـپاه سـالار پـردل خـان، چـې لـه پښتنـو ځواکونـو سـره د جـګړې پـه مـهال ووژل شـو، د زړورتيـا خبرې کـوي، چـې دا پـه خپلـه لـه پښتنـو سـره د مـورخ غبـار د تعصب ثبوت هـم ګڼل کـېږي.

پـه هـېواد کـې د فرهنـګي ښکـېلاك عـاملينو، چـې هـر څومـره لـه وسـه پـوره وو، د پښتنـو د بدنـامولو لپـاره خپلـې هـڅې نـه دي سـپمولي.

د سـاري پـه ډول د فـارسـي ژبـې وتلـی شـاعر واصـف بـاختري د خليـل الله خليلـي د کتـاب (عيـاری از خراسـان) پـه سـريزه کـې د سـقاو د زوی پـه هکلـه پـه داسـې لهجـه خبرې کـوي، چـې ګويـا حبيب الله نـه غـل او نـه لار وهونکـی و او نـه يـې ژونـد پـه بدنامـی تـېر شـوی دی، ليکـن کلـه چـې د اعليحضـرت امـان الله خـان وار راځي، نـو بيـا د هغـوی د سـپکولو لپـاره د عبدالـهادي خـان داوي لـه قولـه داسـې ليکـي:

" شـاه امـان الله خـان قبـل از فـرار کـردن، بـا لبـاس فـاخر شـاهی و عصـا در دسـت خريطـه هـای طـلا و پـول را مـی شـمرد کـه داوی وارد انجـا شـد. عبدالـهادی خـان داوی کـه شـاه را مشـغول شـمردن کيسـه هـای طـلا و پـول بـا عصـايش ديـد، طـور کنايـه

برای شاه گفت: اعلیحضرت! همان طوری که بی حساب برای تان امده، بی حساب هم ببرید".

دغه متن او داسې نورې زياتې خبرې په هغه کتاب کې راغلي دي، چې ډاکټر خليل وداد بارش د حبيب الله سقاو بچه په دفاع کې ليکلي دي، چې د واصف باختري نږدې ملگرى پاتې شوى او د ملي ستم له ډلې سره تړاو لري.

هغه ليکنې، چې بې سنده او د تعصب په سياهي ليکل شوې وي، تاريخي نه شي گڼل کېداى. مثلاً: د حقيقت التواريخ د ليکونکي خبرې په (قراريکه روايت شده)، (طوريکه ميگويند، (درين مورد ميگفتند) او داسې نور ټول کوم تاريخي ماهيت نه شي لرلای، چې په دې لړ کې دا خبره گينې خائيو د طلاوو په بدل کې له ارگ نه د حبيب الله کلکاني د تېښتې لار برابره کړې ده، د پښتنو له بدناملو او سپکاوې پرته بل کوم مفهوم نه شي لرلی، عبدالحق مجددي، چې د حقيقت التواريخ کتاب دده په نوم خپور شوی دی، ليکي:

"در طول روز ۱۹ ميزان ۱۳۰۸هـ ش هميقندر شد که اتش ارگ را خاموش کردند و در مورد فرار حبيب الله سقاو بچه گفتند که حبيب الله ده صندوق طلايی مسکوك را به مردم جاجی رشوه داد که راه فرار را باز گذاشتند".

نوموړی تش په نوم مورخ د کابل د نيولو، د ارگ د کلابندۍ او ان چې د "برادران نادري" په نوم د سقاو بچه د ليك

او سردا علیشاه خان د استازي په توګه نادري ورونو ته د لېږلو مساله او نوري کړنې تولې د نادر خان ورونو سردار شاه ولیخان او سردا شاه محمود خان ته منسوبوي او د پښتنو مشرانو او جنګیالیو قوماندانانو ته اشاره قدرې هم نه کوي، تش په دې یو ټکي باندې بسنه کوي، چې "قوای شاه محمود خان که مردم وزیری و جاجی بودند". د پښتنو پر سترو کارنامو او اتلولیو باندې خاورې اړول د فرهنګي ښکېلاك اصلي موخه ده او فارسي ژبنیو لیکوالو هر یوه د همدې موخې لپاره کار کاوه. لاړ وهونکي سقاو او ملګرو یې د افغانیت له نامه سره روغ نه وو، ځکه خو یې د پاچاهۍ په لومړیو ورځو کې د افغانی نوم بدل کړ او په وهلې سکه باندې یې د حبیبې نوم کېښود.

د سقاو زوی د "بحران و نجات" کتاب د لیکونکي غلام محي الدین انیس په وینا د نورو د لاس اله او خپله یې کوم فکر او ثابته اراده نه درلوده.

"سقو بچه هم چون شخص بی سواد و امی محض بود و معلوم است که از خود اراده و فکر ثابتی نداشت و همیشه الهء دست بود که به نفع مغرضین کار میکرد. همه کار ها بدست سه برادر (عطاء الحق، شیر جان که یکی ان وزیر امور خارجه دیگرش در بار و سوم ان رئیس ضبط احوالات بود، بدست گرفته بود... و سلطنت سقو بچه را که عبارت از یك دزد بازاری و پادشاه وزیری بود، صورتی از تشکیل سلطنتی داد و فورا اخباری هم بنام حبیب الاسلام صادر و افکار و

نظریات و اجراات حکومت سقو را به ظاهر فریبا در ان شایع می نمود".

ناپښتنو لیکوالو او مورخانو هڅه کړې ده، چې دغسې يو لوېدلی په فساد مشهور سړی د يو نوم او نښان خاوند وګرځوي او د قلم په څوکه ورته د سرېتوب ږېره او برېتې ور برابر کړي او د پښتون امان الله خان پر وړاندې يې ودروي، خو دا هڅې هېڅکله بري ته ونه رسېدې، ځکه چې د افغانستان د اکثريت وګړو له عقيدې نه مخالفې وې.

ACKU

محمد ايوب "مومندي"

# تـاريخ

## د رښتيني شاهد په توګه

وايـي چې د تـاريخ علـم هغه علم دی، چـې د زمـان او مكـان لـه مخې مسـايل بيـان كـړي.

كـه څه هـم يـو شـمېر تـش پـه نامـه تـاريخ پوهـان د خپلـو منفـي او لـه تعصبـاتو راپـارولو نـه ډكـو مسـايلو لپـاره د افغانـانو د دښمنـانو ليكنـې او نظريـې وړانـدې كـوي، امـا د يـو سـپين ږيـري چې عمر يې ۸۴ كـالو نـه زيـات او د ژونـد ټولـه برخـه يـې د هېـواد پـه مطبوعـاتو ـ پښتـو ټولنـې او ښوونـه او روزنـه كـې تـېره كـړې، د ډېرو مـهمو مسـايلو عينـي شـاهد پاتـه شـوی، چـې دا محـترم سـپين ږيری الحـاج محمـد ايـوب مومنـدي نومـېږي.

تـرې ومـې غوښتـل، چـې د خـدای ښښلـي محمـد ګل خـان مومنـد د كـړو وړو او قربـانيو پـه هكلـه كـه تـرې څه ليدلـي او يـا اورېدلـي وي. ماتـه يـو څو نمونـې د ژونـدي تـاريخ پـه مثـال راوليكـي، چـې د مرحـوم محمـد ګل خـان مومنـد د ژونـد پـه هكلـه

چي د پرو هېوادوالو ته معلوم نه دي او يا تري خبر نه دی، له خپلو اسنادو او شواهدو سره ددې ليکنې درنو لوستونکيو ته وړاندې کړي.

د هر هېوادپال چې د قلم او پوهې او احساس خاوند وي، ددا سي مشرانو، سپين ږيرو د خولې کيسې، روايتونه ترې ثبت کړي، چې يوه ورځ له نړۍ داسې مهمو اشخاصو له تګ پښېماني څرګنده نه کړو، ځکه چي بيا به پښېماني سود ونه لري.

الحاج مومندي له وزير صاحب محمد ګل خان مومند سره نژدې پېژندل.

دا د ښاغلي الحاج محمد ايوب مومندي په لاس ليکل شوي يادښتونه دي، چې کټ مټ درنولوستونکيو ته وړاندې کېږي:

د هېواد تکړه ليکوال او د ښا خبره د تکړه پياوړي نښه ويشتونکي غريب يار (چې زه ورته د بدايانو د يار خطاب کوم) څو ځلې له ما غوښتي، چې د خداى بښلي محمد ګل خان مومند د ژوندانه د خاطرو او څرنګوالي په هکله ورته څه نا څه وليکم. که څه هم زه اوس دې سن ته رسېدلی يم، چې نه حافظه ياري وي او نه هم کوم ماخذ په واك کې لرم، چې له هغه نه په استفاده سره د غريب يار صاحب تنده ورماته کړم.

بيا به هم د دوی خواهش په ځمکه نه اچوم او څومره مې چې حافظه راسره ياري کوي او يا د ځينو دوستانو له خولې نه

دنقل قول په توګه زما په واك كې دي، هغه به د دوى د استفادې لپاره دوى ته وسپارم.

کله چې زه په ۱۳۲۹ کال د وړانګې د ورځپاڼې د چلوونکي او د اطلاعاتو او کلتور د لوري مدير په حيث په پکتيا کې وم او د ژمي په سړو شپو ورځو کې به د ځينو نورو دولتي دوايرو په کتار کې ما هم د طبع ماشينونه او طباعتي دستګاه خوست ته لېږدول، يوه ورځ زما دوست چې د خوست د متون کلي اوسېدونکى و او سيد حنان نومېده، ماته بلنه راکړه، چې له ده سره په ښکار کې برخه واخلم. دواړو ټوپکونه واخيستل او د سيند له غاړې د جنوب پلو ته (چې د ګربزو د کليو غرنۍ سيمه شروع کېږي) د ښکار په تمه ورتېر شو.

ملګري راته وويل، چې مومنديه وروره! که ستا خوښه وي، ددغه لوړ تور کمره دپاسه به يو ګړى دمه وکړو. ما هم ورسره ومنله، نو ده په ډېره ترمه لهجه (چې د خوستيانو مخصوصه لهجه ده) ماته د خداى بښلي محمد ګل خان مومند د مېړانې او پښتونولۍ يوه خاطره (چې دى په خپله هم ورسره ملګرى و) داسې شروع کړه:

ده وويل چې د (۱۳۰۳) کال په شاوخوا کې غازي امان الله خان د سلطنت په وخت کې چې وزيرو او شاوخوا قبايلي خلکو د غليم په لمسون د خوست عسکري قشله او د ولايت مرکزي برخې کلابندې کړې وې، نو عبدالحکيم خان نومي والي چې ما ورسره د سکرتر په حيث کار کاوه، ډېر په وېره او ډار کې و

او کله کله به چې د لښکریانو له خوا دده د هستونګې په ځای د ټوپکو خولې ورکړې شوې، نو ده به ناړې سورې کړې چې (مشران لشکر را بفهمانید که هدف خود را تشخیص کرده، فیر کنند)، خو له بلې خوا به مرحوم (مومند) منصبدارانو ته په کلکه امر کاوه، چې یو ډز هم له چمنې نه وانه اوریدل شي، دوه درې ورځې د لښکریانو له خوا چې شمېر یې اوه زره تنه اټکل شوی و، د خوست په مرکز خصوصا قرارګاه باندې په زرهاو فیرونه وشول، خو د عسکرو له خوا هیڅ مقابله ونه شوه.

د څلورمې ورځې د لسو بجو په شاوخوا کې محمد ګل خان مومند په ټیلفون کې حاکم اعلی ته وویل، چې که له ما سره ملګري کوي، نو راتګ ته دې انتظار باسم، که نه نو زه تش لاس لښکریانو ته ور روان یم. عبدالحکیم خان ماته وویل، چې (بچیم! اغای مومند خو یك ادم سرتیر است، من نمی خواهم خود را زنده بدست دشمن بسپارم، شما از طرف من اقای مومند را همراهی کنید).

ما چې د عبدالحکیم خان دا خبره واوریده، نو مې دده پیغام مومند ته ورساوه. په دې حال کې مومند د خپلې سورلۍ لپاره سپین اس زین کړی و او بیله دې چې ټوپك خو لا څه کوې، چې یوه چم وړکی یې هم د ځانه سره وانه خسته، له یوه وړوکي ضابط او یوه پیاده عسکر سره چې سپین بیرغ یې په لاس کې و، د لښکریانو په لور وررهي شو. زه هم ورسره

رهي شوم، کله چې له سیند نه تېر شو، نو د لښکرو په غوټ مینځ کې یې خپل اس ودراوه او په همدې هسك کمره پاندې ودرېده او په لوړ اواز یې لښکریانو ته ستړي مشي او هرکلي ووایه او زیاته یې کړه، چې د لښکر مشران دې لر وړاندې راشي، چې د یو بل اواز له نږدې واورو.

که مې ربښتیا پوښتې (مومند په ما چې خپل عمر مې له عسکري صاحب منصبانو او دولتي لویو لویو مامورینو او کامي مشرانو سره تېر کړی او په ډېرو جرگو او مرکو کې مې برخه هم اخیستې وه، خو دومره استعداد او زړورتیا په بل هېچا کې ما نه وه لیدلې. ده په ډېره فصیحه او روانه پښتو سره داسې یوه جالبه بیانیه ورکړه، چې لښکریان خاصتا د لښکر مشران یې دومره تر اغېزې لاندې راوستل، چې ټولو گوتې ورته په غاښ او په یوه اواز یې ووبل، چې زموږ پښتونه، مسلمانه او زړوره وروره! تر پرونه پورې چې زموږ د ټوپکو خولې ستا د قشلې او چمنې په لور کړې او ستا او ستا د عسکرو او منصبدارانو سینې مو هدف گرزولې وې، اوس به موږ یو ډز هم ونه کړو او تاته د خپل مشر، مسلمان او پښتانه ورور په صفت د ورورۍ لاس درکوو او که امان الله خان سوچ کافر هم وي، خو چې تا غوندې مسلمان او مېړنی پښتون منصبدار لري، زموږ ورسره کار نشته. اوس ستا رسۍ او زموږ یې غاړه.

د غرمې د ۱۲ بجو په شاوخوا کې دغه غونډه د ټوپکو په ډزو او د خوښۍ په نارو او چکچکو سره پای ته ورسېده او مومند مشرانو ته مخ ورواړاوه، چې غرمه زه ستاسې مېلمه یم او که تاسې زموږ مېلمه کېږئ؟ مشرانو په لوړ اواز وویل، چې زموږ مشره وروره! خوښه یې ستا! که زموږ مېلمه کېږې هم سترګې په ښو نه درنېږي او که موږ مېلمانه کوې هم درسره ځو او په ډېر ویاړ ستا سره د غرمنۍ په خوړلو کې برخه اخلو.

لښکر مات شو او د لښکر مشران له مومند سره یوځای د خوست د قشلې په لور راوخوځېدل، کله چې د عسکري چمنۍ دروازې ته راورسېدل د عسکرو له خوا د ټوپکو په ډزو په شانداره مراسمو سره یې درونند هرکلی وشو.

کله چې د مومند د کار خونې ته ننوتل، نو مومند د ټیلفون غوږۍ راواخسته او له امان الله خان سره یې د خبرو په ترڅ کې ورته وویل، چې اعلیحضرته! د وزیرو او نورو کامونو مشران په خپله خوښه خوست ته راغلل، ځو ورځې به دلته زما مېلمانه وي او بیا به که ژوند باقي و، له خپلو مېلمنو سره مرکز ته درشو او ستاسې په حضور به مشرف شو.

امان الله خان په مکرره او اصرار امېزه لهجه په ټیلفون کې خدای بښلي مومند ته ددغه ستر بریالیتوب مبارکي ورکړه او کابل ته یې دوی د ډېر ژر راتګ غوښتنه وکړه.

خو خدای بښلي مومند په ډېره نرمه لهجه او مودبه توګه هغه ته داډ ورکړ او ورته ویې ویل:

اعلیحضرته! دا خلك سوچه پښانه، مسلمانان او نارینه خلك دي او زموږ سره يي د استقلال په جګړې کې پراخه برخه اخیستې وه او اوس هم زموږ سره په کلکه ملګري او د هر غلیم په مقابل کې د یو پاخه سنګر په توګه زموږ ترڅنګ ولاړ دي.

دوه درې ورځې وروسته خدای بښلي مومند له دغو کامي مشرانو سره کابل ته لاړ او څو ورځې وروسته چې کله بېرته خوست ته راستون شو، نو يې علاوه د عسکري قوماندان په صفت د اعلی حاکم فرمان هم له ځانه سره راوړی و او د امان الله خان په امر سره يې عبدالحکیم نوی اعلی حاکم تحت الحفظ کابل ته واستاوه او کامي مشران څو ورځې نور هم په خوست کې د مېلمنو په حیث ستانه شول او کله چې د خپلو کورونو په لور تلل، نو له ډېرې خوشحالۍ په جامو کې نه ځایېدل او ټولو مومند بابا ته د ورورۍ کلك لاسونه ورکړل او د هر ډول کومك وعده يې ورکړه.

١

محمد ایوب مومندي

# د پـــل خښتي په جومات کې د مرحوم محمد گل خان مومند تاریخي وینا

د ۱۳۱۹ کـال پـه شـاوخوا کـې کـوم وخـت چـې مرحـوم محمـد گل خـان مومنـد لـه خپلـې وظیفـې نـه استعفی وکـړه، تـو پـه چـهاردهي کـې پـه یـوه کرایـي کـور کـې اوسـېده او د جمعـې لمانځه لپاره به د پل خښتي جومات تـه راتـه.

یـوه ورځ چـا د "وطـن" اخبـار ورتـه راوور، چـې پـه هغـه کـې د مرحوم غبار په قلـم پـه ده ډېر توروونـه لـګول شوي وو، چـې یـو لـه هغـوی پـه شـمالي کـې پـه ده بـاندې د ظلـم او تـېري، وژلـو، بندیـانولو او فرارولـو تـور لـګول شـوې وه، چـې د غبـار صـاحب دغـه مضمـون یـې ولوسـت، تـو مسـکی شـو او ویـې ویـل: راځئ د جمعـې لـه لمـانځه وروسـته بـه د غبـار صـاحب دغـه سـرمقاله د خلکو قضاوت تـه وسپارو.

د جمعې لمونځ چې خلاص شو، نو یو چا په لوړ اواز د مرحوم مومند د وینا لور ته د خلکو پاملرنه راوګرزوله.

ده په لوړ اواز په حاضرینو غږ وکړ، چې ای ورونو! دلته خو به هرومرو د لمانځه د اداء کولو دپاره د شمالي ځینې خلك هم راغلي وي، نو دا دی د غبار صاحب مقاله به ولوستله شي، نو تاسې چې د خدای کور ته د لمانځه د اداء کولو دپاره راغلي یاست، دغه مقاله د زړه په غوږو واورئ او بیا خپل خدای جل جلاله حاضر او ناظر وګڼئ او قضاوت پرې وکړئ.

مقاله د مومند صاحب یوه ارادتمند ولوستله. خو لا پای ته نه وه رسېدلې، چې له هرې خوا ناري پورته شوې او د شمالي د بېلو بېلو سیمو اوسېدونکي یو په پل پسې رامخته شول او د مقالې د لیکونکي په هره جمله یې نفرین ووایه او ویې ویل، چې د وطن په داسې یوه پیاوړي مسلمان او رښتینې شخص پسې داسې تورونه لګول له انصافه ځه چې له مسلمانۍ نه هم لرې خبره ده او مونږ د خدای په کور کې د خدای د فریضې د اداء کولو لپاره راغلي یو او په لوړ اواز وایو، چې محمد ګل خان مومند د هېواد یو غښتلی، مسلمان، عادل او په وطن او وطنوالو مین شخص دی او هر څوك، چې په ده پسې داسې تورونه لګوي، هغه به د خدای د قضاوت په تله کې مختورن او سپك ورك وي او دداسې دروغجنو لیکنو مخه باید په کلکه ونیول شي.

# ۲

محمد ایوب مومندی

# د مرحوم مومند

# د استعفی علت

په ۱۳۱۹ هـ ش (۱۹۴۰م) کال شاوخوا کې کله چې خدای بښلی مومند ډېره لوړه او درنده وظیفه په غاړه درلودله، چې له یوې خوا داخله وزیر، له بلې خوا د قطغن او بدخشان د ولایتونو تنظیمه رئیس و او په شاه ډېر ګران او هغه ته به یې د کاکا خطاب کاوه، نو که دده پرځای مرحوم غبار یوه ډېره ټیټه وظیفه په غاړه درلودلای هم به یې له وظیفې څخه سرنه و غړولای.

خو دغه په وطن اووطنوالو مين شخص د وطنوالو د ګټو په مقابل کې ځان سپر کړ او کله چې د مرحوم زابلي له خوا د بغلان د قند فابريکه پرانستله کېده او د پرانېستلو په مراسمو کې يې د وخت صدراعظم محمد هاشم خان هم د کابينې له ځينو غړو سره ګډون درلود، د زابلي له خوا چې د شرکت اساس نامه لوستل کېده، نو مرحوم مومند په ډېر صراحت او لوړ اواز سره زابلي ته وويل، چې وزير صاحب دا فابريکه بايد د اولس او سيمې د اوسېدونکيو په پانګه جوړه شي، نه چې ټوله د دولت له خوا د دولت په پانګه په فعاليت پيل وکړي. زابلي چې د دولت د شتمنيو په ګټه يې فعاليت کاوه، مومند صاحب ته په لوړ اواز وويل:(اقای مومند! تجارت و سرمايه ګذاری مشخصات بخصوص دارد).

مومند چې د زابلي دا خبره واورېده، نو خبرې يې دومره اغېز او بدلون وکړ، چې نور يې دشرکت د اساس نامې د اورېدو توان په ځان کې ونه ليد او د مېز د سر ډېره يې د زابلي د کېپې په لور ورخطا کړه او پخپله له غونډې نه ووت.

کله چې کابل ته راستون شو، نو بېله دې چې له شاه يا د وخت له صدراعظم سره وګوري، خپله استعفی يې په لاندې کرښو کې د شاه حضور ته ولېږله:

" به حضور اعليحضرت همايوني! درد و خواستنی های ملت چيزی است و خطمشی دولت چيز ديګری، در اين صورت محمد ګل بيچاره بيش از اين در جمع نقيضين کاريرا

کــه درد ملــت را مداواکنــد انجــام داده نمیتوانــد ، لــهذا مــرا مســتعفی پنداریــد".

پــه ځواب کــې د سرمنشــي پــه لاس لیــك خــدای بښلــي مومنــد تــه داســې یــو فرمــان وروســپارل شــو:

"ع، ش،س لمــر اعلــی نشــان محمــد ګل خــان مومنــد! معروضــهء شــما مبنــی بــر علالــت مــزاج شــما بــه حضــور اعلیحضــرت همــایونی تقدیــم و حضــور شــان اســتعفای شــما را منظور و شما را بحیث وزیر دولت تعییــن و مقــرر نمــوده انــد".

ددې فرمــان پــه ځواب کــې مرحــوم مومنــد دارالتحریــر شــاهي تــه داسې یو مکتــوب سپارلی و:

"از لطــف و تــوازش اعلیحضــرت ســپاس ګذارم، ولــې بحیــث یــك فــرد بــاطل و غــیر فعــال، نمیتــوان وظیفــهء وزیــر دولــت را انجام دهــم.



۳

محمد ایوب مومندي

# د تورن جنرال عبدالله طوطاخېل

# او زما

## هلو ځلو کومه نتیجه ورنکړه

د ۱۳۱۹ د اسد د میاشتې په شاوخوا کې تورن جنرال عبدالله طوطاخېل چې د محمد ګل خان مومند له ډېرو منلو شاګردانو څخه و، یوه ورځ له مانه وغوښتل چې زما سره ملګري وکه، چې وزیر صاحب دې ته حاضر او راوبولو چې یو ځل د اعلیحضرت حضور ته ورشي، ځکه زه باور لرم چې په داود خان هم ډېر ګران دی او هېواد ته به په زړه پورې خدمتونه وکړي.

د جمعې په شپه دواړه د مرحوم ځای ته چې د چاردهي د شکرالله خان په کلا کې په یوه کرایي کور کې اوسېده، ولاړو. د ماښام له ډوډۍ خوړلو وروسته مو دغه موضوع مطرح کړه، هر څومره دلایل چې مونږ وړاندې کول، ده به په موسکي بڼه ځوابونه راکول او د شپې تر ۱۲ بجو پورې کومې فیصلې ته ونه رسېدو، بالاخره چې دې له ځایه پاڅېده او د خوب لپاره د خوب د کوټې په لور رهي شو، نو یې راته وویل:

" په خاطر جمعې سره مو خوب وکړئ، سهار به ستاسي په خوښه د ارګ په لور روهي شو، موږ دواړه له ډېرې خوښۍ تر سهاره ويښ پاته شو او د مرحوم مومند راتلو ته سترګې په لاره و، خو چې د ۸ بجو په شاوخوا کې راښکاره شو، يوه وړوکې د يادداشتونو د ساتنې صندوقچه يې هم له ځانه سره راوړې وه، له صندوقچې نه يې يو د ځپلې استعفى ليك او د هغه ځواب را،وېست او يو بل ليك يې د نادر خان په لاس ليك، موږ ته راکړ، چې په هغه کې ليکل شوي وو:

"اقای مومند! شما حيثيت برادر بزرګ را بما داريد، شاه وليخان هم با شما همراه و مشترکا انجام وظيفه نماييد، ولی شما بيحث قوماندان و شاه وليخان بحيث يك فرد عسکر زير قومانده شما تعيين شد".

دا خدای ښبلی موسکی شو او ويې ويل: کله چې د اعليحضرت پلار ماته د مشر ورور په صفت خطاب کړی، نو زه څنګه د خپل وراره سلام ته ورشم، خو که اعليحضرت د خپل پلار راسپارلی ليك ته په درنه سترګې ګوري او ما د خپل تره په صفت مني، خو دی دې يو ځل د وراره په حيث زما له حال احوال ځان خبر کړي او په ما دې زړه وسوځوي او که زه ورشم، دا به له عدالته او پښتونولۍ نه ډېر لرې کار وي.

# ۴

محمد ایوب مومندي

# چې مورګان دومره غښتلي دي، نو به له پښوګانو سره زموږ څه حال وي

یوه زاړه منګل به چې شریفي نومیږي، ماته کله کله ددې خوږې خاطرې رایادولې او ددې په زړه پورې کیسې به یې راته کولې.

ده ویل چې پیاوړي پښتون محمد ګل خان مومند کله چې د ۱۳۸۳ کال (د منګلو په کال) د موږ کودري ته له خپلو عسکرو سره راننوت، نو د غرونو له څوکو به پرله پسې ډزې پرې کیدې او هرې خوا ته به مړي او ټپیان پراته وو".

څو چې زما او ځينو نورو مخورو په مرسته منګل د غرو لـه څوکو او لـه خپلو مورچلو څخه راښکته شول او دزبند مو ورته ورساوه. د درې غوټ مينځ ته چې ورسېدو، نو خداى ښښلي مومند له مانه وپوښتل، چې دا دره په څه نامه يادېږي؟

ما ورته وويل، چې دا د مونږکو دره ده، دې موسكى شو او ويې ويل چې مونږکو په مونږ رڼا ورځ توره شپه کړې او هرې خوا ته يې زمونږ عسکر مړه او ټپيان کړل، نو چې د پشوګانو درې ته ورسېږو، زمونږ حال به څه وي؟.

راوي وويل چې په خداى مې قسم چې هغه ژبه چې لوى خداى مومند ته ورکړې وه، ما کوم داسې ژبور شخص په خوب کې هم لانه و ليدلى.

د درې په پاى کې چې د درې ټول خلك لـه خپلو وسلو سره يو ځاى ته راکوز شول، نو مومند په يوه هسکه برخه ودرېده او يوه داسې موثره او جذابه وينا يې وکړه، چې ټول حاضرين ورته ګوته پر غاښ او لـه خجالته يې سرونه کوز اچولي وو او دا چې لـه يوه داسې پياوړي او پوه پښتون سره دوى په جګړه لاس پورې کړى و، ډېر نادم او پښېمانتيا نښې نښانې يې لـه څېرو نه د لمر په شان څرګندېدې.

او کله چې يې وينا خلاصه کړه، نو د منګلو زاړه او واړه دده دلاس ښکلولو ته يو په بل پسې راوړاندې کېدل او د ندامت او پښېمانۍ د څرګندولو په ترڅ کې يې ده ته د احترام او درناوى په سترګه کتل.

# په مطبوعاتي کنفرانس کې د مومند صاحب ګډون

د خدای بښلي مومند د ژوندانه يوه بله خطا ه هم زما راپه ياد شوه. د ۱۳۱۹ کال په لومړيو شپو ورځو کې و، چې د ټيلفون زنګ ورته راغی، په ټيلفون کې يې ورته وويل چې هو! درځم.

چې غوږه يې کېښووه، نو موږ ته يې مخ راواړاوو، راځئ تاسې هم راسره لاړ شئ، چې د سلجوقي صاحب له خوا په جوړه شوې غونډه کې برخه واخلو. موږ هم چې درې تنه و، ورسره لاړو او کله چې د ملك اصغر خلور لارې په لويديزه برخه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر دروازه ورننوتو، نو د وزارت په انګړ کې چې د يوه وړوکي باغ بڼه يې درلوده، هرې خوا ته د مېلمنو لپاره مېزونه، ځای پر ځای شوي وو او په يوه اړخ کې د يوه واړه تخت له پاسه څو وړو سندرغاړو ته هم ځای ورکړ شوی و او هغو خوندورې ذوقي او عشقي سندرې ويلې، خو مرحوم مومند بابا پښه ونيوله او پر سلجوقي يې غږ وکړ، چې "رئيس صاحب! شما ما را به سخنرانی دعوت کرده ايد و يا به شنيدن اواز های هنرمندان جوان".

سلجوقي هنرمندان رخصت کړل او مومند صاحب ته يې په مخصوصه څوکۍ د کښېناستلو بلنه ورکړه.

رښتيا، چې د پروګرام د معرفي اناونسر و، لومړی مومند ته د وينا بلنه ورکړه، مومند ورته وويل: " رښتيا صاحب! تا خو به ماته پخوا تر پخوا خبر راکړی و، چې ما د وينا لپاره څه تياري نيولی وای.

خو د څو ثانيو لپاره خپل وچولی د لاس په ګوتو ونيو او په خبرو يې پيل وکړ، يوه جذابه او ډېره پراخه وينا يې وکړه، چې دده له وينا وروسته هېڅوا دې ته زړه ښه نکړ، چې څه ووايي، خو د اطلاعاتو او کلتور رييس سلجوقي پاڅېد او د خپلې وينا په ترڅ کې يې د مومند د وينا په تاييد سره، د غونډې د لنډولو اعلان وکړ او حاضرين يې د مازديګرنۍ خوړلو ته راوبلل.

# د محمد گل خان مومند خط

# د حاجي خانمير هلالي

# په نوم

د محمد گل خان مومند دا لیک د اووه ورځني اخبار "خیبر" پېښور د مدیر مولینا خانمیر هلالي په نوم د کال۱۹۵۷ د اکتوبر په یوه گڼه کښې شایع شوی دی، چې وروستو بیا د کابل مجله کې هم شایع شو.

محترم ورور زما، هلالي صاحب!

تاسو ته معلومه ده، چې ملي ژبه ئن ورځ په دنیا کې ډېر اهمیت لري او حقیقتاً ډېر اهمیت ښايي، نو هر یو ویښ حساس ملت له ښايي، چې په هره گڼه، هر حساب او هرې

ملاحظې سره خپلې ملي ژبې ته ډېر اهميت ورکړي او ورکوي به يې.

موږ پښتانه يو، ځان ته ملت يو. ځانته ژبه او خصايص لرو، مورنۍ ملي ژبه مو پښتو ده. موږ لږ نه يو، لږ ډېر شل ميليونو ته رسېږو. موږ تاريخي نوم او نخښې او شئونات او اوس هم ځان ته مستقل حکومت لرو.

نو غواړم چې موږ هم خپل ملت ته پام وکړو او مورنۍ ژبه خپله چې په تلو ده، ټينګه کړو. ښه يې وساتو، ويې پالو، ويې روزو، اخلاق، ادب او رسومات چې سبب د امتياز زموږ دی دخلل څخه وغورو او ورك کړي مزيات خپل ولټوو، مونده يې کړو. خپل زيات او خوی خاصيت بدل نه کړو، ځکه هر سړی لکه چې په خپل رنګ په خپل اخلاق او خوی خاصيت د بل څخه بېلېږي.

مګر افسوس چې بې له ډېرو معدودو او محدودو سړيو په عمومي ډول سره پښتنو ودې خوا ته پام نه دی کړی.

دا درست څيزونه اخلاق، ادب، رسومات، خوی خصلت د پښتنو په پښتو کې داخل او شامل دي.

دا په اعتماد سره ليکلی شم، چې پښتو په تمامو اوصافو او انسانيه او اسلاميه مزياتو شامله ده. پښتون په کامل انسان او مکمل مسلمان باندې دلالت کاوه. داسې لغات په قاموس د هېڅ يو قوم کې نشته لکه چې پښتون يې لري.

د تېر شوي پښتون د قومي ژوند نه دا خبره جوتېږي او په شهادت د تاریخ سره ثابتېږي. آثار یې لږ دي اوس هم موندل کېږي، مګر افسوس او زر ځله افسوس زموږ داسې ملت خپل موندلی اصیل زړه پښتانه مړه شول او اصلي پښتو لاړه. پاتې شونکي یې هم که پام باندې ونه شي، ځي. کور به مو تالاشي. پوینا به شو، د پښتنو د امسیانو سلامت، سعادت، عافیت، عزت، راحت، ترقي او لوړوالی خلاصه ژوند یې او په آخر کې په نیکنامۍ سره مرګ درست په پښتنو پورې موقوف دی.

نو غواړم چې پښتانه پښتو ټینګه کړي، دانا پامي هم د بې علمۍ څخه ده، نو ښایي چې پښتانه علم ته مخه وکړي، علم بې له مورنۍ ژبې نه په بله ژبه نه کېږي، نو لومړی کار دا دی، چې موږ باید خپله مورنۍ ژبه ژوندۍ کړو.

درسي کتابونه په پښتو کړو، مکتبونه پرانیزو، هلکان په مکتبونو کې داخل کړو. علوم او فنون درست په پښتو واړوو. د بل په ژبه علم نه زده کېږي او که زده کړی شي هم ګټه یې نشته. ددې بحث نه تېرېږم.

په دې کې څوك برخه لري؟ ډېر کسان به وي، چې برخه به لري. مګر ادیبان د ټولو نه مخکې او زیاته برخه لري.

ویلی شي چې مقدرات د یو ملت د ادیبانو د قلم په څوکې پورې تړلي دي. ادیبان د مشهورو قایدانو، قهرمانانو او ښاغلیو کسانو نه هم لویه او جګه مرتبه لري. ادیبان مربیان د ملت دي. قایدان او قهرمانان دوی مونده کوي. افسوس چې

پخوا تر دې له خوشحال خان (که بل څوك وي هم نه يې پېژنم) پرته، نور په زمکه داسې اديب نه دی موندل شوی، چې پښتو ته خدمت وکړي.

ژبه د خلل څخه اديبان ساتي او اديبان لغات قيدوي.

نوي لغات د ژبې خصوصياتو سره موافق ايجادوي اصطلاحات جوړوي، ژبې له ارتوالي ورکوي، صرفيه او نحويه قواعد يې ضبطوي، اخلاق، آداب او رسومات، لنډه دا چې درست خصوصيات د ژبې او خوی خصلت د ملت ساتي، چې ملت او امتياز ته د ملت خلل نه رسېږي.

زموږ بې حسه اديبان يا ناپامه اديبان يا بې علمه اديبان هرڅه چې دي، په عکس سره، ملي لغات يې ايسته وغورځول راڅخه هېر يې کړل او ورك يې کړل. صرفي او نحوي قواعد يې قيد نکړل.

ژبه يې ونه ساتله، بې ځايه او بې لزومه پردي لغات او اصطلاحات يې په پښتو کې رواج کړل. د پرديو ملتونو اخلاق، آداب، رسومات او نور څيزونه يې په موږ جاري کړل.

لنډه يې دا چې پښتو ته يې خيانت او پرديو ژبو او ملتونو ته يې خدمت وکړ، يو نيم په ګڼه کې نه راځي.

النادر کالمعدوم، والمعدوم ليس بشئ

اوس مناسب دی، چې د خپلو اديبانو پام ودې خوا ته وګرځوو، چې ديانت، اخلاق، آداب، رسومات، دول، ګوزارې او نور ښاغلي خوی خصلت د پښتو او پښتنو ايجابات،

ضروريات د زماني، احوالات او نور څيزونه تر نظر لاندې ونيسي او ملا وتړي، د پښتو ژبې او پښتون قوم دپاره خدمت وکړي.

دقافيې د آسانتيا دپاره پردي لغات په ژبه کې داخل نه کړي. د نورو ژبو په ډول سره قافيې په اشعارو کې څه ضرور؟

زما په خيال سره موږ بايد په خپلو چارو کې غور وکړو.

اهم او مهم او معمولي چارې سره بېلې کړو. ناضروري چارې ايسته کېږدو، اهمې چارې لومړۍ کړو، وروسته معمولي چارې وکړو. د ټولو نه وروسته کيفي او ذوقي شيان راځي.

زما په خيال سره زموږ اديبان، زموږ عالمان او زموږ پوهان دا چارې که په دې ترتيب سره وکړئ، نو ښه به وي.

يعنې:

۱ـ سمدلاسه درسي کتابونه د مدارسو او مکاتبو دپاره تاليف او ترجمه کړي.

۲ـ دپاره د مکاتب او مدارسو، کتابونه د قرائت د پښتو په ترتيب سره دپاره د هر جماعت ساز کړي. په دې کتابونو کې ذهنيت هلکانو او استعداد د دوی بايد تر نظر لاندې ونيول شي. مقصد هېر نه شي. لومړی کتابونه بايد ساده او آسان وي. د هلکانو د پوهې او عقل نه بهر نه وي. ورو ورو ددې خبرې او د بحث ميدان ارت او پراخه شي او مضمون جګ شي، تر دې چې اديبانو او عالي مضامينو ته خبره ورسېږي.

په دې کتابونو کې دیانت، ملیت، اخلاق، لنډه یې دا چې پښتو ښه تر نظر لاندې ونیوله شي، ترڅو چې هلك یې له لوستو څخه بې له مضمون او عبارت څخه هم دا شیان زده کړي. د هلك پام دین، اخلاق، اداب، خپل ملي فضائلو او ملي خصایصو ته وشي. د ماشومتیا نه دې دا شیان په زړه او دماغ کې ځای ونیسي او د پښتانه بچي پښتانه شي.

۳ـ مختصر او مفصل صرف او نحوه د پښتو دې په ښه شان سره تالیف شي.

۴ـ د اصیل پخواني پښتانه، اخلاق، آداب، ډول او طرز د معاشرت، رسومات، عنعنات، ټوله خصائل او خصائص ممتازه د زیره پښانه، پوه قابل او واقف محررینو د خوا په مناسب ډول سره غونډ کړی شي او په مناسب تحریر سره ولیکل شي.

نو په وخت د لیکلو کې باید دا شیان تر نظر لاندې ونیول شي.

دا کتاب په پښتو اخلاق، پښتو اداب، پښتو طرز د معاشرت د خلل څخه ساتي. دا کتاب چې هېر شوی او متروك شوی، ښه او حمیده اخلاق، پښتو ملي آداب او د پښتو ډول د معاشرت پښتانه ته به ببرته ور په زړه کړي.

د پښتانه زلمیان به ببرته پښتانه شي، خپل امتیاز به وپېژني او له لاسه به یې ونه باسي. په خپلو درستو خصایصو او خصائلو باندې به پوه شي او موجودیت خپل به لیا وښیي.

ترقي او لوړوالی به وکړي، د ذلت څخه به ووځي، عزت به مونده کړي. د نړۍ د مترقي او متمدن ملتو په قطار کې به داخل شي او ځان ته به لوړ مقام مونده کړي که خدای کول.

۵ـ وروسته تر دې، دې مختصر او مفصل ملي تاريخونه ساز شي. د پخوانيو پښتنو حالات او د ښاغلي پښتانه احوال په ښه ډول سره بيان شي. د مؤلفينو او مؤرخينو په اغراضو باندې غور وشي.

د هر مؤلف يا مؤرخ کتاب يا کوم مضمون ته چې په ترخ (ضمن) کې يې خپل يا د بل سياسي يا ملي او نور اغراض داخل کړی وي، اعتبار ونکړل شي، له "تاريخ د خورشيد جهان"*

۶ـ تر دې وروسته دې د زماني د فنون کتابونه په پښتو تاليف او ترجمه شي. د نورو علومو کتابونه دې هم په پښتو واړول شي. اړې او احتياج هم تر نظر لاندې ونيول شي.

فرهنګونه او د لغت کتابونه دې هم جوړ شي. مخصوصاً يو مکمل قاموس دې وليکل شي (وزير صاحب ته دې مبارك وي، چې دا کار هغوی په خپله ذمه کړو او د پښتو لغات يې چاپ کړو، هلالي).

په عين حال کې اخباراتو او مجلاتو ته دې هم اهميت ورکړ شي. اخبارات او مجلات دې هم داسې وي، چې هر څوك په

* (دا کتاب ابراهيم خان ګنداپوري ليکلی دی، هلالي) ـ (دشير محمد خان ګنده پور تاليف)

نسبت د خپل حال او احوال او کار او روزګار او علمي او فني استعداد او لياقت سره د اخباراتو نه استفاده وکړی شي.

داسې ونه شي، چې عوام تر نظر لاندې ونيول شي او خواص او عالمان هېر کړی شي يا خواص او عالمان تر نظر لاندې ونيول شي او عوام هېر کړی شي.

بلکې هر چاته او د هرې چارې خاوند ته، هرې طبقې ته موافق د هغه د حال او د چارې سره مطابق، د هغه د علمي استعداد سره، د هر چا د ذوقه سره موافقه مطالعه مونده شي، ترڅو چې معلومات او وقوف د هر سړي ډېر شي، بې ځايه نغمه سرايي او سادوګري پرېښودله شي.

د پښتو د ترويج او تعميم دپاره په هر ډول چې لازم او ممکن وي، په يو منظم طور پښتو وخوځوله شي، پښتانه ويښ کړی شي. په پښتو کې احساس مونده کړی شي. که کاروانه او چارې په فکر سره وشي او يو ترتيب ولري، اديبان، عالمان او پوهان کوشش وکړي، د پښتو سره پښتو وکړي. د لږ کوښښ څخه به ډېره نتيجه واخستله شي. پښتو به ژر ژر ژوندۍ شي او لوړوالي ته به مخ کړي او البته پښتو چې ژوندۍ شوه، پښتانه به هم ژوندي شي.

مقصد دا دی، چې د پښتو د ژوندۍ کولو دپاره په پښتون کې د عام علم لپاره دا بيت به ښه وي، اما ممکنه ده چې تردې ښه او لنډه لاره بله هم وي، نو ځکه ستاسو نه مشوره غواړم چې خپل خيالات که ممکن وي وليکئ.

تاسو ددې امورو سره ډېره علاقه لرئ، مکن دی چې په دې خصوص کې نظريات ولرئ او ممکنه ده چې د نوروفضلاو او پوهانو سره به مو تل مبادله د افکارو کړې وي او مناسبه لاره به مو سنجولې وي.

ستاسو د افکارو او نظرياتو نه به موږ استفاده وکړو، که چېرې دا نظريه زما صحيح وي، نو د وروستيو پښتنو ځخه چې په دې لاره کې لږيا ډېر حتى اوسع خدمت کولى شي، بايد تمنا وشي چې خپله وسه ونه سپموي. تر هرې درجې چې د هر چا د لاسه کېږي بايد خدمت وکړي، ترڅو چې په مشترك مساعي د ټولو مقصد تر يوې درجې پورې تمام شي.

# محمد گل مومند

## [زړور پښتون، ژبه ور پښتون او پخپل هېواد (تاریخي افغانستان) کې د توهین شوو او لـــه خپـلو کلـــتوري حقوقو نه محرومو پښتنو د ماضي، حال او مستقبل نه باخبر پښتون]

**یادونه:** د رواني هجري څوارلسمې پېړۍ د پښتو ژبې د احیا واحد مشر د پښتنو رښتینی خدمتګار او په پښتنو کې د خپلې ژبې او وطن سره د مینې د روحیې د ژوندۍ کولو یوازینی پښتون مشر ارواښاد محمد ګل خان بابا باندې لیکل شوی دغه مضمون د نن نه شپږ کاله وړاندې وحدت ورځپاڼې ته د نشر په غرض ولېږل شو، خو د نوموړې ورځپاڼې چارواکي د پښتنو د دښمنانو مخصوصاً ستمیانو فشار ته تسلیم شول او مضمون یې په یوه ګنه کې لږې برخې له نشر نه وروسته، د ردي کاغذونو ټوکرۍ ته ګوزار کړ، بیا مو یو سپېڅلي پښتون طارق بزرګر له خوا په ناروې کې خپرېدونکې "دعوت" مجلې ته ولېږه، هغوی بې څنډه او تصرفه نشر کړ. اوس یې له نوموړې نشریې نه په مننه، د "ستر پښتون" په نامه چاپېدونکي کتاب ته د نشر لپاره صاحب ته سپارم.

شمس.

زمـوږ قــهرمان زېږوونکــي، ښکــېلاك مــاتوونکي او فرعــون پرزوونکــي هــېواد لرغونــي افغانســتان هغــه تــاريخي وطــن دی، چې د آسيا زړه، د اتلانـو کـور او ديرغلـګرو ګور بلـل شـوی دی.

د تــاريخ د هــر وحشــي ځواك مــلا دلتــه ماتــه شــوې ده، د هــر اســتعمار تغــر پــه لومــړي ځل لــه دې ځای نــه ټول شــوی او د هــر متجاوز طاقت جنازه لـه دې خـاورې نـه وتلـې ده.

يونــاني ســکندر، چــې د ټولــي نــړۍ د نيولــو اراده کــړې وه، پــښې يــې د لغمــان او کونړ پـه غرونـو کـې مـاتې شـوې، چـې يـو وخت يـې خپلـې مـور (د يونـان ملکـې) تـه پـه خپـل ليـك کـې د افغـان باتور قـام لـه لاسـه لـه خپـل غـم لړلـي حـالت نـه سـر ټکولـی وو. هغــه مــهال، چــې انــګرېزي اســتعمار د نــړۍ پــر شــپږ ســوه ميليونـه نفوسـو حکومـت کـاوه، د ټولـې نـړۍ نفـوس زر ميليونـو تـه نـه و رسـدلی او انګرېزانـو بـه پـه ډېر افتخـار ويـل:" زمـوږ پـه قلمـرو کـې لمـر نـه ډوبېـږي"، (لـه امريکـا نـه تـر جـاپانـه يـې حکمرانـي وه)، خـو چـې زمـوږ پـر هـېواد يـې بلوسـېدل پيـل کـړل، لـه داسې شرموونکيو مـاتو سره مـخ شـو، چـې پرنګـيو ميـندو بـه خپل بچـي د افغـاني قـهرمانانو د نومونـو پـه يـادولو غلـي کـول او لـه افغانسـتان نـه تـر شـړلو وروسـته دغـه نـړۍ وال متجـاوز طـاقت د شمالي قطب تر يوې جزيرې پورې محـدود پـاتې شـو.

پـر افغانســتان د ايــران د فاسـدې صفـوي کورنــۍ يرغلونــو او دد هــېواد د وحشــي نمــاينده ګورګيــن خو ورځنــي اقتــدار او د قندهـار پـر پښتنـو د نومـوړي د ظلمونـو نتيجـه دا شـوه، چـې د

میرویس نیکه قهرمان زوی (شاه محمود هوتک) افغاني بیرغ د اصفهان په ماڼیو ورپاوه او د ایران د وخت واکمن (صفوي شاه حسین) برسېره پر دې، چې تاج او تخت یې دې فاتح شهنشاه ته تسلیم کړل، خپله لور یې هم ورته تقدیم کړه او بالاخره د روس قصاب، وحشي او له ټولو انساني صفاتو نه عاري ښکېلاك، چې له افغانستان سره له شپېته کلنې دوستۍ، گاونډیتوب او نیکو علایقو نه په ناوړه استفاده زموږ پر هېواد یرغل وکړ، له داسې رسوا او بدنام انجام سره مخ شو، چې هماغه د نیمې نړۍ واکمن پر ټوله نړۍ د قبضې امیدوار او د جهان ناخبرو، احمقو او بوالهوسو ځوانانو ته د خیالي جنت جوړولو، د دروغژنو وعدو ورکولو علمبردار سرېږه، پر دې چې زموږ له هېواد نه مات، گوډ، تورمخ او زوړند سر ووت، د یو نیم میلیونو مظلومو انسانانو په ککریو جوړه شوې امپراتوري یې دړې وړې او د نړۍ له نقشې نه حذف شوه، په خپله وړې تړې و د خپل تاریخي سیال (امریکا) او نورو غربیانو خیرات ته کېناستل.

زموږ دغه لرغونی کور (افغانستان) چې د خپل پېنځه زره کلن ویاړمن تاریخ په اوږدو کې تل د نړۍ د مختلفو تاړاك گرو قوتونو له خوا له وحشیانه یرغلونو تېریو او بریدونو سره مخ شوی، حتی ټوټه کړای شوی او د سیاسي حدودو د ړنگولو هڅې یې شوې دي، خو د تاریخ په هر موړ کې یې د خپلو ننگیالو مشرانو په لارښوونه هر متجاوز راپرزولی، خپل

استقلال، ځمکنی تمامیت او ملي هویت یې خوندي کړی دی، چې د غوریانو، سوریانو، هوتکو، ابدالیانو، ختکو، لودیانو او نورو پښتنو عصرونه یې زرین بابونه او روښانه مثالونه دي.

کله چې په همدې تسلسل کې د ایران د صفوي کورنۍ دور راغی او د خپل تاکل شوي نماینده (ګورګین) په وسیله یې په پښتنو د ظلم، جبر او وحشت انتها وکړه، پښتانه مشران زموږ د ویاړمن تاریخ د ځلاندې څېرې (میرویس نیکه) ـ چې مرحوم علامه قیام الدین خادم به ورته د (پښتنو بابا آدم) وایه ـ تر مدبر قیادت لاندې راټول او د وحشي ګرګین په له منځه وړلو یې له افغانستان نه دصفوي استعمار ټغر ټول کړ او د نوي افغانستان د بنسټ ډبره یې کېښوده.

تر دې وروسته اعلیحضرت احمد شاه بابا د میرویس نیکه پل واخیست او د افغانستان د سرحدونو په تکمیل یې زموږ سیاسي حدود له طبیعي حدودو سره سم کړل او دا باید په ویاړ سره ووایو، چې په انساني تاریخ کې ستر احمد شاه بابا یوازینی سرلښکر، ځانګړی شهنشاه او بې ساري مدبر او قهرمان واکمن دی، چې ماتې یې نه ده خوړلې او تر ځان له انساني، تسلیحاتي او اقتصادي پلوه څلور پنځه او شل واره زیات قوي ځواکونه یې په میداني محاربو کې راپرزولي او ځغلولي دي، چې د پاني پت میدانونه یې ژوندي یادګارونه دي، خو د خپګان خبره او په وینو ژړل په کار دي، چې دغه قهرمان پښتانه دا د غوري، سوري، هوتکي او ابدالي

باباګانو بچي او د خپلو پولو ساتندویان په خپل شته وطن کې محکوم، مظلوم او له خپلو کلتوري، فرهنګي او ثقافتي حقوقو نه محروم دي، چې خبره ساده کړو، نو حقیقت دا دی، چې د افغانستان د نفوسو (۷۵) پښتانه دي او نور اقلیتونه لکه: (ازبک، ترکمن، هزاره، تاجک، قزاق، قرغز او نور) چې دوی هم افغانان او زموږ هېوادوال ورونه دي، په مجموع کې د وطن د نفوسو په (۲۵%) تشکیلوي، خو له پېړیو راهیسې زموږ دفتري ژبه فارسي ده.

زموږ د ښوونځیو، پوهنځیو او ټولو تعلیمي ادارو تدریس په فارسي ژبه کېده. کوځه او بازار کې فارسي وه، په تېره د کابل په ګډون د افغانستان په لویو ښارونو کې برسېره پر دې، چې فارسي د راکړې ورکړې او افهام تفهیم ژبه وه، زموږ زیاتو ښارونو د افغاني سیمو انځور نه لاره، بلکې پر ټولنه ایراني فاسد کلتور حاکم و. پېړۍ وشوې، چې په مدرسو او جوماتونو کې به یو زده کوونکي د قرآن عظیم الشان له ختم نه وروسته، د دیني علومو له کتابونو (خلاصه، منیه، کنز، قدوري) او نورو سره یوازې، پنج کتاب، تحفة النصایح، ګلستان، بوستان، بهار دانش او نور د فارسي منظوم کتابونه لوستل او حتی داسې هم کېدل، چې په جوماتونو کې یوازې د فارسي شعرونو د کتابونو ویونکیو ته هم ملا وویل شي او ملایان هم پر دوه برخو وېشل شوي وو، چې د دیني علومو د کتابونو ویونکیو به فقهي ملا او دفارسي ژبې د شعرونو ویونکیو ته

به ناظم ملا ویل کېده او په دې ډول فارسي شعرونه زموږ د دین برخه ګرځېدلي وه او بدبخته، بې تفاوته له خپل تاریخ، کلتور او روایاتو نه پردي شوی د کمترۍ په احساس اخته پښتون دا جرأت نه شو کولای، چې د ایراني شاعرانو د کتابونو په ځای د رحمان بابا، بایزید روښان، خوشحال خان بابا، حمید بابا او نورو پښتنو صوفیانو شعرونه ووایي، ځکه بیا پرې د کفر فتوی لګېدله او ایرانیانو د پښتنو د غفلت او له خپلې ژبې سره د بې تفاوتۍ له مخې، دومره بې حیايي کوله، چې زموږ ژبې ته یې د دوزخ ژبه ویله.

یو پښتون، چې به د هېواد له اطرافي او غرنیو سیمو نه د دوه کلن عسکري خدمت لپاره کابل ته راغی او د فارسي ژبې له یوې کلمې سره به اشنا نه وو، مجبور به و، چې په فارسي ژبه بې له دې، چې په معنی او مفهوم یې پوه شي، د قرآن کریم د قاري په څېر عسکري تدریس حفظ کړي، خو د شپاړس کالو تعلیم یافته صاحب منصب مجبور نه و، چې دې مظلوم پښتون عسکر ته تدریس په پښتو وکړي.

یو پښتون دولتي مامور به په فارسي ژبو سیمو کې له خلکو سره په خبرو اترو کې هېڅ ډول ستونزه نه درلوده، خو له فارسي ژبې مامور سره به د پښتنو سیمو خلك له کړاوونو سره مخ و او نه به یې شول کولای، چې په خپلو عرایضو د وخت حاکم پوه کړي او ډېر به داسې کېدل، چې دې عارضینو ته به ځینو متعصبو حکامو د پښتو خبرو په وخت ویل: " مسلمانی

گپ بزن"، حتى د يو فارسي بان په كور كې، چې به خواره د پخلي په وخت خراب شول، نو ويل به يې"كار افغانی شد".

په ۱۳۴۴هـ لمريز كال كې د ننګرهار د پوهنې مدير (مير حبيب سهيلي) د جلال آباد په ښار كې د خپلو وظيفوي مصروفياتو په لړ كې د ښار د جينكو لېسې ته ورغی او زده كوونكيو (متعلمانو) ته يې، چې ۷۵% پښتنې وې، په پښتو خبرې پيل كړې، د ټولګي د هماغه ساعت ښوونكې، چې فارسي ژبې او د ولايت د مستوفي مېرمن وه، د پوهنې مدير ته په ډېرې سپين سترګۍ وويل: "مدير صاحب! شما نيز به لسان جناوران سخن ميزنيد". مدير هم خپل پارېدلي جذبات كنترول نه كړای شول او خبره رسوايي ته ورسېدله، چې ډېر وخت په افغاني مطبوعاتو كې څرخېدله.

د اولسي جرګې په ديارلسمه دوره كې، چې كله د دولت د مامورينو لايحه جوړېدله، يو غړي وړانديز وكړ، چې د ماموريت په شرايطو كې دې دا زياتونه هم وشي، چې: "د دولت هر مامور دې د هېواد په دواړو رسمي ژبو (پښتو، دري) وپوهېږي". په دې مساله متعصبو پارسي ژبو ستميانو او ايران پالو يو طوفان جوړ كړ. محترم لوسونكي دې حقيقت ته متوجه كوم، چې هر دولتي مامور خو به په پارسي ضرور پوهېده، ځكه مروجه رسمي او نافذه ژبه وه، ګو پښتو ته له فارسي سره مساوي حيثيت وركول جرم و او چا نه شو زغملای.

د هېواد د سرمايه دارانو او سوداگرو قاطع اکثريت (۷۵%) په تاجکو، ازبکو او هزاره قامونو پورې تړلي و، چې د تاجکو تله له نورو ټولو قومونو او مجموعې نه پکې زياته او درنه وه. دلته ددې حقيقت يادول هم ضروري دي، چې د هېواد پر مادي او معنوي وسايلو باندې قابض اقليت (تاجك) به نورو قامونو ته دهېواد د وهمې او دريمې درجې اتباعو په صفت په سپکه سترگه کتل، دوی به ازبك ته خام کله، هزاره ته خر او پښتون ته (اوغان غول) الفاظ استعمالول. د پښتون پر څادر، پټکي او څپليو پورې له کلونو کلونو راهيسې خندا کېده او زمونږ د ناخبرو بې نفاوتو غافلو (معززينو) د استعمال په زړه پورې پوشاك روسی، کلوشې، د تاجکستان او ازبکی چپنې وې.

دغه بې شرمي او پښتون دښمني دې حد ته رسېدلې وه، چې د وخت بې حسه او غافلو واکمنو دا هم ومنله، چې د کابل ښار ځينو هوټلونو، سينماگانو او سيل ځايو ته تگ له ملي جامو څادر او پټکي سره منع شوی و، حتی يو ملوث او عياش سرمايه دار او بې علمه قاري (امان) په کابل کې خپلې مشهورې پنځه پوړيزه مغازې ته د پټکي او څادر څاوند نه پرېښوده، چې ورننوځي. حتی دده بې فرهنگه او بې علمه مستخدمينو، چې زياتې به يې ملوثې او بې بندوباره پېغلې وې، له خلکو نه پگړۍ او څادرونه په ډېر توهين آمېز ډول راغورځول. او په اريانا سينما کې به يې پر پښتنو باندې په

پښځه افغانۍ کرايي پتلون تاواناوه. زموږ د وخت حکام له خپل تاريخي عظمت، وقار، کلتور، ثقافت او فرهنګ سره دومره نا اشنا شوي وو، چې کله په افغانستان کې د فلمونو جوړولو پيل کېده، نو لومړی د (رابعه بلخی) او بيا د (اندرز مادر) فلمونه جوړ شول.

رابعهء بلخي د پاچا (حارث) خور وه، چې د ورور او کورنۍ د حيا په پايمالولو يې د دربار له يو سپاهي (بکتاش) سره ناروا علايق ټينګ کړي وو او د هغه په مينه کې يې شعرونه ويل، چې پاچا ګاونډي هېواد ته په سفر ولاړ او هلته په هغې مېلمستيا کې، چې له ساز او سرود سره د رابعې شعرونه ويل، په دې ترڅ کې تري چا د شعر ويونکي پوښتنه وکړه، رودکي بې له دې، چې مېلمه وپېژني، وويل: دا د بلخ د سلطان (حارث) د خور رابعې شعرونه دي، چې د خپل اشنا (بکتاش) په مينه کې يې ويلي دي.

پاچا ډېر خجالت شو او هېواد ته له راستنېدو سره سم يې رابعه په يو حمام کې بندي او په دروازه کې ورته دېوال وکړ او بکتاش يې هم په يو کوهي کې واچاوه.

څه وخت وروسته بکتاش په څه چل له کوهي نه راووت او د رابعې په خلاصولو پسې يې ځان حمام ته ورساوه، چې دېوال يې ونړاوه، رابعه مړه شوې وه، په منډه په دربار کې د پاچا کوټې ته ورغی او هغه يې بې ځنډه مړ کړ.

د اندرزما در قصه هم داسې ده، چې يو ځوان له يو پېغلې سره کوژده کوي، خو له واده نه وړاندې د عالي تعليماتو په غرض د هېواد نه بهر ته ځي. په دې دوران کې دده چنغوله په کابل ښار کې له يو بل زلمي سره مخامخېږي، هلك يې کور ته بيايي او هلته يې پر عفت تېرى کوي، کله چې يې چنغول له بهر نه راځي، نو دا حامله شوې وي، هلك ترې پوښتنه کوي او جنۍ ورته جريان وايي، ځوان ورسره له واده نه انکار کوي، جنۍ د هلك سپين سرې او ناروغې مور ته ورځي او د ځوان په راضي کولو کې ترې مرسته غواړي.

مور خپل زوى ته توصيه کوي، چې له خپل ضد نه تېر شه او واده ته غاړه کېښږده، دا ځکه ملامته نه ده او دوکه ورسره شوې ده. ځوان د مور خبره مني او واده ته حاضرېږي.

زموږ افغاني ټولنه ايراني فاسد کلتور دې حالت ته رسولې وه، چې زموږ واکمنو خپل تاريخي اصالت او ملي روايات تر پښو لاندې کول. سربېره پر دې، چې دغه دواړه فلمونه په فارسي ژبه وو، د افغان او افغانيت توهين پکې شوى و، يوه افغانه خور چې عالمه، فاضله او شاعره هم ده، د خپل حکمران ورور حيثيت او وقار تر پښو لاندې کوي او د هغه له يو سپاهي سره ناروا علايق ټينګوي. بله افغانه مور د ومره رالوېږي، چې خپل زوى ته له داسې جنۍ سره د واده تلقين کوي، چې خپل عصمت يې پلورلى او حامله شوې ده.

په داسې حال کې، چې موږ په خپل ویاړمن تاریخ کې د زرغونې انا په څېر سلګونه مدبرې، فاضلې، عالمې او د پښتون کلتور تاریخ او عظمت ممثلې میندې او د ملالې غوندې قهرمانې او تاریخ سازې خوېندې لرو.

احمد شاه بابا د هغه زمانې له دود سره سم د کندهار له ښار نه چاپېره د یو امنیتي دېوال د جوړولو اراده وکړه، نو دده فاضلې او د پښتونولۍ په رموزو پوهې مور ترې ددې کار علت پوښتنه وکړه. احمد شاه بابا وویل، چې د ښار د امنیت او ښاریانو د تحفظ لپاره د اکار کوم. زرغونې انا وویل: ستا پاچاهي یوازې په دې ښار ده او که د ټول افغاني قلمرو د ساتنې مسوول یې؟ که کولای شې له خپل ټول هېواد نه دېوال چاپېر کړې، خو ډېره ښه، مګر یوازې د کندهار ښار امنیت ستا مسوولیت نه شي رفع کولای.

احمد شاه بابا ومنله او تاریخ هم وښودله، دې قهرمان شهنشاه نه یوازې د خپل هېواد پولې له یرغلګرو نه وژغورلې، بلکې د نړۍ د ډېرو ګرېوانونه یې د کفارو له منګولو نه خلاص او ملي نوامیس یې ورته خوندي کړل.

دا بېله خبره ده، چې نن دلته د ځینو غدارو او وطن پلورو کمونستانو او تش په نامه مسلمانانو له لاسه ځینې ناکسان په خپلو خپرونو کې خپل دې قهرمان (محسن) لوی احمد شاه بابا ته د غله او ډاکو خطاب کوي.

همدا ډول د ننګیالي ملالۍ د پښتني غېرت، عظمت او همت ترجماني ملالۍ پر غازیانو باندې یوې ناره:

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه.

په پښتنو غازیانو کې د جهاد یوه داسې جذبه راوپاروله، چې د انګرېزانو یو منظم او د وخت په ډېرو عصري وسلو سمبال لښکر یې د میوند په مشهوره جګړه کې په تار و مار کولو زموږ په ویاړمن تاریخ کې د یو زرین باب اضافه وکړه، خو زموږ پښتون مشربو او ایران مشربو عمالو د زرغونې انا او ملالۍ د فلمونو جوړولو پر ځای، د رابعه بلخي او اندرزما در په نامه افغاني ضد او بې محتوی فلمونه جوړول. د پښتنو د تاریخ، کلور، فرهنګ روایاتو او له پښتنو ژبې سره دغه ناروا، بې عدالتي او سپکاوی له پېړیو راهیسې روان او د ورځې معمول و ، خو بې خبره او بې تفاوته پښتانه تش په نامه مشران قانع، خاموش او په مرګوني خوب ویده وو، خو د ایرن او دوشنبې استازي او د روسي ښکېلاك راتلونکیو پروګرامونو ته استخدام شوي پرچمي، شعله یي او اخواني ستمیان قانع نه وو او په افغانستان کې له خپلو روایاتو، ژبې او تاریخ نه د بېګانه شوو پښتنو فزیکي وجود یې هم نه شو زغملای او د فرصت او موقع په انتظار و.

دایو منل شوی حقیقت دی، چې یو قام او ملت د خپلې ژبې تاریخي روایاتو او ملي هویت په ساتلو ژوندی پاتې

کېدلای شي، خو که دغه بنیادي مشخصات یې هېر او له پامه وغورځول، ومنه چې دا ملت او قام له معنوي پلوه ورك او یوپنا شو.

مغلو پر ننني منځني ختیځ او لرې ختیځ حتی پر ټوله اسیا او د اروپا پر یوه برخه څو پېړۍ واکمني وکړه، لویې لویې امپراتورۍ یې جوړې کړې، چې اوس یې یادګارونه د نړۍ له عجایباتو شمېرل کېږي، خو چې له خپلې ژبې، ملي دودونو او روایاتو نه غافل شول، ایراني ژبه (فارسي) یې خپله کړه، د اردو په نامه یې ژبه جوړه او رایجه کړه، نو نه یوازې دا چې هغه عظیمه امپراتوري یې ړنګه او محوه شوه، بلکې مغل قام له خپلو ټولو شتمنیو سره فنا او پر خاورو ښخ شو او نن یې د یوه ژوندي قام په نامه هېڅ هم نه شته.

په افغانستان کې پورتني له خروار نه د موټي په مصداق لیکل شوي عیني واقعیتونه د ورځې دود او د پښتون اکثریت په ژبه، کلتور تاریخ او ملي روایاتو د یوناڅیز اقلیت له خوا ملنډې وهل کېدلې، پښتانه پر دغه زوروونکي حالت قانع او خاموش وو، خو د باندنیو دښمنانو په لمسون متحرك اقلیت او پر دولتي ادارو سپور لړکي قانع وو.

دا چې پښتو اوس هم په نیمګړې شکل ژوندۍ ده او په ځینو حساسو پښتنو کې تر ننه هم له خپل قام، ملت، هېواد، ژبې او ملي روایاتو سره د مینې جذبات په ایرو کې د خوږلن په څېر تازه او ژوندي دي، دا د چا د قربانیو، هلو ځلو او

مبارزې برکت دی. په لره پښتونخوا کې د پاچا خان په مشرۍ خدايي خدمتګار تحريك د انګرېزي ښکېلاك په ضد د مبارزې پيل د پښتو ښوونځيو د تاسيس او پښتنو بچو ته په مورنۍ ژبه ښوونې او زده کړې له پيل نه کړې وه، چې ددې په نتيجه کې ډېر مبارز سرتېري او انقلابي پښتانه شاعران، ليکوال او ملي مشران منځته راغلل، چې له دې سيمې نه د انګرېزانو وتل د هماغو باتورو د قربانيو محصول دی. دا چې ولې د باچا خان او خدايي خدمتګارۍ غورځنګ زيات وارثان له خپل ارمان نه په شا شول او د پښتون قام اتيا کلنه قرباني د يو څو کوڅو په پخولو، پرمټونو او د دوه درېو وزارتونو په اخيستلو کې راغونډه شوه او ولې نننې نشنلي ځوانان نه په پښتو پوهېږي، نه په نشنلېزم او نه له خپل ارمان نه خبر دي! ولې د پښتنو د حقوقو علمبرداران د هغه چا پښو ته ولوېدل، چې تر پرونه به يې مور ته په کابل کې د دوی له لاسه سر ټکاوه ! او د پښتنو د حقوقو غاصبان به يې بلل او په دې هم حېران يو، چې ددې نوې ياراني په نتيجه کې د پښتنو حقوق واخيستل شول؟ که خرخ شول. ددې بحث له تفصيل نه د وخت او زمان د شرايطو له مخې تېرېږو.

خو له دې حقيقت نه هېڅ شريف، باوجدانه او اصيل افغان انکار نه شي کولای، چې په بره پښتونخوا کې له پښتو ژبې سره د وخت د چارواکيو د جفا او د پښتون کلتور، دود دستور او ملي رواياتو د هېرېدو، ورکېدو او له خپلې ژبې او تاريخ

سره په خپله دپښتنو د غفلت او بې پروايي خطرناك جريان ته يو باوقاره پښتون، يو با ايمانه پښتون، مدبر، منور او زړور او ژبور پښتون د پښتو له ماضي، حال او مستقبل نه باخبر پښتون اتيا كاله وړاندې متوجه شوی و.

دې ستر ګور پښتون (ارواښاد وزير محمد ګل خان مومند بابا عليه الرحمه) محسوسه كړه، چې په غرب كې ايران غواړي، چې په افغانستان كې له خپلو مذهبي او ژبني پلويانو نه په استفاده زموږ تاريخ مسخ كړي، زموږ پر هېواد باندې له كلتوري يرغل نه وروسته ايراني استعمار ته لاره هواره كړي.

دغه يلغار ډېر خطرناكه بڼه خپله كړې وه، زموږ ښارونه په تېره د كابل كتاب پلورنځي به له ايراني مجلو، كتابونو او مختلفو خپرونو نه ډك وو، چې پرته له عياشي، فحاشي اواخلاقي انحرافاتو د خپرولو له هڅو سربېره به نور هرڅه پكې د كابل ښځينه طبقو ډول، سينګار او لباس كاملاً ايراني شوی و.

په بازارونو او كورو كې به د ايراني سندرغاړو اوازونو انګازې كولې. سينماګانې به هم د ايراني فلمونو، چې د اخلاقي فساد بدترين شكل به يې وړاندې كاوه، په ښودلو بوختې وې، په شمال كې روسان تودو اوبو ته د رسېدو او د خليج پر تېلو د خېټې اچولو لپاره د خپل پليد تاريخي ارمان د پوره كولو په سلسله كې د مختلفو ګروپونو، ډلو او اشخاصو په تربيه كې بوخت وو.

برهان الدین رباني په وروکوالي کې د صدارت مرستیال (علي محمد) او د پلان وزیر (عبدالله یفتلي) له خوا، چې د ستم د تجزیه طلبې ډلې بانیان وو. کابل ته راوستل شو او وظیفه ورکړ شوه، چې د اخواني چینل له لارې په ستم نصب العین ته خدمت کوي.

ببرك کارمل موظف شوی و، چې د کمونست ګوند په وسیله په روسي پروګرامونه وړاندې بیایي. د محمودي کورنۍ په وسیله د (حزب دیموکراتیك نوین) په نامه بانډ، چې په شعله یانو مشهوره ده، هم د ستمي پروګرام لپاره جوړه شوې ډله ده او د طاهر بدخشي په مشرۍ ښکاره (ستم ملي) ګروپ هم تشکیل شوی و او دې څلورو واړو بانډونو د مختلفو چینلونو له لارې په روسي قومانده د پښتنو توهین، تعجیز او اغوا له لارې پر افغانستان د قبضې یا تجزیې او په نهایت کې لوی تاجکستان د جوړولو په منظور لګیا وو، خو تش په نامه مشران او واکمن په اصطلاح د پیل په غوږ کې ویده وو، خو پښتون بابا د پښتو بابا (محمد ګل مومند بابا) چې له نادر خان سره یې د سقوي فساد (چې په حقیقت کې د ستمي، روسي، ایراني او تاجکستاني فساد سر و) په شنډول کې ستر او سرنوشت ټاکونکی رول لوبولی. دې خطرناکې ډرامې ته متوجه شوې و، پښتانه ځوانان، لیکوال، شاعران او ان د عوامو توجه یې ددې خطر خوا ته راواړوله او ویل به یې" پښتنو! پښتو ووایئ، پښتو ولیکئ، پښتو ولولئ، پښتو

وکړئ، خپل پښتني روايات، دود، دستور او کلتور خپل کړئ، په دې کې ستاسو ملي بقا ده، سياسي بقا او تاريخي بقا ده، د ډېرو مکارو، غدارو او افغان دښمنو ګاونډيو او په داخل کې د دوی له خوا د ګمارل شويو جاسوسانو، مزدورانو او ګوډاګيانو په محاصره کې يو، که دا مو ونه کړل، سپك به شئ او ورك به شئ.

دغه د نظامي امورو متخصص جنرال، د ټولنيزو او اداري چارو ماهر شخصيت، چې کله د شمالي ولاياتو تنظيمه رئيس و، ددغه سيمې د ودانۍ، ښېرازۍ، عمراني او انکشافي چارو د پرمخ بيولو د علاقې له اوسېدونکيو سره د نژادي او ژبنيو توپيرونو له پام کې نيولو پرته په پوره انصاف او عدالت چال چلند کاوه، د هغوی ستونزې او مشکلات يې اوارول او د هر چا حقوق حيثيت او ابرو خوندي وه. د رشوت، فساد او اخلاقي انحرافاتو نوم نښان نه و، له هېچا سره به په هره سويه يا د هر قام، نژاد يا مذهب پورې چې به تړلي وو، د نورو د حقوقو د تروړلو او پر چا د تېري جرات نه و، البته پښتانه يې دې اصل ته متوجه کړل، چې پر خپله ژبه، کلتور، دود دستور او رواياتو ټينګ پاتې شي او په دې لړ کې يې د هېچا مخ نه کاوه. مثلاً: که د يو پښتون پر اوږو به يې چپن وليدله، نو ورته به يې وويل: دا ستا ملي لباس نه دی دا وغورځوه او څادر پر اوږوه کړه، د څپليو پر ځای به يې د کلوشو استعمال بد مانه او هم به يې پښتنو ته تلقين کاوه، چې خبرې په پښتو

وکړي او حتی همشینی عادت یې و، چې د هېواد په هره سیمه کې به یې پښتانه پښتو ویلو او سوچه پښتو ویلو او لیکلو ته هڅول او تشویقول او که چا به پخپلو خبرو کې بې ځایه پردي ټکي او کلمات استعمال کړل، نو له واره به یې په پښتو د هغې کلمې او ټکي متبادل ورته وښود، چې داسې وایه او د نومړي نابغه پښتون دا اتکل اوس د شمالي سیمو د ډېرو پښتنو په غوږونو کې انګازې کوي، چې ویل به یې د هېواد له شمالي پولو نه به یو وخت له قطبي خراسانو د کلتوري، ثقافتي، فرهنګي او بالاخره نظامي یرغل سره مخ کېږئ. که تاسې پر خپله پښتو ژبه، افغاني روایاتو، اصولو او دود دستور ولاړ او متحد اوسئ، نو مقابله به وکړای شئ او که مو دا هېر او پر ایښي وو، نو بیا به مو نوم د تاریخ له پاڼو نه ورک او وران شي.

اوس مونږ ټولو په خپلو سترګو ولیدل، چې روسانو او ایرانیانو اویا کالو په اوږدو کې زمونږ په هېواد کې لومړی یوه ډله ملوث ځوانان د کمونېزم پر ضد بشري ناروغۍ اخته کړل، د هغوی له اذهانو نه یې اسلامیت، افغانیت او پښتونولي او ملي کلتور ووېستل او دې ته یې د فیوډالېزم د عصر پاتې شونې وویل، یوازې د (کور، کالي، ډوډۍ) یو مجرد، بې محتوا او حیواني شعار یې ورکړ، له یو خوا نه بې بې تجربې او نا بالغه پښتانه په اصطلاح مغز کنګالي کړل، بیا یې د کمونستو ګوندونو (خلق، پرچم، شعله) غړي کړل، خو

بل خوا ته یې څلور ډلې (پرچمي، شعله یې، اخواني او مستقل ستمي) پښتانه عناصر د رباني، ببرك، طاهر بدخشي او رحیم محمودي په مشرۍ په (ستم ملي) بانډ کې راټول او د افغانستان تجزیې او لوی تاجکستان جوړولو ته وګمارل او دا کار یې په داسې ماهرانه ډول وکړ، چې لومړی یې په احمقو خلقیانو، چې قاطع اکثریت یې پښتانه وو، کودتا وکړه، هېواد یې پرې په وینو ولاړه، تشدد، قصابي او وحشت ته په تحریکولویې له عام نفرت سره مخ کړل، بیا یې خپل اصلي نوکر تاجکستاني مهاجر (ببرك) له خپلو یو نیم لك وحشي او په ډېرو خطرناکو وسلو سمبال لښکر سره کابل ته راووست او دیوې پلاستیکي نانځکې په څېر یې په ارګ کې وتومبه او له همدې ورځې د افغانستان د تجزیې عملي لوبه پیل شوه.

دا د افغانستان د تاریخ تر ټولو بد ترین تصادف و، چې زموږ ولس ورسره په لومړي وار مخامخ شو. دننه په هېواد کې د پردیو په لمسون پر افغانستان باندې د قبضې په غرض لومړی کمونستي کودتا وشوه او د هغې د بقا او دوام لپاره روسانو بې شرمانه یرغل وکړ، چې افغانان هجرت ته (مجبور) شول، نو په ګاونډیو هېوادونو کې مو هم مخلص ملاتړ نه درلود او هر ګاونډي زموږ د وینو په قیمت خپلې ګټې ترلاسه کولې، په دې منځ کې د ستمي لوبې لپاره د ایران او روس ګټې شریکې شوې، د کودتا په لومړیو کې خلقیانوقصابي کوله. د پردیو په لمسون یې بې توپیره ځورول، کړول، وژل او

تري تم کول، خو په ایران کې د وخت حکومت متعصب پښتون دښمن او قصاب ذهنه هزاره ګان او شیعه ګان په افغانستان کې د پښتنو پر قتل عام، له خپلو کورونو نه پر شړلو او تباه کولو سربېره، د هغو باایمانو او شریفو هزاره ګانو کړولو او وژلو ته هم وګمارل شول، چې د خپلې مذهبي عقیدې له ساتنې سره سره د افغانستان د تجزیې او ملي ګټو تاوان ته حاضر نه وو.

بلې خوا ته تر ستمي پلان لاندې ببرك او رباني د روسانو په وساطت سره په تماس کې شول او خپل پروګرامونه یې هم اهنګ کړل، نو په دې ډول به هېواد کې دننه او بهر د پښتنو د تباهۍ او د افغانستان د وېش لپاره زمور باندنیو دښمنانو له یو شمېر داخلي وطن پلورو سره ژمنې (تعهدات) وکړل. ګله چې روسان پوه شول، چې د وسلې په زور افغانان د کمونیزم د انساني ضد مسلك په منلو خپلې غلامۍ ته نه شي تیارولای، نو د ایران په مرسته یې په افغانستان کې روسي او ایراني متخصصین په یو ستمي چوکاټ کې منظم کړل. په دې ترڅ کې مسعود او رباني په مخفي ډول د خپلو مختلفو سفرونو په لړ کې بیا مسکو ته دعوت شول او هلته بې له روسانو سره سودا نوې کړه، چې راستانه شول، مسعود له دې قصاب دولت (روس) سره همېشنۍ اوربند وکړ، چې دې ماوویست او ستمي پنجشري په افغانستان کې د روسانو د نهه کلن موجودیت په دوران کې اته کاله له ورسره په سوله کې تېر

کړل، چې هغه یو کال هم د روسانو د پلان شوو او دده په موافقه د فرمایشي حملو په وسیله دې تجزیه طلب او افغان دښمن قوماندان ته نړیوال دروغژن (جهادي کاذب) شهرت ورکړ.

له دې نه وروسته د سالنګ لار نه یوازې دا چې د افغانستان د تباهۍ لپاره روسي لښکرو ته د وسلو او مختلفو اکمالاتو د رسېدو لپاره پرانستې وساتل شوه، بلکې د لارې د امنیت او مصونیت تعهد یې هم وکړ.

مسعود له دې نه وروسته په خلاص مټ په شمال کې د مختلفو ستمیانو په منظورولو د (شورای نظار) په نامه د افغانستان د یوموټي د قسم خوړلو دښمنانو یو خالص ستمي او تجزیه طلب تنظیم جوړ کړ، چې د سیمې وطن دوستو مسلمانانو پرې د (شورای کفار) نوم کېښود، ځکه د ماوویستانو او ستمي پرچمیانو مجموعه وه.

کله چې نجیب د سولې هلې ځلې پیل کړې، نو ببرک په دولت کې خپلو وفادارو پرچمیانو او شعله یانو ته قومانده ورکړه، چې د نجیب پر ضد ناراضه خلقیانو ته د خپلې مرستې په وراندې کولو هغوی کودتا ته وهڅوي، نو د تني په مشرۍ ځو بې تجربو او احمقو خلقیانو په داسې حال کې د کودتا ناکام کوښښ وکړ، چې د پاکستان نظامي مقامات، ایران، رباني او حتی نجیب ترې له اقدام نه وړاندې خبر و.

کله، چې کودتا ناکامه شوه، نو د ببرك پرچمي پلويانو لکه (اصف دلاور، جنرال بابه جان، ډاکټر وکیل، فرید مزدك، نجم الدین کاویاني، نبي عظیمي او نورو) ستمي کمونستانو په سوونو بې طرفه پښتانه خلقیان، چې له کودتا نه خبر هم نه وو، په همدې تور ونیول او ووژل او نجیب یې له کامل یوازېتوب او تجرید سره مخ کړ، چې بیا له پېښور نه مجددي او وروسته رباني کابل ته ورسېدل، نو ذکر شوو ستمي کمونستانو اودروسي قواوو اصلي رابلونکي یې هرکلي ته ولاړ وو.

د کودتا له ناکامۍ، د تني له تېښتې او د نجیب له تجرید نه وروسته د روسي نماینده په حضور د ببرك په مشرۍ په جبل السراج کې مسعود، عبدالعلي مزاري، رشید دوستم، منصور نادري او نور وېش غوښتونکي راټول او د افغانستان د ورانولو د پښتنو د بشپړې نابودۍ او د لوی تاجکستان او هزارستان جوړولو ته یې وروستۍ بنه ورکړه. د رشید دوستم په مشرۍ وحشي ملېشې، ستمي او کشتمندي پرچمیانو پر تجرید شوي نجیب کودتا وکړه او پروګرام داسې جوړ شوی و، چې د اقدام له کامیابۍ سره جوخت به مسعود کابل ته رارسول کېږي او په راډیو کې به د خپل ګروپ (شورای نظار) نه حرا د کابل د فتحې اعلان کوي او د افغانستان پر ځای به موږ هېواد ته د جمهوري خراسان نوم اخلي.له دې نه وروسته به د هېواد له مختلفو سیمو مخصوصا شمالي برخو نه د

پښتنو په شرلو پیل کېږي او زیار به وېستل کېږي، چې په ثلورو پنځو کالو کې پښتون د یو ناڅیز، بې واکه، محکوم او مظلوم اقلیت په بدلولو دغه قهرمان او تاریخ جوړوونکي قام د یو ملت په صفت د نړۍ له نقشې نه تړول شي، خو دلته باید دغه حقیقت له پامه ونه غورځول شي، چې د مسعود او رباني پخواني رقیب د حزب اسلامي مشر انجنیر حکمتیار، چې له مخکې نه یې د جبل السراج د توطیې یو څه اطلاعات ترلاسه کړي وو، ددې پلان ناکامولو ته پېشبین وو، کله چې کودتا وشوه او مسعود غوښتل کابل ته ځان ورسوي، د حکمتیار قوماندانانو چې د کوهدامن په حساسو سیمو کې یې ځای درلوده، دده د تېرېدو مخه ونیوله او تر درې اونیو پورې یې ونه کړای شول، چې کابل ته ننوځي او خبره رسوا شوه، چې ستمي پرچمیانو، دوستم ملېشې او د کشتمند ډلې هزاره ګانو په شریکه پر نجیب کودتا کړې ده.

په دې ډول د کودتا په لومړیو وختونو کې د کابل ښار پر نیمه جنوبي برخه حزب اسلامي او پر شمالي برخه ستمي ائتلاف قبضه وکړه، اګر چې د دواړو اړخونو ترمنځ ډېره خونړۍ او تباه کوونکې جګړه پیل شوه او وېش غوښونکې ملېشې پر دې بریالۍ شوې، چې د حزب ځواکونه له ښاره وباسي، خو د تاریخ په دې حساس او سرنوشت ساز پړاو کې، چې د روسي، ایراني او تاجکستاني مزدورانو له خوا یوه ډېره خاېنانه او خطرناکه لوبه پیل شوې وه او زموږ قهرمان ولس،

چې لـه ښکـاره او پټو داخلـي او خـارجي دښمنـانو سـره يرغمـل و او هېڅ وطنپـال قـوت تـه د تبـارز امکانـات نـه وو، نـو د حـزب اسـلامي مقـابلې او مقـاومت، چـې پـه دې مـهال کـې يـو منظـم نظـامي ځواك و، د افغانسـتان د دښمنـانو پـلان شـنډ کـړ.

دا هېڅ مهمـه نـه ده، چـې د حـزب اسـلامي مقـاومت پـه کـوم منظـور و، خـو نتيجـه يـې مثبتـه او مفيـده وه، چـې سـترګې پـرې نـه شي پټېدلای.

نظـار شـورا، وحـدت ډلـې هـزاره ګانـو او دوسـتم ملېشـې پـه کـابل کـې د مظلومـو ښاريـانو او مخصوصـا د پښتنـو پـر سـر، مـال او نـاموس داسـې تـالان ګډ کـړ، چـې بـې مبـالغې او لفاظـۍ د عينـي شـواهدو لـه مخـې، د هلاکـو، چنګيـز، ګوډ تيمـور، انګرېزانـو، روسـانو او بربريـانو د ظلمونـو او سـفاکۍ ټول ريکارډونه يې مـات کـړل.

د پتمنـو او پـاکلمنو ښځو لـوڅول، تيوڼـه يـې پرېکـول، د اميندوارو ښځو ګېډې څېرل او ماشـوم تـرې راوېسـتل، د خلکـو پـه سـرونو کـې ميخونـه ټك وهـل، ډلـه ډلـه ښځې، نـر، زاړه، ځوانـان لـوڅول او پـه کـانټېنرونو د خښتـو پـه څېر خـوا پـه خـوا درول او لاندې تـرې اور بلـول، چـې دغـه ژونـدي مظلومـان بـه د شـمعو پـه څېر ويلـي کېدل، لـه انسـان نـه بـه يـې سـر پـرې کـړ، لاسونه بـه يې پـه څنګلو او پښې لـه زنګنو سـره قطـع کـړې، دې تـه يې واسکټ جوړول ويـل.

د (مړي نڅا) په نامه قتلول، په دې ډول، چې د سړي سر به يې پرې کړ، بيا به يې سمدستي سره وسپينه پرې کېښوده، وينه به بنده شوه، تنې به ټوپونه وهل او دې وطن پلورو قصابانو به ورته د خوښۍ ګډاګانې کولې.

پېغلې به يې لوڅې په خپلو پوستو کې ساتلې، د پخلي کار به يې پرې کاوه او د حيوان په څېر به يې پرې جنسي تجاوز کاوه. دا چې د شپې څوك له کوره نه شول وتلای، په يو کور کې ښځه د لنګوال په درد اخته شوه، ئو مور يې ورسره روانه شوه او په ټکسي موټر کې يې د روغتون خوا ته حرکت وکړ. په لاره کې د نظار شورا او باشانو ودرول، ښځې فرياد وکړ او خپل تکليف يې ورته بيان کړ، يو سفاك پنجشيري وويل: مور د ښځې د حمل جريان نه دی ليدلی، مور لور يې له ټيکسي نه ښکته کړل او پر سرك يې واچول. مظلومې ښځې لاس پښې اچول او دې بې فرهنګه وحشيانو يې ننداره کوله.يو کس يې د مريضې پر مور جنسي تجاوز هم وکړ. حامله هلته مړه شوه او مور يې دوی وويشتله.

کله چې روسانو يرغل وکړ، په کابل ښار کې د ښوونځيو زده کوونکيو د پوهنتون محصلينو او عامو وګړو مظاهرې پيل کړې، په دې ترڅ کې د جينکو د يوې ليسې زده کوونکې هم راووتلې او د روسانو پر ضد يې شعارونه پيل کړل، په دې جمله کې د ناهيدې په نامه يوه پېغله ببرغ په لاس د روسي

ټانك مخې تـه ورغلـه:(روس مـړده بـاد ، كمونـيزم مـرده بـاد او ببرك مرده باد!) شعار يې وركاوه

روسـي عسـكر ووېشـتله، شـهيده شـوه او زمـوږ د ويـاړمن تـاريخ برخـه شـوه، خـو كلـه چې د روس نوكـران خـاين سـتميان د جبل السراج د توطيې لـه مخې پـر كـابل قـابض شـول، يـوه ورځ د مسـعود جـلادان پـه مكروريـانو كـې لـه يـوې ډېرې ښكلـې پېغلـې نـه خبر شـول. تصادفـا ددې نـوم هـم (نـاهيد) و، وربسـې ورغلـل، د اپارتمـان پنـځم چـت تـه وربسـې وختـل، مـور او پـلار يـې ورتـه وتړل او د نـاهيدې پسـې يـې لاسـونه وغـځول. هغـه پوهـه شـوه، چې زمـا د عصمـت او عفـت غلـه دي، نـو لـه كړكـۍ نـه يې ښكتـه راودانـګل او ترمـې ترمـې شهيده شـوه.

اوس نـو لوسـتونكي د روسـانو او د هغـوی د بچـو (شـورای نظـار) خاينـانو مقايسـه كـولای شـي. يـوې خـوا تـه دا ډول سـلګونه ډولـه قصـې او وحشـتونه روان وو، بـل طـرف درې واړه سـتمي ډلـو (دوستم ملېشې، وحـدت ډلـې، نظـار شـورا) هـر يـو تـر خپلـې قبضې لاندې سيمو د هست او بـود پـه لـوټ تـالان لاس پـورې كـړ."

د يوې دقيقې احصـائې لـه مخې د نجيب د سـقوط پـه وخـت كـې د كـابل پــه نظـامي بـاركونو، د دفـاع وزارت پــه ډيپوګانـو، د ژانـدارم او پوليسـو او نـورو قطعـاتو پـه ګوداموـنـو كـې دومـره سـپكې او درنــې وسـلې (ټانكونــه، تــوپونــه، راكټونــه، زره پوشـونه. سـكډ ، لـر واټنـې توغنـدي، حساسـې مدرنـې وسـلې، دوربيـن والـې اتومـات ماشـينګنې، نـورې سـپكې او درنـې

ماشـــینګنې، هاوانونــه، کلاشــینکوفونه او نــورې پــه ملیونونـــو وسـلې" او هـم (ډول ډول نظـامي نقلیـه وسـایط، جیپونـه، لارۍ، د مخــابرې دســتګاه، تمــانچې، مــهمات، تجــهیزات) موجــود وو، چې پـه جـلا جـلا ډول د هنـد او پاکسـتان : وسـلو لـه زېرمـو نـه زيـات وو.

ددې ټولـو وسـلو، مــهماتو او تجــهیزاتو ۸۵٪ نظـار شـورا، دوسـتم ملیشــې او هـزاره ګانـو خپلـو مرکزونـو پنجشـیر، جوزجـان او بامیـانو تـه انتقـال کـړل او هـم د وزارت خـانو دولتــي دواېرو او شـخصي کورونــو مــوټرې، فـرش، ظـروف، فرنیچـر او هـرڅه هـم چـور او ذکـر شـوو سیمو تـه يـووړل شـول.

د کــابل غنــي موزیـم، چــې پنــځوس زره کلـن نــوادرات پکــې خونـدي شـوي وو، پـه کـامل ډول تـالا شـو. د کـابل ټولـې ملـي کتابخــانې (اطلاعــات کلتــور، پوهنــې وزارت، پښتـــو ټولنـــې، کـابل پوهنتـون، عامـه کتـابتون، ملـي دفـاع) لـوټ شـوې، خـو پـه دې ټولـو کتــابونو کــې موجـود پښتـو کتابونـه، چـې تقریبـا يـو میلیـون جلده کـېدل، وسـوځول شـول.

د دفـــترنو، فـــابریکو، موسســـو، ښوونځيــو، روغتونونـــو او نــورو مختلفــو تشــکیلاتو ماشـینونه، لابراتوارونــه، حتــی دروازې او کړکــۍ ونــړول شــوې او لــوټ شــوې. پــه کــابل او د ســتمي ائتــلاف تــر اداري او قبضــې لانــدې ســیمو کــې د روســانو او ایرانیــانو د پــروګرم او د جبــل الســراج د ســازش لــه مخــې د افغانســـتان د د وېشـــنې، د لـــوی تاجکســـتان او هزارســـتان د

جوړولو لپاره د افغان او افغانستان او په تېره د پښتون قام د تاریخ، فرهنګ او اثارو د له منځه وړلو او ورکاوي لپاره دغه فجایع او جنایات روان وو. خو په نور هېواد کې هم د وسله والو داړه مارو او د ملي شتمنیو د غلو له خوا د خلکو پر سرونو او مالونو لوټمار ګډ و، خو د پردو له خوا پر افغانانو تپل شوی تش په نامه مزدور مشران زیات د دستمیانو په نوکرۍ مصروف وو، چې په پارسي ژبیو قامونو کې یې حتی یو مرید او پیرو هم نه درلود، هم د مسعود مداحان ملګري او حامیان وو.

دلته بیا سړی دې ته مجبور شي، چې د مومند بابا سپېڅلي روح ته د دعا لاسونه پورته کړي، چې د شمالي سیمو ډېر با ایمانه قوماندانان، چې د پښتنو ددې مدبر او دور اندېش بابا توصیو او لارښوونو ته په پاملرنه یې په ډېر مهارت او ځیرکتیا او شجاعت د تجزیه طلبانو او ستمیانو په نره مقابله وکړه او وطن دښمنانه پلانونه یې یو په بل پسې ورشنډ کړل.

په جنوب کې د حزب اسلامي مقاومت او په شمال کې د زیاتو پښتنو قوماندانانو مېړانې، ثبات او زړورتیا ستمیان او ایراني، روسي ګوډاګیان دې ته اړ کړل، چې پر خپلو کړو بیا غور وکړي او هر یو د خپلو خپلو اهدافو لپاره ځانګړې لارې اختیار کړي

پـه دې جريـان کـې د ازبکـو ملېشـو مشـر رشـيد دوسـم ازبکسـتان تـه ولاړ او خپلـو بـادارانو تـه يـې پـه ټول افغانسـتان کـې د سـتميانو د ناکامـۍ د اطـلاع پـه ورکولـو ورانديـز وکـړ، چـې تـر خپـل تسـلط لانـدې درې ولايتونـه (فاريـاب، جوزجـان، بلـخ) پـه ازبکسـتان پـورې وتـړي.

د ډېرو موثقـو او بـاوري منـابعو پـه حوالـه: ازبـك قيـادت سـخت عکـس العمـل وښوده او دوسـتم تـه يـې وويـل: تـه ډېر نـاپوهـه، احمق او د افغانسـتان لـه تـاريخ نـه نـاخبره انسـان يـې، دا مـوږ چـې د يـو ځپلـواك هېواد څښتنـان يـو، دا د منځنـۍ اسـيا يـو درجـن هېوادونـه، چـې ازاد شـول او اوس خپـل ملـي هويـت لـري، د روسـي امپراتـورۍ، چـې ټوټه ټوټه او روسـي قدراسـيون تـه محـدوده شـوه، دا د افغانـانو د قهرمانـۍ برکـت دی او پښتـون د افغانسـتان د مـلا تـير او قـاطع اکـثريت لرونکـی قـام دی، کـه اوس د مختلفـو عواملـو لـه مخـې خـور وور دی،وي بـه خـو د خپـل وطـن پـر هـره لوېشـت خـاوره سـر ورکـول د دوی تـاريخي فطرت دی، موږ د دوی په جنجـال مـه اختـه کـوه.

نـو دوستم لـه راسـتنېدو سـره سـم د صبغـت الله مجـددي پـه منځګړيتوب لـه حکمتيـار او حـزب وحـدت سـره د هـم غـږۍ شـورا پـه نامـه نـوی ائتـلاف جـوړ کـړ. ددې اتحـاد لـه جـوړېدو سـره سـم چـې د افغانسـتان د تجزيـې او د ټول افغانسـتان د ېبوزلـو لپـاره او پښتنـو د بدترينـو دښمنـانو (مسـعود، ربـاني) نـاپـاکي ارادې پر سيند لاهـو شـوی، نـو دواړه ملـي غـداران د کـابل پـه شـمول پـه

تاجکستان پورې ـ خدای مه کړه ـ د هېواد شمالي او لویدیزې سیمې د ترلو لپاره دوشنبې ته ولاړل او د روسانو په سرپرستۍ یې له امام علي رحمانوف سره د لوی تاجکستان د جوړولو لپاره خپل وروستني پلان ته مذبوحانه هلې ځلې پیل کړې.

روسانو، چې د رباني د غیر قانوني واکمنۍ په سر کې ورسره هر ډول مرستې شروع کړې وې، هغه یې نورې هم زیاتې وکړې، د وسلو او تجهیزاتو د رالېږلو پرله پسې بهیر یې پیل کړ، روس شړل شوي او ځغلول شوي نظامي مشاورین بیا د مسعود مرستې ته راغلل او د بې ملاتړه او بې پښتوانې لوټونو د چاپ او رالېږلو عمل شروع شو، چې هره ورځ به پرله پسې په هلیکوپټر کې په ټنو لوټونه رارسېدل، سره له دې، چې د وحدت ډله د هم اهنګۍ شورۍ په غړیتوب کې شامله وه، خو ایران له افغانستان سره د دښمنۍ او زموږ د هېواد په برخه کې د ناروا ارادو له مخې د مسعود او رباني مرستې ته په رادانګلو د تېلو، وسلو او نورو مرستو لړۍ پیل کړه او د هند دولت هم انجینران او دارودرمل راولېږل او په هېواد کې خونړۍ جګړه له سره پیل شوه. یوې خوا ته بېګناه افغانان په خپلو وینو کې لمبېدل، افغانستان پر کنډوالو بدلېده او ملي شتمنۍ یې پلورل کېدې، خو بلې خوا ته مکار او د دوشنبې استازي رباني د مسالې د سوله ییز حل تولې منډې رامنډې ردولې. د ملګرو ملتونو، اسلامي سازمان او د افغانانو د

مختلفو جرګو فیصلې یې نه منلې او په مختلفو پلمو یې خپل ټاکلی څلور میاشتنی اقتدار څلور څلوېښت میاشتو ته په رسولو د قدرت له انتقال نه انکار وکړ او حتی په ډېره سپین سترګی به یې ویل: زه قدرت چاته پرېږدم (ټول یې توهینول) په داسې حالاتو کې، چې معلوم یرغمل شوي او مضطرب افغانان د یو مجهول برخلیك په امید، حیران ناست وو، د مجاهدو، مسلمانو، شریفو او با ایمانو طالبانو غورځنګ رامنځته شو او په ډېره چټکتیا یې یو په بل پسې د شر او فساد د ځالو په له منځه وړلو لاس پورې کړ. لومړی یې په کندهار کې د اخلاقي انحرافاتو او فساد مرکزونه نابودکړل. بیا یې په لوید یزو ولایاتو کې ستمیان وځغلول. له هغې نه وروسته یې ختیز ولایتونه له وسله والو داړه مارو او د ملي شتمنیو له غلو نه پاك كړل او بالاخره د میرویس نیکه او احمد شاه بابا دې قهرمانو او اصیلو بچو (مجاهدو طالبانو) له کابل نه د ګرګین د بقایاوو د جنازې په ایستلو د لرغوني افغانستان پلازمېنه دروس، ایران او تاجکستان د استازو له پلېتو منګولو نه ازاده کړه او د افغانستان د شمالي ولایاتو په فتح کولو یې د افغانستان د واحد وجود د قسم خوړلو دښمنانو پر ناپاکو ارادو خاورې واړولې او که خدای ته منظوره وه، هغه ورځ لرې نه ده، چې د مړکانو په څېر د هېواد د غرنیو سیمو په ځمځو کې د پټوشوو پردیو اجیرانو په راپرزولو به د هېواد د ځمکنۍ

بشپړتیا په خوندي کولو، زموږ قهرمان او تاریخي وطن د ترږه د هېوادونو په قطار کې خپل موقعیت اشغال کړي.

د موضوع په ارتباط باید یادونه وکړو، چې کله زموږ خارجي دښمنانو ویوهېدل، چې د دوی ګوډاګیان د قهرمانو طالبانو مقابلې توان نه لري، نو روسانو او ایرانیانو تر یو دقیق او حساب شوي پروګرام لاندې د کمونستي ملېشې یو قوماندان (جنرال مالك) د طالبانو د ښکېلولو په غرض هغوی ته خپله تسلیمي عرضه او ددې لپاره چې طالبان په خپل اخلاص ډاډه کړي، د هرات مشهور قوماندان اسماعیل خان یې د څو نورو کسانو سره لاس تړلی ورحواله کړ.

طالبان هم اغفال شول او له خپلو لسو زرو بهترینو جنګیالیو او زړورو مجاهدو سره د مزار ښار ته بې د عقبي امنیتي ترتیباتو له نیولو ورننوتل، چې د جبل السراج د توطیې په جال کې راګیر او له هرې خوا نه پرې خونړۍ حملې پیل شوې او په زرونو طالبان په ډېره بې رحمۍ له تېغه تېر شول او په ډله ییزو قبرونو کې ښخ کړای شول. ستمیانو داسې فکر وکړ، چې د طالبانو جنګي طاقت مو ختم کړ، نو د وحدت ډلې یو وطن پلور قصاب او ایراني مزدور مشر (محقق) په ډېره بې شرمۍ او سپین سترګۍ پر ځلورو برخو د افغانستان د وېشلو رمباړه ووهله او د خپلو پلیتو، ناولیو او افغان دښمنو ضمیرونو اواز یې بهر راووېست او په دې ډول د محمد ګل خان بابا اویا کاله پخواني تشویش بیاد حقیقت بڼه



ACKU

غوره کړه، څو له نېکه مرغه چې د قهرمان بابا د پښتون تاریخ، کلتور او فرهنګ او ملي ګټو د خوندي کولو ترجمان بابا توصیو، لارښوونو او وصیت نتیجه ورکړې وه، ځکه چې له دې لوی سازش نه وروسته د افغانستان له ګوټ ګوټ نه زړونه ځوانان په داوطلبانه ډول د وطن له دښمنانو سره د جګړې لپاره د طالبانو په لیکو کې راګډ شول او بې څنډه لومړیو لیکو ته وخوځېدل او د هم هغې ډلې پښتنو قوماندانانو، چې د رباني د مکر، فرېب او تزویر په لومه کې ښکېل وو، په غوړو کې د مومند بابا توصیو انګازې وکړې له ستمي فاسد او افغان دښمن باند نه رابېل او له خپلو مربوطو مجاهدینو او بې شمېره وسلو سره د افغاني قلمرو له محافظانو (طالبانو) سره په یوځای کېدلو یې خپل تاریخي رسالت اداء کړ.

ځینې ملي خاینان، ستمیان او د پښتو، پښتنو، پښتون او افغانیت دښمنان د ایراني او روسي ښکېلاك مزدوران پر محمد ګل بابا دا تور لګوي، چې په شمال کې یې پښتنو ته ځمکې ورکړي دي، نو باید وضاحت وشي، چې په رښتیا محمد ګل بابا بې ځمکو او غریبو سوونو کورنیو ته په شمالي سیمو کې ځمکې ورکړې دي، خو دا هغه دولتي بنجرې، زېمناکې او جبه زاره ځمکې، وچ ډاګونه او لاشارې مېرې وې، چې د بدې هوا، د ملاریا د ماشو او ساري ناروغیو مرکزونه وو، دغه متل اوس هم د خلکو په یاد دي، چې ویل به یې:

"کــه مــرګ غــواړې کنــدوز تــه لاړ شــه". څه د جبــو، ډنــډونو او زېمونو لـه لاسه د مختلفو مرضونـو پـه تـېره دملاريـا سيمې وې.

دا د پښتــون بابــا يــو عالمانــه، مدبرانــه او وطــن دوســتانه نوښت و، چې دغـه ځمکـې يـې پـر مختلفـو قـامونو ووېشـلې او مجبـور يـې کـړل، چې ابـادې يـې کـړي، حتـى دومـره تکليـف يـې پـر ځان ګالـه، چـې چاتـه بـه ځمکـه ورکـړ شـوه، څو مياشـتې وروسـته بـه يې شـخصا د هغـوی خبر اخيسـت او د هغـه د کـار او زيـار نتيجـه بـه يـې کتلـه، چـې د غفلـت پـه صـورت کـې بـه يـې تهديداوه او تر فشار لاندې بـه يـې نيـوه.

پـه دې ډول د هـېواد د شــمالي ولايـاتو ښـر او بنجـر ډاګونـه او مېرې د څو کـالو پـه موده کـې پـه شنو بـاغونو، بـوټو او د پومبـې، غنمــو، وريجــو، ځمکــو، هنــدوانو، انــګورو، انــارو، مــڼو، بـادامو، نـاکو او د ډول ډول مـېوو پـر مرکزونـو بـدل شـول، چـې د سـيمې د هـوا او فضـا لـه ښکـلا او صـافولو سره سره يـې د غلـو، مـېوو او مختلفـو پيـداوارو پـه اضافـه کولـو نـه يـوازې د سـيمې د خلکـو د ژونـد سـطح اوچتـه کـړه، بلکـې د افغانسـتان اقتصـاد تـه يـې د پـام وړ ګټه ورسـوله.

کـه امريکايـان د خپـل وطـن د ابـادۍ د حـاصلاتو د زيـاتوالي او پــه ملــي اقتصــاد د پياوړتيــا لپــاره د نــړۍ لــه ګوټ ګوټ نــه لکونــه کورنــۍ راغــواړي، ځمکــې ورتــه ورکــوي او د هغــې پــه ابـادۍ کـې ورسـره پـه دولتـي کـچ مرسـته کـوي، کورونـه ورتـه

جوړوي او مېشته کوي یې، نو محمد ګل بابا ولې د افغانستان دولتي ځمکې افغانانو ته ورنکړې.

ددې تفصیل په رڼا کې که میرویس نیکه او احمد شاه بابا د افغانستان معماران د طبیعي حدودو ټاکوونکي، د یرغلګرو او غاصبانو ځغلوونکي، ملي اتلان دي، همدا ډول غازي شاه زمان، غازي وزیر اکبر خان، غازي ایوب خان، غازي عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری، ملا مشك عالم، غازي امان الله خان او نور په سوونو ملي قهرمانان زموږ د ځلانده تاریخ ځلا بابونه او د ویاړ شملې دي، نو "ارواښاد محمد ګل بابا، د پښتو بابا، د پښتنو بابا، د پښتون کلتوږ، ثقافت او فرهنګ پلار بابا، چې ټول ژوند یې په واقعي ډول پښتو او پښتنو ته وقف کړی و، د افغانستان د تاریخ یو داسې ځانګړی شخصیت دی، چې د افغان اردو د یو ممتاز جنرال، د حکومت دیو مقتدر او په مربوطو چارو کې بریالي وزیر د هېواد د اوو او اتو ولایتونو د یو مبتکر او دسیمې د انکشاف باني بهترین او کامیاب اداره چي په صفت ترې، حتی یوه کوټه، یو جریب ځمکه، یوه بسوه باغ، یو بایسکل په میراث کې پاتې نه شول او دې قهرمان افغان، مدبر، متدین او باوقاره انسان په یو عادي کرایي کور کې خپل روح حق ته تسلیم کړ.

دعا کوو، چې لویه خدایه! مهربانه خدایه جل جلا له ! د ستمي جنایت، روسي خباثت، د پښتنو د ډول ډول غلیمانو او د افغانستان د واحد وجود د قسم خوړلو دښمنانو له پلیتو ارادو نه د خپل نبوغ له مخې او یا کاله وړاندې د افغانستان له راتلونکیو حالاتو نه باخبره بابا ته جنتونه ورکړې.

دښمنان یې، چې په نهایت کې د افغانستان دښمنان دي، هلاك، تباه او برباد کړې او پر خپلې ژبې، کلتور، تاریخ او روایاتو باندې د پښتنو په ټینګ پاتې کېدو یې روح خوشحاله کړې. امین.

ډاکټر محمد طاهر بورګی

# د محمد ګل مومند بابا

# یاد

وزیر محمد ګل خان مومند یو لوی ملي، په خپل هېواد او ملت مین شخصیت و. داسې شخصیت نشو کېدای، چې د افغانستان د دوست او دښمن په نظر محبوب او د شاعر عرفي په قول داسې یو څوک وي چې وایي:

چنان با نیک و بد خو کن که بعد از مردنت عرفی
مسلمانت به زمزم شوید و هندو به سوزانت.

وزیر محمد ګل خان مومند د خپل هېواد د عزت او د خاورې د تمامیت دوستان او دښمنان په ژور نظر پېژندل. دی پوهېده چې د افغانستان د موجودیت دښمنان څوک دي او د افغان ملت عزت او ترقي څوک غواړي؟.

دا چې اکثریت افغانان له دنیا بې خبره، بې سواده، د جهل او خرافاتو په لومو کې نښتي د پاکو زړونو لرونکي ساده

انسانان دي او خپل دوست او دښمن نشي پېژندلی، د بدخواهانو په پسته ژبه. په مکاره څېره او ظاهري ښه ژر تېروځي او د شپون او قصاب توپير نشي کولی. دې حالت مومند بابا ډېر ځوراوه، خو هغه له خپلو هڅو نه مايوس کېده. ډېرو فشارونو او ستونزو دغه په وطن مين ستر شخصيت دې ته اړ کړ، چې لاس له رسمي کار څخه وباسي او په کور کښېني، خو بيا هم د هغه شخصيت هومره درونډ وو، چې وزيران به دده د کرايي، جونګړې ته راتلل او په ډېر احترام به يې دده خبرو او مجلس ته غوږ نيوه. نه يوازې وزيران، بلکې خپله اعليحضرت محمد ظاهر شاه دده د ليدلو لپاره ايېکو ته ورته او مومند بابا يې د کاکا په نامه ياداوه.

مومند بابا چې له هر چا سره په پښتو رږېده، نو له پاچا سره يې هم په پښتو خبرې کولې، دا ځکه چې ده خپلو اصولو ته تغير نشو ورکولی او په دې برخې کې حتی د پاچا رعايت هم ورته ګناه ښکارېده.

پاچا چې په پښتو پوهېده، خو په پښتو يې سمې خبرې نشوې کولې، هغه ته هم خپل د پاچاهی مقام دا اجازه نه ورکوله چې ناسمې خبرې وکړي، خو دواړو د محبت په فضا کې خپل مطلبونه د افغانستان په دوو منل شوو ژبو يوه په پښتو او بل په دري څرګندول.

وزیر محمد گل خان مومند په خپل ژور فکر او دقیقې مطالعې دا درک کړې وه، چې د افغانستان دښمنان غواړي، د افغانستان ملي هویت له مینځه یوسي.

روسیه د خپل موجودیت په خاطر ځان د هند تودو اوبو ته رسول غواړي او د پطر له زماني بیا تراوسه ورو ورو د هند په لور راروان دی. که څه هم د پطر لښکرې، د هغه په ژوند کې د یو افغان پاچا اشرف هوتك په دوره کې د هغه د سپهسالارسیدال خان ناصري په مټ، د ایران په شمالي برخو رامسر کې ودرول شوې او پطر یې دضلعې قرارداد ته اړ کړی و، خو بیا هېڅکله داسې شان زلمی پیدا نشو، چې د هند په لور د روسانو د تګ مخه ونیسي.

څرنګه چې د انګرېزي سامراج امپریالیستي لښکرې د تجارت، بېرغ تر شا رواني وې، لومړی به انګرېزي بتجاره ګانو د یوې سیمې د حکمرانانو زړونه لاس ته راوړل او بیا به انګرېزانو په لومو او دامونو کې راتیول.

د روسانو امپریالیستي ځواکونو به کله د وچ زور او کله به یې په چل د مهاجرینو په نامه خپل جاسوسان هېوادونو ته راولېږل او د دوی په وسیله به کله د ملي ستم په نامه او کله د انترناسیونالستی په نامه د ملت او ملي حکومت پر ضد ډلې جوړولې او بیا به یې د هغو ډلو تر حمایې لاندې خپلې نظامي قواوې رالېږلې.

مومند بابا ته دا حالت معلوم و او خصوصاً هغه وخت افغانستان ته خطر رانږدې شو، چې روسانو یوه وړه ډله څوانان د انترناسیونالستي تر عنوان لاندې د بخارا د پاچا غاړې ته ورواچول او د بخارا سلطنت یې رانسکور او په هغه کې یې د خپلې خوښې څو جمهوریتونه جوړ کړل.

مومند بابا کله چې د قطغن او بدخشان د تنظیمې رئیس مقرر شو، هغه ته دا نوره هم څرگنده شوه، چې روسانو په لومړي قدم کې دې سیمې ته سترگې نیولې دي. په دې سیمه خصوصاً په قطغن کې نفوس ډېر لږ وو. په هغو سیمو کې هستوگنې ته چا زړه نه ښه کاوه. هلته نېزارونه، وحشي ځنگلونه او پراخې سلطاني یعنې د دولت دښتې وې او ځمکې په قطغن کې، خصوصاً کندوز، چې نن ورځ ډېره آباده سیمه ده، په هغه وخت کې نېزارونه وو، چې هلته وحشي حیوانات خوگان اوسېدل او داسې یو متل و، چې "اگر مرگ می خواهی، قندز برو". خو د تنظیمې رئیس وزیر محمد گل خان مومند د ژور نظر او ټینگ عزم خاوند دا تصمیم ونیو، چې دا سیمه به آبادوي او هلته به د افغانستان ډېر بې کوره، بې ځمکې خلك خصوصاً کوچیان، چې ژوندیو یې په هېواد کې کلی نه درلود او مړو یې هدیره، دلته مېشته کوي.

ده بل کوم شخصي حکم جاري کولو ته اړه نلرله، هلته یو د ناقلینو قانون موجود و او هدف یې دا و چې د شمال دولتي

ځمکې پـه بـې ځمکـې خلکـو ډکـې شـي او اوس د هغـه قـانون د عملي کولو لپاره يو قوي عزم ته ضرورت ليـدل کـېده.

دا کـار مومنـد بابـا وکـړ او ډېر خـوار بـې وزلـي ولسـونه يـې د ځمکـو او جـايداد خـاوندان کـړل. هلتـه عـلاوه لـه بـزګرۍ او مـالدارۍ صنعـت هـم وغـوړېده او پـراخ شـو. د افغانسـتان پـټو او ښکـاره دښمنـانو، چـې دا حـال وليـد، ښکـاره او پـټ تبليغـات او بدې ويناوې يـې پـه مومنـد بابـا پسـې پيـل کـړې. چـا ورتـه تنـګ نظره، چا عظمت غوښتونکـي او چـا ورتـه فاشيسـت ويـل.

مومند بابا پـه دومـره لـوی قـدرت چـې رئيس تنظيمـه او وزيـر و، سـردار محمـد هاشـم خـان صدراعظـم ورتـه ورور او اعليحضـرت محمد ظاهر شـاه ورتـه کاکـا ويلـې، خـو حکومـت تـه لـه دومـره نـژدې والـي او لـه دومـره لويوظيفـو سـره، چـې هغـه د وزيـر او د تنظيمـي رئيس پـه حيث درلـودې، بيـا هـم لـه ماديـاتو هومـره مسـتغني و، چـې پـه کـابل کـې يـې د هسـتوګنې شـخصي ځای نـه درلـود او پـه سـاده کورونـو کـې پـه کرايـه اوسـېده، سـاده سپېڅلې پښتني ژوند او درونـد خـوږ مجلس يـې و.

مـا مومنـد بابـا څو وارې ليدلـی و. يـو وار زه د حقوقـو پوهنـځي محصـل وم، لـه فقير محمـد بـايزي مومنـد سـره د وزيـر محمـد ګل خـان مومنـد ليدلـو تـه ورغلـو. هغـه وخـت مومنـد بابـا پـه ګذرګاه کـې د چـاردهي د ولسـوالۍ ترڅنـګ پـه يـوه کرايـي کـور کـې اوسـېده. مـا څو وارې نـور هـم مومندبابـا هلتـه وليـد. لـه بابـا سره پـه همېشـه يـو څو کسـه ناسـت وو، خـو دا ناسـته د خنـدا

او ساعت تېرې ناسته نه وه، چې وخت په قطعه بازیو، شطرنج، کرمبول، شعروئو، غزلو، ټوکو ټکالو، ساز او سرود او داسې نورو مساېلو تېر شي. بلکې هلته خبرې د پښتو او پښتونولۍ او ملي روایاتو او قصو د هېواد او هېوادوالو په اړه او د جهان او جهانوالو په حال احوال وې. ما لومړی ځل د بابا له خولې د پښتو ویلو او د پښتو کولو عبارات او د هغه ترمېنځ تفکیک او ترکیب او تحلیل او تجزیه واورېدله. د مومند بابا په نظر پښتو یوازې ژبه نه وه، بلکې پښتو د ژوند اصول وو. همدا وجه وه، چې هغه د پښتو او پښتنوالې یوه رساله د "لنډکې پښتو" په نامه لیکلې او په هغې کې یې دا ښودلې وو، چې پښتو رښتیا ده، پښتو غیرت دی، پښتو همت دی، پښتو شرافت دی.

او د رسالې په پای کې یې لیکلي و، چې پښتو پښتو ده، پښتو ده، پښتو ده.

څرنګه چې د یونان مشهور فیلسوف د ولسواکه حکومت قوانین او مقرراتو ته یوازې د قواعدو په نظر نه کتل او ویل یې: دا قواعد باید د ژوند اصول وګرځي، محمد ګل خان هم پښتو د شرافتمند ژوند اصول بلله او غوښتل یې پښتانه هم دا ومني او عمل پرې وکړي.

د بابا درست ژوند، تفریح، خوراك، پوښاك ډېر ساده او سپېڅلی وو. یوه ورځ چې زه او فقیر محمد باېزی بابا ته ورغلو او هغه نور مېلمانه نه لرل، نو ویې ویل: نن به د ښار

ننداره وکړو. خپل موټروان یې راوغوښت، چمن حضوري ته راغلو، هلته مو د مازدیګر لمونځونه وکړل او بېرته راغلو، دا د بابا تفریح وه.

د محمد ګل خان په څنګ کې به همېش یوه راډیو ایښې وه، خو هغه به یوازې خبرونه اورېدل. همدارنګه د بابا خوراك هم ساده و. د روژې مبارکه میاشت وه، بیا هم زه او فقیر محمد باېزی د هغوی لیدلو ته ورغلي وو، مازدیګر مو وغوښتل د تللو اجازه واخلو. خو هغه روژه ماتې ته ستانه کړو. د ماښام له آذان سره یو بوتل شربت له ګېلاسونو سره راوړل شو. بابا پر ما امر وکړ، چې شربت او اوبه زه باید سره ګډې کړم. د شربت اندازه په ګېلاسونو کې له ماېیو څه زیاته شوه. بابا پر ما غږ وکړ، چې: "شربت درنه زیات شو، په هر کار کې به اندازه ساتې" بابا هر یو کار ته په ځیر کتل او نقص یې په ګوته کاوه. دی یو لارښود و، چې لوی واړه حرکات یې څارل.

۱۳۳۶ کال و، چې زما د پوهنځي دوره پای ته ورسېدله او د ماموریت په سلسله کې د "ده سبز" ولسوال شوم" په هغه وخت کې ولسوال ته حاکم ویل کېده. دا د ولسوال کلمه لا نه وه راوتلې. یوه ورځ د بابا لخوا یو سړی راغی او ویل یې د بابا څه ځمکه په ده سبز کې ده او د ځمکې ناظر بابا ته خپله برخه غله نه ده وررسولې، ما له هغه دوه ورځې وخت واخیست او

ناظر مې راوغوښت، په بله ورځ د بابا ناظر راغی ښکاریده چې ډیر ښه د خولې سحر لري.

په پښتو او پښتنوالي ډیر مین ښکاریده، نو دا خبره مې سترګو ته ودریده، چې هرڅه چې ځلیږي، هغه طلا نه دي او داسې خلك چې په څه مهارت له موقع او شرایطو سره سم ځان عیاروي، د خپلو ګټو لپاره په اطاعت کې د مریدۍ او پیرۍ تر حده وړاندې ځي او کله چې نور د ګټو امید له پیر څخه قطع شو، بیا د هغه پیر سیوری په تیږو ولي.

اوس چې وزیر صاحب نه وزیر و او نه رئیس د تنظیمې او یو ساده د فقیرۍ ژوند یې کاوه. ناظر ورڅخه تېر شوی او په حق یې ورخوت. ما هغه پوه کړ، چې سبا به ماته د بابا د رضایت احوال رارسیږي. هماغسې هم وشو. په سبا د بابا هغه استازی راغی، دا چې هغه به څه کړي وي، خو چې د معلم صاحب محمد نبي خان د نجات د لیسې ډیر محبوب شخصیت د پښتو د معلم په یوه کور کې په کرایه اوسیده، دا کور د سخي د زیارت په جنوبي خوا کې د غره په لمنه کې جوړ شوی و، هر چا کولی شو چې هلته د ځان لپاره کور جوړ کړي. ځمکه وړیا وه، خو د کور جوړول، هلته د خښتو او اوبو وړولو قیمت لوړ و.

معلم صاحب محمد نبي خان چې کور یې نه درلود په مسجد کې د یو پښتون منصبوال په توصیه ملا یوه کوټه

ورکړې وه، نو دی دې ته مجبور شوی و، چې په خپلو متو د غره په لمن کې د ځان لپاره څو کوټې جوړې کړي.

د پښتو معلم صاحب به وروسته د درس له خلاصېدلو دې غره ته راته، جبل او پلك او بېل يې اخيستی، په خپله به يې تېږې راوېستلې او ماتولې. کله به يې يو مزدور کار هم له ځانه سره وتيو او کله به د هغه مخلصو شاګردانو اشر ورسره وکړ او په دې توګه معلم صاحب نبي خان هلته دوه واړه کوروته جوړ کړل، چې بيا په يوه کې دی اوسېده او بل يې په کرايه ورکاوه او په داسې يو کور کې وزير صاحب محمد ګل خان اوسېده، څو کله چې مومند بابا وفات کېده، هغه کور دې ته نږدې يو بل کور و. په هر تقدير که نن ورځ ددغه پر پښتو او پښتونوالې مين، د وطن او ملت صادق خدمتګار ساده، فقيرانه ژوند د وطن او ملت د خدمتګارۍ له مدعيانو سره مقايسه کړو، اصلاً به له مقايسې وتلې خبره وي.

په پای کې به د خدای بخښلي بابا روح ته دعا وکړو او له خدايه به وغواړو چې ددې دردېدلي هېواد د خدمت لپاره د بابا په شان خلك راپيدا کړي.

هـــر زردار گوره د زور مـــالک نـــه دی
لکه هر په سلوک پوه چې سالک نـه دی
د دنيا طالب کـه هـر څومـره فقـير وي
فقير نه دی د سرو سپينو تارک نـه دی.

حبیب الله «رفیع»

## ارواښاد مومند بابا
## د پښتو دیوه نوی لیکدود جوړوونکی

ارواښاد محمد ګل مومند بابا (رح) یو ګڼ اړخیز (کثیر الابعاد) شخصیت و، چې ژوند یې بیلابیلې نظامي، اداري، سیاسي، ادبي او علمي خواوې درلودې، چې د علم او ادب اړخ یې هم بیا په بیلابیلو څانګو ویشل شوی وو.

دی شاعر وو، تولنپوه وو او د پښتو ژبې په ویی پوهنه (لغت) او ژب دود (ګرامر) کې ماهر وو. او له دې سره یې د پښتو له پاره یو نوی لیکدود هم جوړ کړی وو، چې زه یې د لته په همدې اړخ غږیږم.

مخکې له دې چې د ارواښاد مومند بابا په جوړ شوی پښتو لیکدود وغږیږو، د پښتو لیکدود په تاریخي مکتبونو هم لنډه رڼا واچوو.

(۱) تر اسلام وړاندې دوره چې پریږدو، په اسلامي دوره کې یو عام روایت دادی، چې د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې د ده وزیر (احمد بن) حسن میوندي (د ٤٢٤ هـ ق/ ۱۰۳۳ ع مړ) قاضي سیف الله وګماره، چې د پښتو ژبې الفبې جوړه کړي.

نوموړي قاضي د عربي، پارسي، پنجابي او سندهي ژبو د الفباو په مرسته د پښتو ژبې د غږونو له پاره توري وټاکل او په دې توګه لومړی وار د پښتو الفبې لاس ته راغله. خو الله بخش یوسفي بیا دا کار د پښتو په لیکدود کې سمون بولي، نه ایجاد چې دا روایت سم بریښي ځکه چې تر دې وړاندې د امیر کروړ، ابو محمد هاشم سرواني

او نورو ليکونه شوي وو، چې د پټې خزانې مؤلف ته رارسيدلي دي، له موږ سره د ميوندي دوخت د ليکدود هيڅ نمونه نشته، او دا روايت تش د روايت په توګه راپاتې دي.

(۲) د پښتو ليکدود لومړني مکتب د بايزيد روښان له خوا د جوړ شوي ليکدود مکتب دی چې د پښتو لومړنۍ ترلاسه شوې خطي نسخې خيرالبيان موږ ته رارسولي دي.

د خيرالبيان دا نسخه په ۱۰۶۱ هـ ق / ۱۶۴۳ ع کال د بايزيد روښان مريد فقير د بهارتوي خطاطي کړې او په لومړيو څوارلسو مخونو کې يې د روښاني ليکدود رساله راغلې ده.

بايزيد د دې ليکدود وضع الهامي بولي. خو لوی علمي کار يې دا کړی چې د هر غږ د توري له پاره يې يوه علامه کارولې ده. او توري يې له توري سره نه دي مل کړي او هم يې د پښتو ليکلو رسم الخط نستعليق ټاکلی دی. (وګورئ لومړی ضميمه جدول).

(۳) ترده راوروسته د ليکدود دوهم مکتب دا خوند درويزه مکتب دی او لکه څنګه يې چې دده د نثر د سبک پيروي کړې ده. همداسې يې دده غوندې پښتو ته يو ليکدود هم جوړ کړی، او د پښتو ليکلو له پاره يې د نسخ خط غوره کړی دی. (وګورئ دوهم ضميمه جدول).

(٤) د پښتو ليکدود دريم زوړ مکتب د خوشحال خان ختک دی. دده لکه څنګه چې د روښان او درويزه له ليکنو ستر ګه نه ږکيده، همداسې د دوی ليکدود و نه هم ورته بې ارزښته وو. نو ځکه يې د پښتو ليکدود زنځيري مکتب رامنځ ته کړ او په يوه قطعه کې يې

وويل:

کـــه د نظم کــــه د نثــــر کـــــه د خط دی
په پښتـــــو ژبه مـــې حق دی بې حـــســـابه
نه پـخـــوا پکښـــې کـــتــــاب وه نه یې خط وه
دادی مـــا پکښـــې تصنیف کـړل ځـــو کـــتــابه

دې لیکدود هم دده په کورنۍ کې تر سلو کلونو عمر وکړ او دده هم د پښتو لیکدود له پاره نستعلیق لیک غوره کړ ( وګورئ دریمه ضمیمه جدول) .

( ٥ ) په معاصر تاریخ کې وزیر محمد گل خان مومند چې د پښتو په بیا احیاء او رسمي کولو کې یې درونـد لاس وه ، ځان ته دا حق ورکړ چې د پښتو دلغت او ژبدود دلیکلو ترڅنګ ، د پښتو نوی لیکدود هم جوړ کړی . او هیله یې وه چې دا لیکدود پښتانه ومني او دود یې کړی ، خو دده له ټول رسمي اداری ، سیاسی او ادبي قوت او منلتوب سره سره دالیک دود نه شو او د عبدالعظیم ساپی په نامه یې یوازیني پیرو پیداکړ ، چې دده لیکدود یې وپاله ، (وګورئ څلورمه ضمیمه جدول) .

(٦) تر ده وروسته د پښتنو یوه بل سیاسي او ادبي شخصیت اروابناد خان عبدالصمد خان شهید هم وغوښتل چې د پښتنو له پاره یو نوی لیکدود جوړ کړی او له خپل ملي او سیاسي نفوذ نه په استفادې سره یې په پښتنو کې دود کړی ، خو دده لیکدود هم یوازې دده یوه پیرو محمد اکبر اڅکزی وپاله او په نورو پښتنو کې یې نفوذ ونکړ ، ( وګورئ پنځمه ضمیمه جدول) .

(۷) په اوس وخت کې د پښتو نامتو شاعر او ليکوال قلندر مومند هم هڅه وکړه چې په خپل نام ليکدود جوړ کړی او په پښتنو کې يې دود کړی، خو دا هم ونه منل شو.

او پيروان يې تر يو دوو تنو نه اوړی. او ورسره دا هم د يادولو وړ ده چې بايزيد روښان، اخوند درويزه، خان خوشحال خان ختک، محمد گل خان مومند او خان عبدالصمد خان اڅکزی ټولو دخپل ليکدود دپاره خپلې خپلې نخښې جوړې کړې وې، خو د ښاغلی قلندر مومند له خوا په رامينځ ته شوی ليکدود کې دا نوښت نشته او ټولې نخښې يې له بيابيلو ليکدودی مکتبونو نه اخستې او په حقيقی معنی قلندرانه ليکدود دی، چې هم دقلندرانو د کچکول غوندې دهر کور پخه کړې ډوډۍ پکښې راټوله شوې ده.

له هم دې امله کوم ليکدود چې ځينې کسان يې قلندری ليکدود بولی دليک دود د مکتب په توگه نشی پيژندل کيدلی او يوازې يوه هڅه يې بللی شو. (وگورئ شپږم ضميمه جدول).

دا هم د يادولو ده چې په بنيادی توگه د پښتو ليکدود دود شوی مکتب چې په ټوله پښتونخوا کې خور شو هم هغه د اخوند درويزه له خوا رامنځ ته کړی مکتب وه چې تر اوسه دوام لری.

البته ډيرې لږې لاسوهنې او بدلونې پکښې شوې او اساسات يې په ځای پاتې شوی دی.

تر دې تشريحاتو وروسته داروا ښاد محمد گل خان مومند له خوا درامينځ ته کړی ليکدود په تيوری چې به پخپله يې روښانه کړې، غږيږو:

دی عقیده لری چې یو سړی په یوه داسې لیکدود کې چې د ټولو پښتنو له خوا منل شوی وی او نن ورځ هم مروج وی حق نه لری چې گوتې ووهی. اما که چیرې د غسې یو اصلاحات چې دلیک دډول اساس ته ضرر ونه رسوی او دلیک او لوست د پاره آسانتیا راولی او پښتانه یې ومنی ، نابوده به هم نه وی.

په هم دې بنا نوموړی اروابناد چې د « ټ » له پاره کومه بڼه « ت » ټاکلې دلیل یې دادی چې په مروجه « ټ » کې دیوه توری له پاره دوې نخښې شوی چې پاس دده ټکی او ترې لاندې غړوندی دی ، نو ده ددې د پاره چې دا یوه نخښه شی ، دلاندې نیمه کړی بره خېژولې اودوه ټکی یې د نیمې بلې کړی په توگه ورسره یو ځای کړی او یوه توری ته یې یوه نخښه ترې جوړه کړې ده.

او هم وایی چې « ټ » د کلمې په مینځ کې له میم سره التباس پیدا کوی ، چې په نوی ډول لیکلو سره دا التباس هم له مینځه ځی.

د « ځ » د توری په باب لیکی چې ځینې دوه لاندې باندې ټکی ورکوی. او ځینې بیا د « ح » په سر همزه لیکی ، نو وروستی شکل چې ومنل شی ښه به شی.

د مومند بابا په دې لیکنه کې دا هم شته چې د مهموزې « ځې » شکل له پخوا نه راروان دی او ده یوازې ترجیح ورکړې ، چې دا دځینې کسانو دا دعوی چې دا شکل مومند بابا ایجاد کړی په خپله ردوی.

د « ډ » په برخه کې چې د عربی تړینی « د » ورته خوښوی. دا دلیل راوړی چې په دې توگه دال او ډال په شکل کې سره بیلیږی او دغړوندی یا کړی دلگولو تکلیف له منځه ځی او داشتباهاتو مخ

نیوی هم کیږی همدارازد «ړ» لپاره دعربی تزینی «ر» کارول هم په همدې منطق ښه بولی.

«گ» په کش ددې له پاره لیکی چې له فارسی گاف سره په تلفظ کې بیلوالې نه لری، په څلور ډوله ځکه ویشلی دی چې ښې سره وپیژندلې شی او یوه دبلې په شان تلفظ نه شی.

او هم په پای کې نظر ورکوی چې پښتو دنسخ په ځای نستعلیق لیک ولیکله شی.

دی وایی چې دد پښتو د لیکدودچه اړه ماخپل ملاحظات څو کاله مخکښې ډیرو پښتنو ورونو ته اظهار کړی. او لکه کندهاریانو ورونو ډیرو هم تر یوې درجې منلی، خو بیا هم وړ دی چې درست پښتانه یکښې غور او یوه پریکړه وکړی.

په دې توگه ده سره له دې چې خپل جوړ کړی لیکدود په پاخه منطق بنا کړی وه، خو بیا هم دفکری استبداد پلوی نه وه، هم یې قبلاً له ډیرو کسانو سره مصلحت پرې کړې وه.

او هم یې غوښتل چې دپوهانو یوه ډله غور پرې وکړی او بیا یې ومنی. که څه هم دارواښاد مومند بابا جوړ شوی لیکدود لکه چې ومو ویل دود نه شو، خو ده د پښتو دخدمت په لاره کې په دې برخه کې هم گام کښیښود.

له پښتو سره یې دخپلې ژورې مینې څرگندویی وکړه او خپله دا دعوی یې رښتیا کړه:

پښتو گرمه پښتو وایمه زه تل
ده لالی زما پښتو نه لرم بل

سر او مال مې دواړه جار دي تر پښتو
ژوند او مړینه مې نثار دي تر پښتو

مننه!

لومړی جدول:
دروښان لیکدود:

| | |
|---|---|
| پ | د . = ډ، ړ = ژ |
| ټ | ړ |
| ځ | ښ |
| څ | ڼ |
| ډ | ک ګ |
| د = ځ | (لیکدول: نستعلیق) |

دوهم جدول:    ژ=ړ
ددرویزه لیکدود:    ش= ښ

| | |
|---|---|
| پ | ط–ط=ټ ک =ګ |
| ټ | ن=ڼ |
| ځ | ئ |
| څ =ځ | لیکدول: نستعلیق) |
| څ | |
| ډ | |
| ړ | څلورم جدول: |

| | |
|---|---|
| ژ | دمحمد گل خان ليکدود : |
| ږ | پ |
| ښ | ت= ټ، چ |
| ک= گ | ځ |
| (ليکدود :نسخ) | څ |
| | د=ډ |
| دريم جدول: | ر=ړ |
| دخوشحال خان ليکدود : | ژ،ږ ، ښ |
| پ، چ | گ=ک |
| ح=ځ | نر=ڼ |
| ح=څ | ی، یه=ې |
| ډ=ډ | ی=ی |
| | ئ |
| ژ=ړ ، ژ | (ليکدول:نستعليق) |
| پنځم جدول | دقلندر مومند هڅه: |
| داودل سمد خان ليکدول: | ې، په دکابل دليکدود څخه |
| | ڼ |
| ت=ټ | ے |
| ځ، څ، ډ، ړ، ژ | ئ د پيښور دليکدود |

| | | |
|---|---|---|
| ر = ړ | ګ | څخه |
| س = ښ | ه | دخان سمدخان |
| | = | له لیکدول څخه |
| ن = ڼ | ۀ | دزور په ځای د<br>زورکی له پاره |
| و = معروف واو | و | معدوله، مجهوله او |
| و = مجهول واو | | حتی معروف بې قانونه |
| ے = ې، ے | | غورځول شوی. |
| ی = ې، ئ | | |
| (لیکدول نسخ) | | (لیکډول: نسخ) |

—————*****—————

# یکی از خاطرات محمد رسول پشتون

## محبس سپوټ

مرا به محبس سپوټ آوردند ، در اینجا نیز مدت شش ماه در یک خانه سیاه و تاریک و نمناک گذرانیدم، راه اطاق من در خانهٔ مجاور آن بوده و آنجا هفت نفر سپاهی جا داشت که ۲٤ ساعت غزل میخواندند و مستی میکردند.

بهمین سبب تا که به قال مقال آنها عادت میکردم ، خواب مرا نمیبُرد ، شبانه بهمان ترتیبی که در محبس عمومی بود ، سپاهیان گزمه و پهره بدلی مرا بیدار کرده یکی بدیگری تسلیم می دادند.

یک اطاق پست و بسیار تاریک و خیلی نمناک را داده بود که هر قدر عمری که بوقت زمستان در آن آتش افروخته شده بود ، باز کسی لایُ گل بر روی آن نزده بود.

سپوټ گرچه در وسط شهرست ،لیکن آب جاری مستدام نداشت. در بین آن مانند محبس عمومی سماوار چای و یا کدام دکان نبوده همه چیز از بازار خریداری میشد و بهمین سبب برای هرچیزیکه ضرورت میشد ، محتاج سپاهی شده ، به او عذر میکردم تا آن را از بازار بیاورد. سپوت درینوقت ذریعهٔ یکنفر مامور بنام قره قُل و یکنفر کاتب او اداره میگردید. مأمور قره قل یک میرزای سفله و بی سواد و منتها طامع و رذیل بود ، او در هر روز یکمراتبه نزد من آمده وبعد از دیدن من یک راپور مفصل دروغی را ساخته، بحکومت میداد و تصور میکرد بهترین موقع ترفیع و اظهار حُسن خدمتش بحکومت همین است که از ناحیه یک محبوس سیاسی نصیب وی

شده و درینباره هرچه بگوید و هر چه بنویسد قابل تردید نبوده ، به اعمال نیکش محسوب می شود ، لهذا تا که می توانست در حق من دروغ گفت و چنانچه بعد ها معلوم شد ، راپور های عجیب و غریبی را بسلسله قوماندانی بمرکز فرستاده بود .

تابستان بهمین گونه سپری شده ، زمستان خانه هایی که ده ساله کاه گل نشده بود ، چکک شروع کرده ، چون خانه ها سیاه بودند ، طبعاً آب زرد و چرکین شده ، بهر چیزیکه میرسید ، آن را لکه دار میساخت و از زیر چکک بام جای آن نبود که انسان خواب شود ویا کالا بگذارد ازین سبب فرش خانه را جمع کردم ، متن خانه هر روز آب پاشی بوده و یا آب میان آن می ایستاد که هیچ خشک نمیشد .

بالاخره در ایام زمستان آنقدر موش پیدا شد که اکثر کالای پوشاکه راسوراخ کرده و هر چیز خوردنی بوی موش میداد .

ناگفته نماند که در ماه جوزای همان سال یعنی قبل از حلول زمستان ، ماه روزه وایام عیدین و رخصتی ها بوده ، معلوم نشد آن را چطور گذرانیدم ؟ قبلاً گفته شد که شهر بغلان عبارت از چند دکان بسیار محدود و اهالی شهر روی همرفته با مامورین وغیره بیش ازدوصد خانه نمیباشد ، چون بازار تُرکستان در هفته یکمراتبه و یا دو مراتبه میباشد ، اگر کسی ضروریات خویش رابه روز بازار تکمیل ننماید ، به دیگر روز ها مجبوراست عین همان چیز ها را بقیمت مضاعف از دکاندار ها خریداری نمایند در روزهای جشن وعید دکانداران کوچیده ، به منطقه عید و جشن می روند .

در همچو روزها درشهری بمثل بغلان حتی نان خشک پیدا

نمیشود ، متأسفانه محبوسین بیچاره که طبعاً وسایل تهیه آذوقه را نداشتند ، لابُد بهمان روز هاییکه مردم به سرور عید و جشن مصروف میبودند ، ما بهمان روزها گرسنه مانده ، نان نمی یافتیم ، از بیرون هم برای من پای واز ممنوع بود ودر درون سپوټ نیز اگر یکنفر محبوس میخواست ما را ببیند ، به بسیار زحمت (کناراب« تشناب » را بهانه کرده ) مرا برای دو قیقه دیده میتوانست ، ازین سبب درماه رمضان که تکلیف روزانه به شب انتقال یافت ، زحمت من دوچند شده ، حیران ماندم که حالا چه باید بکُنم ؟

به مامور قره قل گفتم: تا کنون بهر قسم بود ، گذرانیدم ، چون من از خود دیگ و کاسه ندارم که ذریعۀ آن گذاره کنم ، لذا اجازه بدهید که با محبوسین دیگر ، اندیوال شده و ماه رمضان را بگذرانم.

نامبرده اجازه داده و آنگه با یک آدم لنگ و یکنفر فرغانه چی که قاری قرآن و نسبتاً آدم سپید پوش بود ، از طرف شب طرح شراکت انداختم ، هنوز دو روز نگذشته بود ه قاری مذکور از دست مامور قره قُل بعذاب شده ، هر روز او را به آفتاب گرم ایستاده کرده و یا ذریعۀ او کارهای ثقیل و آب کشی را مینمود و چون نامبرده یک آدم مُعزز و ریش سفید بود ، اینچنین کار ها در حق او مورد نداشت ، لذا کسی را گفتم که از مامور قره قل پرسان نماید که چرا مومی الیه را بی موجب اذیت میدهد ؟

در جواب گفته بود که اینکار را به این سبب میکنم که او چرا با پشتون اندیوالی میکند ؟

با استماع این سخن بی اختیار عصبی شده و این اول بار است

که بعد از چند ماه صبر وسکوت با مامور قره قل گفتگو مینمایم و ازاو سوال میکنم که چرا بمن اجازه میدهید که اندیوالی بکنید و از جانب دیگر اندیوال های مرا اذیت میکنید که اندیوالی ننمایید ؟

نامبرده در جواب میگوید: اینکار را به این سبب میکنم اگر کسی ترا زهر دهد ، مسؤولیت آن بمن راجع می شود ، ازینرو حق دارم محبوسین را منع کنم با تو اندیوالی ننمایند ، اینوقت دهن من باز شده تا توانستم باو کلمات رکیک و ناسزا را گفتم ، نامبرده در مقابل من آنقدر ترسید که هیچ گفته نتوانست و نه باز درون سپوت آمد ، ولی چون در هفته یک و یا دو مراتبه ملازم شخصی من که در بیرون سپوت بود ، برای دودقیقه آمده ، خبر مرا میگرفت ، بعد ازین به کُلی او را منع کرده و درحالیکه اندیوالان من هم ترسیده با من قطع علاقه نمودند .

اینوقت چاره حصر شده بی اختیار دعای بد را درحق مامور نمودم و در موقع دعا چنانکه یک کار شدنی را انسان کنترول میکند که از دایرۀ عدالت خارج نشود ، احتیاط را بکار بُرده مثلیکه یقین داشتم دعای من قبول می شود کلمات شمرده و محدودی را گفتم و در همان شب خواب دیدم که به دهن یک سگ دست انداخته پوست روی سگ را میکشم و از ویک لوحۀ عبرت را میسازم .

صبح از خواب بیدار شده ، بمجردیکه به بیرون برآمدم ، اندیوال لنگ سابقۀ من ما را دیده و بلافاصله خود را بمن رسانید و عین خواب فوق را او هم دیده بود ، منتها با این تفصیل که بمن گفت : توسگ را بنان میزنی ، پوست روی سگ چپه شده ، به مصیبت

گرفتار میشود.

گفتم: صادق هستید نان(دعای بداست) که ذریعهٔ آن سگ را زده ام، دیده شود که چه نتیجه میدهد.

دوشب بعد عمل ۸ بجه بود که محمد اسماعیل خان نایب الحکومه به سپوت آمده بعلتی امر نمود که مامور قره قل را در خانه شخصی او دست ها بسته کرده و بعد از لت وکوب زیاد او را به ژاندارمه میسپارد که در آنجا کوته قُلف نماید و یکنفر کاتب را بدرخت بسته کرده، از کار موقوف میکند و به کارهای شان تفتیش مقرر کرده و ازین به بعد وضعیت شکل بهتر تری را بخود میگیردو اطاق مرا به اطاق دیگری تبدیل می نماید که از خود دروازه داشته، تاریک مطلق نمیباشد.

حالا پس بروم به اول کلام یعنی زحمت زمستان را تیر کرده، به بهار سال ۱۳۳۲ (۱۹۵۳ وقت صدارت شاه محمود خان) بر آمدم، از تحایف این فصل سال چنانچه در زمستان موش بسیار بود، دربهار سال عقرب (گژدُم) و غُندل از سقف خانه ویرانه بر آمده و هر شب بالای بستر من می افتاد بلکه دو روز مار از بیرون آمده، درون خانه آن را کُشتم، واقعاً چنانچه گفته اند، زندان به جهنم شباهت دارد.

مار و گژدم هم باید در آن باشد، گزاف نگفته است، بهر حال وضعیت من در سپوت بهتر شده رفت و این بهتری در اثر آن نبود که عنایت خاصی بمن عنان تافته بود، بلکه قاعده است اوامریکه بی اراده و یا لزوماً صادر میشوند، همانطور بی اراده از میان رفته، بر شدت اولیه باقی نمی ماند، اطاق من نسبتاً به اطاق روشن تری

تبدیل شده و محبوسین آهسته آهسته مجاز شده رفتند که با من حرف بزنند مگر اینوقت یک فشار روحی دیگری بمن متوجه شد که اکثر مظالم مامورین را از نزدیک میدیدم ، اشخاص برهنه و فقیر را به شبهای سرد زمستان زنجیر پیچ آورده ، در خانه های بی فرش و بی دروازه انداخته میشدند در حالیکه جُرم آنها بیش از این نبود که تذکره را با خود نگرفته و یا اصلاً نداشته اند و یا غیر حاضر عسکری بودند که قرعهٔ شان در عسکری بر آمده ، مجلای بیکسی کرده ، ارباب و مامورینٔ مجلای شان را به مرجعش نسپرده و یا ارباب از کسی ناراض شده ، بجُرم ناحق او را محکوم نموده ، به محبس می آمدند. حتی یک جمله اشخاصی بودند که از محالات مرافعه طلب به مرکزی می آمدند و درینجا به شعبهٔ جزای قوماندانی پول میدادند که آنها را تا ختم فیصلهٔ مرافعه در سپوٴت که نسبتاً تکالیف اینجا کمتر می باشند جای بدهند و یک دخمهٔ منحوس را در قبرستان سپوت بقیمت میخرید که تا ختم کار مرافعه درینجا بماند تا به محکمه نزدیک باشند.

اوراق اینچنین شخص را به محکمهٔ مرافعه فرستاده ، چون در محکمه هم شخص محکوم پول دادن داشت، هرگاه در محکمه نمیتوانست که در پولدادن با قاضی جور بیاید آنگه محکمهٔ مرافعه فیصله محکوم را معطل کرده ، چون یکی دو ماه میگذشت ، محکوم بیچاره مفلس شده ، در حالیکه پول نداشت همه روزه دائیه او گلکاری میکرد و یا زمستان می آمد از بیجایی و خُنک به تنگ می آمد اینوقت شعبهٔ جزا موقع را مغتنم شمرده و به محکوم میگفت که

از وطن پول بخواهد ورنه وقت شما اضافه بر توقع درسپوت گذشته ،کار تو از محکمه خلاص نشد، ترا به محبس میفرستم.

محکوم بیچاره وارخطا شده ،دختر خرد را در وطن میفروخت وپول تهیه می کرد و یا منتهی خرج شبا روزی اگر می داشت ، آن را به میرزا تحویل داده، خود او گرسنه میماندواز ماگدایی مینمود .

در فقراتی که محل واقعهٔ آن بغلان بوده و محتاج تحقیقات ابتدایی میشد، در اینچنین فقرات غالباً اشخاص گنهکار پول داده، اصلاً آنها را به صحنه حاضر نمیکردند و به عوض آنها اشخاص بیگناه را بهر تهمت احتمالی گرفتار کرده ،صحنه را به مسابقه میگذاشت تا رفته رفته اشخاص پولدار از بین رفته وجُرم به اشخاص تکیه میکرد که اصلاً گنهکار نبوده است و تا که یک مرغ و چند دانه تخم درخانهٔ شان موجود میشد و بیچاره را از آن فارغ نمیساخت ، ازاو کار گلکاری را میگرفت و در مدت ۷ ماه و ۸ ماه هنوز تحقیقات ابتدایی او تکمیل نمیشد.

حینیکه تحقیقات او را می ساخت، آنگه تادر شعبهٔ جزا حق رسی نمیشد ، یعنی رشوت داده نمیشد، تحقیقات مذکور به محکمه نمیرفت. در محکمه نیز قاضی و مفتی های آدمخوار نشسته ، کباب را بی تُرشی نمیخوردند .

الغرض اگر به قُضات مذکور پول نمیرسید، به محکوم قسم داده و آنگه مُدعی را وادار میساخت تا یکی دونفر دهقان خود را آورده ، به نسبت محکوم اخبار میدادند که شنیده ام محکوم شخص بی نمازاست ، به جماعت حاضر نمیشود و یا شنیده ام که او دزدی

کرده است. قاضی به موجب اخبار آنها فیصله صادر نموده، مظنون را به چهار و پنجسال حبس محکوم می نمود.

مظنون چون ناحق به مرگ رفته بود، مرافعه طلب شده، اگر پول میداشت، به سپوت میآمد و اگر مسکین بود، به محبس عمومی رفته، از حق مرافعه خواهی بی نصیب میگردید.

برای اعتراض نویسی مرافعه خواهی در تمام مرکز ولایت یک نفر محرّر محکمه مرافعه می باشد که او هم شریک قاضی و مفتی ها بوده، یک سواد خوان محض و بی علم میباشد، لیکن بعضی کلمات مکرر و معهود را یاد گرفته، یک ورق اعتراض بی معنی را می نویسد و در مقابل آن سه الی شش صد افغانی اجوره میگیرد و آنگه اعتراض مذکور به سلسله جزا به محکمه مرافعه میفرستد.

بسیار دیده می شود که مامور امنیه آدم را بزور لت و کوب بجُرم قتل و سرقت اقرار کرده و محکمه او را به ده سال حبس محکوم نموده، بعد از مرور دوسال، اصل مقتول زنده پیدا شده ویا مال مسروقه از دیگر جا بدست آمده است و فاعل قتل و سرقه کسی دیگر بوده است.

درینباره تألیف ایام محبس آقای علی دشتی (نویسندهٔ مقتدر ایرانی) بهترین شاهکار ادبی است که اوضاع محبوسین مظلوم را در دخمه تنگ و تاریک زندان به واقعی ترین پیرایه ادبی در آورده که ملاحظه آن برای اطلاع یافتن برحال این کتله زنده در گور کفایت میکند. او میگوید: «در محبس ما چیزهایی را تماشا میکنم که شاید هیچ صحنهٔ تراژیدی نمیتوانست بما نشان بدهد، در اینجا است

که امواج عاطفه انسانیت به صخره های سرد و جامد وظیفه شناسی خورده ، مأیوسانه به اقیانوس درد و الم بشری عودت میکند » .

واقعاً دیدن ظلم و فجایع عاطفه انسانیت را تحریک کرده و چون نمیتواند از پنجره های آهنین محبس گذشته وظیفهٔ بشریت را به امداد یک مظلوم های آهنین محبس گذشته وظیفهٔ بشریت را به امداد یک مظلوم بیچاره بگمارد لا بُد همچو امواج بحر از ساحل مأیوسی پس گشته در خود اوقیانوس با ضجه های المناک وشدت هر چه تمامتر ، محو و نابود می شود .

بهمین سبب بود از آن وقت به بعد که من با محبوسین اختلاط یافتم ، بی اختیار به کمک شان می شتافتم ، کمک من با آنها حتی-الامکان عبارت ازین بود که عرایض آنها را بمقامات صالحه و اعتراضات اوشان را به محکمهٔ مرافعه می نوشتم.

محبوسینی که در ایام برف و زمستان زنجیر اسپ و شتر را به گردن انداخته ، پاپوش و لباس پوشیدنی شان را محافظین در راه گرفته ، پای لوچ و عُریان می آوردند. زخمهای آنها را تینچر میزدم تا که می توانستم آنها را گرم کرده یا لباس کهنه میدادم واگر مریض بود ، دوا میدادم ، اما چون اینقسم کار های من با اجرا آت مأمورین برخورده و یا خوش نبودند که در بین خفگان یکنفر بیدار بوده ، دیگران را هم بیدار بسازند ، لذا دزدان وظیفه دار یکسره برعلیه من کمر عداوت بسته ، عقب من پروپاگند شروع نمودند ، ولی چون محبوسین وسپاهیان قشله بمن عقیدهٔ خوبی پیدا کرده بودند .

پروپاگند های مذکور طوریکه لازم است ، مؤثر نمی افتاد و در

اواخر سال ۱۳۳۲ حکومت فی روز ۱۳ افغانی جیره بمن مقرر کرده ، وضعیت اقتصادی من نیز نسبت به سابق بهتر گردید.

اما از دوچیز همیشه شکایت داشته ، یکی تنهایی ، دوم بی خوابی در شب و منتها آرزوی من این بود که شبی باشد که به هیاهوی پهره داران و گزمه خبر نشده و تا صبح استراحت نمایم. »

غُبار دحزب منشي لومړی عبدالرؤف خان بینوا او بیا عبدالرزاق فراهي ښیي ، که د « منشي » کلمه دنن ورځ دادبیاتو مطابق د « مشر » او « لیډر » په مفهوم وي ، دا خبره سمه نه ده. په دې باب دا لاندې دوه سندونه وگورئ ، ( که څه هم ځینې نیمگړتیاوې لري ) .

په شوروی اتحاد کې لیکل شوی کتاب

A56

A HISTORY OF AFGHANISTAN Progress Publisure. bined with economic, and latitical pressure by the USA, complicated the situation still further. In 1946 the government of Muhammad Hashim Khan resgned. The new cabinet was headed by Shah Mahmud Khan, the king's another uncle. The widening rift between the bourgeoisie and the landowners, on the one hand, and the small producers in town and country, on the other, gave rise to oppositional sentiments, which found expression in various political movements and groups defending the interests of the broad middle sections of the urban, population, and to some extenf of the poor sections.

The principal demands pur torward by these movements included abolition of economic privleges for larg monopoly trading associations, democratisation of socio-political life, adoption of a new constitution. and better opportunities for the petty and middle bourgeoisie.
The strate of society led to the formation of the political organisation Wikh-i Zalmaiyan (Awakened Youth). Its socially variegated membership diu not exceed 100. It included people from among the petty bourgeoisie, clerks, intellectuals and Muslim clergy. The orgaanisation was headed by Muhammad Rasul Khan Pushtun, a small landowner from Qandahar. Among the mostiactive members of the movement were, Nur Muhammad Taraki, whe headed its radical left wing, Abdurrauf Benawa, Abdulhai Habibi and Gul Pacha Ulfat. at the initial stage its members were engaged mainly in educational activities, but in the late 1940s they joined the political struggle and took part in the 1949 parliamentary eletions. As a result, in the National Assembly of the seventh convocation there appeared a group of deputies whose activities were based on the ideas of the Awakened Youth. They used parliament as a platform from which to fight for their demands, and as the same time, they sought to tum the National Assembly into an effective organ of power which would regulate the work of the state apparatus.
Radical circles demanded freedom of the press ni order to propagate the ideas of the opposition . In January 1951, the government adopted a new law on the press, allowing the poblication of private newspapers and magazines. Immediately followнig the promulgation of the....

## حلقات سیاسی در افغانستان

ج: در قندهار و بسر سلسله گی محمد رسول پشتون:

گروه ویش زلمیان (ویش ځلمیان) این گروه که بگفتهٔ عبدالعزیز خان مرحوم مشهور به « بابهٔ مطبوعات » مؤسس آن مولوی محمد سرور خان قندهاری بوده است. (۱) درسال های اخیر حکومت ظاهر شاه ،صدارت محمد هاشم خان ، ذریعهٔ محمد رسول خان پشتون احیا ، گردید.

یعنی بعد از آنکه مولوی محمد سرور خان با مشروطه خواهان دورهٔ اول از طرف امیر حبیب الله اعدام شد ، آنچه را میخواست تشکیل دهد قبل از صورت بستن فروریخته بود ، روی بقایای آن محمد رسول پشتون دست بکار شد .

محمد رسول پشتون جوان آزادی خواه ترقی طلب بوده و در این راه یعنی احیای مجدد ویش زلمیان کمر همت بسته بود .

بدور از این شخصیت ، اشخاصی مانند حاجی محمد سرور اچکزی معاون شرکت پشتون قندهار ، حاجی محمد انور لودین رئیس شرکت ، قاضی بهرام ، عبدالهادی هادی پسر حضرت ده خواجه ، صوفی ولی محمد ، حاجی محمد یوسف رئیس شرکت وطن ، برادر زادهٔ او حاجی محمد عیسی ، حاجی محمد نعیم ایوب فیض محمد انگار ، ملا جانان شاعر و نور محمد تره کی ، عده یی از مقیمان کابل مثل محمد حسن صافی ، بینوا و دیگران در این سلسله حلقه بند بودند .

واما نور محمدتره کی:

او یکی از نوجوانان آن وقت بود که محمد رسول پشتون او را کشف نموده و استعداد وی را سراغ کرده بود. محمد رسول پشتون از صلاحیت داران شرکت صادراتی پشم بوده، در خریداری پشم برای شرکت معتمد بود.

دریکی از همین خریداریها در اطراف غزنی، مُقر و قلات با نور محمد تره کی که پسر غریبی بود، برخورده، او را با خود گرفت.

وقتیکه در کراچی نمایندهٔ فروش پشم و میوه بود، تره کی باوی بود، بهمت وی در آنجا زمینهٔ تحصیل برایش مهیا شد و زبان انگلیسی را فرا گرفت.

کار ویش زلمیان آهسته آهسته نضج میگرفت، اما حکومت وقت شاه محمود صدراعظم به آنها مجال نداده، همه را باوجود اعلان دیموکراسی، به زندان کشیدند.

ملا بهرام «قاضی» از زندان برآمد، ولی از درد های عایدهٔ حالش از زندان، جان بسلامت نبُرد.

محمد رسول پشتون در آغاز گیر و گرفت به صفت مدیر نمایندگی بغلان شرکت قند وشکر تعیین و در همانجا زندانی وبعد از هشت سال زندان مشقت در بغلان با غل و زنجیر وفات یافت. ۲-۳

باقی اعضای ویش زلمیان در خفا میزیستند. بعضی با تظاهر و سازش به حکومت وقت و بعضی به اشتغال به تجارت و غیره زنده و مُرده، هستند و یا رفته اند، یادشان بخیر.

دغه جملې تصحیح ته اړتیا لري:

۱ - مولوی محمد سرور خان اصلاً د وینښو ځلمو نوم هم اورېدلې نه ؤ او نه دده په وخت کې دغه جریان موجود و. مرحوم محمد سرور خان دلومړی مشروطې علمبردارانو څخه و. دادوره تر ۱۳۲۷ قمری پورې خاتمه مومی؛ خو محمد رسول پشتون په دریمه مشروطه اړه لري.

۲ - محمد رسول خان پشتون ۸ کاله بندی شوی نه دی، بلکې تقریباً ۱۲ کاله بندی ؤ.

۳ - محمد رسول پشتون په زندان کې وفات شوی نه دی، بلکې دجدی په لسمه نیټه ۱۳٤۲ خلاص شو، (۱۳۳۱ ش دحمل په ۲۸ مه بندی شوی دی). دی د ۱۳٦۱ ش دسرطان په ۱۳ مه وفات شو، (یعنې تقریباً ۲۰ کاله لا ژوندی ؤ).

## الف

## آغاز تحریک

حزب ویش ځلمیان و تحریک آن چنانچه در بین ۱۳۲٤ و ۱۳۳۰ هـ ش مطابق سالهای (۱۹٤۵ - ۱۹۵۱ م) نام آن زبان زد مردم شده، احزاب دیگر در مرکز (حزب وطن و حزب نوده) نیز بعد از یکی دو سال به فاصلهٔ کم و بیش در همین خالیگاه عرض وجود کرده اند یا بدیگر الفاظ، ظهور احزاب بادورهٔ صدارت شاه محمود خان صدراعظم بمیان آمده و با انتهای دورهٔ مذکور ذریعهٔ مومی الیه برانداخته شده اند.

اینکه هرچیز تخم دارد و تخم احزاب مذکور از کدام تاریخ بوجود آمده خواهد بود ؟ این خاطرات البته نزد هر حزب منشأ جداگانه دارد .من تنها از همان مبادی بحث خواهم کرد که در نزد خود ما بوده و تخم آن بدست خود ما پاشیده شده است.

مفکورهٔ حزبی هرچند که در ولایت کابل ( که مرکز مملکت است ) از زمان امیر حبیب الله خان شهید شاید در آنجا نزد بعضی اشخاص بوده است، اما در ولایت قندهار که نسبت به کابل تاهمین سالها هم حُکم قریه و ده را دارد ، برای اول بار در اواسط دورهٔ شاهی امان الله خان توأم نهضت معارف یکجا در قندهار شنیده شده و گفته میتوانم که مفکورهٔ مذکور برای اول بار نزد خود ما ضبط شده است ، هرچند که بمعنی اصلی آن شاید تا امروز هم درست مواجه نشده ایم ولیکن زمینهٔ آن مثلیکه قضا و قدر قبل ازوقت تهیه دیده و بطوریکه در راه یک آیدهٔ مطلوب مان منتظر بوده باشیم، بمجرد یکه نام این مفکوره را اصغا نمودیم ، بدون اینکه دیگر در اطرافش تأمل نماییم ، شیفتهٔ جمالش گردیده واز همان وهلهٔ اول آن را هدف زندگی خویش قرار دادیم. آنوقت عده ای رفقای ما بیش از چهار نفر نبوده ولی شخصیکه بیشتر درین فکر با من همراز بود محمد کریم خان (محمد کریم قوم اسحق زی پسر عبدالحمید اخند قندهاری است) نام داشت که در همانوقت در مکتب ابتدائی و رشدیه معلم و پسانتر در مدیریت معارف ولایت معاون شده و وفات نمود .

ما باربار با هم مشوره میکردیم که معلمین وجوانان نسبتاً دانستهٔ شهری را با خود همفکر ساخته و عجالتاً یک انجمن را بنام

بازی و تفریح بمیان بیاوریم و بعد ها رفته رفته در اثر تعامل با همی شکل یک مؤسسه عملی واجتماعی را بخود گرفته و به وحدت فکر وعمل مخصوصاً در تربیهٔ اخلاق ونظام حقوقی خدمت کرده باشد.

اما این فکر ما آنقدر شاذ و نا مأنوس بود که به ویژه با عدم توانایی و فقدان پول وهم وسایل دیگر ، یک امر محال بنظر می آمد ولی ما از کوشش دست نمی کشیدیم تا که در سال اول حکومت سقوی یعنی بتاریخ (۱۳۰۷ هـ ش = ۱۹۲۸ م) که شهر قندهار در دست بچهٔ سقاو در آمد ، متأسفانه رفیق عزیز من فوت گردیده و من تنها ماندم ، اما چون همین وقت بعضی معلمین هندی در قندهار پیدا شده و وضعیت متعلمین و معلمین معارف فی الجمله خوب شده بود . در صدد آن برآمدم که برای تأسیس یک مفکورهٔ اجتماعی ، برخی مواد لازمه را بنام مرامنامه واساسنامه بروی کاغذ در آوریم و مشمولین این مفکوره بنام یک حزب یاد شوند.

فلهذا یکی دونفر معلمین مکتب که تحصیل یافته هند بوده وبرای استفاده از معلومات علمی آنها به اوشان ضرورت احساس مینمودم و همچنین برای برخی از جوانان دیگر در همانوقت نسبتاً فهمیده و منور بنظر می آمدند ، دعوت دادم که همدرین نظریه با من اتفاق نمایند ، بدبختانه که از جملهٔ اشخاص مذکور تنها یکنفر (میرزا محمداعظم خان ایازی معلم که در همانوقت تازه با عائلهٔ شان در کویته بود ) حاضر شده و برخی جوانان دیگر که لازم نیست نام شان را یاد نمایم به کُلی ابا ورزیدند واگر فراموش نکرده باشم ، آقای محمد رسول مسلم قوم کاکری نیز بتائید نظریهٔ من در دکان

عبدالرحمن دندان ساز ( که برای همین مشوره تعیین شده بود ) حاضر شده و چون دیگر نفری حاضر نشده ، بحال قلت ماندیم.

لابُد جلسهٔ خود را بموقع دیگری ملتوی ماندیم ، بالآخره در سالهای اول حکومت اعلیحضرت محمد نادرشاه دوباره دسته بندی نمودیم که عبدالحی خان حبیبی نیز در آن شامل بود .

درین دسته بندی هر چند که یک منظور اساسی و علمی ترتیب یافته بود اما مطلوب یگانه این بود که حتی الامکان بر عدهٔ جمعیت بیفزایند و اعضای جمعیت از راه صحبت ها و تبادل افکار مستفید و متحد شده ، برای یک مرام عالیتری مستعد گردند .

این جمعیت اگر چه به نتیجهٔ مطلوبه نرسید ، اما تخم عمل را گذاشته و چندین سال یگانه جمعیتی بوده که نظر مردم را فی الجمله به صفت اشخاص دانسته و متجدّد جلب کرده و سخنان آنان بطور مثبت و منفی در بین توده پهن شده ، حکومت را ملتفت میساخت که اوشان را مراقبت نماید.

چنانچه بسیار زحمت های ازین ناحیه بما متوجه شده که تفصیل آن را در فصل اول خاطرات بیوگرافی خویش شرح داده ام ، بالآخره وقتی گپ از حزب ویښ ځلمیان بمیان آمد ، باز هم همین اشخاص بودند که در قندهار از همه کس اولتر آن را لبیک گفته و در حلقهٔ آن داخل گردیدند.

«ب»

## نام ویښ ځلمی از کجا پیدا شد

درسال ۱۳۲۶ موقعیکه من بحیث رئیس شرکت اجنسی از چمن به پشاور رفته بودم ، آنوقت آقای غلام حسن خان« صافی » نیز از مرکز به پشاور آمده و در هوتل اروپایی « دنز » بهم یکجا شدیم.

روزی آقای نامبرده گفت : آیا مشوره میدهید که هردوی ما و شما بجای خان عبدالغفار خان و داکتر خانصاحب (زُعمای حزب سرخ پوشان) رفته ملاقات کنیم ؟

گفتم: درینباره بوجیزهٔ یادداشت های من عمل باید کرد.

گفت: آن چه باشد ؟

گفتم: « کسیکه درخانهٔ خود چراغ نداشته باشد ، به چراغ همسایه صحبت کرده نمیتواند » ، پس دراثر همین سخن بین خود نشسته برای تأسیس یک حزب عمومی در داخل مملکت صحبت نمودیم و بر این قرار دادیم که او در ولایت مشرقی که خانهٔ او در آنجاست وکابل که در آنجا مأموریت دارد و من در ولایت قندهار تحریک حزب مذکور را نموده هر زمانیکه زمینه را تهیه نمودیم ، مجلس ثانی کرده ، حزب را تأسیس می نماییم.

ناگفته نماند که آقای صافی نیز درین مفکوره در سابق از جانب خود من ملهُم شده و در سال ۱۳۱۲ (۱۹۳۳م) که من به مزار شریف در عملهٔ جناب محمدگل خان وزیر داخله با او یکجا بودیم و آنوقت هم نزد من این هدف موجود بود ، من همیشه در عملهٔ مذکور ازین قبیل مباحث را طرح میکردم و بویژه آقای صافی که افکارش

بیشتر قابل تسخیر بود او را زیادتر از سایرین تحریک میکردم.

بهرحال! چون آقای صافی (که اینوقت زمینه باو مساعد بوده ، مردم مشرقی بیشتر در کابل مأموریتها داشتند و خود صافی بحیث یک رئیس محتاج الیه (رئیس دیپوی جنس) در کابل کار میتمود ، لذا هرچه زود این مرام بوسیلهٔ او پهن شده و افغان های آنجا که یک عده مأمورین قندهاری وغیره هم درآن شامل بودند ، دعوت او را بدون زحمت قبول کردند ، حتی بعضی عناصر شهرت طلب( مانند عبدالرؤف خان بینوا و مولوی قیام الدین خان خادم و نورمحمد خان تره کی ) و غیره بلافاصله موضوع را به سمع صدراعظم و اعلیحضرت درافغانستان رسانیده و چون در همانروز ها تازه صدای دیموکراسی مانند سایر مود ها تو رواج یافته بود ، رفقای مذکور خیال میکردند که باوجود دیموکراسی طبعاً آزادی قلم وزبان بمیان آمدنی و احزاب وجمعیت ها قایم شدنی است .

فلهذا اگر این پیشنهاد شان از حضور شاه منظور می شود ، طبعاً اولین بیرق قافله سالاری بر فراز خانهٔ آنها نصب گردیده و این افتخار تأسیس حزب بنام اوشان ختم میگردد ، ولی آنها سهوه کرده بودند ، پیشنهاد مذکور بنظر من خیلی طفلانه وقبل از وقت بود .

اعلیحضرت بجواب آنها گفته بود که قبل از همه باید هیئت مدیرهٔ حزب را بشناسد و مرام حزب را ملاحظه فرمایند ، ازین جهت آقای صافی موضوع را در قندهار بما اطلاع میدهد و خواهش میکند که من و آقای حبیبی به کابل رفته ، در مجلسی که اوشان در نظر دارند ، شمولیت نمایم.

این اطلاع و آوازهٔ شان به اندازهٔ گرم بود که تصور میکردم ، حزب مطلوبه تمام مراحل اولی و تالی را دفعتاً پیموده حالا جشن کامیابی آن را میگیرند ، حالآنکه زیر کاسه بسی نیم کاسه ها بود که هنوز هم وقت بکار داشت که از آب برآید.

فلهدا از جانب ما قرار ذیل جواب داده شد:

« بهتر است مجلس تان را به تعویق انداخته ومادامیکه زمینه در ولایات تهیه نشده باشد ، ازگردن فرازی و شهرت خواهی پرهیز کرده شود ».

این جواب ما طبیعی است که نزد آنها در حالیکه سرگرم بادهٔ شهرت و غرور بودند ، قیمتی نداشته و مجلسی که در صدد آن بودند ، ترتیب دادند.

در مجلس مذکور بعضی رفقای قندهاری که در آنوقت جهت کارهای شخصی به کابل رفته بودند و آقای میرغلام محمد خان غبار و میر محمد صدیق فرهنگ که بعدها حزب مستقل (وطن) رابوجود آوردند ، نیز حضور بهم رسانیده و درآن مجلس یک مسوده مرامنامه که بقلم آقای فرهنگ نوشته بود ، حاضر کرده بودند ( این قصه را بعد از آنکه رفقای قندهاری ما از کابل می آیند ، مینمایند ) ، مسودهٔ مذکور را تمام حاضرین از جمله آقای شمس الدین خان مجروح امضاء مینمایند ولی رفقای کابلی معهذا که مرامنامه را خودشان نوشته بودند از امضای آن خودداری می کنند و باین سبب در مغز حاضرین اشتباهاتی تولید شده ، مجلس تا فردا ملتوی می شود . فردا رفقای کابلی نمی آیند و بمجرد یکه مرامنامه در مجلس حاضر

می شود ، بدون اینکه مورد تجدید نظر قرار بگیرد ، مولوی قیام الدین خان خادم و شمس الدین خان مجروح بالای آن حمله کرده ، امضای خود را از آن بر میدارند و دیگر رُفقای آنجایی نیز بتأسی آنها امضاهای شان را پاره می کنند ، تنها چند نفر رفقای قندهاری که قبلاً باوشان اشاره گردید ، امضاهای خود را بحال خود باقی میگذارند و مجلس به بسیار بی نزاکتی و ناگواری منحل و خاتمه میابد. پس ( نام ویښ ځلمی یا جوان بیدار ) همان نامی است که از مرامنامهٔ پاره شدهٔ مذکور یادگار میماند .

«ج»

بعد ازین حزب ویښ زلمی چه شد ؟

ازین به بعد این اسم بلامسمّی بواسطهٔ عبدالرؤف خان بینوا که در همانروز ها مدیر عمومی پشتو تولنه بود ، تشهیر میشود ، از اکثر فُضلا و نویسندگان کابل تحت عنوان ( ویښ زلمی ) مقاله ها میطلبید و هرکسی دانسته و نادانسته مقاله های مطلوبه را بدو فرستاده - از آن مجموعه میسازد و آن را طبع میکند و تا میتواند بخارج مملکت نیز نام آن را به ذرایع ممکنه رسانیده ، حتی اکثراً ارسالات شخصی خویش را بنام مذکور معنون میسازند و آقای صافی وبرخی رفقای ولایت مشرقی وغیره را در یک حلقه یی گرد آورده ، یک وفاقیهٔ چند نفری نامنظم و مختلف المقاصد را از آن تشکیل میدهد. همینکه این کار در کابل صورت میگیرد ودر قندهار آوازهٔ آن تیت میشود ، در رُفقای ما آقای حاجی محمد انور خان اچکزی که نظر بسایر رُفقا بیشتر به اینکار علاقه داشت ، بلا فاصله سلاح های کهنه و جدید خویش را از هر سو جمع کرده ، به صف آرایی مشغول می شود .

قتیل خوږیانی

# د اروابناد محمد ګل خان مومند د خدمتونو څو بېلګې

د نـن نـه شـپږ دېرش کالـه پخـوا د ژمـري د میاشـتې پـه اووه ویشـتمه نېټه د پښتني نـړۍ یـو سـتر او پـر پښتـو او پښتنوالـه مـین شـخصیت اروابناد محمـد ګل خـان مومنـد د کـابل د بریکوټ پـه یـوه کرایـي کـور کـې لـه دې فـاني نـړۍ څخـه سترګې پټې کړې او پـه دغـه تـوګه پښتـو او پښتونولـۍ خپـل حقیقـي او واقعـي پـالونکی لـه لاسـه ورکـړ.

کـه څه هـم مـوږ پـه خپلـې دغـې لیکنـه کـې ددغـه سـتر شخصیت حق لکه څنګه چې ښایـي، نـه شـو ادا کولـی، خـو هـڅه بـه وکـړو چــې دده د ژونـد پـېښو، علمـي ادبـي، فرهنـګي او ټولنیزو خدمتونـو پـه بـاره کـې خپلـو ګرانـو لوستونکیو تـه یـو څه معلومـات وړانـدې کـړو.

"ګندهـارا" د ننګرهـار د فرهنـګي ټولنــې دوه میاشـتنۍ خپرونه د کـابل مجلـې پـه حوالـه ددغـه ویـاړلي شـخصیت پـه بـاره

کې په زړه پورې معلومات ليکلي، چې لـه ګندهـارا مجلې څخـه په منته يې ځينې ضروري برخـې رااخلـو:

"د ژونـد پـېښې: ارواښاد محمـد ګل خـان مومنـد د محمـد خورشـيد خـان غونـډ مشـر زوی، د مومـن خـان لمسـی، د عبدالکريـم خـان کړوسی پـه ختـه دوېزی مومنـد او پـه ويـزو کـې حسـن خـېل و. دی پـه ۱۳۰۳هـ ق کـال د کـابل د اندرابيـو پـه کوڅه کـې زېږېدلـی دی.

لومړنـی زده کـړه يـې پـه خصوصـي ډول وکـړه او بيـا پـه ۱۳۲۷هـ ق کال د حربـي ښوونـځي پـه دويـم ټولـګي کـې شـامل شـو.

پـه پنـځو کـالو کـې يـې خپـل تعليـم سـرته ورسـاوه او د داردليـانو پـه غونډ کـې د "کوميـدان" پـه رتبـه وټاکـل شـو. دغـه وخـت يـې هـم شـاهي ټولـګي تـه درس ورکـاوه او هـم يـې د حربـي ښوونـځي د سـرمعلمۍ وظيفـه چلولـه. ددغـه کاميـاب خدمـت پـه نتيجـه کـې د سـپه سـالار صـالح محمـد خـان د يـاور پـه صفـت وټاکـل شـو او بيـا د شـاهي ګارد قومـاندان شـو، څه وخت يـې پـه ترکيـه کـې د افغـاني سـفارت دا تشـه پـه حيـث هـم خپلـه وظيفـه اجرا کـړې ده.

ده د هـېواد د خپلواکـۍ پـه جـګـړه کـې هـم زياتـه برخـه واخيسـتله او خپلـه پښتنـي مېړانـه يـې څرګنـده کـړه. پـه ۱۳۰۳هـ ش کـال کـې د پکتيـا د عسـکري قومـاندان او اعلـی حـاکم پـه توګه وټاکـل شـو.

په ۱۳۰۶ش کال کې د مزار شریف د ملکي پلټنې د رئیس په صفت او بیا د ننګرهار د عسکري قوماندان په حیث مقرر شو.

د سقوي انقلاب په وخت کې یې لومړی له سردار محمد هاشم خان سره او بیا یې په پکتیا کې له اعلیحضرت محمد نادر شاه سره په کلکه ملا وتړله او په زړه پورې خدمتونه یې سرته ورسول.

د هېواد له نجات وروسته د سردار محمد هاشم خان په کابینه کې د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو. دغه وخت د اعلیحضرت محمد نادر شاه له خوا لومړی د ننګرهار او بیا د پروان او کاپیسا د ولایتونو د تنظیمه رئیس په توګه مقرر کړی شو.

په دغو ولایتونو کې یې چې پوره ارامي او کراري راوسته، نو بیا په ۱۳۱۱ش کال کې د قطغن، بدخشان. مزار شریف او میمنې د ولایتونو د تنظیمه رئیس په حیث وټاکل شو، په هر ځای او هر کار کې یې خپله وظیفه په پوره ایمانداری سرته ورسوله او د خپلو ښو خدمتونو په اثر یې د لمر اعلی لوړ نشان واخیست. دی په ۱۳۱۹ ش کال کې د دولت د وزیر په توګه مقرر شو او پس له دغه وخت نه یې عمر په خپل کاله کې د پښتو ژبې په علمي او ادبي خدمت باندې تېر کړ.

دغــه درونــد مشــر پــه ۱۳۳۴ ش کــال کــې د لويــې جــرګې د رئيس د نائب په توګه غوره کړی شو او خپله پښتني وظيفه يې په ډېر ښه ډول سرته ورسوله.

دا بـايد څرګنـده کـړو، چـې لـوی پښتـون محـترم محمـد ګل مومنـد تـر ۱۳۲۷ش کـال پـورې د مـزار شـريف پـه ايبکـو کـې اوسېده، بيا په دغه کال د شاه محمود خان د صدارت په وخت کې کابل ته راغی او پاتې عمر يې په کابل او ننګرهار کې په خپله خوښه تېراوه. څو ژمي يې د کونړ په نرنګ او نور ژمي يې په خپل اصلي ځای (ګولايي) کې تېر کړل، خو په اوړي کې به همېشه کابل ته راته او په دې ډول يې د خپل کوچياني ژوند سلسله هم ټينګه ساتله.

وفـات او مړينـه: دغـه ننګيـالی، توريـالی او جـرګه مـار پښتـون بابا اخر د ۱۳۴۳ ش کـال د زمـري پـه ۲۷ مـه نېټه د سه شنبې د سهار په اتو بجو د اتيا کالو په عمر د برېکوټ په يو کرايي کور کې وفات شو او په پوره درناوي او عزت د کابل د شهدای صالحينو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

"دا هر څوك مني او حتی چې يو ډېر متعصب شخص هم په دې سترګې نه شي پټولی، چې ارواښاد محمد ګل خان مومند ٭ يو لوړ شخصيت، سپېڅلي کرکټر او ټينګ عزم څښتن و. که له يوې خوا په مذهبي اصولو ټينګ ولاړ و، نو ورسره جوخت په پښتو او پښتنواله بيخي مين و. د پښتون له تاريخي

عظمت سره يې بې اندازې مينه لرله، تش په نامه، بې پښتو او بې همته پښتانه يې نه خوښېدل."

ده به په ډېر متانت سره دا خبره کوله، چې:

"پښتو پښتانه سړي ته اجازه نه ورکوي، چې د ځان د ګټې لپاره بل چاته تاوان ورسوي، يا خيانت وکړي، بلکې بالعکس پښتو غواړي چې پښتون سړی د نورو پښتنو مسلمانانو د ګټې دپاره د ځان تاوان وکړي او پرې خوښ هم وي."

ده به ويل، چې:"په پښتو کې کشران د مشرانو لپاره او اولس د حکومت لپاره نه دی، بلکې مشران د کشرانو لپاره او حکومت د اولس لپاره دی. د دوی موقعيت او احترام د پښتنو په سترګو کې د دوی د خدمت په تناسب دی."

او د بې پښتو پښتنو په باره کې يې په دې ټينګار کاوه، چې:

"درستې بدبختۍ (فلاکتونه او مصيبتونه) د بې پښتوګۍ له کبله رارسېږي او نورې لانجې به هم د همدغې لارې نه راپېښې شي. حکومت د بې پښتوګۍ له امله اريان دی او لاره يې ورکه کړې او اولس د بې پښتوګۍ له لاسه بې پته، خوار و زار او ورک دی. ټول د بې پښتوګۍ په اور سوي يو، د بې پښتوګۍ په اور سوزو، د بې پښتوګۍ په اور کړېږو، د بې پښتوګۍ په اور ورتېږو.

ښايي د بې پښتوګۍ له لاسه وژاړو، د بې پښتوګۍ له لاسه کوکې او سورې ووهو، وای پښتو ارمان پښتو."

هغه وخت چې دغه درونـد پښتـون پـه کندهـار کـې تنظیمیـه رئیـس و، هلتـه یـې پـه ۱۳۱۱ ش کـال د پښتـو انجمـن بنسـټ کېښود، چې بیـا همدغـه انجمـن کـابل تـه راوغوښتـل شـو او د کـابل لـه ادبي انجمـن سـره یـوځای شـو او وروسـته ورنـه پښتـو ټولنه جـوړه شـوه، چـې اوس یـې پـه ځای د علومـو اکاډمـی ناسـته ده.

پـه کندهـار کـې یـې ټول رسـمي دفترونـه پـه پښتـو کـړل او "طلوع افغان" اخبار هم دده په امر پـه پښتـو اوښتـی دی.

دده نیت او ارادې، وینـا او عمـل پـه بېلابېلـو وختونـو کـې د پښتنو لـه ژوند او پرمختګ سـره زیاتـه مرسته کـړې ده او تـل یـې د پښتـو د لوړتیـا ارزو پـه رسـمي او شـخصي ډول پـه ښه شـان پـاللې ده. دده پـه فرهنـګي او علمـي خدمتونـو کـې دا لاندې کتابونـه شـامل دي:

۱ـ پښتـو سـیند، چـې پـه دوو ټوکـو کـې پـه (۷۶۵) مخونـو کـې پـه ۱۳۱۶ ش کـال د کـابل پـه عمومـي چـاپخانـه کـې چـاپ شو، چـې د لغـاتو ډېر ستر قـاموس دی.

پـه دې قـاموس کـې پـه پارسـي بـاندې د پښتـو لغتونـه معنـی شـوي دي.

۲ـ د پښتـو ژبـې د بنسـټ ټینګولـو لپـاره دده بـل علمـي خدمـت د "پښتـو ژبې لیـار" دی. دغـه کتـاب د پښتـو ژبـې نـوی ګرامـر دی، چـې پـه پښتـو لیکـل شـوی او پـه ۱۳۱۷ ش کـال پـه لاهـور کـې د ښاغلـي عبدالعظیم صـافي پـه اهتمـام چـاپ شـوی دی.

۳ـ د دوی بل خوږ اثر "لنډکی پښتو" ده، چې په ۱۳۲۷ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی او ۵۳) مخونه لري.

د پښتو دغه رښتیا پالونکی ملنګ بابا ځینې نور اثار او کتابونه هم لیکلي، چې تراوسه نه دي چاپ شوي او نومونه یې دا دي:

۱ـ پښتني روزنه.

۲ـ پښتونواله.

۳ـد پښتو لویه نحوه (معاني او بیان).

۴ـد پخلي کتاب، چې (۴۰۰) مخونه لري او نور...

ارواښاد محمد ګل خان مومند بابا پر نثر سربېره، ځینې شعرونه هم لیکلي دي، چې د شعرونو د دوو بېلګو په راوړلو سره یې خپله لیکنه پای ته رسوم.

په یوه شعر کې وایي:

ﭘﻼر نیکه مې پښتانه وو یم پښتون
زمری یم زمر زړی یمه زمربون
زه پښتون یمه ښکاره یم لکه د لمر
وغلیم ته تل ولاړ یم لکه غر.

او د بل شعر نمونه یې دا ده:

پښتو مین په تا یم که وم وم که نه وم نه وم
هر کله به دې ستایم که وم وم که نه وم نه وم
پښتو که رانه لاړه هرڅه به رانه تللي وي
نو بیا تالا والا یم که وم وم که نه وم نه وم.

سمسور افغان

# حبيب الله کلکاني

## د سقاو زوی

### يادونه

د حبيب الله کلکاني "د سقاو زوی" د ۱۹۲۹ع کال د جنوري له اوه لسمي نېټې د هماغه کال د اکتوبر تر نيمايي د ظلمونو، وحشتونو، غلاوو، ناحقه وژنو، دخلکو پر ناموس، ان تاريخ او فرهنګ لوبو او نورو هغه ناراوو، پېښاب چې قلم يې له ليکلو عاجز دی، په باب زياتې ځرګندونې د ښاغلي سمسور افغان له "دويمې سقاوی" نه اقتباس کوو. دا کتاب ښاغلي سمسور افغان په ۱۹۹۹ کال کې د مستندو اسنادو له مخې ليکلی دی. تاسې وګورئ، چې که له يوې خوا انګرېزان د "غازي امان الله خان په توره او همت" د افغانستان ازادي په رسمي توګه تاييد او تصديقوي، له بلې خوا يې څنګه يو داسې غل، بې سنجشه، بې سوبې او قطاع الطريق د يو شمېر بې وجدانه او بې ايمانه کورنيو او بهرنيو پلورليو روحانيونو، ملايانو، درباريانو او کورنی ارتجاع په مرسته حبيب الله سقو زوی قدرت ته ورساوه، چې دا قهرمان ملت پرې وځپي،

لکه چې همداسې يې وکړل. دا دی د دويمې سقاوي لومړۍ برخې د نمونې په توګه ستاسې خدمت ته وړاندې کېږي:

## [لومړۍ سقاوي ته يو لنډ نظر]

کله چې انګرېزانو له افغانانو څخه په دريو سترو جنګونو کې د ماتې مزه وڅکله، نړيوال پرستيژ او حيثيت يې کمزوری او پيکه شو، نو له افغانانو نه د يو ډول غچ اخيستلو په لټه کې شول. هغوی په افغانستان کې د لاسوهنې او کوروراني ښه پخه تجربه درلودله. په ۱۹۱۹م کال، چې انګرېزانو په رسمي ډول په نړيواله کچه خپله ماتې ومنله او د افغانانو بری يې تصديق کړ، نو په افغانستان کې د يو نوي او ښېرازه تمدن د زرغونېدو او ټوکېدو هيلې پيدا شوې، په نړيواله کچه د افغانستان نوم او نښان څرګند شو. په ټوله نړۍ کې زموږ هېواد د يو ځانګړي حيثيت، وياړ او پرتم خاوند شو، افغانستان په ډېره چټکۍ سره د تمدن او پرمختګ په لور ګامونه واخيستل.

انګرېزانو سره له دې، چې په رسمي ډول د افغانانو سياسي خپلواکي او خپله ماتې منلې وه، خو بيا يې هم له لاسوهنو څخه لاس نه اخيسته. دا ځل د يوې بلې تجربې د ازمېښت په لټه کې شول. دویددې کار لپاره داسې يو شخص وټاکه، چې هم ساده او امېر و او هم يو لږکي قوم ته منسوب وو، انګرېزانو دا تسېټ کاوه.

یوه خبره مې په ذهن کې ګرزي او هغه دا، چې که د غبار لومړی کتاب څوك ولولي، داسې تحقیرونه، بد لیکل او دومره سپکاوی، په کې شته، وربرم چې کومو بدبختانو د پښتنو دښمنانو، چې نه وجدان لري او نه ایمان، د غبار په دې دویم کتاب کې لاس وهلی دی، دا که حقیقت ولري، بیا به ددې پنډ ګناه د حشمت خلیل "غبار" په غاړه وي. داسې زوی دې بیا خدای د چا په درګاه لوی نه کړي، چې خپل پلار ته بدبین پیدا کړي او هغه یو د عزت او قدر نوم، چې یې درلوده، په بې عزتی تبدیل کړي. الغیب عندالله.

تاسې درنو لوستونکیو د قضاوت لپاره، چې په سلونو دلایلو او مدارکو د لمر په شان ښکاره اما غبار پرې پرده اچوي او داسې لیکي:

د غبار د کتاب (۵_۹ مخ) "حکومت اغتشاشی بچهء سقاو و بعد از سقوط امانیه" داسې جریانات منځ ته راوړي، چې امان الله خان ولې له سقوط او اغتشاش سره مخامخ او د سقاو زوی څنګه واکمن شو؟ څه فجایع، بې ناموسی، چور و چپاول او عام قتلونه یې بې موجبه پیل کړل، چې غبار دده د کاونو او ناروا او نالایقه عملونو په باره کې هېڅ نه لیکي، چې ده څه وحشتونه وکړل. د یو مورخ په حیث دده مسؤولیت دا و، چې هغه څه چې واقع شوي وو، د عامو خلکو د خبرتیا لپاره یې پرې رڼا اچولې وي او لیکلی وي، چې څومره زیات علمي،

سیاسي، ملي، قمي و مذهبي شخصیتونه یې پره له محاکمې او د قضا له حکم نه په فجیع شکلونو ووژل.

څه وخت، چې د سقاو زوی کابینه تشکیل او اعلان کړه، د عدل او معاف وزارتونه یې د مینځه وړي وو، ځکه هغه یو مستبد، خونخوار او جاه طلب انسان وو، علم او پوهه یې نه درلوده او د پوهنې او پوهې سرسخت دښمن وو. د سقاو زوی ویل: زه چې څه امر کوم، څرنګه چې د خدای د خوا رالیږل شوی یم، زما امر د قضا د فیصلې نه په مراتبو لوړ دی، نو د عدلیې وزارت ته هم ضرورت شته، مکتبونه هلکان بې لارې کوي، یوازې دې ملاصاحبانو ته غوږ کېږدي، نه معارف ته حاجت شته او نه د معارف وزیر ته.

او بیا هغه اسناد، چې ما د سقاو د زوی د ۹ میاشتو پاچهي په دوره کې له موثقو کتابونو او اسنادو او مدارکو نه پیدا کړي، ستاسې مخ ته کېږدم:

هلته به بیا درانه لوستونکي د یو افغان، مسلمان او انسان په حیث قضاوت وکولای شي، چې آیا محمد ګل خان نایب الحکومه حق په جانب و او که د سقاو زوی او د هغه د داړه مارانو ډله؟.

هو! هر چا چې د سقاو د زوی د ۹ میاشتو د داړه ماری دورې، چې په تفصیل پرې رڼا اچول شوې ده، 'ملګرتیا کړې وه، هغو د خلکو مال، پت، عزت، ژوند، حیثیت او ابرو لوټ کړې وه.

دا ملي خاینان مجرمان او د تعقیب وړ وو. دوی باید نیول شوی او د قانون پنجو ته سپارل شوي وای اود مظلومو خلکو پر حقوقو باندې د تیري او تجاوز بازخواست تري شوی وی. هماغسې، چې په توره نړۍ کې ددایسې اشخاصو په باره کې شوي او کېږي.

هر څوك، چې د نادر خان له خوا دې وظیفې ته ټاکل شوي وای، ولو که غبار هم وای، همداسې به یې کړي وای.

دا خو کومه ګناه، سهوه او خطا نه ده، چې محمد ګل خان کړې وه. دا اشد ضرورت و، چې د سقاو د وحشي دورې د اثارو ختمولو لپاره دده په جرمونو کې شریك ملګري د عامه امنیت او ارامۍ د برقرارولو لپاره د قانون منګولو ته سپارل شوي وای، چې مرحوم محمد ګل خان د هېواد د ملي مصالحو په خاطر په خورا جرئت، ایمانداري او صداقت سرته ورساوه.

انګرېزانو د سقاو د زوی راوستلو لپاره په دې فکر کاوه، چې د لږکیو د حکومت ظرفیت څومره دی، آیا دوی هم په راتلونکي کې د یو فکتور په توګه مطرح کېدای شي او که نه؟ د انګرېزانو ګټې تضمینولای او پاللای شي که نه؟ د حکومت کولو او د هېواد د کنټرول ظرفیت یې څومره دی؟ په ټولنیز ثبات او بې ثباتۍ کې یې ونډه څومره ده؟ همدغو پوښتنو ته د ځواب موندلو، د یو نوي تمدن د پر شا تمبولو او په یوه بله بڼه له افغانانو څخه د غچ اخیستلو لپاره انګرېزانو

(حبیب الله کلکاني [بچه‌ء سقاو]) انتخاب کړ او پخپلو مرستو اودکورنۍ ارتجاع په ملتیا یې هغه ددې جوګه کړ، چې لومړی ګړ بړ جوړ کړي او بیا نوی راټوکېدلی تمدن له سقوط سره مخامخ کړي.

"حبیب الله کلکاني د امین الله زوی پر ۱۸۹۰م کال زېږېدلی دی". (دویمه سقاوي/۱۱).

هغه د شمالي د کلکانو د ډکو د کلي اوسېدونکی و، پلار یې څه مهال خاروي پوول، بیا یې سقاوي غوره کړه، غوښتل یې چې زوی یې څه درس مکتب ووایي، خو ویې نه وایه، له بدو او اوباشو هلکانو سره یې ناسته ولاړه شوه، په غلا، قماربازۍ روږدی شو. پر ۱۹۲۶ کال په شاهي پوځ کې عسکر شو او د یوه عادي عسکر په توګه یې دنده سرته رسوله، یو ځل یې د لسو ورځو لپاره رخصت واخیست او کور ته لاړ. له ځان سره یې سرکاري وسله هم په پټه یوړه، کله چې له کابل څخه نهه میله لرې د حاجي کلا کوتل ته ورسېد، درې غله په لار کې پرې راپورته شول، "[د چا خبره پر غله، غله پېښ شول]". له هغوی سره یې مقابله وکړه او یو غل یې وواژه. کله چې له رخصتۍ وروسته بېرته کابل ته راغی، نو بیا په پټه د وسلې په وړلو او د غله د وژلو په تور تر پوښتنې لاندې راغی، له پنځو میاشتو سزا وروسته خوشې شو او پېښور ته راوتښتېد.

د قصه خوانۍ په بازار کې يې له محمد صديق بوټ خرڅوونکي سره مزدوري کوله. د ۱۹۲۷ کال د دسمبر پر شلمه ده ته له کابله خبر راغی، په پرده او بدله څېره خپلې سيمې ته ورسېد او په داړه ماري يې پيل وکړ"(۲)

ځينو نورو څېړونکيو د هغه په باب ويلي، چې هغه يو ډېر کور مغزه وګړی و، د حافظې ځواك يې نه درلود، ځکه خو يې "په دريو کلونو کې له څو ملايانو څخه بغدادي قاعده هم زده نه کړای شوه" کله چې يې پلار د هغه له زده کړې څخه بېخي مايوسه شو، نو هغه يې له ملك محسن خان کلکاني سره، چې د کلکانو يو غټ خان و، مزدور کړ، خو له يو څه ځنډ وروسته يې دا کار هم پرېښود او د سيمې د داړه مارانو له ډلې سره يوځای شو. وروسته يې د افغانستان په ځينو نورو سيمو کې هم په چور او چپاول لاس پورې کړ. کله چې پوه شو، نور نو د خلکو حوصله تنګه وه او دولت دده د نيولو په هڅه کې دی، پر ۱۹۲۶ کې يې له محمد اعظم خان سره د افغانستان خاوره پرېښوده او د پښتونستان پولې ته داخل شو. څو مياشتې يې هلته چور و چپاول وکړ او د غلا بازار يې ګرم کړ. وروسته دده او دده د صميمي ملګري محمد اعظم خان ترمنځ مخالفت پيدا شو، د سقاو زوی پېښور ته راغی او دلته له محمد صديق بوټ خرڅوونکي سره مزدور شو. څرنګه چې د غلا په وجه دی دلته هم تر څارنې لاندې و، نو د محمد اعظم خان

بېلتـون او خپـګان ده تــه ډېر ګران تمـامېده، نـو ځکـه خـو پـاړه چنار تـه لاړ او هلتـه لـه هغـه سره پخـلا شـو".(۳)

ځینــي کتونکــي او څېړونکــي پـه دې نظـر دي، چــې د ســقاو زوی پـه پـېښور کــې د اوســېدو پــه وخـت کــې (د برتــانیې لــه استخباراتو سـره تماسونه لـرل، مثـلاً پـر ۱۹۲۶م (۱۳۰۵ل) کـې یـې پـه پـېښور کـې د سـرحدونو د پولیسـو لـه رئیس پـیروان سـره اوږدې لیدنــې کتنــې لرلــې، ځینــې نــور څېړونکــي نظــر ښرګنـدوي، چـې د کـابل د اشـغال پـه لومړیـو هـڅو کـې د سـقاویانو د فعـالیت پـه سـاحو کې برتـانوي اسـتازي هـم موجـود وو او دسـقاو زوی د برتـانیې لـه نمـاینده ام فرنیـس سـره شـخصي تماسـونه درلـودل".(۴)

مـیر غـلام محمـد غبـار لیکـي:"حبیـب الله بعــد از آنکــه در مـاورای خـط دیورنـد بـه دزدی در پـاره چنـار متـهم و محکـوم بـه یـازده سـال حبس ګردیـد، دفعتـاً بطـور مرمـوزی رهـا شـد و پـه افغانسـتان برګشـت".

کلــه، چــې افغانســتان تــه راواســتول شــو، نــو د شــمالي د کوهدامـن پـه سیمه کې یـې نـور غلـه او داړه مـاران هـم پـر ځان راټول کـړل، د لارې پــه شـکولو، او لــوټ او تـالان یــې لاس پــورې کـړ، لـه خپلـو غلـو سـره د مرکــزي دولــت پــر وړانــدې ودرېد، کورنــۍ ارتجــاع، ځینــې تنګنظــره روحــانیون او انګلیســي استخباراتو ټول سـره یـو ځای شـول او د کـابل د نیولـو پـلان یــې جـوړ کـړ. د ۱۹۲۸م کـال پـه نوامـبر (۱۳۰۷ل کـال د عقـرب پـه

پای) کې یې د کابل او هېواد د شمال ولایتونو لاره پرې کړه. د ۱۳۰۷ل کال د لیندۍ پر ۲۲مه یې د سرای خواجه سیمه یېز حکومت له منځه یووړ. حبیب الله کلکانی د ۱۹۲۸ کال د دسمبر پر ۱۳ مه (۱۳۰۷لیندۍ) د بریدلپاره دکابل شمال ته راغی او دخیرخانې له کوتل نه راواوښت او په شهرآراء کې ودرول شو.

د ۱۹۲۹م کال د جنورۍ پر ۱۳ مه غازي امان الله خان له سلطنت نه خپله خلع اعلان کړه او د جنورۍ پر ۱۵ مه سردار عنایت الله خان په داسې حال کې، چې د سقاو زوی دده کیپک سیمه نیولې وه او کابل یې محاصره کړی و، د پادشاهۍ اعلان وکړ.

د جنورۍ پر ۱۷مه بېرته خلع او واك د سقاو زوی ته ورسېد، د جنورۍ پر ۱۸مه د مازدیګر ۵ بجې (۱۳۰۷هـ ش د مرغومې ۱۸مه) د سقاو زوی هم ارګ ته راغی او د ګلخانې په ماڼۍ کې کېناست او په دې ترتیب د افغانستان د تاریخ یوه توره دوره پیل شوه.

غلام محمد غبار په دې اړه لیکي: "شخص حبیب الله طبعاً از اداره‌ء یك كشور چه كه از اداره‌ء حسابی یك قریه هم عاجز بود".

"اینها چون از عصر و حتی محیط كابل عقب مانده افتاده تر بودند و هر جا سری می یافتند در صدد بریدن آن می شدند، تا در یك عرصه در شده هیچ سری باقی نماند و آنها

به تنهایی سر افرازند ، پس به شمشیر و زنجیر و اعدام تکیه می کردند".

"انقراض سلطنت شاه امان الله خان با استقرار حکومت اغتشاشی بچهء سقاو تو ام بود و این واقعه در افغانستان به حیث یك "فاجعه" تلقی گردید ، مخصوصاً در بین طبقهء روشنفکر. وحدت ملی افغانستان به واسطه تولید نفاق عمومی بنامهای پشتون و تاجك، هزاره و ازبك، سنی و شیعه و امثال آن بر هم خواهد خورد و بالاخره فضای دیگر و قشر دیگر ایجاد خواهد گردید که با منافع و مصالح مردم افغانستان ارتباط نداشته و بساز دیگران خواهد رقصید."(۵)

د سقاو د زوی په واکمنۍ سره په ټول هېواد کې یوه سراسري انارشي رامنځته شوه، نوی راټوکېدلی تمدن په شا وتمبول شو، د خلکو عزت، حیا، سر او مال په خطر کې شو، د پوهې، کلتور او پرمختګ دروازې وتړل شوې، ان تر دې چې بچه سقاو لومړی کار چې وکړ دا و، چې "په خپله کابینه کې یې د معارف او عدلیې وزارت ته ځای ورنه کړ".(۶)

نو هغه حکومت، چې نه یې عدل وي او نه هم د علم ډیوه، سړی خپله اټکل کولای شي، چې هغه به څومره د جهل، تیارو او فساد سرچینه وي.؟"

سردار فیض محمد خان زکریا وایي":"من شخصاً بچه سقاو را از نقطهء نظر اینکه پسر یکنفر سقاو بود ، انتقاد نمی کنم (باشد متاع نیکو از هر دکان که باشد)، لیکن اعمال بچه

سقاو، ظلم، ستمکاری جهالت و وحشت بچهء سقاو را ننگ وعار بشریت میدانم ودر عصر بیستم سلطهء جهل و وحشت در افغانستان یک حادثهء بس ناگوار و انفعال انگیز است". (۷)

مارشال شاه ولي خان وايي: "اگر این شورش دوام میکرد، شیرازهء وحدت کشور برهم میخورد". (۸)

ځکه چې د هېواد غازيان د جهل او تيارو د واکمنۍ د له منځه وړلو لپاره خپل ملي مسوٶليت او رسالت ته متوجه شول او د هغو د راپرځولو په لټه کې شول. سپه سالار غازي محمد نادر خان ددغو غازيانو او هېوادپالو سرلښکر و، چې دا انارشي او سراسري ګډوډي يې ونه زغملای شوه، نو ځکه يې د هغې راپرځولو ته ودانګل.

غازي محمد نادر خان په هغه وخت کې ددې سقاوي انارشي په باب وايي: " اگر این حالت دوام کند، مملکت ویران، اوضاع خطرناك و استقلال که باقربانی های متوالی بدست آمده، از دست خواهد رفت، آنگاه زندگی برای ما چه معنی خواهد داشت؟". (۹)

محمد نادر خان او نورو افغان مشرانو او غازيانو دغه د جهالت او وحشت واکمني د افغانستان او زموږ د خلکو لپاره يوه خطرناکه ناروغي وبلله، چې هم يې د هېوادځوند تهديداوه او هم د اولس ژوند. نو ملي لښکر يې راټول کړ. سره له دې، چې په دې وخت کې دده د کورنۍ ځينې غړي له سقاو زوی

سره اسیران وو او د محمد نادر خان د مبارزې له کبله ورته هره شېبه د مرګ خطر و او د سقاو زوی به همدا اخطارونه ورکول: "من از سلطنت دست نمی بردارم، ملتفت باشید که اگر به کابل بیایید و امر مرا نشنوید. عایلهء شما که تا اکنون در کمال احترام میباشد. امر میدهم که بصورت بسیار فجیع کشته شوند" (۱۰)

خو محمد نادر خان ددې خبرو او اخطارونو پروا ونه کړه، ځای پر ځای ې سقاویانو ته ماتې ورکړه.

د ۱۹۲۹کال د اکتوبر پر ۱۵مه محمد نادر خان د ارګ سلامخانې مانۍ ته ورسېد، د سقاو زوی (۹) میاشتنی واکمني یې ختمه کړه. هغه او د هغه ځینې نږدې یاران یې په دار وځړول او افغانستان یې له دې تاروغۍ څخه وژغوره.

(۱_۱۰ دویمه سقاوي).

غـــریبیار

# د پښتنو شمله

# محمد ګل خان مومند بابا

ښاغلـی غبـار د (افغانســتان در مســير تــاريخ) د دويـــم ټوك د ۲۰۲ مخ په ۱۴ کرښو کې داسي ليکي:

" در جـون و نومـبر ســال **۱۹۴۵** مــردم کــنر در شــرق کشــور بقيـام مســلحانه بــر ضــد ســلطنت پرداختنــد ، البتــه دولــت بــا اسلحه عصری ايـن قيـام را وحشـيانه خـاموش سـاخت".

د کونړ په ولايت کي تقريبا اتيـا فيصـده د سـاپيـو قـوم اوسي، دکونړ د خلکو د نفوسـو پـه تناسـب د کرونـدې ځمکـې کمې دي.

سردار داود خان په ۱۳۲۴هـ ش کال د لوی ننګرهار ملکي او نظامي قوماندان وو. ده د مزار درې بادپل، ديوه ګل او پنځ درې سپين ږيري لکه سليمي، شهسوار، ملك مامون، د بادپل مير سلام خان او يو شمېر نور قومي مشران د ځوکۍ ولسوالۍ مرکز ته راوغوښتل، چې د قومي په عوض نفوس راکړئ.

سپين ږيرو ورته د سيمې د خلکو د اقتصادي مشکلاتو له امله منفي ځواب ورکړه. د حکومت مشر په دې وخت کې شاه محمود خان صدراعظم و، سردار داود خان د قومي مشرانو د غوښتنې پر خلاف د نفوسو اخستلو لپاره د کوز کونړ ولسوالۍ ته مامورين واستول.

د سيمې خلکو ورته کتابونه ټوټه ټوټه او دنفوسو اخستو مامورين يې وشړل.

له بلې خوا د ځوکۍ ولسوالۍ صاحب حق صاحب چې د حکومتونو د ناروا او زورزياتي د اهدافو د سرته رسولو لپاره همېشه مهمه وسيله وه، خلك د نفوسو ورکولو لپاره وېرول او تشويقول، ولې دده دې کار او هلو ځلو فايده ونه کړه.

سردار داود خان مجهزه عسکري قوا د کونړ ولايت ځوکۍ ولسوالۍ ته ولېږله.

د هغه سيمې ساپيو ته يې وويل، چې يا پورته د يوه ګل درې ته ولاړ او له ياغيانو سره ملګري شئ، ځکه چې ديوه ګل

د ساپيو د قوم د جرګو، غونډو، فيصلو او بريدونو مرکز و او که هلته نه ځي، نو نفوس راکړئ.

په دې وخت کې حکومت دولس سوه منظم او مسلح عسکر د ډېوه ګل درې ته واستول، پته دې نه وي چې داود خان د لوی ننګرهار له ټېلا ټېلو سيمو نه ايله جاري خلک هم کونړ ته د جنګ لپاره راوستل، جنګ پيل شو. دې لښکر شوو عسکرو د خلکو په وژلو او کورونو سېزلو شروع وکړه. ولې په دې جګړه کې ډېر عسکر هم ووژل شول. د بميار د جنګي طياره تري خلکو راوغورځوله، ګل بهادر خان ځاځی پيلوټ يې ژوندی ونيو، مړ يې نه کړ او حکومت ته يې ژوندی وروسپاره. په عين حال کې داود خان ډېرې پيسې يتې او ښکاره خلکو ته ورکړې، چې د سيمې خلک په خپلو مينځونو کې بې اتفاقه او نفوس ورکولو ته حاضر کړي.

لنډه دا چې د ډېوه ګل په ساپيو يې لاس بر نشو. لاندې په هوارو سيمو کې يو شمېر خلک د نفوس ورکولو ته حاضر کړل، په دې وخت کې داود خان د ساپيو په مقابل کې يو زر ټوپک له کافي مرميو او پسو سره کوهستانيانو ته د جنګ لپاره ورکړل، په جګړه کې د پېچ درې خلک چې اکثره يې بې وسلې وو، له حده زيات په کې مړه او ژوبل شول. جنرال محمد عارف خان له يوې منظمې فرقې سره د کونړ مرکز ته نژدې کيرالې ته راغی.

"کیرالـه هغـه ځای دی، چـې د کمونسـتانو د راتـګ پـه شـروع کـې یـو نیـم زر تنـه د میتینـګ پـه نـوم راوغوښتـل او ټوپـك بـاران یـې پـرې جـوړ او تـر بلدوزرونـو لاندې چـې ډېرې ژونـدي پـه کـې وو، تر خـاورو لاندې کړل. کـه څه هـم جنرال عـارف خـان لـه خلکـو سره ښه وضع کوله.

داود خـان د ساپيـو د قـوم يـو شـمېر مشـران لکـه مـير سـلام خــان، شهســوار، ســليمي، الله خــان او مــامون لــه کونــړ نــه د افغانسـتان نـورو ولایتونـو تـه لـه کورنيـو سـره فـرار کـړل. دا جنـګ پـه ۱۳۲۴ هجـري شمسـي کـال کـې د زرونـو بېګنـاه انسـانانو پـه وژلـو زخميـانولو او کورونـو سـېځلو او ورانولـو ختـم او د کونـړ د ساپيـو لـه قـوم نـه یـې نفـوس پـه زور او برلاسـی واخسـتل.

د کونـړ مشـهور خـان مېرزمانخـان کـه څه هـم د ساپيـو لـه قـوم سـره یـې پـه دغـه شـپو ورځو کـې ښه مناسـبات نـه درلـودل، خـو شــاه محمــود خــان صدراعظــم محــترم مېرزمانخــان او دده د کورنـۍ واړه او زاړه پـه زور د هـېڅ ډول مسـووليت او جـبر پرتـه او مداخلې، کابل تـه بنديـان راوستل.

د قبـايلو پــه بــاره کــې غبــار د خپــل دويــم ټوك تــاريخ پــه ۲۳۵مـخ کـې داسـې ليکـي:"مهمانخانـه مجـانی مسـافرين از هـر دستی برای قبايل بميـان امـد".

دا قبــايل پښتانــه او د افغانســتان د خــاورې جــز دی، لــه افغانــانو سـره نـه بېلېدونکـې اړيکـې لـري. د ډيورنـډ تحميلـي ليکـې پـه اثـر څوك بـرې خـوا تـه او څوك کـوزې تـه بـېل شـول. دا

قبایل مسافر نه دي، دوی ددي خاورې جز، هغوی پښتانه او افغانان دي. دوی د هېواد په هر خیر و شر او بده ورځ کې تل په مېړانه برخه اخیستې ده.

د افغانستان د دښمنانو په مقابل کې تل په کلکه ولاړ او ټینګه مقابله یې کړې ده.

دوی تل د وخت د حکومتونو په تقاضا د افغانستان یو شمېر ولایاتو مرکزونو او کابل ښار ته د سرحدي پرابلمونو د حل و فصل لپاره راغوښتل کېدل، له پاکستان سره یې پر سرحدي لانجو باندې د افغانستان حکومتونو سره سلاګانې او مشورې کولې.

فکر کوم چې دا به لویه او نه بښونکې ګناه وي، چې دې غیور قوم ته داسې سپک کلمات او عبارات لکه چې غبار لیکلي استعمال شي. کاشکې غبار د جهاد په اوږدو کې ژوندی او ددې قبایلو مړانه، مېلمه پالنه، منډې، تړې، او د مجاهدینو خدمتونه، تاوانونه یې د سر په سترګو کتلې وې او په جهاد کې د دوی مستقیمې برخې اخیستل یې لیدلې وې.

بیا به یې له ځان سره خجالت اېستلی و او ابدا به یې داسې له غرض او پېغوره ډکې لیکنې نه وې کړې.

دا هغه غیور خلك او قبایل وو، چې د پاکستان د حکومت ډېرو مادي او معنوي امتیازونو ته یې اهمیت نه دی ورکړی، د شریکې وینې، ژبې، قومیت، مذهب، د شراکتو او

مجبوریتونو لـه املـه یـې تـل د افغانسـتان دخلکـو او حکومتونـو ملاتړ کـاوه.

د مرحـوم غبـار د هغـه وخـت و زمـان د نـورو وطـن دوسـتو مبـارزې او جدوجـهد او لیکنـې هغـه هـم د هغـه وخـت پـه ډېرو ضبقـو او تنګو شـرایطو کـې تـر کومـه ځایـه پـورې، چـې یـې لـه قومـي، سمتي او ژبنیـو تعصباتو پرتـه، ترسره کـړي، مـوږ تـه د قـدر او احـترام وړ دی. افغانـان د واقعـي خدمـت ګارانـو پـر خدمتونو ویاړي او لـه یـاده یـې نـه کـاږي، خـو د غبـار دغـه پورتـه لیکنـه د ویـښ زلمیـانو او ډېرو نـورو پـښتو پـه ارتبـاط ډېرې خلاوې لـري.

د کتاب پـه ۱۸۱ مخ کـې لیکـي:

"حـاکم محـل دوسـت محمـد خـان یکـی از خـان هـای مـلاك ولایـت ننګرهـار بـود".

هـو! دوسـت محمـد خـان د ننګرهـار د ولایـت د بهسـودو اوسـېدونکی وو، چـې متاسـفانه نـه مـلاك وو او نـه خـان، بلکـې د هغـه سـیمې یـو درونـد او محـترم سـپین ږیـری او د سـیمې پـه خلکو کې یو تولمنلی مخور و.

د هسدې کتـاب پـه ۸۰ مخ کې بیـا لیکـي:

" مـردم ننګرهـار حتـی زنـان انـها پـای برهنـه کـوه و دشت هـا را مـی پیمـایند، تـا لقمـه نـانی بدسـت ارنـد".

او د ۲۰۷ مـخ پـه اوومـه کـرښه کـې لیکـي:

" مردم ننگرهار به اندازهء غریب اند، که حتی زنان قوم ساپی پوست حیوانات را به تن میکردند"

راځئ چې د محمد ګل خان په باره کې يو څه واقعيتونه راوسپړو، چې د غبار د قضاوت څېره په کې ووينئ:

# محمد ګل خان مومند:

خدای بښلی محمد ګل خان مومند د افغانانو په ټولنه کې د وزیر محمد ګل خان، محمد ګل بابا او محمد ګل خان مومند په نومونو شهرت لري.

کله چې ما د غبار" افغانستان در مسیر تاریخ" دویم ټوك ولوست، پوه نه شوم چې له ده سره دا دومره ضدیت او عقدې له کوم ځایه او کوم وخته ملګرې شوې دي، چې د محمد ګل خان مومند د هیواد صالح، مبارز، صادق خدمتګار او غازي، چې دده قربانۍ، فداکارۍ، پاکۍ او صداقت چې د هیواد د استقلال په جنګونو کې یې کړي، ټولې له پامه غورځولې او چې څومره تحقیر او سپکې سپورې یې له لاسه شوي، د وزیر صاحب په هکله یې لیکلې دي.

ولې غبار په دې خبره نه پوهېده، چې پښتانه لاژوندي او د خپلو صادقو خدمت ګارانو او مشرانو پر خدمتونو او قربانیو ویاړي. د خپلو هغو مشرانو پر لار روان او د هغوی د دښمنانو دښمنان دي.

په دې تېرو ۲۲_۲۳ کلونو کې، چې د روسانو او د دوی د برېځو څه نادودې او د پښتنو په مقابل کې ناروا وې. وژلې. بربادۍ او د دوی د ختمولو لپاره یې ا... ښکاره سوداوې وشوې. مور د سر په سترګو ولیدلې او لاکوزو یې، د حساب ورځو ته شپې ورځې سبا کوو.

بالخصوص په لویدیزه نړۍ کې داسې کسان لکه: ډاکتر عبدالغفور روان "فرهادي"، ډاکتر رهین، میر محمد صدیق فرهنګ، سید قاسم رشتیا، سمندر غوریانی، غلام حضرت کوشان، قوي کوشان، ډاکتر امین فرهنګ، ډاکتر حق شناس، ډاکتر نعمت الله شهراني، فیضي شریف فایض او په سلونو نورد ایران، روس او نورو ملکونو نوکران او د هغوی په پیسو د اخبارونو، مجلو، راډیوګانو او تلویزیوني خپرونو خاوندان شوي او د کنفرانسونو، انجمنونو له لارو د پښتو او پښتنو د ورکاوي او سپکاوي لپاره، چې یې څومره وس شوی، صرفه نه ده کړې او نه یې کوي.

که له دوی نه یوه پوښتنه وشي، چې تاسې که سالم وجدان ولرئ، د هېواد د خلاصون او نجات لپاره مو یو قدم هم اخیستی دی؟ ځواب یې طبعاً منفي دی.

ولې په دې پوهېدلي یاست، چې تاسې او یا ستاسې د پردې شاته یاداران پښتانه له دې هېواده نه شي ورکولای؟

د پښتنو مشرانو، شاهانو خو په کراتو دا تاسې ته ثابته کړې ده، چې کله چې له پښتنو سره سیاسي قدرت و، د افغانستان ټول اقوام یې د اولادونو او ورونو په شان په غېږ کې ټینګ نیولي د هېواد په مسایلو کې یې ورته واک، اختیار ورکړی، اعتماد یې پرې کړی، رتبې، منصبونه او صلاحیتونه یې ورکړي، دري ژبه یې د خپلو دربارونو رسمي ژبه ګرځولې وه.

لري به نه ځو، د پښتنو حکمرانانو شیر شاه سور، میرویس نیکه، احمد شاه بابا، غازي امان الله خان او پخوانۍ پاچا محمد ظاهر شاه ۴۰ کلنۍ (۱۹۳۳_۱۹۷۳) پاچهۍ دورې ته وګورئ، چې زما د پورته ادعاوو ثبوت پکې وموندلای شئ.

دوی د مملکت د چارو واګې ټولو اقوامو بالخصوص تاجکو ورونو ته ورکړي و.

په خاصه توګه محمد ظاه شاه دغه اعتماد پرې درلود، چې دده د دربار وزیر علي محمد، حسن شرق او محمد خان جلالر د یو شمېر نورو معلوم الحاله وطن فروشانو په شمول، هېواد د خپلو پلرني بادارانو خولې ته ورواچاوه.

وروري څنګه وي؟ محمد ظاهر شاه په ۴۰ کاله پاچهي کې یو ټکی پښتو نه ده ویلې او نه یې په قلم لیکلې ده او که هر چا راته دده یا دده د اولادونو د پښتو ژبې د یوې جملې ویلو ثبوت وښود، نو مهمه جایزه یې ګټلې ده.

ددې لپاره، چې ګرانو هېوادوالو ته د مرحوم غبار د لیکنو رد د څو موضوعاتو او په تېره د محمد ګل خان مومند په باره کې په مستندو دلایلو وړاندې کړی شوی وي، نو بهتره ده، چې په لومړي قدم کې د خدای بښلي محمد ګل خان مومند لنډې سوانح، قلمي مبارزې او له هېواد سره دده مینه، چې ده په څومره پاکۍ او صداقت سره هېواد ته څه د انګرېزانو او څه د داخلي ارتجاع په مقابل کې خدمتونه کړي، تاسې ته په

تفصیل سره وړاندې شي. وروسته له هغې به د غبار له غرض، عقدو او پښتون دښمنۍ نه ډکې لیکنې د نمونې په توګه راوړم.

د محترم عصمت الله روحاني لیکنه د محمد ګل بابا لنډې سوانح، چې په "سباوون" خپرونه کې، د ۱۳۷۵هـ ش کال د زمري میاشت دویمه ګڼه کې خپرې شوي، راواخلو:

ارواښاد محمد ګل خان مومند د مرحوم خورشید خان زوی د مومن خان لمسی، د عبدالکریم خان کړوسی او د عبدالرحیم خان کودی دی. په ختنه حسن خېل مومند دی، په ۱۲۶۳هـ ش کال د کابل د ښار د اندرابیو په کوڅه کې زېږېدلی دی.

نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د حبیبیې په ښوونځي کې او عسکري زده کړه یې په نظامي اکاډمۍ کې پای ته رسولې دي.

د زده کړې وروسته د اردلیانو د قطعې قوماندان وټاکل شو. د څه مودې وروسته دده دښه شخصیت، اهلیت او لیاقت له مخې د لوړو زده کړو دپاره د دولت له خوا ترکیې ته واستول شو، تر بریالي راستنېدو وروسته د عسکري اکاډمۍ امر او د شاهي ګارد استاد شو. څرنګه، چې محمد ګل خان مومند برسېره پر نظامي او علمي زده کړو، سیاسي لوړ استعداد درلود، نو له دې کبله په ترکیه کې د افغاني نظامي اتشه په حیث وټاکل شو او په ۱۳۰۰ ل هـ کال کې د ضرورت

لـه مخـې هـېواد تـه راوغوښتـل شـو. د ملـي دفـاع وزارت د نشراتو او تبليغاتو امر شو.

زه به له هغه رسالې ته، چې ښاغلي اسماعيل "يون" صاحب ليکلې، توم يې دی: "د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته يوه کتنه" د نمونې په ډول يو لږ څه راواخلم.

پياوړی پوهاند صاحب عبدالشکور "رشاد" په دې رساله کې د مومند صاحب د ژوندانه په بېلو بېلو اړخونو رڼا اچولې، چې دلته يې يوه نمونه وړاندې کوم:

"زما ښه په ياد دي، د افغانستان د خپلواکۍ د بيا اخستلو څلوېښتمه کاليزه وه، فخر افغان "عبدالغفار خان" هم کابل ته راغلی و، په بابر باغ کې د خوشال بابا ليسې او رحمان بابا لېسې زلميو شاګردانو رسم ګذشت ورته وکړ.

تر رسم ګذشت وروسته اتڼونه پيل شول، د شاه جوی د خروټيو اتڼ چيان هم راغلي وو. دوی چې اتڼ کاوه، رنګه دسمالونه يې په لاس کې وو او هغه به يې د اتڼ د حرکتونو سره ښورول.

قام پال محمد ګل خان مومند، چې د فخر افغان پاچا خان تر څنګ ناست وو، د خروټيو د اتڼ دغه خصوصيت يې خوښ نه شو. ناڅاپه ودرېد او خپله لکړه يې د اتڼ له حرکاتو سره سمه د تورې په دود ښوروله وڅرخوله، خروټيو اتڼ چيانو ته يې وروږغ کړ:

وغورځوئ دا د تور سرو څپوتي "دسمالونه" ستاسې پلرونو او نیکونو په اتڼ کې توري ګرزولې او تاسې د ښځو په شان څپوتي ښوروئ. وزیر صاحب محمد ګل خان مومند په دغو کلونو کې د ګوزڼ په ناروغی مبتلا وو. پښو یې ښه ملګري نه ورسره کوله، خو بیا هم له دغې ناروغی سره یې د تورو سره د اتڼ حرکتونه د پښتنو ځوانانو د روزنې په خاطر تمثیل کړل.

پوهاند صاحب رشاد یوه ورځ ماته د وزیر صاحب د کارنامو په لړ کې وویل: وزیر صاحب د اعلیحضرت امان الله خان د خوا ترکیه کې د نظامي اتشې په حیث مقرر شوی و. ده د بخارا د لارې غوښتل، چې ترکیې ته ولاړ شي، په بخارا کې یې په پټه خلك یو ریفرنډم ته راوبلل، روسان پرې پوه شول، وزیر صاحب یې بندي کړ.

کله چې دده په بند امان الله خان خبر شو، د روسانو نه یې په کلکه د هغه د خلاصون غوښتنه وکوله.

پوهاند صاحب رشاد وویل، چې پښتانه د محمد ګل خان مومند د خدمتونو قرضدار دي، پښتانه د هغه د ژوندي ساتلو او د هغه د کارنامو او لارښوونو په عملي کولو مکلف دي.

پوهاند رشاد وایي:

"مفکر محمد ګل خان مومند د هیواد د نورو سیمو بې ځمکو خلك او کوچیان په منتونو، په زاریو او زور وروبلل او

بې خاونده ځمکې يې د هندوکش په شمال کې پرې وويشلې. ده په دې کړو د هندوکش د شمالي برخو ډېرې بې خاونده او بې حاصله ځمکې حاصل خېزه کړلې او د وطن بېکاران يې په کار واچول. له نورو مزدوريو يې وګرزول او د خپل ملك په ودانولو يې اخته کړل. د ملك حاصلات يې زيات او وړې سيمې يې د خپل ملك په حاصلاتو مړې کړې."

پوهاند رشاد ليکي:

"محمد ګل خان مومند د مصطفى کمال (اتاترك) فرهنګي سمونواله (ريفورم) ليدلى و، چې ځنګه يې خپله ترك اولس او ترکي ژبه له عربي او غربي اغېزه ازادوله او ځنګه يې له دغې لپارې د يوې نوې او پرخان ويسا ترکيې د بنسټ پخولو ته متې رانغښتې وې.

او په زړه پورې بيا دا، چې په توره سقاوي واکمنۍ کې يې د ايران له استوګنې هم ډېر څه زده کړل. هغه مهال ايران غوښتل، د ترکيې په پېښو د خپلې پارسي په سپېڅلتيا او پياوړتيا خپل ځانګړی ملي اکر جوت کړي.

مومند بابا د نجات په جګړه کې د يوه پاخه پوځي جنرال په توګه داسې غوځ نقش ولوباوه، چې د نادر او د هغه د نورو تش په نامه پوځي سوبمنانو ورونو خپل شپېږم ورور وګاڼه،

ړومیی د کندهار تنظیمه مشري ورترغاړې شوه، چې د ترکستان د "افغاني کولو" پلان ورسره غوټه و.

مومند بابا د قطغن او بدخشان د یوه تکړه نائب الحکومه (شېرمحمد ناشر (خروټي) او داسې نورو همکارانو په مرسته وکړای‌شول، په څو کلونو کې ترکي او افغاني توکم سره داسې واخښل راواخښل، چې بیا چا د "پان ترکیزم" نوم هومره هم وانه خیست.

له تازه دمو، نو مېشتو پښتنو، هزاره وو، بلوڅو، پشه ییانو او د جنوبي افغانستان له نورو ټبرونو سره د ترکستان ځینې نورې پر شولګرو او غنمګرو، پالېزونو او پومبو بدلې شوې او له دې سره سره زموږ پیاوړي سمونوال (مومند بابا) په هغو ناافغاني سیمو کې د افغاني ورورولۍ بلینده ولګوله.

د خوراك پوښاك او استوګنې دولونه او د بېلابېلو دودونو جالونه سره همرنګ او هماهنګ شول، چې دا دی نن سبا پکې څوك د ترك و تاجیك، مغل او پښتون توپیر په اسانه کولای نه شي، مړی ژوندی یې سره ګډ دی او یو د بل پر ژبه لکه د یوې کورنۍ غړي پوهېږي.

دا تاریخ بیا وخته زیات ته رسولي ده، چې د افغاني ټولنې په هویت ټاکنه کې د لوی مومند بابا ونډه څومره اغېزمنه وه؟.

دده په غوښتنه او نوښت پښتنې اتڼ ملي اتڼ **National Dance**او د بېرغ غونډې درې رنګه پښتنې کالي افغاني ملي کالي ومنل شول. د ژمي، چې به ننګرهار ته راغی، خلك به پرې رامات شول او ده به هم ورته د خوراك، پوښاك، مړې ژوندې او ښو ښو دودونو او رواجونو او بیا د نوي ژوند ژواك تبلیغ او لارښوونې کولې، ژبه به یې ترې زده کوله او ژبه به یې ورزده کوله، جومات ته به، چې لمانځه ته ولاړ، ملایانو ته به یې د دیني لارښوونو او ورمونو ترڅنګه د خلق الله د خدمت ډېر ټینګار هم کاوه.

د طالبانو او چټانو اتڼونه به یې هم ورسمول او ددې لپاره، چې تقلیدي اتڼ یې ورته ملي کړی وي، په خپله به پاڅېد، لستوڼي به یې وابستل او پر اتڼ به یې ورته پیل وکړ.

ده به د یوه پلان له مخې هر ژمی خپل استوګنځی بدلاوه، کله به خپل کلي "ګلایي" ته ولاړ، کله به کونړ او کله کومې بلې ختیزې سیمې ته، اوړی به یې هم همداسې کله پر کابل او کله پر سمنګانو یا کومې بلې سیمې تېراوه.

د ننګرهار او کونړ خلکو تر مومند بابا دمخه له سبو او ترکارۍ سره دومره مینه نه درلوده او نه له ونې غنې او مېوې دانې سره.

## معیاري (کره) او نږه پښتو:

مومند بابا لومړی روښاندی او بیا پر پښتو مین لیکوال و، چې ترهرڅه دمخه د "یوازینی کره او نږه پښتو" ربړې ته پوره ځیر شوی و. خدای بښلي ښنوا په اوسني لیکوال کې د مرحوم محمد ګل خان مومند په باره کې لیکي:

"مرحوم محمد ګل خان مومند د اوسنیو پښتنو له نامتو شخصیتونو څخه دی، چې په خپل وار او خپل وخت کې یې د پښتو ژبې لپاره د ستاینې وړ قلمي او نظري خدمتونه کړي وو.

او دا خدمتونه به د پښتو ژبې په تاریخ کې په طلایي خط د تل لپاره پاتې وي.

لکه څنګه، چې د مرحوم مومند د افکارو او نظریاتو یوه برخه د پښتو او پښتون د ژوندي ساتلو په ارزو بوخته ده. عملا یې هم د خپلې مورنۍ ژبې پښتو په نهضت کې لوی لاس درلود او په ۱۳۱۶هـ کال کې یې د پښتو یو لوی قاموس "پښتو سیند"([1]) په نامه ترتیب او له یوې مفصلې مقدمې سره چاپ او خپور کړل شو.

بیا یې د پښتو د قواعدو او ګرامر یو ګټور کتاب، چې "پښتو د ژبې لیار" ده، ولیکه.

[1] له نېکه مرغه د وزیر بابا دا اثر اوس اوس د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز لخوا په ډېره ښکلې بڼه او کچه بیا خپور شوی دی.

بـل پـه زړه پـورې اثـر يـې د "لنـډه کـې پښتـو" و، چـې پـه ۱۳۲۷هـ کال مـا د پښتـو ټولنـې لخـوا چـاپ او خپـره کـړه، پـه دې رساله کـې د مرحـوم مومنـد هغـه نظريـات راغونـډ او ليکـل شـوي دي، چې ده د پښتــو او پښتونولـي پـه بـاب درلـودل.

په دې سربېره يـې دوه نـور کتابونـه د روژنـې او پخلـي پـه بـاب هم ليکلـي دي.

کلـه چـې پـه ۱۳۱۱هـ ش کـال د کندهـار تنظيميـه رئيـس وو، د پښتـو ادبـي انجمـن يـې تاسـيس او د طلـوع افغـان اخبـار يې پـه پښتــو واړاوه.

ښاغلی بېنوا د اوسني ليکـوال پـه ۱۲۵۷مـخ کـې ژيـاتوي:

"خـدای ښېلـی مومنـد د پښتـو ژبـې پـه نظـم او نـثر کـې ډېر څه لـري. تومـوړی پـه دري ژبـه کـې هـم د ښه قلـم خـاوند و، د مرحـوم مومنـد صـاحب د نظـم اثـار د نـثر پـه نسبت لـږ ليـدل شـوي دي، دی پـه روسـي او ترکـي ژبـو ډېر ښه پوهـېده."

*۳۰ تیوک، ۱۲۵۶_۵۷*

تاســې وګورئ د کومــې ورځـې، چــې روســان دې خــاورې تــه راداخــل شـول، دومـره وژنــې، ورانــۍ، خرابـۍ او نــادودې، چــې روسانو او د دوی نوکرانـو خلق و پرچـم و ستم د پښتنو پـه سيمه کــې وکــړې. راتــه څوك ويلـی او ثـابتولای شــي، چــې دوی دې دا کارونـه پـه شـمالي صفحـاتو او يـا د هـزاره ګاتـو د اسـتوګنې پـه سيمو کې کـړي وې.

دوستم، احمد شاه مسعود، جنرال عبدالمالك، برهان الدین رباني او... چې څومره له لاسه شوي د شمالي سیمو اوسېدونکي پښتانه یې قتل عام کړي دي، چې روسانو ته یې د لانور فعالیت او حرکت زمینه برابره کړې وي. رشید دوستم څو دومره پښتانه د ورو او غټو په شمول ووژل، چې بالاخره د ګلېم جم نوم پرې کېښود شو.

همدا پرون او نن ګورئ، چې برهان الدین رباني وروسته د ځلور نیمو کالو جمهوري ریاست له څوکۍ نه دوه موټره د ډالرو نوټونه له ارګ نه په هغه ورځ، چې طالبانو ارګ نیوه، پنجشېر او بدخشان ته وتښتول، تر دې ساعته پورې مسعود او رباني د روسانو په اسلحو او پیسو چلېږي. د روسانو نظامي مشاورین ورسره دي، روسان او د روسانو ډله یې په سیمه یېزه او نړېواله کچه شاته ولاړ دي. د روسانو په وسلو یې موجوده جنګي ماشین روان دی.

که دا د شمال په سیمو کې د اوسېدونکیو پښتنو وطن دوستي او پښتنې غرور او له هېواد او ملك سره مینه نه وای او دوی هلته وزیر محمد ګل خان مومند انتقال کړي نه وای، دومره مقامت به د هېواد د داخلي وطن فروشانو په مقابل کې هلته موجود نه وای. (شمال ته د افغانانو او... په شمول د انتقال حرکت د احمد شاه دراني په وخت کې شروع شوی، امیر عبدالرحمن خان دغه انتقال د رسمي نظم پالنې له مخې

عملي کړ او د کابل د شاوخوا منطقو نه ډېر افغانان هغې خوا ته واستول شول.

اوس به روسان خلق و پرچم او یا شورای نظار او احمد شاه مسعود د هېواد ختیزو، جنوب او جنوب لویدیزو سیمو کې ګرځېدلای او هېواد به یې خپلو بادارانو ته تسلیم کړی وای، چې له روسانو سره د احمد شاه مسعود د هېواد د تجزیې پلان ریچارډ بروس امریکایي ژورنالست د کې جي بي د اسنادو له مخې رسوا کړ.

ایا د احمد شاه مسعود څو قراردادونه له روسانو سره راونه وتل، چې هېواد تجزیه او شمالي سیمې به له روس یا تاجکستان سره وتړلوي او یا افغانستان پر شمال او جنوب وویشي؟.

کاشکې، چې اوس غبار ژوندی وای او دا تولې لوبې او سودا بازۍ یې د دوی له لاسه د سر په سترګو لیدلې او کتلې وای.

نو بیا به یې پر دې اعتراف کړی و، چې رښتیا زه حق په جانب نه وم. محمد ګل خان مومند په رښتیا، چې د لوی فکر پوهې خاوند او په خپلو کړو وړو کې صادق و.

خدای بښلی مومند د روسانو په ناولې پلان او نیت پوهېده، هغه ته هېواد او صادق هېوادوال ګران وو. هغه د هېواد د ازادۍ په جنګ کې په مېړانه برخه اخیستې وه. هغه د پښتنو په داخلي لېږدونو کې له یوې خوا غوښتل، چې دې یې

ځمکو او غریبو خلکو ته کار او غریبي پیدا کړي او له بلې خوا د هېواد شاړې سیمې، دښتې پرې ابادې شي او په نتیجه کې د هېواد د حاصلاتو د زیاتوالي لپاره لانوره ښه موقع برابره کړي. له بلې خوا غبار او دده له ملگرو نه یو تپوس په کار دی، چې ایا د کندوز، بغلان، مزار، سمنگان، تخار او د هغوی شاوخوا سیمې د افغانستان په برید کې راغلې، که نه؟

په دې هکله په رښا او دفاع کې د سهاك مقاله ولولئ، چې د شوروي له انقلاب نه وروسته نیم میلیون ازبکان، ترکمنان او تاجکان افغانستان ته راغلل او هلته د .... خان په... مېشته شول.

طبعا هلته د ازبکو، ترکمنو او تاجکو وروڼو نفوس او شمېر د ځمکو او سیمې په پرتله کم و، نو ددې شړو ځمکو ابادېده یو ضرورت و که نه؟ او د هېواد په قانون کې د هېواد د یوې سیمې خلکو لېږدول د هېواد بلې سیمې ته کوم جرم، ظلم او ناروا وو؟

ولې خدای بښلي مومند، چې دا کار کړی دی، دا خو نه ظلم و او نه ناروا، د هېواد له سمسورتیا نه پرته خو بله هیله ورسره نه وه.

همدارنگه کار د هېواد د شمالي سیمو او ولایتونو د اوسېدونکیو په اړه هم شوی دی او هلمند ته نقل شوي او هلته ځمکې ورکړ شوې. دا خلك تراوسه هلته مېشت دي او ژوند یې ډېر ښه شوی دی.

څرنګه، چې محمد ګل خان مومند د هېواد صادق او مهربان بچی و، دې د هېواد د بېلابېلو اقوامو پر نبض او د هېواد د شمالي دښمن (روس) په راتلونکیو پلانونو پوه و، چې څه یې افغانستان او افغانانو ته په زړه کې درلودل؟ نوموړی له نن نه اویا (۷۰) کاله پخوا دې ته ځیر و، چې د هېواد له هغو سیمو نه چې نفوس پکې زیات او ځمکې کمې دي، د هغو سیمو اوسېدونکي د هېواد شمال ته، چې ډېرې شاړې ځمکې لري، د ناقل په توګه ولېږدوي، تر دې وخته پورې لا د هلمند پروژه نه وه جوړه شوې، دا خلك چې شمال او په ډېرو وروسته کلونو کې له شمال نه جنوب ته د ناقلینو په توګه ولاړل. د هغو سیمو له اوسېدونکیو سره یې په ګډه د وروره ژوند پیل کړ، مړی، ژوندی، جومات، ښوونځی، تجارت او د ژوند نور اړخونه یې سره شریك شول، دوی په خپلو کې سره خپلوۍ وکړې، یو د بل ژبې یې زده کړې، د هېواد د دښمنانو په مقابل کې یې ښه، ښه او بده بده وه.

ددې لېږدونو دویم دلیل دا و، چې روسان به یوه ورځ خپل پخوانی اوږد پلان، چې هغه د هند تودو اوبو ته رسېدل وو، عملي کوي.

که چېرې یوازې په هغو ولایاتو کې مخصوصاً موظف مهاجر تاجك، ازبك او ترکمن پاتې شي، نو چې څنګه روسان له امو سیند نه راواوړي، علاوه له دې، چې دا خلك به ورته تسلیمېږي، حتی تېږيك به ورسره راالخلي او د هېواد دپاتې

قومونـو د تباهـۍ او وژلـو لپـاره بـه د روسـانو او د روسـانو لـه نوکرانو سره يوځای کېږي، لکه چې په دې تېرو شلو کالو کې مو وليدل.

دا مسعود، دا دوستم، جنرال عبدالمالك او برهان الدين رباني د روسانو د ګټو ساتلو لپاره جنګېږي او کـه کوم بل هدف لري؟

غبار د خپل کتاب په دويم ټوك کې په ۷۲، ۷۳، ۷۴، ۸۰، ۲۱۲ او ۲۱۳ مخونو کې د خدای بښلي وزير محمد ګل خان مومند په باره کې هغه څه ليکلي، چې له واقعيت او حقيقت نه ښخي لرې دي. زه به "د غبار تاريخ" او د هغه پاتې کسانو ته د پښتون قوم يو خاصيت ورپه ياد کړم او هغه دا، چې کله چې په پښتنو کې يو بې دينه، بې وجدانه، وطن فروش، چې پر دين، ملت، خاوره او خلکو يې تجارت کړی وي او يا يې د وطن له دښمنانو سره په پټه او يا ښکاره سودا کړې وي، تر هر چا دمخه پښتانه پرته له دې، چې ورسره درېدلي نه دي، بلکې د هغوی په مخالفت يې پيل کړی. زما ددې ادعا ثبوت تاسې د نور محمد "تره کي"، حفيظ الله "امين"، ډاکټر نجيب الله (د کمونستانو اخيري جمهور رئيس) همدارنګه انجنير ګلبدين "حکمتيار"، عبدالرسول "سياف" او نورو په مقابل کې ليدلای شئ.

ولې په تاسف بايد ووايم، چې په نسبي توګه به لږ تاجك، ازبك او يا هزاره د ببرك کارمل، دوستم، احمد شاه مسعود،

برهان الدین رباني، خلیلي یا مزاري په مقابل کې په مخالفت درېدلي وي.

که وزیر محمد گل خان مومند د خپل وطن، خپلې خاورې او خپلو خلکو په مقابل کې کوم جرم و جنایت او سودا کړې وای، نن به هغه هم ددې پورته پښتنو غوندې په عامو خلکو کې منفور وای او افغانانو به ورته په نفرت او کرکه کتل، نوموړی په پښتنو کې یو ملي، سیاسي، محبوب او د قدر و عزت وړ شخصیت دی.

د غبار د تورونو ردول ددې لیکنې مهم مطلب دی.

کله، چې محمد گل خان مومند د نادر خان تر تخت کېناستلو وروسته د پروان او کاپیسا نایب الحکومه شو، ده هلته د سقاو د زوی د زمامدارۍ له معلوم الحاله، خونخورو، وحشي، ظالمو، غلو، داړه مارانو او قاتلانو سره وړ چلند وکړ.

زه غواړم، چې لومړی د وزیر صاحب په باره کې د غبار لیکنې کټ مټ راوړم:

ما د سقاو د زوی کارروایي، ظلمونه، وحشتونه، اعدامونه، غلاوې، د خلکو پر عزت، ناموس او مال تعرض او تجاوز په باره کې پوره اسناد او شواهد راغونډ کړي.

اول باید هغه وړاندې او وروسته د غبار د کتاب دا لیکنه له خپل نظر سره د درنو لوستونکیو قضاوت ته وړاندې کړم.

غبار په خپل کتاب کې د غلو، قاتلانو، داړه مارانو داسې دفاع کوي، لکه دی، چې قاضي و او یا یې ټولې دوسیې مطالعه او حقایق یې ځان ته معلوم کړي وي.

غبار دې جنایت ته د سیاست رنګ ورکوي، چې په څه شانې د نادر شاهي نظام محکوم او منفور کړي.

د غبار د زندان ځینې خلك لاتراوسه ژوندي دي. دوی تصدیقوي، چې حکومت جنایت کاران او قاتلان بندیان کړي وو، نه بې ګناه خلك.

غبار وایي، چې دا قاتلان او جنایتکاران باید تعقیب شوي نه وای او جزا ورکړ شوې نه وای.

غبار د خپل کتاب په ۷۲ مخ کې لیکي:

"محمد ګل خان مومند سرك های ولایت، حتی راه پنجشیر را تا کوتل خاواك بالایشان بساخت و هفت کندك عسکر از ایشان استخدام و در خارج محل اعزام نمود. همچنین محمد ګل خان (طبق خبر اصلاح شماره ۶۱ مورخ حوت ۱۳۰۹) تهانه هایی عسکری بالای مردم بساخت و یکفرقه عسکر منظم در انجا تمرکز داد. محمد ګل خان بر طبق اطلاع همین شماره اصلاح، قسمتی از شهر چاریکار را که مرکز اداری و تجارتی ولایت بود، حریق و خراب ساخت. همچنین او سرایخواجه مرکز کوهدامن را تمام محترق و ویران نمود. در حالیکه او قبلا از مردم ششصد نفر ګروګان ګرفته و بکابل فرستاده بود، در هر قسمتی ازینولایت، چند، چند خانوار

پکتیایی را جبرا اسکان و بهترین اراضی مردم را به ایشان اعطاء نمود، تا اشتی را بین این دو ولایت ممتنع سازد.

این روش محمد گل خان مخصوص حالت صلح بود و اما در حالت جنگ، طوریکه شماره های جریدهء دولتی اصلاح مورخ سال ۱۳۰۹ شمسی منتشر میساخت، محمد گل خان نه تنها خانه های قیام کنندگان و مغلوب شده گان فراری را اتش میزد، بلکه دهات معمور را نیز محترق میساخت، چنانیکه چهار قریهء کلکان را اتش زد و قلعه ها را بگلولهء توپ بست، جراید اخیر هندی (مثلا: جریده همت) با رضایت خاطر از اش زده شدن قریه های چهار گانهء کلکان تذکر میدادند.

بریدن سرهای کشته شدگان یاغی و فرستادن بدر بار کابل، (مثل عهد خلفای بنی امیه) از همین وقت مروج و معمول گردید. محمد گلخان مقرر نمود که برای کشته گان و یا دستگیر کنندگان هر فردی از فرار کرده گان مردم شمالی فی نفر یکهزار افغانی جایزه داده شود.

رویهمرفته روش محمد گل خان در کوهدامن و کوهستان، همان نتایجی را که میخواستند، یعنی اول مردم دلیر اینولایت که در تاریخ قرن نوزدهم افغانستان، در راه دفاع از استقلال کشور بمقابل امپراتوری بریتانیا، کانون بزرگ و با افتخاری محسوب بود، سرکوب گردید.

دوم نفاق و خصومت بین مردم افغانستان که هدف یگانهء دشمن بود، درینحادثه عملا بمیان امد، یعنی مردم کاپیسا و پروان تمام تعدی نسبت بخود را از حشریهای مردم پکتیا دانستند و نسبت به انان کینهء سختی در دل گرفتند، خصوصا که محمد گل خان خودش را بغلط نمایندهء پشتو زبانان کشور جلوه میداد."

په دې ځای کې د غبار مطلب باندې پوه نه شوم، چې لیکي: محمد گل خان مومند په غلطۍ خپل ځان د هېواد د پښتنو نماینده ښوده، په دې هر څوك (بې له غباره) پوهېږي، چې هغه په رښتیا د پښتنو نماینده و، ځکه چې پښانه وریسې ولاړ وو.

"سوم دولت نو احداث افغانستان با دشمنی قسمت عمده یی از مردم کشور مبتلا و در مقابل سیاست استعماری تنها، و لهذا مجبور بسازش بیشتر با استعمار گردید، باید قبول نمود که دول بزرگ استعماری در ممالك کوچك مستقل و مدنظر خود ابدا خواستار موجودیت یکدولت صادق وقوي و دانشمند ملی نیستند، زیرا چنین دولتی بنفع کشور خویش کار میکند. نه به نفع دولت خارجی. در حالیکه از وجود یکدولت ضعیف و جاهل و یا خاین، به نحو سهلتر میتوانند سوء استفاده نمایند. پس یکدولت استعماری و انهم انگلیس چگونه میتواند به یك (دولت دوست) اعتماد ابدي نماید، مگر انکه او را همیشه ناتوان و مشغول در داخل خودی

نگهدارد و از ضعف و ترس او به نفع خویش استفاده بیشتری نماید.

بهمین سبب است که استعمار قدیم و جدید، در کشورهای شرق، قوتهای ملی را میکوبند، مگر در مواقع استثنایی و انهم در برابر رقیب استعماری دیگری.

در هر حال! ایا محمد گل خان مهمند درین نقش که بازی کرد و ولایتی را برانداخت، مستشعر بود، که مورد استعمال دیگری قرار گرفته است؟ و یا اینکه اصلا خودش شریك طراحان نقشه بشمار میرفت؟ در هر دو صورت جواب قاطع در دست نیست، جز اینکه میدانیم که محمد گل خان مومند شخص تحصیل کرده و ناطق و نویسنده و در عین حال یك مرد متعصب قبیلوی بود که تعصب نژادی و زبانی را بکمال داشت.

در سیاست داخلی نیز ادم ارتجاعی بود و با تحولات انقلابی ضدیت داشت. او چون فاقد فرزند بود، برادرش را بحیث فرزند میپرورانید، پس او را بغرض تحصیل در مدرسهء دیوبند هندوستان بفرستاده تا به یك ملای استعماری مبدل گردد.

محمد گل خان مومند به شجاعت حتی تهور تظاهر مینمود، اما ترحم و اغماض مردان شجاع را نداشت. در حالیکه انسان شجاع چنانیکه در برابر اقویای متجاوز دفاع و

مقاومت مینماید، در مقابل ضعفاء بخشنده و کریم است و از ظلم و قساوت در مورد زیر دستان اجتناب میکند.

اری این اشخاص ترسو و بزدل اند که از ترس بسیار مثل مار با هر که مقابل شوند، میگزند و عفو و اغماض شناسند. بعد از انکه محمد گلخان وظیفهء خودش را در کوهدامن و کوهستان انجام داد، بکابل برگشت وبنزد شاه پیش شد. جریدهء دولتی اصلاح عرض شفاهی محمد گل خان را به شاه چنین رودادہ است....

اهالی سمت شمالی ازین عملیات مسالمت کارانهء حکومت و مخصوصا مراحم اعلیحضرت یقین و قناعت کلی حاصل نمودند که اعلیحضرت نه تنها پادشاه و حکمدار عادل افغانستان هستند، بلکه سمت یک پدر بزرگوار و مهربان را بر قاطبهء عزیز خود دارند..."

ACKU

عبدالباري جهاني

# د سقاو زوی

# كه د

# خراسان عيار

## يادونه

دا د ښاغلـي عبدالبـاري "جـهاني" ليكنـه ده، چـې د افغانستـان د اييني پـه مجلـه كې پـه ۷۷_۷۸ گڼو كې نشـر شـوې ده. دا ليكنـه لـه سـراج التواريـخ نـه چـې د فيـض محمـد كـاتب يادداشـتونه دي، پـه ۱۹۸۱م كـال يـو روسـي ليكـوال د افغانستـان لـه ملي ارشيف نـه اخيستې، پـه روسـي ترجمـه او بيـا يـو امريكـايي ليكـوال او ژورنالسـت رابـرټ ميـك چيسـني پـه ۱۹۹۹م كـال پـه انګليسـي ژبـه ترجمـه كړي. تاسـې پـه حوصلـه او دقـت ولولـئ، چـې حبيـب الله كلكـانی، د خپـل قـدرت پـه نـهو مياشـتو كې د خپلـو زيـات شمېر كلكـاني، پرواني، كوهسـتاني او كـاپيسـايي داړه مـارانو پـه ملتيـا څه كـړي، پـرې خبر شـئ. ددې ليكنـې لـه لوسـتو نـه وروسـته، زه نـه پوهـېږم چـې ولـې ښاغلي غبـار د سـقاو د زوی پـه دې دومـره وقـايعو او وحشـتونو

سترګې پټې کړي، يوازې په يو څو کرښو کې څه اوتې بوتې ليکلي، چې لوسونکي دده د ليکنې له مخې د سقاو د زوی د کارروايوو او جرمونو نه هېڅ پوهېدی نه شي او بيا ليکي، چې محمد ګل خان مومند چې د نادر خان د قدرت په وخت کې د پروان او کاپيسا تنظيمه رئيس و، د هغه سيمې په خلکو يې بې اندازې ظلمونه د سقاو د زوی د واکې له ختمېدو وروسته کړي. البته هغه ليکنه به د ښاغلي جهاني د ليکنې نه وروسته راوړو، بيا نو د مرحوم غبار له اندروني احساس، عقدو او قضاوت نه پوهېدای شئ، چې په دې ځای کې دی د پښتنو د دښمن په حيث څه اتهامونه نه دي، چې په مرحوم وزير محمد ګل خان مومند پسې نه دي ليکلي.

د مولينا رفيق بلند شهري ليکنه، چې پيښوري محترم نجيب افغان په دري ژبه ترجمه کړې:

" دا اثر له نن ورځې نه پېنځه شپېته کاله پخوا په هند کې په اردو ژبه نشر شوی دی، چې ددې معتبرې او مستندې لیکنې ځينې برخې ستاسو د معلوماتو خبرېدلو او قضاوت دپاره راوړل کېږي.

دا ليکنه ايينه افغانستان په ۷۸_۷۹ ګڼو کې هم خپره شوې ده.

دا سند د سقاو د زوی د اسلام په نوم د پادشاهي پيل، دده خط مشي او د انګرېزانو په امر او اشاره د يو شمېر اجيرو روحانيونو او ديني علماوو خدمت شرح کوي.

د ښاغلي مولينا رفيق بلند شهري ليکنه د هغه وخت په "زميندار" اخبار کې نشر شوې.

نوموړي په هغه وخت کې افغانستان ته تګ او راتګ درلود، جريانات يې د سر په سترګو ليدلي او هم دده ځينو دوستانو ورته په کابل کې دا معلومات تيار کړي.

تاسې به دلته د سقاو د زوی د کړو وړو، وحشتونو، جنايتونو، زجرونو، غلاوو او معصومو انسانانو کورنيو ته د بې ناموسۍ اړولو او نورو په باب پوره خبر شئ، چې وګورئ لومړۍ دورې سقاويانو د هېواد د شريفو خلکو په مقابل کې څه کړي او بيا هغه د دويمې سقاوۍ له وروسته شپېتو کالو سره مقايسه کړئ.

ACKU

# رویداد های بغاوت در افغانستان یا کوایف زندگی نافرجام حبیب الله معروف به بچهء سقو.

نویسنده: مولینا رفیق بلند شهری، نویسندهء شهیر هند
(این مقاله حدود ۶۵ سال قبل درهندوستان نشر شده بود)
مترجم: نجیب قندهاری، از کنوکگاپارک_کلفورنیا، اپریل

## واقعات مهم قتل و غارت:

یک سیاح اروپایی که غرض سیاحت به افغانستان رفته بود، بعضی اوقات قتل و غارتگری حبیب الله ملقب به بچهء سقو را چنین شرح و درج سفرنامهء خود نموده است:"از کابل ۲۲ میل دور در یکعلاقهء کوهستانی ایکه بنام سرای خواجه یاد میشود، بسواری موتر می گذشتیم، در راه شخصی را دیدم که مردم را از رفتن طرف کابل و یا پشاور منع میکرد و میگفت بچهء سقو و یارانش راه ها را در هر جا مسدود ساخته اند و الان مال یک لاری را چور و غارت نموده و بعدا لاری را اتش زده و دریور بیچارهء انرا به قتل رسانیده اند.

از شنیدن این خبر فجیع و مضطرب خیلی سراسیمه و پریشان خاطر گشتم، به میزبانانی که ما را برای سیر و

سیاحت به این علاقه اورده بودند ، گفتم: اکنون چه باید کرد ???

در جواب گفتند: تقاضای دور اندیشی اینست که خود را در مخاطره نیندازیم، باید بالفعل اراده، رفتن سرایخواجه را ملتوی و شب را در کدام جای مامون و دور از اینجا بگذرانیم. خدا مهربان است، فردا وضع نورمال و ما و شما بسفر خود ادامه خواهیم داد.

انگاه روی موتر را گشتاندیم و در راه بسیار جایها مردم را دیدیم که به اثر اتش زدن رفقای حبیب الله بچه، سقو سوخته و خاکستر گشته و بعضی در حال سوختن بود که اتشش زبانه میکشید و شعله هایش طرف اسمان بلند میشد.

از دیدن این اتش سوزیها جذبات همدردانه و بس دوستانه من بجوش امد ، به رفقای خود گفتم: اگر با مصیبت زده گان این فاجعه، مولم کدام امداد کرده نمیتوانیم، بیایید که به کمک همدیگر اتشهای افروخته را فرونشانیم که اضافه تر خساراتی ببار نیاورد.

از یکطرف وظیفه، بشری را انجام خواهم داد و از طرف دیگر این بینوایان را از فاقه و خسارات مالی مصون خواهیم کرد.

یکی از رفقای افغان لبخند زده گفت: این خیال خام را بخاطر میاورید که مستلزم بسا خطرات مالی و جانی است، اشرار فساد پیشه قبل از انجام به باشنده گان ناحیه اعلان میدارد که احدی از شما حق ندارد که اتش افروخته، مارا

خاموش و یا دست امداد بمخالفین ما دراز نماید، اگر احیانا بمشاهده رسید، سزای مالی و جانی داده خواهد شد و حق شکایت به وی نخواهد ماند.

از او پرسیدم این جای اتش زده منزل کدام شخص است و چرا مورد قهر و عتابِ اشرار قرار گرفته؟ پاسخ داد که مالک مکان عبدالصمد نام دارد، گروه اشرار از وی مطالبهء هزار روپیه را داشت، وی از روی سادگی و یا مجبوریت، ماجرا را به اطلاع پولیس رسانید و از ایشان طالب امداد و مصونیت مال و جان خود شد. اشرار از مشاهدهء این وضعیت به قهر و غضب امده و در صدد انتقام تلافی جویانه شدید و در حین عدم وجود شخص مذکور و خانهء او را با اثاث البیت ان طعمهء حریق ساختند.

وی اینرا هم علاوه نمود: گرچه سرغنهء این گروه اصلا حبیب الله مشهور به بچه سقو است، مگر مشاورش سید حسین نیز در قتل و غارت و چور و چپاول رول مهمی را بازی می کند و در پیشهء منحوس قطاع الطریقی از استاد خود کم نیست، گویند یکروز محاکم محلی چاریکار که در گرفتاری ایشان سعی بیشتر را مبذول میداشت از طرف انها چنین اخطار داده شد که اگر میخواهی حیات شیرین خود را در خطر نیندازی از تعقیب و گرفتاری مایان دست بردار شو، ورنه با چنین پاداشی روبرو خواهی شد که در زندگی با ان مواجه نشده باشی. این اعلان خطر، مورال حاکم مذکور را ضعیف ساخت و بعدا در پی گرفتاری ایشان نیفتاد.

سیاح مذکور اینرا هم می نویسد که در کابل یک بقال بمن چنین حکایت نمود: " روزی، شخص ناشناسی نزدم امد و گفت: در فلان جا نرخ گندم خیلی نازل است، اگر با من در این معامله شرکت کنی، در مدت کمی مالک بسیار پول خواهد شد و ستارهء بختت در اسمان خواهد درخشید. من ساده بختیزبان چرب و شیرین وی فریب خورده، اظهار موافقت نمودم و فورا بدون کدام مشوره بمعیت شاگرد دوکانم با ان شخص محیل و چالباز غرض خریداری رهسپار منزل مقصود شدم. در راه چند نفر دیگر هم باما همراه گشتند و گفتند که ما نیز گندم می خریم، برای اینکه نرخ در اثر داوطلبی و رقابت بالاتر نرود، بهتر است که همهء ما باهم شریک شویم.

این نظریهء شیطانی و فریبکارانهء ایشان مورد قبولم واقع گشت، خدا شاهد است که اگر تا ایندم فهمیده باشم که انها برای من پلان و دام بسته کرده و میخواستند بدینصورت از من پول بگیرند، زیرا که وضعیت ظاهر ایشان بصلاح اراسه و دارای ریشهای دراز و عمامه های سفید بودند.

من با صداقت و اطمینان کامل با انها یکجا روان شدم و بسخنان شان گوش میدادم، پس از طی یکساعت مسافه، به یک ده محقر رسیدیم که نفرهای خیلی زیاد در انجا گرد امده بودند، یکی از انها بی محاباسیلی سختیبرویم زد و فی‌الفور دستها و پاهایم را بدرختی محکم بسته و گفت: اگر زندگی ات را دوست داری و میخواهی از شکنجه و پانهء ما خلاص

شوی، دستی عنوان پسرت حوالهء پنج هزار روپیه بنویس، اگر نمی نویسی و تعلل بخرج میدهی، بیدرنگ می کشمت.

من از ترس مرگ و در حال حواس باختگی بادستهای لرزان حوالهء مبلغ پنج هزار روپیه را نوشته و دادم. بدین ترتیب بعد از حصول مبلغ متذکره، توسط ان جنایتکاران فساد پیشه که دار و دستهء حبیب الله بچه سقو بودند، از چنگ انها رهایی یافته و سالم بخانه برگشتم.

## دست درازی بچهء سقو بدختران و ناموس مردم:

بچهء سقو در علاقه های کوهستانی بازار و رهزنی و چور و چپاول را خیلی گرم ساخته و از تعقیب و تلاش حکومت بکلی هراس نداشت، مردم اطراف و جوانب کابل نیز بمقابلش نیروی مقاومت نداشتند، چنان چالاک و زرنگ بود که پولیس و دیگر اراکین امنیه از گوشمالی وگرفتاریش عاجز ماندند. یکروز بعد از چور و چپاول چند قریه، در عرض راه با یک قافله روبرو گشت که در ان یکدختر حسین و شکیلی بود، بچهء سقو که پابندی به ناموس مردم نداشت و از قیودات اسلامی و افغانی پا فراتر میگذاشت، زود فریفتهء او گشت و به امیر قافله بصورت تهدید امیز گفت: بشرطی از تاراج قافلهء تان دست بردار میشوم که این دختر نازنین را بمن بسپاری تا درحبالهء نکاح خود بیاورم.

این گفتار پوچ و بی معنی وی که تافیسنن اسلامی و افغانی بود، احساسات امي قافله را به هیجان اورده، بدون بیم و ترس جواب داد: از دعوهء اسلامیت و افغانیت خود نمی

شرمی؟ ایا بتو می زیبد که بدختران مردم بی قیدانه دست درازی میکنی؟

بچهء سقو در حالیکه اثار خجالت از ناصیه‌وی مترشح بود، گفت: فعلا از این فکر خود موقتا منصرف میشوم، ولی در اینده تو قدرت مرا خواهی دید و در انوقت بسر وقت و میرسم.

مولینا رفیق بلند شهری د همدې لیکنې په یوه بل ځای کې د ملا شاهي موید سقاو شاهي تر عنوان لاندې داسې لیکي:

## ملا شاهی موید سقو شاهی:

قبلا تذکر داده شد که ارکان عمدهء سقو شاهی ملاها و پیران (روحانیون نما) بودند، که ما در اینجا نام ملا شاهی از انها نام می بریم و تقریبا تمام امور مملکت به مشورهء این انفاس مقدس که به زعم بعضی کوتاه اندیشن از هر گونه مسوولیت دنیوی و اخروی مبرا اند، انجام میشد.

حکومت ملعون انگلیس و گماشتگان بیرحم شان در این صدد بودند که به حکومت بی بنیاد سقوی در افغانستان و هندوستان جنبهء قانونی ای که متکی بر مذهب باشد، بدهند. بنا بر این منظور بعضی فرامین و اعلانات که مبنی بر واتمود کردن خرابیهای بی بنیاد امان الله خان غازی بود، انتشار دادند و به هر گوشه و کنار پخش کردند تا احساسات مردم را به مقابل حکومت امانی برانگیزاند و تاثیر و رسوخ انرا کم

سازند تا عوام نافهم بدون درک مطلب طرفدار حکومت سقوی گردند.

علمای مرتجع و عتیقه پسند و روحانیون مفتخوار برای اینکه زیادتر احساسات مردم را بر علیه امیر امان الله خان غازی تحریک کنند، در تمام نقاط کشور بر الحاد وی زبانی و کتبی فتوای کفر دادند و مردم را بدین وسیله طرفدار بچهء سقو و دیگر کسانیکه ارزوی سلطنت بدل میپرورانیدند، میساختند.

علمای سمت جنوبی (پکتیا) در تحریک مردم در مقابل حکومت سهم بزرگی داشتند و پروپاگندهای بی اساسی را که تنفر و انزجار را بیشتر میساخت، در بین عوام ساده، پخش میکردند و سیاست دست برداری امان الله خان از تجدد را نزد مردم موقتی، بی اساس و غیر قابل اعتبار جلوه میداند و هر گونه پیشنهاد مصالحه ملی را درین مورد خنثی و بی اعتبار میکردند، گرچه اعلیحضرت امان الله خان اسلحهء کافی در دسترس داشت، مگر بمقابل قیام عمومی که به رهنمایی روحانیون منفعت جو صورت میگرفت، بخاطر کشتن مردم عوام، از مقابله دست برداشت."

بلند شهري د خپلې ليکنې په بله برخه کې ليکي:

بوی تهذیب و انسانیت بمشام شان نرسیده از بربریت و خود سریهای وحشیانهء شان، حیوانات درندهء جنگلی رم می خوردند و بنظر نفرین می نگریستند و در راس تشکیل حکومتی چند نفر دزد خودخواه قرار داشتند، پست وزارت

جنگ را سید حسین و پست وزارت خارجه راعطاء الحق اداره می نمود ، زمام وزارت مالیه به یک شخصی سپرده شده بود که برای استرضای بچهء سقاو از هیچگونه چور و چپاول پولی دریغ نداشت. از تجار و ملاک ها بنام های مختلف و به بهانه های گوناگون پول دریافت می نمود ، حتی درین راه از شکنجه و پانه و یا قتل و کشتار ممانعت نمی ورزید ، مقصد یگانهء این سفاک بی رحم این بود ، که خزاین دولتی را از پول غیر مشروع مملو بسازد ، ولو که بکشتار هزار ها مردم بیگناه تمام شود. اخبارات هند را که ماموریں سقاو مخالف مرام شوم می پنداشتند ، از کابل منع و به قارئین انها مجازات جانی و مالی داده می شد. یک ملازم زمان حکومت امانی میگوید که بچهء سقاو به اسلحهء ناچیز خود که عبارت از چند توپ و تفنگ است ، مردم بیدفاع را می ترساند وبه انها اخطار خطر جانی و مالی میدهد ، باینصورت با زبردستی از مردم بیچاره پول اخذ و مال و منال ایشان را چور و چپاول می کند ، سپاهیان بی علم و دانش ، کتابخانه های متعددی را که از کتب نادر و قیمت بها مملو بود ، بی موجب نذر اتش کردند و یا از انها در پختن خوراک و دم کردن چای کار چوب و ذغال گرفتند. به امر بچهء سقاو اسم دارالامان بنام دارالحبیب و اسم امان الله خان غازی بنام (اماتو) مبدل گردید و فرمان صادر نمود اگر شخصی در گرفتن اسمای مذکور خلاف ورزی کند ، مجازات سنگین مالی و جانی داده خواهد شد.

هذا بـه وکیـل التجـار افغـانی در پشـاور حکـم صـادر و اخطـار داد کـه اگر در ظـرف بیسـت و چـهار سـاعت امـوال و خزایـن پشـاور را تسـلیم نـه نمـودی، منتظـر مجـازات سـنگین بـاش! وکیـل التجـار مذکـور کـه یکـی از هـواداران سرسـخت اعلیحضـرت امـان الله خـان غـازی بـود، بـه حکـم مذکـور کـدام اعتنـایی نـه نمـوده و صریحـا جـواب داد کـه مـالک امـوال و خزایـن بـر مـزاج اعلیحضـرت امـان الله خـان غـازی اسـت و بشـماتعلق ندارد، به او عنقریب حوالـه و سـپرده خواهـد شـد.

ایـن جـواب سرسـخت بـر مـزاج بـی فرهنـگ بچه‌سقاو اثـر بـدی بخشـیده و از قـهر و غضـب مـانند مـار بـر خـود پیچیـد و فـورا اقربـای وکیـل التجـار را تحـت حراسـت و مراقبـت شـدید گرفـت، مـگر هـر قـدری کـه معـاملات ظلـم و تشـدد بـر اقربـای وی اجـرا مـی شـد، در اراده‌ء وی تزلـزل بوجـود نمـی اورد و وی را بـر عـزم خـود محکـم و راسـخ مـی سـاخت. دوره‌ء حکومـت سـقوی یـک دوره‌ء ظلـم و چـورو چپـاول بـود، کـدام انتظـام صحیـح و نظـم و ترتیـب مسـتحکمی کـه بـرای یـک حکومـت مـی زیبـد، وجـود دنداشـت، ملاهـای پـول دوسـت و روحـانیون جـاه طلـب در نشـه‌ء عیـش و عشـرت چنـان فـرو رفتـه بودنـد کـه بحـالت بـد مـردم و بدنظمـی هـا کـه منـافی دیـن مبیـن اسـلام انـد، هیـچ اعتنـایی نداشـتند و در فکـر چـاره جویـی فقـر و فلاکـت یـا قحطـی و گرانـی مـواد ارتزاقـی اصـلا نبـوده، هکـذا بـازار چـور، فحشـا و منکـر چنـان گرم بود کـه تذکـر ان شـرم اور و باورنشـدنی اسـت.

زناکاری، دزدی، بی ناموسی یک امر عادی و بی اهمیت تلقی میگردید.

... که بلا شرط اطاعت را قبول و ازین موقع مغتنم اخری استفاده بگیر، این اعلان بر بچهء سقاو کدام اثر نه بخشید و ان را مضحکه خیز خیال کرد و بالمقابل اتش خشم و حسد وی چنان بفوران امد که بلا فاصله همه اهل و عیال جنرال مذکور را از خورد تا بزرگ از ذکور تا اناث گرفتار و داخل محبس نمودند، این رویهء ناهنجار و ظالمانهء مذکور نادر خان کدام اثر وارد نکرد و طور سابق سرگرم اقدامات بود.

محمد آصف صمیم

# شمال، د پښتنو آر مېشتون او ټاټوبی

کله چې سړی د پښتنو د اصل او ریښې په باب په مختلفو آثارو کې راغلي روايات او نظرونه راوسپړي، نو له راوړتې سره دا خبره هرومرو مني، چې :"د پښتو ژبې د اصل او ریښې په باره کې هم د نظر اختلاف تر هغه کم نه دي، لکه پخپله د پښتنو د اصل او نسب په باره کې چې دي. (تړی، رښا او دفاع)

خو دا هم يو حقيقت دی چې په علمي مسايلو کې د اختلاف شتون ځوك په حقيقت پلټنه کې لاس اخيستو او نهيلي ته نه اړ باسي، پښتانه متل کوي، چې: که غر لوړ دی، پر سر يې لاره ده.

وروستيو څېړنيزو پلټنو جوته کړې ده، چې پښتون له خپل ژبني نامه (پښتو) سره ګډه آره او ريښه لري او لکه څنګه، چې پښتو يوه ساکي ژبه ده، دغه راز پښتون د ويونکي په توګه هم له سکه (Saka) ساکي، تېر سره اړوند بلل کېږي، د پښتون

نور څرمه (فرعي) نومونه (افغان، اوغان، روهي، روهيلي او سليماني) د پټهان غونډې د نورو له خوا پرې ايښوول شوي دي. (زيار/پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې)

په سنسکرت کې د ارياپانو لومړنۍ ځمکه يا سيمه د هندوکش په شمال کې د اکسوس (آمو) حوزه يا د باختر برخې ښوول شوي دي، چې استوګنو يې ګاونډيو سيمو (هند او فارس) ته لېږد وکړ. له اسلام نه ډېر مخکې د افغانستان په شمال کې د آمو پر غاړو او شاوخوا د پښتنو د مېشتېدنې خبره خو هغه حقيقت دی، چې له دار مستيتر، ګايګر، اميل بنونيست، نه واخله ان تر پوهاند مارګنستېرنه او نورو ختيځپوهانو ټولو په يوه خوله منلې ده (روهي/افغان ملت)، چې د ملي يووالي د غليمانو د هغو اوسنيو تنګ ليديو او تنګ سترګيو تور ته يو غاښ ماتی ځواب دی، چې وايي: "پښتانه شمال ته مېلمانه راغلي دي". ياني دغه تاريخي او علمي واقعيتونه دا جوتوي، چې پښتانه د هېواد په شمال کې نه د مهاجر حيثيت لري او نه د مهاجم، بلکې د هېواد ددې سيمې پخوانې استوګن دي. (سمسور افغان/دويمه سقاوي)

له خپلو سيمو او استوګنځيو نه د بېلا بېلو اقتصادي، سياسي، مدني او کولتوري لاملونو له مخې د استوګنو لېږد او هجرت هغه بهير او هغه چار ده، چې ټبرېز او ژبني بدلونونه او علمي پايلې او برياوې يا مدني لوړ و ځوړ رامنځته کوي

زمـوږ موخـه دلتـه د خـبرې د دومـره وړانـدې بـېول نـه دي، بلکـې موخـه مـو لـه دې سـپیناوي نـه د تـاریخ پـه ګواهـۍ هغـو یـوښت مـاتوونکیو او د ملـي یووالـي دښمنـانو تـه یـو علمـي ځواب ورکـول وو، چـې غـواړي د "ویـې نیسـه، چـې ودې نـه نیسـي" پـه کوډولـه دغـه راز ګوزاره ځان وژغـوري او خپلـه راپورېوتنـه او پردیتـوب ددغسـې یـوې دښمنـیزې دعـوې او تـور پـه پـرده کـې ونغـاړي او هغـه هـم پـه داسـې سـتغه او سـپوره ژبـه، چې نـه یـې علـم او ادب اجـازه ورکـوي او نـه هـم فرهنـګ، خـو د "فرهنګ" دعـوه ګیر یـې د فرهنګ د مینـه والـو پـه تـوګه کـوي.

پښتانـه متـل کـوي، چـې: "کـه شـپه تیـاره ده، مـنې پـه شـمار دي". ننني بشـري حقوقـي ارونـه (نورمونـه) هـم قومونـه او خپلونـه د انسـانیت د سـترې ونـې څانـګې بولـي او د بشـر د حقوقـو د اعلامیـې د حکـم پـه رڼا کـې پـه بشـري ټولنـو کـې د بېلابېلـو خپلونـو، اولسـونو او قومونـو شـتون خپلمنځـي منلیـو حقوقـو تـه پـه پاملرنـه د ټولنـیز ژوندانـه د پـایښت تضمیـن کـوي او د اسـلام سـپېڅلی دیـن هـم خپلونـه، قومونـه او څانـګې د "انسـانیت" لـه لمـر نـه د هغـو چورلېدونکیـو ذرو پـه څېر ګڼي، چـې شـتون او ځرګندتیـا یـې لـه لمـر نـه د چورلـېدو پـه صـورت کـې جوتـېدای شـي او د خپلونـو او قومـي څانـګو شـتون یـوازې د خپلمنـځي پېژنـد پـر بنسـټ ارزښتمـن ګڼي، نـه د ټکـر او خپلمنـځي تمبونـې (دفـع) پـر بنیـاد.

وروستنیو علمي او ډیموګرافیکو سرشمېرېزو، کورنیو او بهرنیو مؤسسو په افغانستان کې د خپلونو او قومونو پر سلنه (فیصدۍ) ډېرې ژورې او دقیقې څېړنې کړې، چې یوه هم له ۱۹۹۱_۱۹۹۶ع پورې هغه څېړنه ده، چې د واك فونډېشن له خوا سرته رسېدلې او په دې وروستیو کې "د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز" له خوا په لویه کچه په (۴+۸۶+۹۹+۱۸=۲۰۷) مخونو کې چاپ شوې او نوم یې دی"د افغانستان قومي جوړښت".

بل دې ته ورته علمي او تحقیقي اثر د پروفیسر ډاکټر ګلجان وردګ هغه څېړنه ده، چې "د افغانستان په شمالي ولایاتو کې د پښتنو استوګنځي" نومېږي او لویه کچه په ۷_۳۷۸ مخو کې د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ له خوا پر ۱۹۹۷ کال خپره شوه.

خو مخکې له دې، چې ددغو دوارو څېړنیزو آثارو د څېړنې په رڼا کې په بېلابېلو پښتونمېشتو سیمو کې د پښتنو سلنه یوازې په دې نیت راواخلو، چې زموږ د ملي یووالي اډانه او ځانډره یوازې ملي واقعیتونو ته په درناوي پاتېدای شي، د هغو ښاغلیو او د فرهنګ ددعوه ګیرو "فرهنګیانو" علمي (!) نظرونو ته لږ ځیر کېږو، چې د خپلې "فرهنګي" دعوې شمله په پښتنون دښمنۍ جګول غواړي، دا خپلو ژېر دیپال (خودکش، بېګانه پرست) په دې هم نه پوهېږي، چې که دوی پر حقه وای،

نـو هـېواد دښمنـه هېوادونـه، ټولنـې او عنـاصر يـې ولـې مـادي او سياسـي ملاتـړ او هڅونـه کـوي؟

کـه دوی رښتيـا هـم خپـل فرهنـګ او خپـل پـېژنـد تـه رښتينـي وای، نـو د "اوښ د بـار پـر ځای د اوښ پـه ګنـګرې (جـرس)" پـورې ولـې نښتـي دي؟

کـه رښتيـا يـې هـم د خپلـې فرهنګوالـۍ دعـوی رښتينـې کولـی شـوای، نـو دا بـه يـې نـه کـول (چـې پـرې ناسـت يـې، پرېکـوې هـم هغـه څانـګه).

کـه رښتيـا هـم فرهنـګوال او فرهنګيـال وای، نـو دا حقيقـت بـه بې منلـی وای، چـې: "خـان يـې پـه يـاران يــې" او دا بـه يـې منلـی وای، چې پـه پرديـو څوك نـه درنـېږي.

خـو کـه دغـه ښاغلـي بيـا هـم زمـوږ دغـه د ورورولـۍ او مشـرولۍ ورغځولـی لاس، لاس نـه، تـش لستـوني بولـي، نوبيـاخو پـر نـورو (مـوږ) بـاندې د بلوسـګرۍ دعـوی د فرهنـګ لـه دعـوې سـره خيـانت دی.

پـه هـېواد کـې د پښتـو د ودې او پراختيـا د هـغو دښمـن "فرهنـګ" د هغـو پښتنـو چـارواکيو ـ چـې لـه دعـوې سـره سـره يـې تکـې پښتـو ويـل کولتـوري جـرم بالـه، دا هـڅه چـې ښوونـه روزنـه دې پـه پښتـو شـي، لـه هټلـري فاشيسـتۍ سـره سـمه ګڼي، وايـي:

"پـس از آنکـه در سـال ۱۹۳۳ هټلـر رهـبر حـزب ناسـيونال سوسيالسـت آلمـان زمـام قـدرت را در دسـت ګرفتنـد. اينـها نظـر محمـد ګل را در بـارهء تعميـم زبـان پشـتو و طـرد سـاير (!) زبـان

ها از خود نموده، پس از آنکه آنرا با آب و تاب هتلری جلا و صیقل دادند. بعنوان سیاست جدید فرهنگی در محل تطبیق گذاشتند، اینوقتی بود که در سطح بین المللي، المان نازی به اوج قدرت رسیده و دور نمای پیروزی نهایی و حتمی آن عنصر زور گو و فاشیست مزاج در همه جا بسوی خودجلب میکرد. در افغانستان قدم اول درین راه توسط فرمانی برداشته شد که در شمارهء ۱۲ حوت سال **۱۳۱۵** مرادف با **۳** مارچ **۱۹۳۷** میلادی راجع به زبان پشتو در جریدهء اصلاح نشر شد. *(افغانستان در پنج قرن اخیر، ۴۲۶_۴۲۷).*

همداراز ښاغلی فرهنګ خپل تاریخي مېشتغالی او ټاتوبي ته د پښتنو په ستنېدو داسې په کرکه ګوري، وايي:

" محمد گل مومند، خانواده های پشتون را حتی از خارج سرحدات افغانستان به تعداد زیاد به شمال هندوکش کوچ داده با دادن زمین و دیگر امتیازات اسکان و در ماموریت هم به پشتو زبانان ترجیح میداد". *(همدا اثر او مخ).*

د ښاغلي فرهنګ یو بل نوموړکی لاروی، یالاروي هم د پښتون دښمنۍ په مبارزه کې دده پر پله ترده تیز تللی دی وایي:

"افغانستان کانون تبعیضات نژادی، لسانی، مذهبی، اقتصادی و منطقوی است. این تبعیضات که در مجموع میتوان آنرا اپارتاید پشتونی نامید، توسط شاهان غاصب پشتون از قرن ۱۸ بدینسو در افغانستان رشد و نمو کرده و به

یک سیستم سیاه و ضد انسانی به تبانی در باریان قاجارو امیر دوست محمد محمد زایی بطور بسیار بطی بوجود آمد و در زمان امان الله (۱۹۱۹_۱۹۲۸) پادشاه ناسیونالست و روس طلب پشتون و محمود طرزی پایه های آن طراحی گردید. با گذشت زمان بعد ها منافع انگلیس، امریکا، شوروی و چین با منافع پشتون شاهی در یک مسیر قرار گرفت.

افغانستان مانند اسراییل سخت مورد توجه سیاستهای مودرن امریکا و شوروی‌قرار گرفته است. هر دو ابر قدرت باسرمایه گذاریهاییکه برای حفظ سیاست پشتون شاهی در افغانستان بعمل آورده اند، دیگر این کشور فقیر و نادار را به کشتار گاه وحشتناکی که بدتر از قتلگاههای هتلر در آلمان نازی است، تبدیل نموده اند.

اپارتاید پشتونی بمثابهء طاعون خطرناك و مسری(!) (ساری) بجان و مال اقوام و نژادهای بومی غیر پشتون مسلط گردیده و به غارت و چپاول بیرحمانه در طول (۱۵۰) سال اخیر ادامه داده است".

د یو موتي هیواد او ملت په دښمنۍ او د ملي یووالي پر سر گوزار کې یوازې دوی یوه خوله او یو لاس نه دي، تر دوی نورو درنو ستو (په لوی سر کې د پښتونولۍ له دعوې سره سره) هم ددې رسۍ سر نیولی دی. مثلی مؤرخ او لیکوال غوث خیبري

د خپل يوه تازه خپاره شوي اثر چې "پښتانه د کلتوري ښکېلاك په زنځيرونو کې" نومېږي، په يوه برخه کې ليکي:

"استاد خليل الله خليلي (د مطبوعاتو مستقل رئيس) خوان په پښتو ژبه د ولسي جرگې د وکيلانو د ويښا راپورتاژ نشرېدلو ته پرېنښود." (۴۰۴ مخ)

وړاندې ليکي: "په ۱۳۳۸ کال زه د کابل راډيو د "پښتون ږغ" د مجلې مسوول مدير وم، زما مرستيال يو حسابي سړی و، چې عبدالمتين اندړ نومېده او د غزني د سيمې اوسېدونکی و، ښه د عقيدې خاوند، کلك پښتون و. يوه مياشت يې د ليکوالو د حق الزحمې لست د پښتو مکتوب (ليك) په ملتيا د محاسبې لوی مديريت ته ورواستولو، ليکن هغو هغه لست په دې دليل، چې مکتوب يې په پښتو دی او د کنټرول او محاسبې مامورين ورباندې نه پوهېږي، بېرته راولېږلو او زموږ دلېلو ته هم مقاماتو غوږ ونه نيوو. (همدا اثر ۴۱۱ مخ).

## بدلېږي پښتانه:

"که وېشتلی يم، خو بيا پخپل ټوپك يم"

زموږ په ټولنه کې يو زيات شمېر پښتانه له ژبني پلوه مسخ شوي دي. د هېواد ستر او نوماند محقق او ليکوال اکاډيميسن پوهاند عبدالشکور رشاد د خپل يوه يادښت په ترڅ کې دا يو دوه بېلگې وړاندې کوي، چې زموږ ددې پورتنۍ ادعا ټينگښت ملاتړ کوي.

استاد وايي: "متين خان اندړ راته وويل: يو وخت زه د کابل په څوارلسمه کې جبارخان کلا ته ولاړم، چې له رئيس تميز عبدالرب خان اندړ سره ووينم، کلا ته نژدې دده زوی په مخه راغی، د پلار پوښتنه مې ځنې وکړه، ده راته وويل:" او کتی قومايش در مهمانخانه شيشته".

(د محمد ګل مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه/۳۶ مخ.)

استاد وړاندې وايي:

يو وخت زه په لينن‌ګراد کې وم، د ختيځ پېژندنې له پوهنځي څخه ټيليفون راته وشو، راته وشوو چې: "يو ډاکټر د عالي تحصيلاتو په نيامت له افغانستان څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کې دی، ما چې په ټيليفون کې له نوي مېلمه سره خبرې وکړلې، ومې نه پېژانده، خو د وطنداری په خاطر مې ورته وويل: دغه دی دستي دررسېږم. زما لار ښاره. زه چې پوهنځي ته ورغلم، له نوي راغلي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شی ژيت (ليلې) ته مې بوته، ځای مې ورونيوه، ښاغلي ډاکټر... چې خدای پاماني راسره کوله، تر کوروداني وروسته يې دا هم راته وويل: "ما در کلان مه نورزايی بود". (همدا اثر، ۳۷ مخ)

همدا راز د پښتو وتلی نقاد ليکوال استاد سعدالدين شپون هم خپله يوه خاطره يادوي، وايي:

"د بېتاب نوم خو به مو اورېدلی وي، عبدالحق بېتاب د فارسي ژبې يو شاعر و، په پوهنځي کې زموږ د بديع استاد و.

دده او خليلي (چې بيا وروسته پوه شوم، دواړه په قام ساپي او تربوران دي) په ملك الشعراء كېدو مقابله وه، خو د ځينو سياسي دلايلو په وجه بېتاب ملك الشعراء شو.

يوه ورځ د تفريح په وخت کې ما د مندتويوړ ونې ته تكيه وهلې وه، پام مې شو، چې بېتاب صاحب د كوم كليوال سره، چې دده سره يې كار و، خبرې كولې، غوږونه مې ځك كړل. كليوال په پښتو د بېتاب صاحب نه لكه چې پيسې غوښتې، كه ګورم د بېتاب صاحب اواز راغى:"څو ځلې مې درته ويلي، چې ما سكه پيسې نشته" اريان دريان پاتې شوم، چې دا خو پښتون دى، نور غوږ مې هم ونيو او بېتاب صاحب په كره، سره او نږه پښتو او ان چې د كليوالو په لهجه په پښتو ګډ و. ما د ځانه سره ويل، كور يې ګډ كړي، چا فكر كاوه، چې بېتاب دې پښتون وي؟ بېتاب به په عمر كې يو پښتو توری كه دروغژن نه شم، نه وي ليكلى.

د "من لالهء ازادم" په نامه ښكلي شعر ويونكى ابراهيم صفا هم همداسې درواخله. ايله دلته په امريكا كې چې مې دده زوى ډاكټر موسى صفا وليد، چې بې چوخه پښتو وايي، پوه شوم چې ابراهيم صفا پښتون و، د هغه ورور انور بسمل هم همداسې. *(رنګا او دفاع، د محمد حسن كاكړ تولونه، ۲۳۹ مخ)*

د هېواد په بېلابېلو ولايتو كې د بدلژبيو پښتو يادونه د "افغانستان قومي جوړښت" ليكوال داسې كړې ده:

" په هرات کې برسېره پرتو خواوو ترينو ځينو عليزيو، پوپلزيو او بارکزيو پښتنو قومونو هم خپل ژبنی او کلتوري هويت له لاسه ورکړی دی. برسېره پر سدوزيو، محمدزيو، فرمولي پښتنو هم خپل ژبنی هويت له لاسه ورکړی دی. په بدخشان کې يو شمېر دراتيو او وردګو پښتنو خپل هويت پرېښی دی. په باميانو کې هم په همدې ډول، وردګ پښتانه په فرهنګي لحاظ دل شوي دي.

په فارياب کې هم وردګ پښتانه د ژبې له پلوه له ځانه ورك شوی دی. په کابل، پروان او کاپيسا کې خو ډېر پښتانه په همدې برخليك اخته دي.

"واك فونډېشن" د خپلې ساحوي سروې او څېړنې له مخې پر زونونو د پښتنو د وېش په لړ کې په شمالي زون کې افغان قوسونه داسې ښوولې دي:

شمال، لوېديز زون (بدخشان، تخار، کندوز، بغلان، سمنګان، بلخ، جوزجان، فارياب، بادغيس، هرات) ددې زون په سلو کې ۳۹ اوسېدونکي پښتانه دي، چې د ټول افغانستان د نفوسو په سلو کې ۱۳ کېږي، ياني د افغانستان په ټول نفوس کې (په سلو کې له نژدې ۷۳/۶۳%پښتنو) څخه ۱۳% په دې (شمالي، لوېديز) زون او پاتې ۵۰% پښتانه د کوچيانو په ګډون د هېواد په نورو زونونو کې مېشته دي. په بله ژبه ددې زون څه کم نيمايي اوسېدونکي پښتانه دي.

(د افغانستان قومي جوړښت. ۵۶مخ

# شمال، پښتانه او محمد ګل خان مومند

د "افغانستان در پنج قرن اخیر "لیکوال دسترګو د اغزي په څوکه ارواښاد محمد ګل خان مومند بابا په دې تور غندي، چې پښتنې کورنۍ یې حتی د افغانستان له پولې ـ سره له دې چې پخپل *تاریخ(!) کې یې پوله نه مني*ـ زیات شمېر بهرنۍ کورنۍ د هندوکش شمال ته راولېږدولې او د ځمکو په ورکولو او نورو امتیازونو سره یې مېشتې کړې او په ماموریت کې یې هم پښتو ژبه (پښانه ورته نه وایي) ته لومړیتوب ورکاوه"، ۴۲۶ مخ.

خو هسې نه، چې په شمال کې د پښتنو پر تاریخي او لرغونۍ مېشتېدنې بیا راغبرګ شو، یوازې دغه د اتلسمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي په وروستیو کې یانې د وزیر بابا له مېشتونې د څه کم دوه پېړۍ وړاندې مېشتونې په تاریخي حقیقت به د ښاغلي فرهنګ د ارواغوږونه خلاص کړو، کېدای شي دد به هم لوستي وي، چې:

"د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د پښتنو استوګنه د نادر افشار په وخت د نظامي خدمت په مقابل کې پیل شوې وه او زرګونو کورنۍ په شمالي او شمال لویدیزو ولایتونو کې

استوګنې شوې وې، نو ځکه د دوی دا استوګنځایونه او شمېر د تاریخي اسنادو د قیدولو په بڼه ملي او نړیوال ارزښت لري.

*(د افغانستان په شمالي ولایتو کې د پښتنو استوګنځي/۱۳ مخ)*

که د "فرهنګ" د اروا سرپرې خلاص شوی وي، نو ددې لیکنې د پایلې په توګه به د ښاغلي مخور مشر غلام زرملوال دا وینا هم واورئ، چې:

" راځئ له انصافه به نه تېرېږو، هغه څه چې د مثال په توګه پښتنو۔ چې زموږ د هېواد اکثریت قام دی۔له نوروافغاني قامونو څخه زیات لرل، څه وو؟ په اصل کې که خدای ته مخ او بنده ته شا کړو، په افغانستان کې پښتنو ته خپل حق نه ور رسېدلی، د اقتصادي خوا غریب و، د ماشومانو دپاره یې ښوونځي نه و او د روغتیا دپاره یې روغتون نه درلود، که تاسو په رښتیا په حکومتي دستګاوو کې د دوی برخه وخېږئ، نو درته څرګنده به شي، چې پښتنو ته خپل حق نه و رسېدلی. په اداره کې، په پوهنه او روزنه کې او کتاب کې د پښتو ژبې برخه په هېڅ شمارېدله او تاسې ته څرګنده ده، چې تعلیم یافته د پښتنو، لکه څنګه چې په پښتو خبرې او لیکنې کولې، په هغه اندازه په دري ژبه خبرې کولې. خپله ژبه یې بلله، بولي یې، مګر هغه څوك چې وایي، په افغانستان کې پر دوی ظلم شوی دی، خپل ګرېوان ته دې مراجعت وکړي، آیا ادعا کولی شي؟ راځئ چې د پکتیا، ننګرهار، پکتیکا، کندهار او هلمند په دښتو کې وګورو، چې آیا د هغو ولسونو ژوند په

دښتــو کــې د اوســېدونکيو ازبکــو، يــا ترکمنــو، هــزاره ګانــو او تاجکو تر ژوند ښه دی؟ نـو دا خـره چـې پـه افغانسـتان کـې دې پـه شـخصي تـوګه لـه يوقـام سـره ظلـم شـوی وي، زمـا پـه نظـر بـې اساسه خـبره ده.

*(غلام زرملوال/ژوندی خاطرې، د ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي څېړنه، ۱۹۹۷، بي بي سي، ۱۸۶_۱۸۷)*



يادونه:
د بايزي صيب او بختاني صيب مقالې وروسته راورسېدې ځکه د کتاب په پای کې راغلې دي له دوی نه په مننې سره.

## گرانه وروره غربيار صاحب!

ما په زندان کې په خپل پلار ليک وکه او هغه ليک يوازې زما د پلار په باره کې نه و. د گل دادا وزير محمد گل مومند په يادوه شروع شوی و او دا ځکه چې ماته د پښتون غږ- زما پلار نه، زما- چاپېريال نه گل دادا وکه، ته پښتون يې ته مسلمان يې، افغانستان کې چې څوک اوسېږي، ټول افغانان دي گل دادا به هره ورځ مازيگر زمونږ کور ته شهر آرا ته، راته. د داخلې چارو وزير او د صفحات شمال تنظيمه رئيس و. زما لږې سترگې بېرته شوې وې، هغه خوا دا خوا مې کتل، دغه او هغه مې ليدل چې په پښتو ژبې پسې يې راخستې وه، زه دې غږ چې گل دادا زما په غوږ کې وکه متوجه کړم. ما به مرحوم استاد ته ويل چې ماته فارسي را زده کړه چې ما ته څوک افغان غول و نه وايي. د هغه وخته لېوال يم، پښتون را باندې ښه لگي، پښتو ژبه راته له هرې بلې ژبې نه گرانه ده او قدر يې هم را سره دی. دا نه چې د نورو ژبو دښمن يم. دا د لنډ فکر خلکو

چې تر اوسه پورې ښکته او پورته لګيا دي خپلې ژبې را باندې مسلطوي او پښتو ورکول يې وظيفه ده. خدای دې ما هغسې نه کړي، خو د ډېرو سختو متعصبو خلکو سره مو سر او کار دی ما د مليت استفاده د ګل دادا له مکتب نه کړې ده، زه مجبور شوم چې د ګل دادا دماغ وڅېړم. ګل دادا مسلمان و، پښتون و، پښتانه ورته ګران وو. پښتو يې عمل او پښتو يې ژبه وه، چې قام ته يې کتل. قام په خپله د خپل ځان، ورور و عزيز دښمن و، دده قوت په کور کې په يوه بل ختمېده، بل چاته وزګار نه و او لا تر اوسه نه دی وزګار. د پښتون قام دښمنان لګيادي، په دې اور پسې لرګي ږدي، د خوشالۍ ځای دی چې کښته پورته د پښتو، پښتو ناري دي، د اديبانو او شاعرانو چار دې ښه وي، که تر اوسه لا په يوه ټغر د ناستې نه دي، خو بيا هم دا اميد شته چې دا نارې به ځای ته ورسېږي، لوبه يې توده کړې ده. بلې خوا ته ګورو دنيا د يوه کور په لار روانه شوې او زورور هر خوا ته تپ او تلاش کوي، که په زور وي که په چل په ډارولو وي او که په تمه ورکولو، چې خپل هر څه په بل ومني او دا فلسفه يا وينا چې حق زور دی خپل ميدان زور ته خوشې کوي.

بايزی

## وزیر محمد گل بایزی

وزیر صاحب مرحوم په گل دادا مشهور و، مور به ورته گل دادا وایه. که ووایم چې وزیر صاحب د سوونو کالو پخوانی زوړ پښتون و، نو هم غلطه نه ده او که ووایم چې گل دادا د اوسني دور او وخت یو قوي ملي قهرمان و، نو هم صحیح ده د ملي تربیې یو ځانگړی ښوونکی و. د ملیت په باره کې دده بېل ډول ښوونځی و. گل دادا د پښتني مکتب د فکر شاه کار وه. څنگه پښتني مکتب غوښته، لنډ کی پښتو یې عکاسي کولی شي. دی یو مېړنی و چې پښتانه یې پښتو ته متوجه کول، دی یو کلک مسلمان و، دده مسلماني او پښتو فرق نه لاره، مسلماني او پښتو د یوه قالب دوه نومونه وو. ده به ویل چې پښتون به هرومرو مسلمان وي. له ده سره چې د چا ناسته ولاړه شوې ده، هغه خلک ریښتیني ملت پال دي د اوسني غل او غش نه پاک د ډېر لوی همت خاوندان او ولاړ پښتانه دي. دی په پښتو او پښتون مین و، دده د پښتو کیسه له دې ځای نه شروع کېږي.

یوه ورځ ده ماته وویل چې زه د پلار لیدو ته شینوارو ته لاړم، زما پلار مرحوم خورشیدخان په شینوارو کې حکمران و، خدای ته منظوره وه، چې زه څه وخت د حکومت کلا ته د پلار لیدو ته ورغلم، گورم چې ډېر سپین ږیري ملکان او مشران حکمرانی ته راغلي دي او د یوې جرگې شکل و زه چې پلار ته ورننوتم؛ نو ماته پلار وویل: محمد گله دې مشرانو کاکا گانو ته سرې مشې ورکړه، ما له هر یوه سره په فارسي روغبړ کاوه، په دې وخت کې یو سپین ږیري زما پلار ته وویل: حکمران صاحب ته خو ډېر ښه پښتون یې او زوی دې په پښتو نه پوهېږي. زه خو په پښتو پوهېدم، خو

فارسي مې هم ډېره ښه زده وه او زما ورته څه فکر و، دې خبرې زما د زړه تل وسکونده او په درانه خوب زلمی يې را ويښ کړم. يو بل مشر راته غږ کړ: ته خو حسن خېل مومند يې او پښتو دې نه زده.

دې خبرو په ګل دادا داسې تاثير وکړ چې اوس ورته محمد ګل بابا وايو. لاړ د پښتو په رنګ کې رنګ شو په اندرابيو کې، خو تولمه کوڅه فارسي، فارسي وه، پلار مې ليده، مور مې ليده چې پښتو به يې ويله؛ خو هيڅ دې خواته متوجه نه وم. زه شينوارو پښتنو له درانه خوبه را ويښ کړم.

# (اعليحضرت نادرخان)

پښتنه ليلا ډېره ښايسته برېښي خو جامې يې زړې دي، نوې جامې اغوستل غواړي، د يوه وفادار عسکر په صفت مې ملا وتړله او چې له هر چا سره مخامخ کېږم، نو دا مې سبق شو، چې پښتو به وايو، پښتو به ليکو، پښتو به منو، پښتو به کوو.

له شهيد اعليحضرت محمد نادرخان سره مې مخه شوه. دی يو ډېر مدبر، په کار پوه، د وطن او خلکو خواخوږی، زړور او خولور شخصيت و. زه چې به هر وخت له اعليحضرت سره يو ځای شوم، نو د دواړو ارمانونه دا وو، چې د قام د اتحاد، اتفاق، وروری او د وطن د آبادی بحث به مو کاوه. زه له هغه نه ډېر متاثره شوی يم او ما به لکه د يوه استاد د هغه احترام کاوه او هغه ته زه داسې ښکارېدم، لکه دده د نظرياتو په پيروکار چې بس همدا دی او زه يم. دا دوستي د هرې ورځې په تېرېدو سره ټينګېده. اخر داسې وشول چې دی فرانس ته لاړ. د وجود فاصله وشوه، خو د يوه بل د خيالاتو او

نظرياتو لمن مو کلکه نيولې وه. په سقاوي کې په کور وم خو پښتو ناستې ته چېرته پرېښودم، د سيد حسن خان چې په خوګيانو کې د وطن د نجات علمبردار او سقاويانو برالا دښمن و، له يوه بل سره به مو د موقع په لټون تبادل خيال کاوه، سقاويان به ورکوو، وطن به ابادوو، د قانون د سيوري نه د برخوردار حکومت کوښښ به کوو.

سقاويانو زور، ظلم او زياتى کاوه، ورځ په ورځ د هغوى له شر او فساد نه پوزې ته راغلي وو. اعليحضرت نادرخان او ورونه يې د وطن د نجات لپاره له فرانس نه راغله او چې زه خبر شوم نو د پخوانى دوستي لمن مو د وطن د نجات لپاره د يوه بل کلک کړه او ملا مو وتړ له، چې وطن به له غلو نه آزادوو، زه دده ډېر اعتباري دوست وم.

ګل دادا ډېر بختور شخصيت و، هغه به چې کوم بېوز له، غريب او يتيم ماشوم وليد چې، څوک سرپرست به يې نه و، نو هغه به يې کور ته راووست، خوراک او جامه به يې لکه د اولاد ورکو له او ديني او دنيايي تعليم به يې پرې کاوه او چې خط او برېت به شو، نو بيا به يې له کوره ستر که او چې د کار او زحمت منګ ته به ورسېد، نو د نوکرى غم به يې ورته وکه او له کوره به يې رخصت که، ما دوه درې داسې يتيم ماشومان ليدلي، چې تربيه شوي او بيا رخصت شوي دي. په دې کې يو نيم بې وفا هم پيدا کېده، چې د نورو لپاره به يې کار کاوه چې زه ورته ښوروا سرې وايم.

ګل دادا پښتون و، پښتو ژبه او پښتونولي يې جامه وه. هر چا ته خپله ژبه ګرانه او دنياوال ددې اصل ډېر عزت کوي، ګل دادا ته هم خپله ژبه، دود دستور او پښتني طرز فکر ګران و، لنډکى پښتو دده ژبه او دده پښتني طرز تفکر په ګوته کوي. دى رېښتينى

مين و، موږ چې خپل تاريخ لولو، پښتانه په ريښتيا يو جنګيالی قوم دی، خپل آداب، عادات ملي خصايل او خصائص او طرز تفکر لري، پښتنو په د ښمن پسې توره او ټوپک راخيستي دي. لوی خدای دوی ته داسې وطن ورکړی چې هر ځای يې جنګي مورچه ده؛ خو استثماري او استعماري طاقتونو د دوی له بې پناه عسکري طاقت نه په خپله ګټه کار اخستی، چې دښمن يې مات کړی، نو بيا ګټه د نورو شوې، ولې؟ زما په خيال استثماري او استعماري طاقتونو له دوی نه خپل خان، ملک په ډېر چل ول لرې کړی او خپل خانان، ملکان، لوی مجاهد علما او منلي روحانيون يې چې د دوی د غونډې او اتحاد اتفاق خلک وو او پښتانه پرې را غونډېده، استعمارچيانو د هغوی په ځای خپل خان، ملک، ملا ... په زور او زر چل او ول د پښتنو په اېو کښېنولي دي او دې ځوانانو هم د غير غماز لپاره په خپل قوم راباندې کړي. بې تعليمه يې پرېښي، په اقتصادي طور يې کمزوری کړي. د نفاق او شقاق په مرض يې اخته کړي دي. خپلو قوتونو ورسره جفا کړې ده، له نورو څه ګيله؟

دا کيسه روانه ده، ګل دادا او د هغه په شان پښتنو مفکرينو دا مرضونه درک کړي دي؛ خو د دښمن لاس تر اوسه په دوی کې ډېر قوي اثر لري. ګاونډيان هم له پښتنو نه بې فکره نه دي.

زه تقريباً څلوېښت کاله له ګل دادا سره نږدې پاتې شوی يم خدای حاضر دی چې ما دده له خولې نه ندي اورېدلي چې پارسي به له افغانستان نه ورکوم او چې پارسي وايي، له هغه نه به ژبه پرېکوم. دا عبث خبرې په يو قومي خدمتګار پسې ويل، د خپل کميس اېستل دي. همدا زموږ بدبختي ده، چې موږ له قيادت نه محروموي.

ګل دادا هم داخله وزير و او هم د شمالي صفحاتو تنظيمه رئيس چې زه ورسره بلد بدم. شپږ مياشتې به په وزارت کې و او شپږ مياشتې به په شمالي صفحاتو کې و، چې کابل ته به راغی، نو مبالغه نه کوم، هر مازيګر به زموږ کور ته شهر آرا ته راته.

چې زموږ کور ته به راغی، نو چې مېلمانه به وو او که نه، خو چې موږ به واورېدل، چې ګل دادا راغلی، ورته راغونډ به شو. دده سبق به همدا و چې پښتو، پښتون او پښتونواله. زه ماشوم وم، د پينځو شپږو کالو، خبرې به مې اورېدې او په غوږونو به مې ښې لګېدې، خو پرې پوهېدم نه. دده معشوقه پښتو وه او هر څوک به يې له خپلې مينې نه خبراوه. وچ سرو او تنګه سرو به ويل څه غوچې چې ورشو، همدا پښتو ده او پښتون دی، بله خبره يې نږده. موږ پښتانه يو او پښتو وايو کنه، چا به ويل وزير صاحب زورور دی، څوک ورته څه نشي ويلی، ګنې د الله الله نوم ولې نه ياد وي؟

وزير صاحب کابل ته مردار ډند وياسته ويل به يې چې اطرافي راشي؛ نو دلته ترې خپله ژبه هېره شي. خولې ډېرې او خبرې ډېرې؛ خو زه دا وايم چې په موږ لوی خدای فضل کړی، لوی خلک يې راکړي، خو موږ پښتنو ورته په خپلو سترګو و نه کتل او د اقتدار د خاوندانو او مغرضو خلکو خبرې د ګل دادا په باره کې ډېرې شوې دي.

ګل دادا ډېر کلک مسلمان و او په خپله عقيده ډېر کلک چې چا ليدلی و او د هغه په مغزو کې لږ هم د ملک او قام څه فکر و، مغوی ورته په ډېر احترام او ادب قايل و. او څوک چې وېرېدلی او په تمه کېدلی شول، د ګل دادا په غياب کې به يې هر څه، هر څه ويل، په کابل کې لکه د اوس په شان پښتو خواره وه. نو ده چې به

پښتون ته کتل، چې په کابل کې د بل خولې ته غوږ شول او خپله خوښه او اراده یې د نورو د خوښې تابع ده او نور ورته د احساس کمترۍ هو، هو وایي، په دې به ډېر افسوس ورته او ده لیدل چې پښتون به کابل راغی، نوکرۍ پسې به ترور، ترور ګرځېده او چې نوکري به یې پیدا کړه، نو بیا به یې د خپلې ژبې په غم کې فارسي ویله او ما ډېر ښوروا سري لیدلي دي، چې ګل دادا ته به راتلل، د ګل دادا د قومیت، انسانیت او اسلامیت درس به یې اورېد، خو چې چا به په چوکۍ کښېنولې و او چا د تنخوا خاوند کړی و، هغه ته به یې دا سبق نشو ویلی، چې ګل دادا ورته ښوده. پښتنو به لیدل چې د وزیر صاحب ښکاره مخالفت کېږي او داسې خبرې ورپسې کېږي، چې ببخي له حقیقت نه لرې دي.

ما به اورېدل چې ویل کېده به، چې وزیر صاحب ته که اقتدار لاس ته ورغی، فارسي ژبه ورکوي، فارسیوانان له ملک نه شړي، یا یې وژني. زه به حیران وم چې د محمد ګل مومند مکتب اسلامي او ملي ښه لري، او یو مسلمان هیڅکله د بل مسلمان ورکاوی نه غواړي، ګل دادا پښتنو ته د خپلې ژبې او قومیت سبق وایه، په نورو پورې یې کار نه و. او داګناه څکه نده چې هر چا ته خپل قام او ملک او ژبه ګران دي، شپه او ورځ خدمت یې کوي. په دنیا کې هر چېرته هر چا ته خپله ژبه دود، دستور، آداب، عادات، ملي خصائل او تګلار او طرز تفکر ګران دي، قدر یې کوي او لګیا دي نورو دنیاوالو ته یې په ښه جامه او رنګ کې ښیي؛ خو چې پښتون دا کار کوي، نو بیا متعصب شي او د غرض خاوندان یې د زور او زر په وسیله په هغه رنګ کې خلکو ته معرفي کوي، چې خلک ترې لرې وتښتي، ورنږدې نشي او دا ظلم زمونږ د اوسني عصر په ډېرو لویو

شاه کارو وزیر محمد ګل مومند او فخر افغان باچاخان پسې وشو، پښتنو ورته د نور په سترګو کتل او هغه سترګې تمې او ډار پتې کړې وې. ما ډېر لیدل چې وزیر صاحب یې نه دی لیدلی او نه ورسره ناست دی او نه یې د هغه د خپلې خولې خبرې اورېدلې، بیا به هم د بادار په خوښه لګیا و او په کابل کې هغه وخت هم او اوس هم د فارسي ژبې ویونکي لګیا دي، چې پښتو ژبه ورکه کړي. په کابل کې ډېر خلک خپل اولاد ته اوس وايي چې پښتو ته پاکستاني وايي؛ نو ګل دادا ځکه کابل ته مردار ډنډ وایه او دا حقیقت دی، چې پښتانه چې په افغانستان او پښتونخوا کې په ډېر لوی اکثریت کې دي. نه یې ژبه درباري ده، نه دفتري ده او نه تعلیمي او وزیر صاحب په همدې ګناه کارو، چې پښتون ته یې د پښتو پښتو ناري وهلې، اې پښتونه دا ستا ژبه ده، دا ستا لار ده. پښتو وایه، پښتو کوه، پښتو منه، دا ستا حق دی؛ خو ته په خپل حق کې سوال ګر شوی یې، دا ولې؟ دا ځکه چې له مونږ نه پښتو پاتې ده، چې پرې را غونډ شو، ګوندې تربګنې دښمنۍ زمونږ پښتني طرز تفکر ته چې اسلامیت دی، انسانیت دی، ډېر ضرر را رسولی دی.

وزیر صاحب به د یورپ تهذیب ته پرتوګ اېستلی تمدن وایه او ډېر واري به یې مونږ ته ویلي وي، چې په اوسنو ځوانانو او پوهانو کې داسې څوک نه وینم، چې ددې پرتوګ اېستلي تمدن مقابله وکړي، دا ساري مکروب لګیا دی خپرېږي او مردار ډنډ یې ښه ځای پیدا کړی دي. ډېر خلک چې له پښتو سره نا اشنا اوسېږي، که دا ولس ډار نه وي؛ نو جامې ورته بدلوي. رېښتیا هم چې مونږ ورته ګورو اکثر پښتانه یې مخالفت کوي. خو پښتون یو، یو شوی دی، اجتماعي ژوند یې خلکو په انفرادیت بدل کړی او مجبور کړی یې

دی، په خپل منځي ګوندي او تربګنی کې یې داسې ښکېل کړي چې تري خلاصېدی نشي او نه داسې قیادت شته او نه یې حکومت شته، بې اتفاقي یې کور وران کړی دی.

بابا بـه ده تـه ورتـلونکي پښتـانه متوجه کـول، چـې کـه پښتوورکه شوه، پښتون ورکېږي په کابل او پېښور دواړو کې پښتانه په اکثریت کې دي؛ خو د دولت او حکومت د خاوندانو په ګورت کې دي. ګاونډیان لګیا دي، له پښتون نه خپل هر څه اخلي او خپل هر څه ورته د غاړې کمیس کوي

ګـل دادا پښتني عزم او ارادې ته عملي شکل ورکول خپله فریضه ګڼله او په پښتنو کې یې ملي بیداري او شعور پیدا کول په فعل او عمل کې خپله د ژوندانه دنده کڼه. چې ما کله لیدلی نه یې شپه ارامه وه او نه ورځ، زه ماشوم کابل تـه راغلی وم، زمـا پـلار په کـابل کې نظر بند و. زما مشر ورور حاجي محمد اسلم خان هم په کـابل کې د مرحوم احمد شاه خان وزیر دربار په کور کې د یرغمل په توګه اوسېده. کابل ته مې د پلار له راتلو نه وروسته هغه خوشې شو.

دا اوړده کیسه ده، زه چې پـلار مې کـابل تـه راغـلم، نـو پـه ده افغانان کې د ښار په یو څنډه کې د مرحوم ملا وردګ په کور کې د کرایې په کوټو کې اوسېده، زه بـه چې له کوره ووتم او یو اطرافي پښتـون بـه را روان و، نو اکثر زلمو او ماشومانو به پسې چغې وهلې، افغان غول.

مـا له مرحوم مرسلین استاد نه سبق شروع کـه، هغـه هـم د کـامې د ولسوالی و، مـا بـه استاد تـه ویـل چې استاده ماتـه داسې فارسي وښیه، چې پښتو مې هېره شي. هغه راته ویل: ولې زویه؟ ما

ورتـه ویـل چې ماتـه څوک افغـان غـول و نـه وایـي. دا د مـردار ډنډ سوغات و.

گل دادا په اندرابیو کې اوسېده، خدای خبر چې هغه به څومره وارې اورېدلي وي. گل دادا ملا وتړ له، د پښتو او پښتونولي غږ یې ټول پښتون قوم ته ورساوه، کښته پورته مزدور فکره خلکو به ترې منفي اثر اخیستی وي، خو د حق لپاره چې څوک را پاڅي، د هغه غږ او شور ډېر لوی تاثیر لري پورته او ښکته پښتنو ته ناري کړې: اې پښتونه! ته د لنډکي پښتو د صفاتو مالک یې؛ خو ډېر بد بد گیر یې، زولنې ماتې کړه او خپل حق وغواړه او د بل حق و منه.

پښتانه غیرتي او جنگیالی قام دی، په جنگ کې ترې چا گټه نده کړې، جنگ او فتح ده کړې خو مزې پرې نورو؛ ځکه چې سیاسي او اداري واک له هغو خلکو سره و او دی، چې دی نه غواړي.

وزیـر صـاحب پښـتانه دې خواتـه مـتوجه کـول، ځکـه خـو د زورورو د سترگو ازغی شو. کښته پورته مخالفتونه شروع شول. او داسې بې ځایه تنقیدونه د عوامو غوږ ته رسول کېدل، چې ماته خو بې انصافي ښکاري.

گل دادا که د افغانستان په هر گوټ کې حکومتي چارې سر ته رسولې، هیڅوک دا نه شي ویلی، چې په چا یې زیاتی کړی دی، هر چرته چې تللی، د یو مهربان ورور په حیث یې درست وگړي په یوه تله تللي، له هیچا نه یې سوء استفاده نه ده کړې او نه یې په چا ظلم زیاتی کړی او تر وسه یې کوښښ کړی، چې د ظالم لاس پرې کړي له وزیر سره د گېډې داسې غم نه و، لکه چې د خلکو سره و گل دادا یو با دسپلنه عسکر و، د امنیت د ټینگولو په خاطر یې هم په ټول افغانستان کې خپله وظیفه د یوه مسلمان پښتون په څېر ایمانداري

تر سره کړې ده. ددې دردېدلي ملت د غم او درد علاج پسې يې ملا تړلې ده. د هر افغان او په تېره د هر پښتون غوږ ته يې دا رسولې چې مونږ ټول يو ورونه يو، په يوه بېړۍ کې سپاره يو، غم او درد مو شريک، ګټه او تاوان مو شريک او هر څه مو شريک دي د هغه او د باچاخان او خدايي خدمتګارو برکت دی، چې پښتانه را ويښ شوي، ځان جوړوي او د دنياوالو په کتار کې ځان شريکوي.

يوه خبره کېږي چې پښتانه د پېسو ډېر شوقيان دي، هر شي ته تېنګېږي، خو دې وسلې ته نشي تېنګېدی. له پښتنو نه به نن په دنيا کې د ماديت له پلوه هيڅوک هم غريب نه وي، نه يې د اقتصاد غم خوړل شوی او نه د تعليم او تربيې له بده ساته د ښې بدې مشران د دوی په خپله نه دي، مشري نورو کړې، پيسې حلالې حرامې هغو اخيستی او بدنام پښتانه دي.

دا به يې ډېر ويله چې له حضرت سرور کائنات نه د خدای په نزد بل څوک ښه د مادي ژوند توصيه مونږ ته د حلال کسب او کار په چوکاټ کې کړې ده، نه په حرامو لارو پيسې ګټونکی د پيسې شي، هغه د خپل ورور عزيز خدمت نشي کولی. همدا سبب و، چې وزيربابا په يوه کرايي کور کې د دهمزنګ زندان شاته اوسېده او هلته يې ځان خدای ته وسپاره. په سمنګانو کې يې دارايي وه، باغ يې ماليدلی و، خو له زمکو نه يې خبر نه يم او دا يې د المر اعلی نشان دستوري بخشش و.

يوه ورځ زه ورغلم، عبد الله خان فرقه مشر چې وزير صاحب ته نږدې همخياله سړی و. ناست و. دوی چې څه خبرې کړې وې. په هغو پوه نشوم؛ خو چې فرقه مشر لاړ، زه چوپ ناست وم. کله کله به مې د ښو لاندې ده ته کاته. دی لګيا و وظيفه يې کوله ماته يې

وويـل چې سبق دې خلاص کړ، نو په حکومتي نوکرۍ پسې مه ګرځه که غواړې چې د قام او ملک په کار شې؛ نو ځانته د عايد يوه ذريعه پيدا کړه او هسې مه کښېنه، چې د چا له لاسه کېږي د خپل ورور، عزيز او وطن خدمت پرې فرض دی او چې څوک ترې ډډې خالي کوي، هغه د خدای او قوم په نزد پړ دی،

نمی ګويم که قيامت جوش زن يا موج دريا شو
بـــا قســـمت آن چـــه بـــتواني همـــان شـــو

زه نــه ويــم لکــه ســيلۍ وهــلی ســيند خوټېــږه
چې دې له لاسه کېږي هومره چارې کړه لټېږه

ګل دادا يو عسکر و، طبعاً عسکر د ادارې د دسپلين پابند وي، دسپلين هم د قانون د رڼا لاندې کله، کله يې حکومتي نظامونه وڅېړل، نـه يـې پـه ديموکراسۍ بـاندې تسـل کېـده، نـه پـه مطلق العنانۍ، نه په شاهي نظام او نـه پـه شاهي مشروطه. دا ځکه چې ده خپل ولس ته کتل چې د اولس مزاج له عدالت او انصاف نه جوړ دی، د پښتنو جرګې دده ډېرې خوښې وې، ولې چې هغـه پـه انصاف او عدالت بنا وې؛ خو حکومتونو دا ګله منله چې حکومت دې په هر کار کې دخيل نه وي دده په ويل چې حکومت د زورورو وي د انصاف او عدالت په تله کې مداخلت. انصاف ورکول نه انصاف اخيستل دي حکومت چې د ملت يو فعال جز دی. د ملت زرګونه خلک يکې په مختلفو عهدو کار کوي، حکومتي چارواکي له اولس نه په مختلفو شکلونو استفاده کوي او چې څوک د عدالت او انصاف ساتونکي نه وي، بيا خو بـه يو مـادي او معنوي استحصال شروع شي دا خلک

چې د حکومت په چوکاټ کې وي، که انتخاب شوي وي که انتصاب د عدالت او انصاف تله مخ په زوړ شي، اولس نا ارامه شي او ملي دارایي معنوي وی، که مادي، د زورورو د پښو لاندې شي. بیا د زورور خوښه چې څه غواړي تر یوه وخته پورې دده آرزو پوره شي، خو ملت ته ډېر غټ تاوان ورسېږي.

کوکی! زه د یوه عادل منصف مشر او د مشر سره ملګري چې د وطن او ملت د اتحاد او اتفاق او ابادی خیال ورسره وي طرفدار او دا سنت مونږ ته له سرور کائنات او د هغه له اصحابو نه پاتې میراث دی. پښتانه خپل حکومت نه لري، د نورو رحم او کرم ته لاس تر زنې ناست دي.

ګل دادا مهربان انسان، ښه دوست، په خدای مین، په خپل قوم پښتون مین، دا به یې ویل چې پښتانه په مین توب ارزي. دا یو ښاغلی قام دی د لوړو خویونو څښتن دی، په الله مین قام، په اسلام سر ورکوونکی قام. اسلام یې معشوقه ده؛ خو افسوس کوم چې چا د دوی غم و نه خوړ، چې د قرآن پاک له متن نه یې خبر کړي او چې څوک ترې خبر دي. هغوی دې په خپلو ګرېوانونو کې وګوري، له علم نه لرې پاتې دي د قلم په ځای ورته ټوپک ورکړ شوی دی، د خود خواه، جابرو قوتونو له لاسه په ګوندیو ترېګنیو اخته شوی. خپل ورو وژني. ورو ورته تربور شوی، دده خدای ورکړی قوت دده په کور کې په خپلو منځو کې د یوه بل په وژلو، سپکولو صرف کېږي.

څوک پښتانه زلمي شته چې ددې قوم په حال خپه شي، ملا وتړي و پښتانه دې ته متوجه کړي، چې د ژوندانه دا لار نه ده. ستا د وقار، ستا د ناموس، ستا د حیثیت، ستا د طرز تفکر دښمن ستا دښمن دی، پښتونه ته د یوه بل ورور یې

پښتون د پښتون د لاسه وهل شوی، که دوی په خپل کور کې ورونه شول، یو موټی شول، زه داسې قوت په دنیا کې نه وینم، چې پښتون مات کړي. پښتو ده او پښتون دی، پښتوده او پښتو ده، دده دا ورځیی شعار به چې ما اورېده. زما احساسات به یې راپارول: خو بېرون ماحول بل ډول جوړ و، په چوکۍ ناستو خلکو، په اقتدار مینو خلکو دا خبرې د ځان لپاره زهر بلل او ډېر پوچ پروپاګند به کېده. زما فکر لا هغه ځای ته نه و رسېدلی، چې د یو داسې قام لیډر باید د ډېر کلک عزم خاوند او د کلکې عقیدې لرونکی وي او د زړه مینه او پاکي یې په داسې اندازه وي، چې څوک ورته ګوته و نه نیولی شي او چې څوک هر، هر څه وايي، خبر دی، خو د پښتو په لار به ځم که وم وم که نه وم نه وم.

ګران دادا له ځای نه ښایسته سړی و، ډېره ښکلې ځواني یې وه، پاکې یې ډېره خوښه وه، دی د اوداسه (مخ مینځتې) او لمانځه ډېر پابند و دا به یې ویل چې د علماې حق احترام په کار دی، د ډېرو علماوو سره یې پېژاند ګلوي، ناسته ولاړه وه، ډېر وارې یې لیدل چې ډېر ځوانان علماء به چې راغله، دی به ورته پاڅېده. په اخر عمر کې ده ته پاڅېدل کښېناستل ګران وو، دی مریض و، دده مرض اپرېشن غوښته؛ خو اپرېشن ته یې تر اخره عمره غاړه کښېنښوده، دی ډېر حیاناک پښتون و. ډېر مېلمه دوست و، چې څه به یې خوارړه، هغه به یې مېلمه ته ورکول؛ خو چې کله به یې مېلمستیا وکړه؛ نو هغه به ډېره فوق العاده او ښایسته وه. یوه ورځ به زه شاید ډېر وړی وم غټ، غټ کپونه مې کول ماته یې ویل: کوکۍ! په کراره ډوډۍ خوره واړه کپونه کوه! دسترخوان نه تولېږي، بیړه مه کوه، بیا به خلک وايي چې... په دسترخوان به ډوډۍ کېښودې شوه، نو د وچې ډوډۍ او

تینګرو (قابونو) ځای به ده ښوده او چې چا به لږ ناپامي وکړه، نو غږ به بې کړ، دلته نه دلته.

ګل دادا یو باعمله سپاهي و، نظم او دسپلین یې د ژوندانه لار او پښتنو ته ښودنه وه. ریښتیا به هم خوندوره ډوډۍ وه. په اتیا کلنۍ کې هم د وزیر بابا یو غاښ بې ځایه نه وه، دا به یې همېشه ویل چې پاکي د ایمان برخه ده.

یوه ورځ ما په لښتي کې اودس یا مخ مینځی کاوه، ما چې مخ ته اوبه واچولې، نو له لاسونو نه به مې اوبه ډېرې توې، شوې وې ماته یې وویل: اودس یا مخ مینځی دا سې وکړه له لاسونو نه نیولې تر پښو پورې یې مخ مینځی په خپله وکړ او ما ته یې وښود. همدارنګه به یې لمونځ ډېر په کراراه کاوه. د جمع لمونځ یې خوښ و، ماته به یې ویل چې د جمعې لمونځ ډېر فضیلت لري.

د حکومت په باره کې چې دده څنګه حکومت خوښ و، د ګل دادا نظر دا و، چې د ټول ملت او د پښتنو د مزاج مطابق هغه د یو قانوني بادشاهي، شاهي مشروطه غوښتونکی و. یوه ورځ یې ویل چې په نننۍ دور کې ایشایي ملکونه په فقر او اقتصادي مشکلاتو اخته دي. دوی او خصوصاً ټول مسلمان ملکونه ولس یې بې سواده او پخپل منځي اختلاف د برم له تخت نه راغورځېدلی، په خارو کې ناست دی. که چېرته مطلق العناني ده، د قانون مراعات پکې نه کېږي، که چېرته جمهوریت وي او د انتخاباتو په نتیجه کې مېنځ ته راغلی وي، نو بیا ګوند د قانون پابند نه وي، کار شکني کېږي. شاهي مشروطه هم په ایشیا کې هغه شان چې لازم دی، کار نه ورکوي. ځکه چې دوی په اقتصادي او تخنیکي لحاظ د امریکې او یورپي ممالکو لاس ته ناست دي. بیا د هغو خوښه چې څنګه کار له

حکومت نه اخلي. نبه نو کوم حکومت؟ ده به ویل چې یو عادل، منصف، خدایدوست او په وطن او ملت مین زمامدار، خو بیا هم ملګرو ته احتیاج وي، ایماندار او قانون منونکو ملګروته.

ګل دادا به په تعلیم ډېر زور اچاوه؛ خو له پښتني تربیې سره دده د تربیې معیار له لنډکي پښتو نه څرګند دی. ویل به یې چې تعلیم عام شي، بې سوادي به په ملک کې ورکه شي، خلک به خپل حق او د ملتوالو حق وپېژني؛ نو د خان او ملت لپاره به قانوني ذهنیت پیدا شي؛ او چې قانوني ذهنیت پیدا شي نو هغه حکومت کامیاب او زمامدار یې د تاریخ باب شي.

د پردي ذهن ژباړه کول ګران دي، خو ما ډېره موده له وروکتوب نه تر پاخه عمره پورې ورسره تېر کړي و، ما غوښتل چې تر خپلې وسې پښتانه ګل دادا په خپله جامه کې وپېژني او د اغیارو په خبرو پسې لاړ نشي.

ګل دادا زلمو ته د ملي اتڼ ډېره توصیه کوله ویل به یې چې ملي اتڼ باید د هر زلمي یاد وي دا د ملي ورثې جز دی. نڅا یې نه وه خوښه، ساز او اواز یې خوښ و، خو د پښتني لهجې غاړې ته چې زمونږ د پښتو موسیقي کلاسیک ته ورته دی، ډېرې خوښېدې او ویل به یې چې د هند ساز او اواز زمونږ غاړو او ناروته ډېر تاوان ورساوه پښتنې موسیقي یې تر تاثیر لاندې کړې. پاچاخان مرحوم افغانستان ته راغلی و، په بابر باغ کې ورته مېلمستیا شوې وه، ګل دادا هم و، د خوشال خان او رحمان بابا د لېسو زلمي راغلل، تر رسم ګذشت وروسته یې په اتڼ پیل وکړ، ګل دادا هم امسا راواخیسته له ځوانانو سره یې ځان ځوان کړ، په اتڼ یې لاس پورې کړ. زلمو په لاسو کې سره څپوني (دسمالونه) نیولي وو، ګل دادا ته

دې څپونو خوند ور نه ړ. او خپله لښته يې د اتڼ له دود سره سمه کړه او پر ژنيو يې غړ کړ: وغورځوئ'دا د تور سريو څپوني ستاسې پلرو خو به اتڼ کې تورې ګرځولې او تاسې د ښځو څپوني ګرځوئ. ماته هغه ورځ ياده ده چې ګل دادا څومره خوشاله و چې پاچا خان او دی خوا په خوا ناست و. د ملي اتڼ يې توصيه کوله او ډېر يې خوښ و

زما يوه مسوده چې زندان ته د ننوتو په وخت يوه پيرد دا ر وشکوله، د هغې عنوان و، "يو روح په دوه قالبه کې" دواړه ميتان وو په پښتون. دواړو ته د پښتون څېره ښکلې ښکارېده او په سترګو او زړه کې يې وه چې پښتانه عالي جناب اولس دی او بايد دارنګه وي. دواړو ته پښتنو په خپلو سترګو و نه کتل. دننني او بهروني قوتونه پښتون چېرته داسې غواړي چې ښکته پورته داسې لاړ شي، لکه څوک چې خپل کور ته ځي له حکومتونو سره خو زور دی، طاقت دی، پيسې دي، زندان دی، حتی مرګ دی، د هغه چا لپاره چې پښتون غواړي. راځئ چې وګورو، چې په نننۍ دنيا کې داسې څوک شته چې د پښتون په مرې وژاړي. هر طرف ته د مشکلاتو دېوالونه وهل شوي، په سياسي اقتصادي او د ژوند هره خوا يې ګوډ ګوډ دی، څه د داخلي بد خواهانو له لاسه او څه د همسايه او بهروني طاقتونو له لاسه. زه خو له پښتون سره د مرستې هيڅ دنيايي طاقت نه ګورم، چې د دنيايي مشکلاتو د حل په لاره کې ورسره مرسته وکړي. ګل دادا ويل: چې که مونږ په خپل کور کې چا ارام ته پرېښودو، نو هم له مونږ سره به کومک وکړي.

نو که پښتانه داسې په فکري او جغرافيايي لحاظ منتشر وي، دا ډار موجود دی، چې وايې ډېرې ژبې ورکې شوې، خدای مه که د پښتو لفظ په ډکشنري کې وليکل شي. که يوه ژبه په اکثريت

ACKU

کې خپل مقام و نه نیسي، نو زما مشران پوه ورونه دي دې ته فکر وکړي، چې یوه ژبه نه په معارف کې، نه په دفتر کې او نه په دربارونو کې ځای و لري عاقبت دی په خیر وي.

په دا دومره وخت کې چې ما له ګل دادا سره تېر کړ ما دده له خولې نه پوچه خبره وانه ورېده. دده په مجلس کې هم چا پوچه خوله نه شوه خوځولی. ده ته به چې ډېره غوسه ورغله، نو دا به یې ویل: ستا په خوله کې تیرې تک وهم. په وعده ډېر سخت ټینګ و او هغه یې د پښتو برخه بلله او دا به یې ویل چې وعده خلافي اسلام سخته منع کړې ده. وعده خلافي بې وفایي ده.

یوه ورځ مونږ ورسره ناست وو، زما پلار هم و، یو بلد سړی راغی او ګل دادا ته یې ویل چې د راتلونکې جمعې په ورځ زما مېلمانه یاست، دا ټول مجلس به راځي، وزیر صاحب ته یې مخ راواړاوه ویې ویل: خان صاحب (زما پلار) به هم در سره راولې. د جمعې په ورځ مونږ ټول راټول شو منتظر ناست وو، لنډه دا چې غرمه شوه او هغه سړی رانغی او نه یې څوک راولېږل. بله ورځ هغه سړی راغی، زما پلار هم ناست و، ګل دادا مخ ورواړاوه چې څه چل شوی و، چې مونږ دې په تمه کړو او ته رانغلې؟ د هغه نه بله بهانه هېره شوه، ویل یې له ما نه هېر شوي وو. د کوټې په مېنځ کې یې کښېناوه ورته ویل یې: څادر لرې کوې که در نه لرې یې کړم. واسکټ لرې کوې، که در نه ویې باسم. کمیس وباسې که درنه ویې باسم غوچې خوچې خبره پیره دارنو ته ورسېده او هغه په دروازه کې ودرېدل، زما پلار پاڅېد او ګل دادا ته یې وویل: خېر دی وزیر صاحب زمونږ په خاطر یې وبخښه، هغه وبخښل شو خو دا یې ورته وویل چې ته دې خولې ته وګوره او وعدې ته. زه د خانصاب له خاطره درته څه نه وایم؛

خو بيا به زما كور ته نه راځې، هغه ډېره عفوه وغوښته، خو گل دادا وويل چې لوى خداى مونږ ته دا ژبه راكړې بې قولى له، نه د قول پوره كولو لپاره.

گل دادا ملي شخصيت و، اولس سره يې بې كچه مينه وه، پښتو يې ژوند و، پښتون يې ورور و. گل دادا خپل قام ته كتل قام يې كه له يوې خوا نه زړور، سپېڅلى، مونځ گذار، ډوډيمار او په اسلام مين قوم و. وفادار قوم و، له ظالم نه يې د مظلوم پوښتنه كو له اوس داسې حالت ته ر ورسېد، چې گل دادا له به څوک نا اشنا څوک راغى، نو پوښتنه به يې كوله چې ته څوک يې، د كوم ځاى يې او په كوم قوم پورې تړلى يې. نو چې د هغه په فكر به يې شجره درسته وه، نو ښه دى، هغه د پښتنو په ختم پسې او د پښتنو په ژبې او پښتني رواياتو دود او دستور او طرز تفكر پسې و. هغه به هر وخت ويل، چې مونږ ته داسې خلكو ډېر ضرر را رسولى، چې ژبه يې پردى شوې ده، خو واک او اختيار يې موندلى او همدردي يې له بل يا ځانه سره وي ژبه ترې وركه شوې او همدا رنگه يې له خپل قوم سره هغه مينه چې يو قوم په پښو ودروي، پاتې شوې نه ده، داسې خلكو پښتنو او د هغوى ذهنيت ته ډېر تاوان رسولى دى.

چې له چا سره به گړېده او هغه به داسې لغت وايه، چې په پښتو كې به هغه و خو ده به د نورو ژبو لغت وايه، گل دادا به ورته ويل "پوه نه شوم څه دې وويل" تر هغې چې به يې متكلم پوه نه كړ، تر هغې به ورسره چاپېر وه. د گل دادا دا مطلب و چې پښتانه ځان وپېژني او په پښتو خپله وروري كلكه كړي.

گل دادا به د غرب تمدن ته پرتوگ وېستلى تمدن وايه. او دا به يې ډېر، ډېر ځلې ويل چې دا غم موږ ته هم را روان دى.

چې څوک بـه راغی او برېت به یې خرېیلي وو، هغه به یې په راتلو پښېمانه کړ. ږیره یې خوښه وه؛ خو ډېره اوږده نه.

گـل دادا پښـتانه را وېښـول؛ خـو پښـتانه د نـورو پـه الله هـو داسې ویده شوي وو، چې خلک بـه پښتو ورکه کړي؛ خو دی به را ویښ نه شي.

دا زمـا قـوم دی دا زما وروڼه عزیزان دي. غله لگیا دي له ده نـه پښـتنې جامې وباسي او څپلې وراغوندي؛ ځکه زه د هر پښتون په غوږ کې د عزیزولۍ، قام ولۍ او په څپلو کې د مینې او محبت نارې وهم. گوندې دا غیرتي قوم په دنیا کې خپل ریښتنی قد قامت په ښه جامـه کـې وښیي. د عـلماوو سره یې ډېره مینه وه او دومره احترام به یې د علماوو کاوه، چې زه به ورته حیران شوم. علماې حق ریښتیا هم حقدار دي، بـاید حق یې ادا شي او ډېر احترام یې وشي. خو علماې سوود چې په اصل کې علماء نه دي، بلکه د طبقې هغه تېته برخه وه، چې به کوم یو راغی او ما به پېژانده؛ نو هم به ورته پاځېده او خبرو ته به یې غوږ نیوه.

یـوه ورځ زه او مـرحوم ریښـتین صاحب له گل دادا سره ناست وو، له گـل دادا نه ډېر کشر یو عالم چې سپینه پگړۍ او حره چپن یې اغوستې وه راغی، گـل داد ورتـه پـاځېده، مونږ هم ورسره پاځېدو او ورغبرګ مو وکړ، پـه وجود ښـه درونـد و، خبرې کېدلې ملا صاحب هم مونږ ته مخاطب و، د حضرت سرور کائنات (ص) سختي او کړاوونه، صبر او استقامت یې راتـه بیانـاوه. پـه دې تـرڅ کـې یې ماته وکتل او گویـانـه شـو، هغـه بلـه ورځ زه پـه لار تـېرېدم، تله پرته وه، ما څان وتاله شپاړس منه شوم، مـا ویـل زه خـو شـپاړس منه نه یم، که ډېر یم آته، نهـه منه دا نـور مې علم دی چې زه یې درونـد کړی یم. دا حقیقت دی

چې علم انسان درنوي خو په دې خبره ما له خندا راغله. ريښتين مرحوم هم موسکی شو؛ خو د گل دادا تندی تریو شو. مونږ یو څه شیبه ناست وو، چې تلو. نو ماته گل دادا و نه کتل او زه پوه شوم چې زما په خندا خپه شو. په سبا له چې راغلم ماته یې سترګې مشې و نه کړه او راته یې نه کتل. ما وویل: گل دادا د هغه عالم په خبره ما له خندا راغله هغه څه ویل؟ گل دادا ماته په غوسه وویل چې د علماو قدر به کوې، هغه د هغوی خپل کار دی چې څه کوي او څه وايي. او بيا دا خو زما ځای دی چې ما له راځي نو زه يې قدر کوم. بيا به هيڅکله داسې نه کوې. علماء زموږ د سر تاج دی.

زه د گل دادا د ډوډۍ (دستر خان) بیان نه شم کولی. دا چې چا لیدلی، هغوی ته معلومه ده، چې څوک به ورغی او غرمه به پاتې شو؛ نو چې څه به وو، هغه به یې مېلمه ته راوړه. خو چې څوک به یې مېلمه شو، بیا هغه ډوډۍ بېله وه.

پښتون خوار غريب دی او که بډای او د ستو خاوند، د خپل دسترخان ډېر قدر کوي. دی که نهاريږي هم؛ خو مېلمه ته به له وس نه زيات څه را پیدا کوي او په تېره مومند قام (بې له مانه) خپله مینه سره په ډوډۍ څرگندوي.

گل دادا چې به چا ته د مېلمستوب ست وکړ او څوک ډېر محترم او گران وکړي به ده مېلمانه کړه؛ نو بيا به يې دسترخوان په ډېرو بېلو بېلو نگولو ډک و او د هر نگولي بېل، بېل نوم و. له ده سره چې څوک له نږدې نه پاتې شوي هغوی د هغه بزرگواري نشي هېرولی. گل دادا په خپله د پخلي يو کتاب هم ليکلی دی. چې له گرانگ سره پاتې شو د گرانگ نوم يې محمد پتنگ و، د گل دادا

وراره او د محمد کریم خان زوی و، د پښتني اخلاقو خاوند و. هغه ځواني مرګ شو. نه یم خبر چې هغه نا چاپ شوي کتابونه څه شول؟

دا بې زوره زورور ملل متحد که هر څومره هر کال ناري وهي، چې هر چا ته دي د خپلې ژبې حق ورکړ شي، خبره خو ډېره خوږه او په ځای؛ خو په چا یې منې؟

په ایران کې فارسي، په تاجکستان کې فارسي (نوم یې تاجکي) او په اسلامي پاکستان کې انګریزي او اردو وه چې د پاکستان د یوه قام ژبې نه دي، ډېرې په چټکۍ مخکې رواني دي. نور قامونه په ښکاره له خپلو ژبو نه محروموي. په افغانستان کې راته وايي ژبه څه اهمیت نه لري، یوازې د افهام او تفهیم وسیله ده او کوز راته وايي اردو د پاکسان قامي ژبه ده او دا راته زمونږ د پېښور د یونیورستۍ شاګرد وايي.

زمونږ خدايي خدمتګارو پښتنو د عدم تشدد لار ډېره روښانه پرېښودې، چې هم پکې د پښتون قام او هم ددې دنیا له تباهۍ نه د بچ کېدو وسیله ده.

موږ ذهناً داسې له یوه بل نه لرې وتلي یو، چې د یوه بل اواز نه اورو او که یې اورو نو هم خپلې راته د انا په شان قدر نه لري. مونږ انا وخوړو "وې هغه به زما پسې نه راځي زه به په هغه پسې نه ځم" یو، یو، یو، ځکه موکه آواز اوري. نو هم مهم ورته نه ښکاري او چې د پښتون قام تعلیم یافته د خپلې ژبې قدر نه کوي، نو ملل متحد خو اواز قدرې کړې چې هر څوک په خپل ژبه باید بچو ته تعلیم ورکړي، نور خو د قومونو خوښه ده چې خپل حق غواړي که نه؟

پروجنبو، تربګنیو، بد بینیو، بې ځایه سیالیو او له خپل ورور سره په تربورولیو کې زمونږ غمخور ګل دادا ملا ترلې اخوا

دېخوا ګوري که څوک بې ملګری وي، نو هم چوپه خو له، له ډاره خپل حق نه حق نشي ویلی. د پښتون قوم خېر له پښتون قوم نه غواړي. کابل ته ګل دادا مردار ډنډ وایي، دلته د پښتنو خېر نشته، د مالګې د کان خبره ده، چې راشي او دې کان ته ورولوېږي، فکري پرېشاني او ځان ځاني یې له کاره وباسي.

که حقیقت ته نظر وکړو، ګل دادا د خپلې مینې، عقل او هڅو په برکت یې په دې لوېدلي قام کې ډېر څه کړي. بې انصافه خلک په افغانانو کې شته چې وایي ګل دادا یو متعصب سړی و. په افغانستان کې داسې خلک شته چې پښتنو ته د ورور په سترګه نه ګوري او پښتانه ژوندی کېدو ته نه پرېږدي. په ژبه یې خېته اچولې، نه یې په دربار کې، نه یې په دفتر کې او نه یې په تعلیمي مؤسسو کې شته او نه یې په بازارونو کو څو کې. چې څومره یې حق دی هغه ته قایل نه دي او دا یې لا څه کوي، هغه خلک چې ځانته افغان وایي افغاني یې، نزده. له پښتو ژبې سره یې همدردي هم نشته.

د افغانانو اقتصادي ژوند په افغانستان کې ډېر ټیټ دی، خو یوه طبقه خلک د هر نعمت خاوندان دي. سیاست یې هم په لاس کې نیولی دی پښتانه په دې دواړو برخو کې تر نورو بې برخې دي. دلته اکثریت معنی نه لري. حق ورکول کېږي نه، حق به غواړې. د حق غوښتل پښتنو ته ډېر ګران شوي دي. ولې چې قیادت نه لري او هر قوم چې بې قیادته شي، هغه که اکثریت وي، نو هم له خپلې ملي برخې نه محروم وي.

د روس له حملې نه مخکې دلته په افغانستان کې قیادت موجود و، ټول افغانان پرې را غونډ وو. د ین له جرګې نه وروسته د افغانستان مطلق اکثریت په دې تمه و، چې اعلیحضرت

محمد ظاهر شاه به راشي او مملکت به د قيادت خاوند شي. خو چا چې له جهاد نه وروسته په يوه بل زياتي وکړ او د افغانستان خلک يې بې قيادته کړه، هغو دې ته حاضر نه وو، ولې چې هغوی د عمل آيينه خيرنه وه. نو له مملک سره زياتی وشو او اعليحضرت يې بابا که. خو زما په عقيده مونږ لا تر اوسه يو قدامت پسنده ملت يو. که دا مملکت ساتلی دی، نو محمد زو ساتلی. او قيادت د دوی په لاس کې و او زه په يقين سره دا ويلی شم، چې بې له اعليحضرت محمد ظاهر شاه نه به بل څوک قادر نه وي، چې يو ملي قيادت مېنځ ته راولي. البته د زور قيادت او د رضا په قيادت کې فرق دی.

امريکايان چې افغانستان ته د دوست په جامه کې راغلي دي، نو د زور منطق يې صحيح؛ خو زه وايم چې د رضا قيادت بې له محمد زو نه او له اعليحضرت ظاهرشاه نه نور څوک نشي راوستلی.

خبره را نه اوږده شوه پښتنو ته ګل دادا د خپلې ژبې د ژوند غږ د اقتصادي ژوند سره، سره په ډېر تياره ماحول کې وکړ. د کابل هوا او فضا يې مخالفه وه؛ خو چې هر لېډر په دنيا کې پيدا شوی، هغه دېته نه دي کتلي چې ملګری مې شته که نه. خو دا د فطرت قانون دی چې شمعې ته پتنګان راځي. هغه به د کلکې عقيدې خاوند وي. هغه به خپل قوم څېړلی وي له معنوي او مادي اړخه نه به خبر وي، هغه خپل سر، مال او وخت د خپل قام په مخکې نذرانه کوي. دا بېله خبره ده چې قوم ورسره څه کوي. ګل دادا را پاڅېد او د قوم غم يې وخوړ او دا سبق يې له رحمة للعالمين نه زده کړ او د خدای د رضا لپاه يې شپه او ورځ په ځان يوه کړه، که څوک سترګې پټوي، دا بېله خبره ده خو ګل دادا په افغانستان کې د پښتو لپاره ډېر کار وکړ.

د معارف په برخه کې ډېر لوی کار وکړ چې زما په خیال په اوس وخت کې راته ناشونی ښکاري؛ خو مختصراً به عرض وکړم چې یوه ډېره له ابادۍ نه لرې علاقه، چې غریزه په هر رنګ شنو ونو او ګلانو ښایسته ده او ورسره سیند بهېږي، هلته داسې ابادي وي، چې څوک ورته بې اجازې و نه رسېږي، هلته معلمان او شاګردان په اسلامي او ملي اصولو چې د هغه په خیال هر څه و، تربیه شي له خپل دین نه خبر د پښتني زوی د خپل دود، دستور، آدابو، عاداتو، ملي خصائلو او خصائصو او طرز تفکر او له خپل تاریخ نه چې دوی ته څه په میراث پاتې او څنګه حمایه شي خبروي او دا خلک له فراغت نه وروسته په حکومتي چارو کې برخه واخلي. دده دا عقیده وه، چې هر څومره دا تربیه شوي خلک په حکومت کې ننوتي وي، حکومت به یو سالم ملي حکومت او د قام او خلکو خدمتګار وي.

# یوه خاطره

په ۱۳۲۸ هـ ش کال کې زه د ننګرهار د مطبوعاتو مشر او د ننګرهار د ورځپاڼې مسئوول مدیر وم. د حمل میاشت او د پسرلي ورځې وې. زه په خپل دفتر کې ناست وم. ښاغلی سید محمد طاهر بینا د "ننګرهار" مجلې مسلکي غړی راننوت، راته یې وویل: د شپې د پېښور له راډیو څخه دې د رحمان بابا مشاعره واورېده؟ زما د "نه!" د ځواب په ځواب کې یې وویل: څومره د افسوس خبره ده چې هر کال، کابل راډیو د رحمان بابا مشاعره، تر پېښور دمخه کوي او سږ کال چوپه چوپتیا ده. ماوې: بینا صاحبه! کابل به خپل کار کوي او پېښور به خپل، زه او ته به څه کوو؟ راځه چې دلته په جلال آباد کې مشاعره جوړه کړو. هغه وی ډېره به ښه شي. ما وویل: کله او څنګه به شي؟ هغه وویل: هم دا نن مازیګر یې هم کولی شوو. زه خوشاله شوم د شاعرانو او مېلمنو لېست مو جوړ کړ. د چا چې تیلفون و د هغو خبرول ما په غاړه واخیستل او د چا چې نه و، بینا صاحب وویلې چې زه به په بایسکل سپرېږم ټول شاعران به خبروم...

د تیلفونونو په لړ کې کله چې ما ښاغلی میراجان خان سیال ته وویل چې مازیګر درې بجې خپل یوه پسرلني شعر سره د مطبوعاتو دفتر ته راشي، هغه وویل: زه در تلی نه شم. یو لوی او محترم مېلمه لرم. هغه پرېښودی نه شم. ما وویل: هغه څوک دی؟ هغه وویل: وزیر صاحب محمد ګل خان ما وویل: چې هغه هم ځان سره راوله! هغه وویل: نو ته په خپله بلنه ورکړه. ما وویل: په ډېره خوښې به بلنه ورکړم. هغه وی وزیر صاحب په بل ځای کې ناست دی زه به تیلفون هلته یوسم. ته یو دوه دقیقې وروسته زنګ ووهه!

ما چې وزير صاحب ته بلنه ورکړه، هغه وويل: خدای دې خير درکړي چې په رحمان بابا مشاعره کوې. زه کابل ته روان وم. ميراجان خان ته مې ويلي وو چې راته موټر وګوري. مګر اوس نه ځم. مشاعرې ته په ډېره خوشالۍ درځم. سبا به کابل ته ولاړ شم.

وزير صاحب او سيال صاحب پوره په درېو بجو راغلل. نور کسان لا پوره شوي نه وو. دوی ته مې زما په دفتر کې د کښېناستو بلنه ورکړه. لس پنځلس دقيقې سره ناست وو. دې کې ما، د دفتر کارمندانو ته د جلسې د انتظام په چارو کې لارښوونې هم کولې...

مشاعره پيل شوه وزير صاحب ته مو، د هغه په مشوره د غونډې د پای د وينا ويلي وو. هغه ودرېد د پښتو، پښتونولۍ او د پښتو ژبې او ادب د خدمت په باره کې يې خبرې وکړي. بيا يې وويل: دا خدمت زموږ د پښتنو کار او وظيفه ده. موږ بايد له بل چا څخه د خپلې ژبې د خدمت تقاضا و نه کړو. بلکې په خپله بايد د خپلې ژبې خدمت وکړو. مګر ډېر افسوس بنه پښتون به وي د پښتو ژبې استاد به وي ليکوال او شاعر به وي محقق او دانشمند به وي د پښتو اخبار مدير به وي، مګر د خپل لاس لاندې کسانو ته چې هغوی هم اصلاً پښتانه وي په بله ژبه امرونه کوي. چې "او بچه چنين کن و چنان کن!" او داسې نه وايي چې "وه هلکه! دا وکړه يا هغه وکړه!" نو بايد چې موږ داسې و نه کړو... زه وپوهېدم چې وزير صاحب ماته اشارې کوي او زما په دفتر کې د هغه د لس پنځلس دقيقو د ناستې په بهير کې زما په خبرو انتقاد کوي...

د مشاعرې نه وروسته ما د مشاعرې د غونډې خبر په خپله وليکه او د باختر آژانس خبريال ته مې ورکړ چې کابل ته يې مخابره کړي په هغه کې مې په غونډه کې د وزير صاحب د برخې اخيستو او

د هغه د وینا یادونه هم کړې وه. د شپې د کابل راډیو په پښتو او دري دوارو سروېسونو کې هغه خبر کټ مټ خپور شو.

سبا چې دفتر ته راغلم او په خپله چوکۍ کښېناستم تیلفون وشرنګېد غوږۍ مې جګه کړه له کابل څخه ښاغلی محمد ارسلان سلیمي د مطبوعاتو د وزارت مرستیال په ډېر قهر او تنده لهجه راته وویل: - بختانیه! تا ته چا ویلي وو چې په رحمان بابا مشاعره وکړه؟ بیا تاته چا ویلي وو چې وزیر صاحب محمد ګل خان ورته وغواړه! بیا تا ته چا ویلي وو چې په خبر کې د هغه نوم او د وینا لنډیز خپور کړه. زما په ځوابونو هغه نه قانع کېده او لهجه یې وار په وار توندېدله. آخر ما هم په توندۍ سره وویل: ما یو ادبي خدمت کړی دی ما یو صحیح خبر لیکلی او مخابره کړی دی. که دا ګناه وي زه قانوني جزا منم. که دا جزا له څوکۍ څخه زما لېرې کول او برطرفه کول وي هم یې منم. او غوږۍ مې کېښودله خو د غوږۍ تر اېښودلو دمخه د هغه څه عادي غوندې اواز کې مې واورېد:

بختانیه: دا زما خبرې نه، بلکې پر ما هم فشار دی!

یادونه:

زما دغه خاطره د ۱۹۹۸م کال د جولایي د میاشت په (وزیر محمد ګل خان لوی افغان) نومې کتاب کې له ډېرو تحریفاتو سره چاپ شوې ده. نو ځکه اوس مې بیا ولیکله او هیله من یم چې عیناً خپره شي. په درناوي.

ستاسو خدمتګار عبد الله بختاني
د ۲۰۰۴ د اپریل ۱۴مه.

ACKU
11926



سپداګل غریبیار

چاپ شوي کتابونه:

۱ـ ولسي مرغلرې لومړی چاپ.

۲ـ د ځرخي پله له زندانه د راکي تر غرونو.

۳ـ د وطن د مينې کچکول ـ د ملنګ جان شعرونه.

۴ـ ستر پښتون ـ همدا کتاب.

تر چاپ لاندې:

ولسي مرغلرې ـ دويم چاپ له نويو زياتونو سره.

چاپ چارې: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

Designed by: Shafaq